سلفي شم

که مذهبي پاته شم؟

دوم جلد

حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

د ناشر مختصر عرائض

د (سلفي شم که مذهبي پاته شم) کتاب؛ دا څلورم ځل دئ چي چاپېرې؛ دا ځل په دوو جلدونو کې او تر مخکينيو دوه ځله زياتو مطالبو سره؛ محترم ورور حکمتيار د دې عنوان او کتاب په ارتباط ٤٢ درسونه درلودل؛ هره اونۍ دوه ځلي؛ هره درسي حلقه يو نيم ساعت؛ ګڼ شمېر مينه والو په کې شرکت کړی او سوالونو ته ئې ځوابونه ويل شوي؛ د بريا تلويزيون دا او دې ته ورته نور درسونه په منظمه توګه نشر کړي او د هېواد دننه او بهر ډېرو مينه والو ليدلي او اورېدلي.

هيله ده دا اغېزمن درسونه او علمي څېړني؛ د اسلام په سِمه او واقعي بڼه پېژندو کې مرسته وکړي او هغه اختلافي مسائل چې ناسم پوهاوي، متعارضو رواياتو او د غرضي کړيو غلطو تعبيرونو رامنځته کړي؛ زمونږ ملت او اسلامي امت ئې له کرکجنو شخړو، بېهوده منازعاتو او خونړيو نښتو سره مخ کړي؛ په سِمه توګه حل شي او د بشپړ يووالي او وحدت په وړاندي ټول موانع ژر او د تل لپاره پای ته ورسېږي. په دې ارزښناك کتاب کې؛ اکثر هغه اختلافي مسائل په ډېر دقت او د قرآن او صحيح احاديثو په رڼا کې څېړل شوي او ابهاماتو ته څرګند او مقنع دلائل ويل شوي چې ځينې تکفيري ډلې؛ د فتنو راولاړولو لپاره پرې ترکيز کوي؛ د هغې ورځې رارسېدو په هيله چې ټول اسلامي امت له دې فتنې ژغورل شوی وي او د صحيح احاديثو واحد او ټول امت ته د منلو وړ معتبر کتاب ولرو .

بسم الله الرحمٰن الرحيم

د صحيح حديث د پېژندا قواعد او اصول

د اختلافي مسائلو په اړه مو تر نن پوري دېرش درسې حلقې درلودې؛ د مسائلو د څېړلو په ارتباط مو اسلوب دا وو چې د موافق او مخالف آراء او روايات په امانت سره يو د بل خوا ته کښېږدو، د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړو او تر ټولو غوره او صحيح روايت او رأی ترې غوره کړو. دا هغه کار دئ چې محدثينو او محققينو کړی او هر مؤمن انسان ئې بايد وکړي.

په تېرو درسونو کې موږ داسې ۲۳ اختلافي مسائل وڅېړل چې اسلامي امت ورسره مخامخ دئ؛ ومو ليدل چې ډېری اختلافات له متعارضو او غير معتبرو رواياتو راولاړ شوي؛ هغه روايات مو هم بيان کړل چې احناف پرې استناد کوي او هغه هم چې نور مذاهب او پلويان ئې په ځانګړې توګه امام بخاري رحمه الله په خپل مشهور کتاب بخاري کې راوړي؛ امام بخاري هغه روايات نه دي راوړي چې د امام ابوحنيفه په مسند کې راوړل شوي او احناف ئې تر نورو رواياتو غوره او اصح ګڼي. موږ د دواړو لوريو اړوند روايات له هر ډول تعصب پرته او په شفاف ذهن سره څېړلي؛ د قرآن په تله مو تللي او هغو ته مو ترجيح ورکړې چې هم ئې إسناد صحيح، هم ئې راويان ثقه او هم ئې متن له قرآن سره تطابق درلود؛ او په قرآن کې مو د هغه لپاره شاهد موندلی. باور مو دا دئ چې که اسلامي امت قرآن د وروستي او بشپړ لارښود په توګه ونيسي، خپل اختلافي مسائل؛ د متعارضو رواياتو په شمول قرآن ته راجع کړي؛ کولی شي خپل ټول هغه مذهبي اختلافات حل کړي چې له همدغو رواياتو

راولاړ شوي. الله تعالى او د هغه رسول مورږ پر همدې ګمارلي یو چې خپل ټول اختلافات قرآن ته محول کړو؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ الشورى ١٠

او په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (راجع) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

دا مبارك آيت د توحيد یو ستر او مهم اصل زمورږ مخي ته ږدي او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې خپلو مخاطبينو ته ووايي: په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف وکړئ؛ حکم ئې د الله تعالى لوري ته راجع دئ، يعني که تاسو په هري قضيې کې اختلاف وکړئ، که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، که د کومي فقهي قضيې په اړه وي او که د کوم روايت په اړه؛ نو خپل اختلاف د الله تعالى کتاب ته محول کړئ او د الهي لارښوونو پرېکړه وروستۍ پرېکړه وګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنى او تقاضا دا ده چې د ژوند په ټولو برخو کې هر ډول اختلاف او نزاع بايد قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، يعني د انسان په ټول ژوند کې داسي اختلاف او نزاع نشو موندلى چې په قرآن کې ئې د حل حکم نه وي، مسلمانان بايد قرآن وروستى ملاك او معيار وګڼي او د هري قضيې په اړه د هغه حکم او پرېکړي ته غاړه کښېږدي.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾ النحل: ٦٤

او پر تا مو دا کتاب يوازي د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند

کړي چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ایمان راوړي. او الله له آسمان داسې اوبه وورولې چې په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کړه، یقیناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

یعني کوم پیغمبران چې تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوی په لاس کوم لارښود کتابونه مخکینیو ته ورکړی شوي وو، هغوی د الله کتاب شا ته غورځولی؛ په اختلافاتو کې پرېوتې؛ دا انحراف او اختلاف هغه پراو ته رسېدلی چې د نوي پیغمبر له بعثت او د نوي کتاب له لېږلو پرته ئې په بل هیڅ څه علاج ممکن نه وو، همداسې اوس الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره غواړي د مخکینیو ټول اختلافي قضایا حل او هغو کسانو ته لارښوونه وکړي او له خپل رحمت او پېرزویني ئې برخمن کړي چې ایمان راوړي. الله تعالی نوی کتاب او نوی پیغمبر هغه مهال لېږلی چې مخکینی کتاب په بشپړه توګه هېر کړی شوی، هیڅ اثر ئې نه دئ پاته شوی او د مخکیني پیغمبر ټول فکري، اخلاقي او عملي اغېز له منځه تللی؛ دا داسې ده لکه چې کله زمکه د اوبو او باران له نشتوالي په سپېره ډاګ بدله شي؛ د ژوند ټول آثار په کې له سترګو پټ شي؛ نو الله تعالی له آسمان باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کوي؛ همداسې قرآن د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، یقیناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

پر ټولو مخکینیو امتونو او دوی ته لېږل شوو کتابونو همدا حالت راغلی؛ تر قرآن وړاندې؛ له انجیل او تورات سره همداسې وشول؛ نن که تاسو د مسیحیانو له نظره سپېڅلي کتاب؛ بایبل ولولئ نو په هغه کې به د تورات او انجیل څو صفحې هم ونه مومئ؛ له اوهامو، خرافاتو، افسانو او جعلي روایاتو ډک مسخره کتاب به ئې ومومئ. رسول الله صلی الله علیه و سلم مور له

دغسي حالت سره له مخامخېدو انذار کړي يو او فرمايلي ئې دي: تاسو به هم په هغه مسير درومئ چې مخکيني پرې تللي. يقيناً چې مونږ هم له ورته برخليك سره مخامخ شوي يو؛ قرآن هېر کړی شو؛ د امت لويه برخه په اوهامو او خرافاتو کې غرق شوه، په لکونو جعلي، موضوعي، ضعيف او د قرآن له صريحو لارښوونو سره متعارض روايات رامنځته او خواره شول؛ امت ئې په مختلفو فرقو او ډلو ووېشلو؛ تر منځ ئې نه يوازي شديد او نه پخلا کېدونکي اختلافات رامنځته شول؛ بلکې خونړۍ جګړې پيل شوې. د امت زړه سواندو داعيانو له دې بد حالت د امت د ايستلو لپاره ملا وتړله؛ روايات ئې وچنل، صحيح او ناصحيح ئې سره ېېل کړل؛ هر چا د خپل وس او توان په اندازه خدمت وکړ؛ اما له دې کبله چې مسلمانان له يوه ځواکمن حکومت او اسلام ته ژمن زعيم محروم او په وړو وړو هېوادونو او متخاصمو حکومتونو وېشل شوي وو؛ د مخلصو داعيانو دا مبارکي هڅې ونه توانېدې چې امت له دې بحران وباسي او مخکينی وحدت او عظمت ئې احياء کړي. نن مونږ د هغو مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره چې سياسي وجوهات لري؛ او تر شا ئې د کورنيو او بهرنيو دښمنانو خبيث لاسونه کار کوي؛ يوې بلې جدي او ستړيا نه منونکې مبارزې ته ضرورت لرو. دا مبارزه بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغې لارښوونې په رڼا کې پيل کړو چې تر رحلت لږ وړاندې؛ د حجة الوداع په مهمي او وروستۍ خطبې کې ئې د امت مخې ته ايښې ده:

...وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَمْ تَضِلُّوا إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ، كِتَابَ اللَّهِ، وَأَنْتُمْ مَسْئُولُونَ عَنِّي، فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ؟» قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ، فَقَالَ: بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ إِلَى السَّمَاءِ، وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ «اللَّهُمَّ اشْهَدْ، اللَّهُمَّ اشْهَدْ» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،...

... او يقيناً چې په تاسو کې مي داسي څه پرېښود چې که منګولې پرې ولګوئ نو هيڅکله به لار ورکه نه کړئ؛ چې هغه د الله کتاب دئ؛ او زما په اړه به

تاسو (د قیامت په ورځ) پوښتل کېږئ؛ نو تاسو به څه وایئ؟ صحابه وو وویل: ګواهي ورکوو چې تا خپل رسالت ورسولو، خپله دنده دي ترسره کړه او وعظ او نصیحت دي وکړ؛ نو په داسي حال کې چې د شهادت په ګوتې سره ئې د آسمان لوري ته اشاره کوله او د خلکو لوري ته به ئې نیوله؛ وئې فرمایل؛ "باري ربه! شاهد اوسه؛ باري ربه! شاهد اوسه؛ درې ځلي ئې همداسي وکړل...

د حجة الوداع دا روایت نږدې ټولو کتابونو راوړی؛ او ټولو ویلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حجة الوداع په مهمي او آخري وینا کې دا خبره کړې؛ او دا همغه څه دي چې د قرآن په مخکینیو آیتونو کې مو ولیدل.

که څه هم دا روایت او مؤید آیت ئې؛ موږ ته وایي: یوازي د الله تعالی په کتاب منګولي لګول هم موږ له اختلافاتو ژغوري او هم له ضلالت؛ که د الله تعالی پر کتاب علاوه بل څه هم د هدایت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً په دې مهمي او وروستۍ خطبې کې د هغه یادونه کړې وه؛ او د دې معنی دا ده چې د الله کتاب د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول احادیث هم احتواء کوي. دا ځکه چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته دوه شیان پاته دي: قرآن او د ده حدیث. نو د دې حدیث معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم احادیث په حقیقت کې د قرآن شرح او تفسیر دئ؛ د قرآن په اړه ټول امت متحد دئ او په بشپړ امانت تر موږ پورې رارسېدلی؛ پرته له دې چې په هغه کې معمولي تغییر راغلی وي؛ نن په ټول امت کې یو مصحف لرو؛ په امت کې د قرآن په اړه کامل یووالی او وحدت شته؛ هیڅوک د دې ادعاء نه کوي چې د قرآن بله نسخه له ده یا بل چا سره شته؛ البته داسي جاهلان او غرضي او مرضي کسان هم شته چې وایي: دا قرآن هغه اصلي قرآن نه دئ چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی وو، یو بل قرآن شته چې له فاطمي رضي الله عنها سره وو او اوس له امام زمان سره دئ؛ هغه اتلس زره آیتونه لري او دا شپږ زره او څو سوه آیتونه؛ خو حقیقت دا دئ چې نن په امت کي هیڅوک دا ادعاء نه شي کولی چې له

دې واحد او ټول امت ته د منلو وړ مصحف پرته؛ بل مصحف هم شته، په امت کې نه څوک دا ادعاء مني چې بل قرآن شته او نه څوک کولی شي د موجود واحد مصحف بدیل او داسې کتاب نوم واخلي او د چا په وړاندې ئې کښېږدي چې له یو نیم ملیارد مسلمانانو ئې یو کس ومني!! کوم بې عقل انسان به داسې مصحف ومني چې مجهول دئ او عملاً شتون نه لري.

اما د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حدیث په اړه روایات هم ډېر زیات دي او هم تر ډېره حده له توپیرونو، تعارضاتو او حتیٰ تضاد سره مل دي؛ اسلامي امت نن یو قرآن لري؛ اما د حدیثو نړۍ ۴۳۰ کتابونه همدا اوس زما په دغه کمپیوټر کې دي؛ هر یو ئې له ۴۰ روایاتو نیولې تر دېرش زرو پورې روایات راغونډ کړي؛ پوښتنه دا ده چې له دغو ډېرو کتابونو به کوم یو غوره کوو؟ او په لکونو احادیثو کې به صحیح او ضعیف څنګه معلوموو؛ ځینې داسې ګمان کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب ټول روایات صحیح دي؛ په بشپړ امانت سره او له هر راز تغییر پرته تر موږ پورې رارسېدلي؛ داسې لکه د قرآن آیتونه!! خو دوی له دې خبر نه دي چې هر محدث له لسګونو زرو روایاتو دوه درې زره غوره کړې او نور ئې د دې لپاره پرېښي چې یا ئې په إسنادو کې ستونزه موندلې او یا ئې په متن کې اضطراب او له قرآن سره متعارض مطالب. یوه ته یو راوي او روایت ئې ثقه او صحیح معلوم شوی او بل ته همدا راوي او روایت ئې ضعیف او د نه منلو؛ محققینو د دې ستونزې د حل لپاره داسې اصول او ضوابط وضع کړي چې په مرسته ئې کولی شو د اعتبار وړ روایات تشخیص کړو.

دعاء کوم چې الله تعالی اسلامي امت ته دا سعادت ورپه برخه کړي چې خپل تېر ديني وحدت، فکري او سیاسي یووالی او هغه مجد او عظمت تر لاسه کړي چې د ټولې نړۍ قیادت ئې په واک کې وو؛ د صدر اسلام په څېر د الله تعالی په کتاب منګولې ولګوي، د قرآن په رڼا کې خپل ټول اختلافات پای ته ورسوي، ټول هغه عوامل له منځه یوسي چې دوی ئې سره ببل کړي. آمین

د حديث مربوط اساسي اصول، درجه بندي او مفاهيم ئې داسي دي:

حديث: د حديث لغوي معنی وينا او خبره ده؛ خو د حديث په خاص علم کې ئې معنی د رسول الله صلی الله عليه و سلم وينا، عمل، امر، نهی او د ده په وړاندي د يو چا داسي قول او فعل دئ چې ده نه وي رد کړی او داسي ګڼل شوې وي چې ده تأييد کړی.

سند: د حديث د راويانو هغي لړۍ ته وايي چې يوه له بل اورېدلې او سلسله ئې د حديث تر ليکونکي پورې رسېدلې.

متصل او منفصل: حديث د سند او راويانو له پلوه يا متصل وي يا منقطع او منفصل، متصل هغه حديث ته وايي چې د راويانو په لړۍ کې ئې هيڅ ځای ارسال او انقطاع نه وي، ټولو يو بل ليدلی او له هغه ئې حديث اورېدلی وي؛ او منفصل هغه حديث ته وايي چې په کوم ځای کې ئې انقطاع تر سترګو کېږي، کوم راوي له داسي چا روايت کوي چې هغه ئې نه دئ ليدلی. مرفوع: په دې دواړو کې مرفوع هغه حديث ته وايي چې سند ئې تر رسول الله صلی الله عليه و سلم پورې رسېدلی وي او موقوف هغه حديث ته وايي چې سند ئې تر صحابي پورې رسېدلی وي او د هغه پر نامه توقف شوی وي.

مرسل هغه دئ چې سند ئې تر تابعي پورې رسېدلی وي او د صحابي يادونه په کې نه وي شوې.

منقطع: هغه روايت ته وايي چې په سند کې ئې کومه انقطاع وي، د دوو راويانو تر منځ ئې ليدنه نه وي شوې خو روايت ئې ترې کړی وي.

مقطوع: هغه روايت ته وايي چې پر تابعي يا تر هغه راوروسته شخص (تبع تابعي) پای ته رسېدلی وي او دوی ته کوم قول يا عمل منسوبوي.

متواتر: هغه حديث ته متواتر وايي چې په هره طبقه کې له دومره ډېرو کسانو روايت شوی وي چې پر دروغو د هغوی اتفاق عقلاً محال وي.

احاد: هغو رواياتو ته وايي چې راوي ئې يو يا څو کسان وي.

احاد هم د رواتو د شمېر له پلوه په دریو ډولونو: مشهور، عزیز او غریب؛ او هم د رواتو د وصف او حالت له پلوه په دریو ډولونو: صحیح، حسن او ضعیف وېشل شوي.

مشهور: هغه حدیث ته وایي چې په هري طبقې کې ئې راویان درې یا تر دې زیات وي.

عزیز: هغه حدیث ته وایي چې لومړني راویان ئې دوه وي.

غریب: هغه حدیث ته وایي چې لومړنی راوي ئې یوازي یو کس وي. چې دا په درې ډوله وېشلی شو: غریب، ډېر غریب، تر ټولو زیات غریب؛ که په صحابه وو کې یو راوي لري نو غریب دئ، که په تابعینو کې هم یوازي یو راوي لري نو ډېر غریب دئ او که په تبع تابعینو کې هم یوازي یو راوي لري نو تر ټولو زیات غریب دئ.

صحیح: هغه حدیث ته وایي چې راویان ئې عادل (مسلمان، عاقل او بالغ) او د ښه حفظ او ضبط خاوندان وي او سند ئې له پیل تر پای متصل وي او په متن کې ئې شذوذ او علت نه وي.

حسن: هغه حدیث ته وایي چې راویان ئې پورتني صفات ولري خو د کوم راوي د ضبط درجه ئې تر هغوی راټیټه وي.

ضعیف: هغه حدیث ته وایي چې په راویانو کې ئې داسي څوک هم وي چې د حفظ او ضبط او له کوم بل پلوه څه ضعف ولري او پر وینا ئې زیات باور نشي کېدی.

متفق علیه: هغه روایت ته متفق علیه وایي چې امام بخاري او امام مسلم پرې متفق وي او دواړو صحیح ګڼلی وي. ځینې خلك داسي ګمان کوي چې ګواکې متفق علیه روایت به داسي وي چې ټولو محدثینو پرې اتفاق کړی او هغه ئې صحیح ګڼلی؛ حال دا چې خبره داسي نه ده، د امام بخاري او امام مسلم توافق داسي دئ لکه د یوه استاد او شیخ د دوو شاګردانو توافق، د دوی

تر منځ توافق نه بلکي اختلاف د حیرانتیا وړ کېدی شي.

د متن له پلوه هغه حدیث صحیح ګڼل کېدی شي چې:

- په قرآن کې د هغه لپاره کوم شاهد وي، د قرآن له کوم آیت سره په واضح توګه توافق ولري، یا لږ تر لږه د کوم آیت له الفاظو اشارتاً داسي معلومېږي چې د روایت متن ورسره اړخ لګوي.
- له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د کبار صحابه او د ابوحنیفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاءو مسلك دئ چې حدیث قرآن ته راجع کوي او په هغه صورت کې ئې د استناد وړ ګڼي چې په قرآن کې د هغه لپاره شاهد وموميِ او یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.
- له بل صحیح حدیث سره تعارض ونه لري.
- د متواتر سنت مخالف نه وي. د مثال په توګه د أذان څرنګوالی په تواتر سره له یوه نسل بل ته انتقال شوی، که څوك د أذان په اړه داسي روایت وړاندي کړي چې له دې متواتر سنت سره تعارض ولري او ووایي: په أذان کې دا ویل هم ضروري دي چې (اشهد أن علیاً ولی الله)!! نو دا روایت مردود دئ.
- په داسي قضیې او واقعې بحث نه کوي چې په ډېرو پوري تړلې وي خو یوازي یوه کس پرې څه ویلي او بل داسي څوك ونه موندل شي چې د همدې قضیې په اړه ئې همدا خبره کړې وي. مثلاً په جومات کي یوه وینا او خطبه، په حج کي خطبه، یا د یوه سفر په دوران کي چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ډېر یاران ملګري وو؛ کومه پېښه رامنځته شوې، په اړه ئې پیغمبر علیه السلام څه ویلي یا کړي؛ یو کس پاځېدلی او د دې وینا، خطبې او پېښي په اړه ئې څه ویلي خو له ده پرته بل داسي څوك نشته دي چې د ده خبره ئې کړې وي؛ نه ملګری لري او نه شاهد.

- په روايت کې داسي څه نه وي ويل شوي چې صحابه وو د هغې وينا قولاً يا عملاً مخالفت کړی وي.
- داسي څه په کې نه وي ويل شوي چې يا د عام الهي سنت خلاف وي او يا د عقل خلاف. الهي سنن ثابت او تغيير نه منونکي دي، عقل په حقيقت د پوهېدو وسيله ده، قرآن د کافرانو په اړه فرمايي چې هغوی له دې امله په حقائقو نه پوهېږي او ايمان پرې نه راوړي چې تعقل نه کوي، د دې معنی دا ده چې نه قرآن د عقل خلاف دئ او نه عقل د قرآن خلاف، نه نقل (نصوص) د عقل له پرېکړو سره تصادم کوي او نه عقل د نقل له پرېکړو سره، هيڅ نقلي دليل د عقلي دليل خلاف نه وي او هيڅ عقلي دليل د نقلي دليل خلاف نه وي، نه په صحيح نصوصو کې داسي څه شته چې عقل ئې نه مني؛ او نه عقل داسي خبره کولی شي چې نصوص ئې نه مني، موږ هم د قرآن حقيقت په خپل عقل سره درک کوو او هم د احاديثو صحت او ضعف، څوک چې عقل نه لري نه د قرآن په تفسير پوهېدی شي او نه د حديث په صحت او ضعف.

د مثال په توګه: که تاسو داسي روايت وګورئ چې په څلورم نسل کې يو کس وايي: ما له فلان تبع تابعي، هغه له فلان تابعي او هغه له فلان صحابي اورېدلي چې ويل ئې: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای ته ورسېدو، درې سوه کسان وو، يوه کلي ته ورسېدو، يو سړی راغی، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل: ته پيغمبر نه يې، که ته په حقه يې نو پر ما دي له آسمانه تيږه راپرېوځي، ناڅاپي له آسمانه تيږه راپرېوته او د دې سړي پر سر ولګېده او مړ شو!! کوم روايت چې دغسي وي؛ په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کې يوازي يو يو راوي ولري، نو د دې روايت په اړه به وايو:

دا سفر څه وخت شوی؟ د کلي نوم څه وو؟ په دې دريو سوو کسانو کې ولي د کوم صحابي نوم نه دئ اخيستل شوی؟ ولي له دغو دريو سوو کسانو بل

چا دا خبره نه ده کړې؟ ولې په تابعینو او تبع تابعینو کې بل چا دا خبره نه ده کړې؟ هغه سړی څوك وو چې کاڼی ئې پر سر راپرېوتو؟ د الله تعالی سنت خو داسې نه دئ چې د پیغمبرانو پر منکرینو له آسمان ډبرې ووروي، که داسې وی نو پر نورو منکرینو به هم تیرې ورېدلې وې!! شیعه دې ته ورته یو مسخره روایت لري چې وایي: په غدیر خم کې رسول الله صلی الله علیه و سلم علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی وټاکو، یوه کس وویل: آیا دا پرېکړه د الله تعالی له لوري شوې؟ ورته وویل شول چې هو؛ نو دې سړي وویل: که داسې وي نو له آسمان دي زما پر سر ډبره راپرېوځي، همداسې شوه، ډبره راغله او د هغه پر سر راپرېوته!! د داسې روایت په اړه به وایو: دا د درایت او عقل خلاف دئ، نه یوازې د سند له پلوه د منلو وړ نه دئ بلکې د متن او محتوی له پلوه هم د منلو وړ نه دئ، دا ځکه چې ولې له دغو ټولو صحابه وو هیڅا ونه ویل چې علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه ټاکل شوی؟ ولې ټولو صحابه وو د علي رضي الله عنه په شمول له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره بیعت وکړ؟ په دې پوښتنو سره مورږ کومه ګناه نه ده کړې بلکې د قرآن له لارښوونو سره سم مو عمل کړی، که له دغو پوښتنو پرته دا خبره منو او عمل پرې کوو نو د قرآن له صریح لارښوونو سره مو مخالفت کړی، قرآن فرمایي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء: ٣٦

او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې، یقیناً چې غوږ، سترګې او زړونه هغه څه دي چې پوښتنه به ئې کېږي.

یعني الله تعالی به له تا پوښتنه کوي چې ولې دي غلطي خبرې ته غوږ کښېښود، هغه دي له تحقیق پرته ومنله او عمل دي پرې وکړ او بل ته دي وکړه. هغه خبره ومنه چې په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته

په يوې خبرې باور کوه، په پټو سترګو په هرې خبرې پسې مه دروﻣه.

په قرآن کې له آسمان د ډبرې راپرېوتو وينا هغو مشرکينو ته منسوب شوې چې د دوی د جهل او ږوند تعصب انتهاء انځوروي او فرمايي:

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ الأنفال ٣٢

او کله چې ئې وويل: الهي! که دا حقيقتاً ستا له لورې وي نو پر موږ له آسمان کانې راوووړه، يا کوم دردناك عذاب (راباندې) راوله.

يعني قريشو ويل: که دا قرآن حقيقتاً د الله له لورې لېږل شوی کتاب وي نو خدای دي له آسمان پر موږ کانې وورووي، يا دي کوم بل عذاب پر موږ راولي! د دې خبرې له کولو د دوی موخه دا وه چې دا کتاب د الله تعالی له لورې نه دئ، که حقيقتاً د الله تعالی له لورې وی نو پر موږ خو به يا له آسمان ډبرې ورېدلې وې او يا به په کوم بل الهي عذاب اخته شوي وو!! الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾ الانفال: ٣٣

او الله داسې نه دئ چې دوی تعذيب کړي په داسې حال کې چې ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کې يې او الله ئې په داسې حال کې تعذيبوونکی نه دئ چې دوی بخښنه غواړي.

دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی؛ د عذاب په راتلو کې د څنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کې د داعي شتون او په دوی کې د داسې خلکو شتون چې توبه به کوي او له کفر، شرك او ګناه به لاس اخلي.

يعني قرآن موږ ته ويلي چې د چا د مطالبې له مخې؛ نه الله تعالی پر ده عذاب نازلوي او نه پر بل چا؛ د عذاب نزول ثابت الهي سنن لري.

دې ته مو پام وي چې دا آيت د مشرکينو هغي وينا ته ځواب وايي چې ځان په حقه ګڼي او قرآن د الله تعالی د کتاب په توګه نه مني؛ دوی ته ويل شوي چې د الله تعالی له لوري عذاب د چا په غوښتنه نه راځي؛ دا پرېکړه د الهي ثابتو سننو مطابق تر سره کېږي؛ اما دغه روايت ئې داسي مجهول مسلمان ته راجع کوي چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه سفر په يارانو کې شامل وو؛ آيا منلی شو چې الله تعالی پر مشرکينو کاڼي ونه ورول خو د رسول الله صلی الله عليه و سلم پر يوه صحابي ئې وورول؟!! په داسي حال کې چې راوي د صحابي نوم هم نه دئ اخيستی او له ده پرته بل چا دا خبره هم نه ده کړې؟

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې په ځينو مواردو کې د يوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چې دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځينو مواردو کې هغه مهال چې څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه چې څوک ادعاء کوي چې داسي ئې وکړل يا داسي ئې وويل څنګه ئې ادعاء له هيڅ شاهد پرته ومنو؟!! عمر رضي الله عنه خو داسي وو چې چا به د ده په وړاندي وويل چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي اوربدلي؛ نو فوراً به ئې ورته وويل: يا شاهد وړاندي کړه يا دي ملا درې ته تياره کړه!! په کار خو دا وه چې زموږ درنو محدثينو د احاديثو په اړه تر څلورو هم زيات شاهدان غوښتی، د داسي روایاتو له راوړلو ئې ډډه کړې وی چې يو راوي لري؛ نه په صحابه وو کې د راوي ترڅنګ شاهد شته، نه په تابعينو کې او نه په تبع تابعينو کې، لږ تر لږه دومره خو ئې بايد کړي وی چې د داسي روایاتو تر څنګ ئې ليکلی: پام کوئ چې د دې راوي يوازي يو کس دئ او هيڅ شاهد نه لري!! که نن د يوه داسي روايت په اړه چې غريب وي، يو راوي لري، په قرآن کې هم کوم شاهد ورته نه مومي، يو څوک ووايي: زه دا روايت نه منم، استناد پرې نه کوم، وبربرم چې رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه

کړم چې هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه یوازې له حدیث انکار نه دئ کړی، ګنهګار او مجرم ئې نشو ګڼلی، بلکې د عمر رضي الله عنه په سنت ئې عمل کړی او له دې ئې ځان ساتلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غریب روایت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې تري کوله، نو مور به ولي داسي روایات منو چې په څلورو او پنځو طبقو کې یوازې یو یو راوي لري، مخصوصاً هغه روایات چې نه په قرآن کې کوم شاهد ورته مومو، نه په احادیثو کې او نه له عقل او درایت سره اړخ لګوي؟!!

د مخکیني درس په پای کې مو د درایت له مخې او د عقل په مرسته د روایت په اړه د پرېکړې یو مثال بیان کړ؛ د دې مثال چې د روایت د صحت لپاره د نورو شرائطو تر څنګ دا هم یو شرط دئ چې په هغه کې داسي څه نه وي ویل شوي چې یا د عام الهي سنت خلاف وي او یا د عقل خلاف وي.

د دې لپاره څو مثالونه له بخاري وړاندي کوم:

د تبع تابعینو له دور وروسته یو کس د ذَر په نامه وایي چې ما له سعید بن عبدالرحمن او هغه له خپل پلار اورېدلي چې عَمَّار رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته وویل: آیا په یاد دي چې زه او ته په یوه سفر کې سره ملګري وو؛ او تا لمونځ ونه کړ خو زه (په خاورو کې) ورغړېدم او لمونځ مي وکړ، دغه قصه مي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وویل: (دا درته کافي وو چې داسي وکړې: بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل دواړه لاسونه پر زمکه ووهل او ورپو ئې کړل، بیا ئې خپل مخ او دواړه لاسونه پرې مسح کړل. روایت دا دئ:

٣٣٨ - حَدَّثَنَا آدَمُ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا الحَكَمُ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، فَقَالَ: إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ المَاءَ، فَقَالَ عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ لِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ:

أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ، فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلم، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا» فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا، ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ رواه البخارى

دا روايت په بخاري کې اوه ځلي راغلی، د سند له مخې دومره کمزورى دئ چې په پنځو نسلونو کې يوازې يوه يوه کس روايت کړى، هيڅ راوي ئې شاهد نه لري، يعني تر زيات غريب هم اوښتى او د متن له مخې قطعاً د منلو او راوړلو وړ نه دئ؛ ځکه نه خو دا د منلو وړ ده چې عمر رضي الله عنه د تيمم له حکم خبر نه وو او لمونځ ئې پرېښود، نه دا چې عبدالله بن عباس چا ته د تيمم اجازه نه ورکوله، (په يوه روايت کې دا راغلي چې گواکې عبد الله بن عباس ويلي: که د تيمم اجازه ورکړو نو بيا خو به خلك د سړو اوبو له کبله هم تيمم کوي!!) او نه دا چې عَمَّار دومره بې خبره وو چې د تيمم لپاره په خاورو کې رغړېدو!! آيا د عمر رضي الله عنه په ضد داسي ادعاء له شاهد پرته منلى شو؟! هغه خو د علم او تقوى له پلوه دومره لوړ مقام درلود چې له ابوبکر رضي الله عنه وروسته هيڅ صحابي د هغه مقام ته نه رسېدو، هغه حتىٰ د خندق په جنګ کې هم خپل لمونځ نه دئ پرېښى، د تيمم په اړه خو د قرآن آيت دومره صريح او واضح دئ چې د قرآن هر لوستونکى پرې پوهېږي؛ او اړوند آيت ئې داسي مهال نازل شوى چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لويه ډله په سفر کې ملګرې وه، ټولو همغه مهال تيمم زده کړى. عبدالله بن عباس رضي الله عنهما به څنګه له داسي کار خلك منع کول چې الله تعالى ئې د کولو اجازه ورکړې؟!! د روايت دغو خبرو ته په پام سره دا هم ويلى شو چې دا برخه ئې هم د منلو وړ نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلو لاسونو کې پو کړي، دا ځکه چې په تيمم کې پاك لاس پر مخ موښل مراد نه دي بلکې په خاورو لړلى لاس مراد دئ. لاسونه څنډل يا يو له بل سره وهل چې

شګي او لوټي ترې توی شي مانع نه لري خو خاوري ترې پو کول له قرآن سره اړخ نه لګوي.

اوس که څوك ووايي: زه دا روايت نه منم، ګمان کوم چې دا روايت به په پنځم نسل کې د اهل تشيع داسي چا جوړ کړی وي چې له عمر رضي الله عنه سره سخت عداوت لري؛ له همدې کبله ئې عمر رضي الله عنه ته په تيمم نه پوهېدا او د لمونځ پرېښودا منسوب کړې، عمار رضي الله عنه ته د تيمم لپاره په خاورو کې رغړېدا!! او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته ئې دا حق ورکړی چې د قرآن يو صريح حکم نسخ کړي!! نو دې سړي نه يوازي هيڅ ګناه نه ده کړې؛ بلکې حق لري ووايي: زه د دغو درنو صحابه وو په اړه دا تورونه نه منم؛ که دا خبره ونه کړي نو هم به ئې له دغو صحابه وو سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل او درايت سره.

آيا هغه څوك به د دريو جليل القدره صحابه وو په خلاف په ناروا تورونو کې شريك نه ګڼل کېږي چې دا روايت عمداً او له تحقيق پرته مني او ترې لاندي (صحيح) ليکي؟!! د الله تعالى په وړاندي به ئې ځواب څه وي چې له شاهد پرته ئې د لويو لويو شخصيتونو په اړه داسي ادعاءګاني منلې او صحيح ئې ګڼلې دي؟!

بل مثال ئې هغه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې او يا د ورځې په يوې برخي کي له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځای کېدو؛ او د مېرمنو شمېر ئې يولس او په بل روايت نه (۹) وه، انس رضي الله عنه ته وويل شول: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره طاقت درلود؟ ده وويل: موږ به سره ويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړی شوی. روايت دا دئ:

٢٦٨ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَدُورُ عَلَى نِسَابِهِ فِي السَّاعَةِ الوَاحِدَةِ، مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ» قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ؟ قَالَ: كُنَّا نَتَحَدَّثُ «أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ» وَقَالَ سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، إِنَّ أَنَسًا، حَدَّثَهُمْ «تِسْعُ نِسْوَةٍ» بخاری

دا روایت د سند له مخي تر ټولو زیات غریب روایت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کي یوازي یو یو راوي لري؛ او د متن له مخي داسي دئ چي هیڅ وزن او اعتبار نه لري، ځکه راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هیڅ توګه نشي ترې خبرېدی، انس رضي الله عنه څه پوهېدو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه ترې خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روایت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعیفو او غیر ثقه راویانو په ډلي کي نیول شوی وی او هر هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کېدی چي د ده له لوري روایت شوی. ځیني محققین د ده روایات د استناد وړ نه بولي.

دا روایت په همدې اړه د بخاري له نورو روایاتو سره تعارض لري، بخاري نه دا ویلي چي کوم روایت صحیح دئ او نه ئې هغو جدي پوښتنو ته ځواب ویلی چي په دې اړه راولاړېږي.

روایت دوه برخي لري؛ یوه ئې دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د ورځي یا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځینو نورو روایاتو کي هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقیقه خبره دا ده چي کله به ئې مازدیګر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس رضي الله عنه ته منسوب دا دوې ویناوي دي: ۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم یا نه (۹) یا یولس (۱۱) مېرمني درلودې او ګواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نږدېکت کاوو! ۲- دا ځکه چي مورږ به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دېرشو کسانو طاقت (جنسي طاقت) ورکړی شوی. د دې دواړو خبرو په اړه باید ووایو

چي دا په بشپړه توګه بې بنسټه او د حقیقت خلاف خبري دي؛ په څو دلائلو:

- له یوه پلوه راوي ته دا خبره منسوب شوې چي نه پوهېدو په یوه وخت کې د پیغمبر علیه السلام په حرم کې څو مېرمني وې، نه یا یولس ئې بولي! څوک چي له دې خبر نه وي نو له دې به څنګه خبرېدو چي له خپلو مېرمنو سره د لیدو پر مهال څه تېر شوي؛ پیغمبر علیه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چي د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي وکړي؛ د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هیڅوک نه خبرېږي؛ د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟
- نه قرآن دا خبره کړې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پیغمبر علیه السلام په خپله دا خبره کړې ده؛ نو راوي د کوم دلیل له مخي دا ادعاء کړې ده؟ او د دې خبري ګټه څه ده؟!
- قرآن خو وایي چي پیغمبر علیه السلام به کله د شپې له دریو دوه برخي، کله نیمایي شپه او کله یوه برخه په لمانځه او د قرآن په تلاوت تېروله (إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَ نِصفَهُ وَ ثُلُثَهُ) او د ورځي له پلوه به هم د دعوت په سخت کار کې مصروف وو (إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحَا طَوِيلَا)، ګڼ شمېر روایات هم وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر ځلي له خپلو مېرمنو اجازه غوښتې ده چي د دوی د وار شپه په عبادت تېره کړي، دا روایت خو په بشپړه توګه د قرآن او دغو روایاتو له وینا سره جدي او ژور تعارض لري او وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به نړدې یولس ساعتونه په جنسي تعلقاتو تېرول!!

د احادیثو په کتابونو کې خو باید یا د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا، یا فعل، یا هغه وینا او فعل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم اورېدلې او لیدلی خو تردید ئې نه دئ کړی، راوړل شي؛ د هر چا وینا د حدیث په نامه راوړل خو د دې روایت په څېر ډېري ستونزي راولاړوي.

د دې روايت په دوهمي برخي کې انس رضي الله عنه ته منسوب ويناوي داسي دي چې هيڅ مسلمان بايد د هغوی د ويلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقيقت، دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم په شأن کې جسارت او هتك حرمت دئ؛ هغه نه پوهېږي چې که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده ترې کوي؟!! څوك چې دا خبره په خوله راوړي بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه حديث ئې مخي ته ودرېږي چې وايي: چا چې ما ته داسي څه منسوب کړل چې ما نه وي ويلي په جهنم کې دي خپل ځای ولټوي. داسي خبري هغه څوك کولی شي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تعدد زوجات له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چې د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چې په دې کار کې نغښتی وو. نه پوهېږي چې په دې کې کوم مصلحت مضمر وو او ولې رسول الله عليه السلام ته د دې اجازه ورکړی شوې؟

راشئ وګورو چې د پيغمبر عليه السلام د ودونو حقيقت څنګه وو؟ ولې هغه ته د (نه) ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دليل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کې او د پيغمبر عليه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کې تر سره شوی؟ په ځوانۍ کې که په زړښت کې؟

ټولو ته جوته ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې واده وکړ، خديجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بې بي څلوېښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پورې ئې بله ښځه نده کړې، تر پنځوس کلنۍ پورې يعني ۲۵ کلونه ئې يوازې يوه مېرمن درلوده، د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضي الله عنها چې کونډه وه؛ په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وه،

پیغمبر علیه السلام صرف یوه سخّه په پېغلتوب کې کړې. نوري بیبیانې ئې کونډې وې، هره یوه ئې د سوده رضي الله عنها په څېر د یوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې؛ په دې کونډو کې ئې یوه داسي هم وه چې شپږ اولاده ئې لرل، هغې ورته عذر کړی چې یا رسول الله! نه غواړم چې ستا لپاره د تکلیف او زحمت باعث شم؛ خو هغه غوښتل چې د خپل یو مخلص ملګري صحابي چې د الله تعالی په لار کې شهید شوی؛ نن ئې کونډه او ماشومان پاته دي، له ولي او متکفل پرته؛ دا ئې نه شو منلی نو ځکه ئې هغې ته پیغام لېږلی، هغې عذر وړاندي کړی خو پیغمبر علیه السلام هغه قانع کړې. د پیغمبر علیه السلام د ودونو فلسفه همدا وه، د جنسي قوت لپاره نه؛ بلکي د یوه لوی مصلحت لپاره. اصلاً تر یوې د زیاتو مېرمنو اجازه ورکړل شوې د همدې لپاره ده؛ د نساء سورې په هغه ځای کې چې د یتیمانو او د دوی په اړه د عدل او قسط مراعاتولو یادونه شوې؛ او ویل شوي: که د یتیمانو په اړه د عدالت نه مراعاتولو له پلوه ووېرېدئ نو کولی شئ دوه، درې او څلور مېرمني وکړئ؛ یعني که تاسو ولیدل چې د ټولني یو شمېر غړي د اسلام په لار کې او د ګډ هدف او آرمان لپاره شهیدان شوي؛ له هغوی کونډې او یتیمان پاته دي، داسي څوک نه لري چې پالنه او ساتنه ئې وکړي او ستونزي ئې حل کړي؛ نو دا بې عدالتي ده چې دوی همداسي پاته شي؛ دا ستاسو ديني مسئولیت دئ، غیرت او ایمان همدا ایجابوي چې دا مېرمني په نکاح کړئ، په دې توګه به هم د کونډو مېرمنو ستونزي حل کړئ او هم د هغوی د اولادونو او یتیمانو ستونزي؛ الله تعالی د دې ستر مصلحت لپاره د تعدد زوجات اجازه ورکړې؛ د شهوت او شوق لپاره نه؛ بلکي د یوې سترې او مهمې مُعْضَلې د حلولو لپاره دا کار جائز شوی. صحابه وو به د جنګ په میدان کې او هغه مهال چې ډېر شمېر مجاهدین به شهیدان شوي وو؛ نو هماغه مهال به ئې دا پربکړه کوله چې د هر شهید د کونډې او یتیمانو د پالني مسئولیت به څوک پر غاړه اخلي. آیا ډېره عجیبه نه ده چې څوک داسي مهم اجتماعي تصرف او

رغنده اقدام ته داسي رنګ ورکوي چې نه يوازي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن سره قطعاً نه ښايي؛ بلکې دښمنانو ته داسي څه په لاس ورکول دي چې د اسلام په ضد د پراخو زهرجنو تبليغاتو وسيله ترې جوړه کړي؛ زمور د متقي پيغمبر عليه السلام د رسولانه تصرفاتو په اړه داسي تحليل وړاندي کول چې ګواکې د تعدد زوجات باعث جنسي قوت وو نه معنوي او رسولانه مسئوليتونه؛ دا خبري کول او منل ډېر جسارت غواړي او د هيڅا ايمان بايد دا اجازه ورنه کړي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي نسبتونه ومني. يقيناً چې نه د مؤمن ايمان دا اجازه ورکوي او نه ئې عقل او درايت.

دې ته بايد متوجه وو چې دا روايت انس رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ او انس هغه مهال له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای شوی چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم عمر نږدې اته پنځوس کاله وو؛ او ده څه کم زيات څلور کاله له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره تېر کړي، د جنسي قوت غليان خو تر څلوېښت کلنۍ يا زيات تر زيات تر پنځوس کلنۍ پوري وي، تر دې وخته خو رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي يوه مېرمن درلوده!! د نړۍ تر ټولو ښايسته پېغلي ورته ميسري وې؛ ولې ئې کونډي په نکاح کړې او هغه هم د ژوند په وروستيو کلونو کې او داسي کونډي هم چې ډېر اولادونه ئې درلودل؟! دا ټول حقائق او دلائل د دې خبري شهادت ورکوي چې دا روايت جعلي، موضوعي او بې بنسټه دئ، نه د منلو دئ او نه د استناد وړ؛ څوك چې دا روايت مني نو هم به ئې له خپل ګران او متقي پيغمبر عليه السلام سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل سره. لکه چې د عيسى عليه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې عيسى عليه السلام ئې په داسي صفاتو وستايو چې الله تعالى نه وو پرې ستايلى او داسي څه ئې ورته منسوب کړل چې الله تعالى نه وو ورته منسوب کړي، مفسدو مسيحيانو حتىٰ يوې بد لمنې مېرمني په اړه ويلي چې د مسيح پښې ئې په خپلو اوښکو ومينځلې، بيا ئې عطر پرې وپاشل، بيا ئې د سر په وېښتانو وچ کړل او تر هغه ئې په وار وار د

ده پښې کښلولې چې غونډه پای ته ورسېده!! همدا راز زمونږ د خوږ پیغمبر علیه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسې صفاتو ستایي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!! د دې روایت مزید شرح په اړوند روایت کې وګورئ.

راګرځو د روایاتو په اړه قواعدو ته:

محدثین کله چې داسې حدیث بیانوي چې راوي له مروي عنه اورېدلی وي نو د سمعت، حدثني، حدثنا، اخبرني، اخبرنا، انبأنا او قال لي الفاظ کاروي او کله چې راوي خپل مروي عنه نه وي لیدلی او له هغه ځې مخامخ نه وي اورېدلی د عن او قال اصطلاح راوړي. د احادیثو زده کوونکی د طالب الحدیث په نامه او استاد ځې د محدث، شیخ، حجت، امام او حاکم په نامه یادوي. د احادیثو کتابونه د جامع، سُنن، مُسنَد، مُعجَم، مُصَنَّف په نامه یادوي.

هر څومره چې د یوه خاص روایت د راویانو نومړ لنډ او د راویانو شمېر ځې لږ وي؛ د خطأ او اشتباه امکان ځې لږ وي، خو څومره چې محدث خپل روایات له درېیم، څلورم، پنځم او شپږم کس تر لاسه کوي نو د خطأ او اشتباه امکان ځې هم زیاتېږي. هغو محدثینو چې مخامخ ځې له صحابه وو یا له تابعینو اورېدلي روایات راغونډ کړي؛ تر هغو ځې روایات زیات معتبر دي چې له درېیم، څلورم او پنځم نسل ځې تر لاسه کړي.

په احادو کې تر ټولو کمزوری روایت هغه دئ چې لومړی، دوهم او درېیم راوي ځې یو یو وي، په صحابه وو کې هم یوازي یوه صحابي روایت کړی وي او په تابعینو او تبع تابعینو کې هم یوه یوه کس. او دوی هم خپل روایت له مروي عنه مخامخ نه وي اورېدلی او محدث د عن، حدث، قال او اخبر په کلمې سره د هغه روایت راوړی وي، دا روایات په هغه صورت کې نسبتاً تقویه کېږي چې راوي خپل مروي عنه لیدلی وي.

هغه روایت ته د شك په سترګه کتل په کار دي چې د وړې غلطۍ او ګناه

سزا دومره سترە ښيي چې تر کبيرە ګناهونو هم زياته وي، ځکه دا هم د قرآن له اصولو سره مغايرت لري او هم د عدالت خلاف خبره ده. د قرآن له مخي د ستري ګناه سزا سترە ده او د وړې سزا وړه.

محدثينو اکثراً د راويانو ثقه والي ته په پام سره دا پرېکړه کړې چې کوم روايت صحيح، حسن يا ضعيف وګڼي، د راويانو په اړه ئې تحقيق کړی، ثقه او د اعتماد وړ راويان ئې ټاکلي، ضعيف ئې مشخص کړي، د ثقه او ضعيفو راويانو نومړ ئې خپلي مخي ته ايښی او د همدې له مخي ئې د هر روايت په اړه پرېکړه کړې چې کوم نوم ورکړي، صحيح، حسن که ضعيف، اوس چې تاسو د احاديثو د کوم کتاب له پاسه د صحيح نوم ګورئ يا د کوم روايت په پای کې د صحيح لفظ؛ نو د دې معنی فقط دا ده چې د روايت ټول راويان د دغه محدث له نظره ثقه او د اعتماد وړ دي، خو کېدی شي د دغه محدث صحيح ته بل محدث ضعيف ووايي او ضعيف ته ئې صحيح، دا هم کېدي شي چې په يوه کتاب کې مو؛ له يوه راوي، په يوې موضوع پوري اړوند داسي متعدد روايات تر سترګو شي چې په الفاظو کې ئې نه يوازي توپيرونه وي بلکې جدي تعارض او تضاد وي؛ توپير يعني دا چې په يوه روايت کې يو لفظ او په بل کې بل لفظ؛ خو له مخکيني سره مترادف او هم معنی راغلی وي، د مثال په توګه د (جلس) پر ځای (قعد) راغلی وي، تعارض يعني دا چې، په يوه کې يو څه او په بل کې بل څه ويل شوي وي؛ د مثال په توګه يو وايي: ما واورېدل بل وايي موږ واورېدل، يو وايي موږ لس کسان وو بل ئې وايي موږ پنځوس کسان وو، يو وايي سَحَر وو بل وايي غرمه وه؛ او تضاد يعني دا چې په يوه کې د بل خلاف خبره راغلې وي؛ د مثال په توګه يو وايي له خوبه وروسته ئې د ملانځه لپاره اودس وکړ او بل ئې وايي اودس ئې ونه کړ، يو وايي پښې ئې وميندلې او بل ئې وايي پښې ئې مسح کړې، يو وايي معراج په ويښه کې وو او بل وايي په خوب کې وو.

دا هغه اصول دي چې محدثينو د روایاتو د چنلو او تنقيح په دوران کې

مراعات کړي او هر څوک چې د خپلې مدعاء د اثبات لپاره په روایاتو استناد کوي باید دا اصول مراعات کړي.

خو دې ته باید متوجه وو چې الله تعالی موږ پیدا کړي یو؛ زموږ د هدایت لپاره ئې هم خپل لارښود کتاب رالېږلی او هم داسې پیغمبر چې په خپل قول او عمل سره د الله تعالی کتاب موږ ته بیان او تفسیر کړي؛ یعني د هدایت لپاره ئې د فطري استعدادونو، عقل، فهم او حواسو تر څنګ؛ دا دوه پېرزویني هم زموږ په برخه کړې: الهي کتاب او د ده د پیغمبر سنت؛ لکه چې په دې روایت کې راغلي:

۳ - عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ " موطأ مالك

له مالك روایت دئ چې ده ته دا خبره رسېدلې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: په تاسو کې دوه امور پرېږدم؛ تر هغه چې پرې تمسك او عمل کوئ نو هیڅکله به بې لارې نشئ؛ د الله کتاب او د ده د نبي سنت.

د دې روایت لپاره په قرآن کې هم واضح شاهد مومو او د دې آیت تفسیر ئې ګڼلی شو چې فرمایي:

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴿٣٢﴾ آل عمران ۳۲

ورته ووایه: د الله او د پیغمبر اطاعت وکړئ، که ئې مخ واړاوو نو الله له دغو کافرانو سره محبت نه کوي.

د پیغمبر اطاعت یعني د هغه په سنت عمل کول؛ یعني د الله تعالی ولي او دوست هغه دئ چې په عمل کې د الله او د پیغمبر متابعت کوي. د الله اطاعت یعني پر قرآن عمل او د پیغمبر اطاعت یعني د پیغمبر علیه السلام پر

سنت عمل؛ او همدا دواړه د ايمان نښه او عدم ئې د کفر نښه ده.

که څه هم دا روايت له هغه سره توپير لري چې په مخکيني درس کې مو له نظره تېر شو او وايي: په تاسو کې هغه څه پرېږدم چې که منګولې پرې ولګوئ نو هيڅکله به بې لاري نشئ؛ او هغه د الله کتاب دئ؛ يعني د هدايت لپاره ئې يوازې د الله تعالى کتاب کافي ګڼلی وو؛ که د الله تعالى له کتاب علاوه بل څه هم د هدايت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به حتماً په دې مهمې او وروستۍ خطبې کې د هغه يادونه کړې وه؛ قرآن په نورو آيتونو کې هم مورِ ته همدا خبره کوي چې د الله تعالى کتاب په هر څه کې کفايت کوي؛ څو موارد ئې دا دي:

... وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ الفرقان ٣١

... او ستا رب د لارښود او مرستندوی په توګه کافي دئ.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت ٥١

آيا دا ورته کفايت نه کوي چې پر تا مو دا کتاب نازل کړی چې پرې لوستل کېږي؛ يقيناً چې په دې کې د هغو لپاره رحمت او يادونه ده چې ايمان راوړي.

خو دا روايت د الله د کتاب تر څنګ د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت هم يادوي؛ د دې دواړو روایاتو تلفيق داسي دئ چې د الله کتاب د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول احاديث هم احتواء کوي؛ دا ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم احاديث په حقيقت کې د قرآن شرح او تفسير دئ. يعني چې اصل همغه د حجة الوداع روايت دئ؛ د الله کتاب کافي دئ او پر سنت عمل هم په حقيقت کې پر قرآن عمل دئ.

بايد دې ته متوجه وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به مؤمنانو ته دا لارښوونه د خپل رسالت په پاى کې او هغه مهال کړې وي چې نور له نړۍ

د رخصتېدو په حال کې وو؛ ځکه د (قد ترکت فیکم: په یقیني توګه مي تاسو کې پرېښودل) الفاظ راغلي؛ دا الفاظ یوازي په همداسي آخري وخت کې ویل کېږي؛ همغسي لکه چې هر څوك د خپل میراث په اړه تر مړیني لږ وړاندي ورثه وو ته سپارښتني او وصیت کوي؛ همداسي وشول؛ پیغمبر علیه السلام په خپل آخري حج؛ چې د حجة الوداع په نامه یاد شوی؛ د نږدې سل زره خلکو په وړاندي په خپلې وروستۍ خطبې کې؛ دا سپارښتنه وکړه؛ او د دې معنی دا ده چې که په دې اړه هر روایت راغلی وي؛ نو حتماً به ئې وخت او محل همدا وو. اوس که په دې اړه د راغلو روایاتو په الفاظو او متن کې تعارض وي؛ ناچار یو به ترې انتخابوو؛ ځکه موضوع یوه ده او وخت ئې یو؛ همغه به غوره کوو چې په قرآن کې ورته شاهد مومو او ډېرى محدثین ئې غوره ګڼي. د حجة الوداع خطبې کې نږدې ټولو کتابونو کې ګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازي د الله کتاب یاد کړی. نه ئې د سنت یادونه کړې، نه اهل بیت او نه عترت.

یو شمېر کتابونو داسي روایات هم راوړي چې په هغوی کې د سنت پر ځای د اهل بیت او عترت یادونه شوې؛ محققینو دا روایات د إسنادو له پلوه ضعیف ګڼلي او یا ئې ویلي: مراد ئې دا دئ چې زما د اهل بیت په اړه اهتمام وکړئ او مه ئې ځوروئ. نه دا چې د هغوی داسي متابعت وکړئ لکه چې د الله تعالی د کتاب متابعت کوئ.

دا روایات نه یوازي د إسنادو له پلوه ضعیف دي بلکې د متن له پلوه داسي دي چې قطعاً د منلو وړ نه دي؛ دا ځکه چې:

- په قرآن کې هیڅ شاهد ورته نه مومو.
- د رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغه حدیث سره مغایرت او تعارض لري چې په همدې اړه د حجة الوداع په تاریخي خطبه کې راغلی. هلته یوازي

د الله تعالی پر کتاب د اعتصام یادونه شوې او فقط همدا له ضلالت د نجات وسیله ګڼل شوی.

- د هر انسان په اولاد کې هم صالح او ښه وي او هم ناصالح او بد، د پیغمبرانو د اولاد په شمول؛ د نوح علیه السلام زوی او مېرمن او د لوط علیه السلام مېرمن او زومان ئې واضح مثالونه دي؛ مور ټول د آدم علیه السلام اولاد یو؛ هغه هم لومړنی پیغمبر وو؛ په اولاد کې ئې موسی علیه السلام هم شته او فرعون هم؛ محمد علیه السلام هم شته او ابو جهل هم. ممکنه نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دي د خپل اهل بیت په ارتباط داسې خبره کړې وي چې د هغوی متابعت د الله تعالی د کتاب په څنګ کې یاد کړي او هغه هم بلا استثناء او تر قیامت پورې خپل ټول اولاد!!

- قرآن یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمني د اهل البیت په نامه یادي کړې او همدا لقب ئې د ده او د ابراهیم علیهما السلام د مېرمنو لپاره غوره کړی؛ لکه چې فرمایي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ الأحزاب: ۳۳

په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکیني جاهلیت د دور څرګندېدو په څېر مه څرګندېږئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو یوازې دا غواړي چې له تاسو اې اهل البیت (کورواله وو)؛ ناپاکوالی لرې وساتي او په ځانګړي پاکولو سره مو پاکې وساتي.

تر دې آیت وړاندې د پیغمبر علیه السلام مېرمني په مکرره توګه د نساء النبي په نامه یادي شوې او همدغو ته په دې آیت کې د اهل البیت لقب کارول شوی؛ دا کټ مټ داسې ده لکه چې پښتانه خپله مېرمن د کور واله په

نامه یادوي. نو په اهل البیت کې یوازي د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمني شاملي دي نه د کورنۍ نور غړي؛ لکه لونې، زامن، لمسیان او لمسۍ؛ او د تره زامن.

د ابراهیم علیه السلام د مېرمني په اړه فرمایي:

قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴿٧٣﴾ هود: ۷۳

وئې ویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې اهل البیت (کور والو!)؛ بې شکه چې هغه ستایل شوی د عظمت خاوند دئ.

د الله تعالی له لوري لېږل شوو فرشتو ابراهیم علیه السلام ته زېږی راوړ، فرشتې د زلمیو یوه ټولګي ته ورته وې، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووایو، ابراهیم علیه السلام د مېلمنو ګمان پرې وکړ، له څه ځنډه پرته ئې وریت شوی سخوندر ورته راوړ، خو چې د دوی لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي؛ ناآشنا ئې وګڼل او ترې ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چې ښایي دا زلمیان به په بده نیت نه وي راغلي چې زما د ډوډۍ له خوړلو ډډه کوي، قرآن په دې سره مور ته وایي چې د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر شخصیت؛ له هغه لوړ معنوي مقام سره په غیب له پوهېدا دومره عاجز وو چې کور ته ئې راغلې فرشتې ونه پېژندې، د زلمیو ګمان ئې پرې وکړ، وریت شوی سخوندر ئې ورته راوړ، ترې ووېرېدو او ګمان ئې وکړ چې ښایي د دښمنۍ په نیت راغلي؛ او دا همغه مطلب دئ چې تر دې د مخه د دې سورې په ۳۱ آیت کې د نوح علیه السلام په اړه او په ٤۹ آیت کې د پیغمبر علیه السلام په اړه راغلی، چې په غیب نه پوهېدل.

د ابراهیم علیه السلام مېرمن هملته ولاړه وه، دا هر څه ئې لیدل او د دوی ترمنځ خبري ئې اورېدې، دا هم په لومړي سر کې پرېشانه وه، خو هغه

مهال ئې تشويش رفع شو چې د فرشتو ځواب ئې واورېدو. کله چې فرشتو د الله تعالی له لوري د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب زېرى ورکړ؛ وئې ويل: واى واى؛ آيا په داسي حال کې به زوى زېږوم چې په خپله بوډى او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجيبه خبره ده؟! فرشتو وويل: آيا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د کور مېرمنې! بې شکه چې هغه ستايل شوى د عظمت خاوند دئ.

له دې آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې له اهل البيت فقط مېرمني مراد دي نه د کورنۍ نور غړي.

که څوک د مخکيني اصل خلاف پر مېرمنو سربېره نور اولاد هم په اهل بيت کې په زور شاملوي؛ نو مونږ ته دي ووايي: نن به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اهل بيت او عترت کې چا ته مراجعه کوو؛ آيا داسي څوک شته چې د نړۍ ټول مسلمانان هغه ته د پيغمبر عليه السلام د کورنۍ د ځاى ناستي په توګه مراجعه وکړي؟ اهل تشيع چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کورنۍ د هغي برخي په اړه چې د علي او فاطمې رضي الله عنهما نارينه اولاد دي؛ همدا عقيده لري؛ هغوى هم مجبور شوي د دوى اولاد په دولسم نسل کې په داسي چا پاى ته ورسوي چې اوس له سترګو غائب دئ؛ د امام زمان په نامه ئې يادوي؛ يعني هغوى هم نن د علي رضي الله عنه په ژوندیو اولادونو کې داسي مرجع نه مومي؛ نو څه به کوو؟

آيا عقل او ايمان دا خبره مني چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپل اهل بيت؛ هغه هم تر قيامت پورې؛ د الله تعالی له کتاب سره برابر او يو شان ګڼلي وي؟!!

په دغو ضعيفو رواياتو کې کله دا الفاظ راغلي: تركت فيكم الثَّقَلَيْنِ، کله تَرَكْتُ فِيكُمُ الْخَلِيفَتَيْنِ، کله تركت فيكم الْخَلِيفَتَيْنِ كَامِلَتَيْنِ، کله امرين؛ او کله شيئين؛ دا هم شيي چې په دې رواياتو کې کافي اضطرابات شته. څوک شته چې ووايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلې وينا اصلي الفاظ کوم دي؟

الثَّقَلَيْنِ، الْخَلِيفَتَيْنِ، الْخَلِيفَتَيْنِ كَامِلَتَيْنِ، اَمْرَين، شَيْئَين؟

د دغو دلائلو له مخي په بشپړ يقين سره ويلی شو چي په دغو متعارضو رواياتو کي صحيح ئې د حجة الوداع روايت دئ؛ او هغه چي د سنت يادونه په کي شوې؛ د همدې روايت برخه او شرح ده؛ او نور روايات ئې قطعاً د منلو نه دي. طبيعي ده چي د يوې موضوع اړوند متعارضو رواياتو له منځه يوازي يو انتخابولی شو.

مخکينی درس مو پر دې پای ته رسېدلی وو چي د رواياتو د صحت د تشخيص لپاره پر نورو شرائطو سربېره دا هم يو مهم شرط دئ چي په هغه کي د عقل او درايت خلاف څه نه وي؛ د ضعيفو رواياتو څو مثالونه مو بيان کړل؛ يو ئې انس بن مالك رضي الله عنه ته منسوب روايت وو؛ دا بايد په پام کي ولرو چي ستونزه له هغو راويانو راولاړه شوې چي په څلورم پنځم نسل کي دا روايات ترې نقل شوي؛ انس رضي الله عنه جليل القدر صحابي دئ؛ په يوه روايت اته کلن او بل کي لس کلن وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغی؛ مور ئې وغوښتل چي دی د پيغمبر عليه السلام په خدمت کي وي؛ اتلس کلن يا شل کلن وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم رحلت وکړ؛ يعني نږدې اوه يا پنځه کلونه ئې تر ځوانۍ وړاندي او درې يا پنځه ئې په ځوانۍ کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته تېر کړي؛ محققين ئې هغه روايات معتبر ګڼي چي تر ځوانۍ وروسته ئې روايت کړي.

دا هم د درايت غوښتنه ده چي وګورو راوي ته د بلوغ او رشد مرحلې روايت منسوب شوی که د ماشومتوب د وخت.

راشئ له دغو ضعيفو رواياتو دې روايت ته هم ځير شو:

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي كُنْتُ قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا

إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَمْ تَضِلُّوا بَعْدِى الثَّقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ: كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَعِتْرَتِى أَهْلُ بَيْتِى، وَإِنَّهُمَا لَنْ يَفْتَرِقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَىَّ الْحَوْضَ " إسناده ضعيف

دا روايت چې حسين سليم اسد ضعيف ګڼلی؛ وايي:

له ابو سعيد خدري روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چې ويل ئې: اې خلکو! يقيناً چې په تاسو کې مي داسي څه پرېښودل چې که ئې کلك ونيسئ؛ له ما وروسته به هيڅکله بې لاري نشئ: هغه دوه درانده چې يو ئې تر بل ستر دئ: د الله کتاب چې له آسمان زمکې ته اوږده شوې رسۍ ده؛ او بل ئې زما ټبر يعني اهل بيت؛ او دا دواړه هيڅکله نه سره بېلېږي؛ تر هغه چې ما ته به د حوض کوثر خوا ته راشي.

دا روايت نه يوازې ضعيف دئ بلکې په اړه ئې څو جدي ملاحظات او پوښتنې شته:

- د قرآن له وينا او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له صحيح حديث سره تعارض لري:
- په قرآن کې هيڅ شاهد نه لري.
- آيا کېدی شي رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپل اهل بيت د الله تعالى له کتاب سره داسي برابر ګڼلی وی چې معلومه نه ده کوم يو ئې پر بل ستر او لوړ دئ؛ قرآن که د ده اهل بيت؟!!
- ممکنه نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويلي وي: دوی دواړه (د الله کتاب او د رسول الله ټول ټبر) به تر هغه هيڅکله نه سره بېلېږي چې ده ته د حوض کوثر خوا ته ورشي؟
- آيا د ده په ټولې کورنۍ کې به يو داسي کس پيدا نشي چې د الله له کتاب سره ئې مخالفت کړی وي؟ که داسي وی نو د آدم عليه السلام او نورو

پيغمبرانو په اولاد کې به هم يو کافر نه پيدا کېدو؛ او په ټولې نړۍ کې به يو مرتد او کافر سيد نه وو ليدل شوی.

قرآن رسول الله صلی الله عليه و سلم ته فرمايي:

إِنَّكَ لا تَهْدِی مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِی مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ القصص ٥٦

يقيناً چې ته هغه څوك نشې هدايتولی چې خوښ دي دئ؛ خو الله چې هر څوك وغواړي هدايتوي ئې؛ او هغه هدايتېدونكي ډېر ښه پېژني.

پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې دا ستا په واك کې نه ده چې څوك له هدايت برخمن کړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه کړې، ستا دنده ايمان او سمي لاري ته د دوی بلنه ده، دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې چا ته په سمي لاري د تلو توفيق ورکوي او څوك ترې محروموي.

په دې اړه د الله تعالی پرېکړه د هغه جامع او کامل علم له مخې کېږي چې د هدايت کېدونکي په اړه ئې لري. ته نه پوهېږې چې څوك د دې سعادت وړ دئ او څوك ترې محروم، الله تعالی د هغه چا په وړاندې د هدايت دروازه پرانيزي او په سمي لار د تلو توفيق ورکوي چې وړتيا ئې لري، تا ته نه د دوی وړتيا معلومه ده او نه د زړه کيفيت او نه دا چې دوی په سمي لار د تلو مجال او اراده لري که نه. رسول الله صلی الله عليه و سلم ډېره هڅه وکړه چې د ده تره ابو طالب ايمان راوړي؛ خو نه يوازې دا هڅه بې نتيجې پاته شوه؛ بلکې الله تعالی ورته وفرمايل: له پيغمبر او مؤمنانو سره نه ښايي چې مشرکينو ته د مغفرت دعاء وکړي.

دا مبارك آيت د هغو لارورکو خرافي عقيده ردوي چې وايي: پيغمبر عليه السلام د الله تعالی د پېرزوينو وېشونکی او مُقَسِّم دئ، د الله تعالی د عناياتو له خزانو هر چا ته هر څه ورکولی شي، پير او مرشد کولی شي له لري واټنه؛ حتیٰ له خپل قبر؛ مريدانو ته روحاني فيوضات ورسوي!! که پيغمبر عليه السلام

نشي کولی خپل غيرتي او د ده ستر حامي او مدافع تره ابوطالب ته د ايمان راوړو سعادت ورپه برخه کړي او په روحاني فيض سره د هدايت دروازه د هغه پر مخ پرانيزي؛ بل څوك به څنګه دا کار وکولی شي؟!! آيا د عظيم الشأن قرآن دغه مبارك آيت کافي نه دئ چي داسي خرافي عقائد په دېوال ووهو او په دې باور وو چي الله تعالی هيڅوك د خپلو عناياتو او پېرزوينو د خزانو واکمن نه دئ ټاکلی او د دې خزانو کلياني ئې هيڅا ته نه دي سپارلې، په خپله او د خپل بنده وړتياوو ته په پام سره پرېکړه کوي چي چا ته څومره ورکړي او څوك ترې محروم کړي.

الله تعالی زمونږ د لارښوونې انتظام همداسي کړی لکه چي زمونږ تر پيدايښت وړاندي ئې زمونږ د رزق او روزي انتظام کړی؛ زمکه او آسمان ئې داسي پيدا کړي چي زمونږ ټولو اړتياوو ته ځواب ووايي؛ په زمکې کې ئې هر هغه څه پيدا کړي چي مونږ ورته ضرورت لرو؛ زمونږ جوړښت ئې داسي برابر کړی چي په دې کور کې چي آسمان ئې چت او زمکه ئې فرش ده؛ ژوند وکولی شو؛ د دې کور نور، حرارت، فشار، جاذبه، هواء، اوبه، مېوې، دانې؛ او هر څه ئې داسي دي چي زمونږ له جوړښت او اړتياوو سره متناسب دي. مونږ ته ئې عقل، پنځګوني حواس: سترګي، غوږونه، شامه، ذائقه او لامسه راپه برخه کړي، په مرسته ئې ښه او بد؛ مفيد او مضر- سم او ناسم تشخيصولی شو؛ مزيد ئې له مونږ سره احسان کړی او د زمانې په هر پراو کې ئې زمونږ د لارښوونې لپاره لارښود جامع کتاب رالېږلی؛ د داسي پيغمبر په لاس چي د خپل وخت د ټولو انسانانو له منځ ئې تر ټولو غوره او امين شخصيت غوره کړی؛ هغه ته ئې هم خپل لارښود کتاب ورکړی او هم د دې کتاب په لارښوونو د ښه پوهېدو او د ښه بيانولو استعداد او ظرفيت ورکړی؛ او دا وړتيا ئې ورپه برخه کړې چي د الهي لارښوونو د عملي کولو لپاره کوم اسلوب او طريقه وکاروي. او مونږ ته ئې ويلي: که غواړئ په سمه لار ولاړ شئ او د خپل سالم انساني فطرت مطابق ژوند وکړئ نو دې هدف ته په هغه صورت کې رسېدی شئ چي د الله تعالی د

لارښود کتاب اطاعت وکړئ او د هغه د پيغمبر متابعت.

مور ته له خپل پيغمبر عليه السلام دوه شيان پاته دي: قرآن او د رسول الله صلى الله عليه و سلم قولي او فعلي سنت. قرآن د ټولو صحابه وو په اجماع او په تواتر سره تر مور رسېدلی؛ ټول اسلامي امت پر يوه قرآن؛ له هيڅ توپير پرته باور لري؛ حتىٰ د يوه لفظ په زبر او زبر کي هم د دوی تر منځ اختلاف نشته. اما د رسول الله صلى الله عليه و سلم د قول او فعل په اړه؛ د رواياتو کتابونه سلګونو ته رسېږي؛ هر يوه په زرګونو روايات راغونډ کړي؛ لسګونه زره روايات ئې چنلي او له منځ ئې په ډېر احتياط او دقت سره هغه غوره کړي چي د ده له نظره صحيح ګڼل شوي؛ هم ئې إسناد او راويان ورته د اعتبار وړ او ثقه معلوم شوي او هم ئې متن صحيح، روغ او د منلو وړ.

دا اوس زما په دې کمپيوټر کي د احاديثو ٤٣٦ کتابونه شته؛ چي ځينې کتابونه ئې تر ډېرشو جلدونو هم زيات دي؛ څه موده وړاندي له ما سره د حديث ۲۹۰ کتابونه وو او نن ٤٣٦؛ په داسي حال کي چي اسلامي امت د احاديثو فقط يوه کتاب ته ضرورت لري او هغه هم دومره کتاب لکه زمور واحد مؤمن به قرآن؛ دا ځکه چي حديث د قرآن شرح او تفسير دئ؛ او د قرآن ډېرې برخي داسي دي چي شرح او تفسير ته هم ضرورت نه لري.

که نن ټول اسلامي امت د رواياتو يو متفق عليه کتاب درلودی؛ نو نه به په امت کي مذهبي اختلافات ول او نه د دوی تر منځ لانجې او د اختلافي مسائلو پر سر جګړې. يقيناً چي امت د رواياتو د توحيد او چنلو لپاره داسي کار ته ضرورت لري لکه چي د عثمان رضي الله عنه د خلافت په وخت کي د مصحف د ېلو ېلو نسخو د توحيد په ارتباط وشو او ټولو صحابه وو پر يوه مصحف توافق وکړ؛ همدا ئې تکثير کړ، د نړۍ ګوټ ګوټ ته ئې ولېږلو او نوري نسخې ئې له منځه يووړې او په دې ستر کار سره ئې د مصحف په ارتباط د هر راز اختلاف ټول اسباب له منځه يووړل.

دا کار به ځينو ته ډېر ګران او حتىٰ محال برېښي؛ چي څنګه کولی شو د

حديث له سلګونو کتابونو يو کتاب جوړ کړو؛ خو حقيقت دا دئ چې که موږ اسلامي حکومت ولرو او زعيم مو وغواړي د عثمان رضي الله عنه په څېر شي او د امت د يووالي لپاره ملا وتړي؛ نو دا کار دومره آسان دئ لکه د مصاحفو توحيد. رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل دري شپېته کلن مبارك عمر؛ څلوېښت کلونه تر بعثت وړاندي مکه کې تېر کړل؛ کعبه له بتانو ډکه وه؛ ولس په خرافاتو کې غرق وو؛ ټول عرب د قريشو په شمول په ډلو ډلو وېشل شوي وو او تر منځ ئې خونړۍ جګړې روانې وې؛ مشران ئې ابو جهلان ول؛ څلوېښت کلونه ئې په همدغسي ماحول کې تېر کړل؛ پرته له دې چې په ټولنې کې د کوم ژور بدلون شاهد شي؛ خو کله چې په پيغمبرۍ مبعوث شو او د الله تعالى لارښود کتاب پرې نازل شو؛ نو په پاته دريويشتو کلونو کې ئې؛ د همدې قرآن په رڼا کې؛ نه يوازې ټول حجاز متحد کړ او د اختلافاتو ټغر ئې ټول کړ؛ بلکې د داسې ستر امت بنسټ ئې کښېښود چې نن ئې شمېر نږدې دوه ملياردو ته رسېدلى. يعنې چې په قرآن کې دا سترە او عظيمه وړتيا شته چې متفرق قومونه او په جهل او خرافاتو کې غرق ولسونه متحد کړي او ستر سرلوړی امت ترې جوړ کړي. نن د اسلامي امت دردناك حالت داسې دئ چې سياسي مشران ئې مفسد، عياش، له دين بې خبره، حتى د دين دښمنان او د پردیو غلامان دي او مذهبي مشران ئې په اختلافاتو اخته؛ قرآن ته ئې شا کړې او د دې پر ځای چې د خپل پيغمبر سنت د مسلمانانو د يووالي او وحدت لپاره د مشعل په توګه ونيسي؛ له جعلي او ضعيفو رواياتو خپل ناجائز او له اغراضو راټوکېدلي اختلافاتو ته ترې وسيله جوړوي؛ پيغمبر عليه السلام هم داسې فرمايي چې که په هر ملت او قوم کې ستونزې دي نو يا له حکامو راولاړې شوې او يا هم د هغوی له ديني او مذهبي مشرانو؛ او واقعيت همدا دئ، زموږ د بدي او تورې ورځې او شپې لوی عامل همدا وو.

موږ د قرآن په څېر څرګند او واضح الهي کتاب په واك کې لرو؛ د قرآن په رڼا کې په آسانۍ سره کولى شو روايات وڅېړو او صحيح ئې له ناصحيح تفکيك

کړو؛ د احادیثو اصلي مرجع او منشأ قرآن دئ؛ احادیث د قرآن شرح او تفسیر زمونږ مخي ته ږدي. خو که دین د داسي چا په لاس کي وي چي له هغه ځې ځان ته دکان جوړ کړی؛ خپل رزق د مؤمنانو تر منځ په اختلاف کي لټوي؛ نو وضعیت به مو همداسي وي لکه نن چي ورسره مخامخ یو.

الله تعالی مونږ ته لارښوونه کړې چي ستاسو رب یو دئ، دین مو یو دئ، قبله مو یوه ده، پلار او نیکه مو یو دئ، تاسو یو امت یئ، له اختلاف ډډه وکړئ، په هر څه کي چي له اختلاف سره مخامخ شئ نو د الله تعالی کتاب ته ځې راجع کړئ؛ که د الله پر کتاب تمسك وکړئ نو له تفرق او اختلاف ژغورل کېږئ؛ لکه چي فرمایي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ آل عمران ۱۰۳

او ټول د الله په رسۍ منګولي ولګوئ او مه متفرق کېږئ؛ او پر تاسو د الله هغه نعمت دریاد کړئ چي په خپلو کي سره دښمنان وئ، خو الله ستاسو په زړونو کي الفت واچاوو او د ده په نعمت سره په خپلو کي وروڼه وروڼه شوئ او تاسو د اور د یوې کندي په ژۍ وئ نو له هغې ځې وژغورلئ؛ همدا راز الله تاسو ته خپل آیتونه بیانوي چي هدایت شئ.

د دې ښه مصداق د اوس او خزرج قبیلې دي تر ایمان راوړلو وړاندي د دوی تر منځ خونړۍ او زړې جګړې او دښمنۍ وې، یهودانو جنګول، وسلې هم یهودانو ورکولې، له یهودانو به ځې وسلې په پور اخیستلې او پور هم له سود سره مل؛ د وسلو مارکیټ د یهودانو په لاس کي وو، دواړه قبیلې ځې سره جنګولې؛ خونړۍ جګړې د دوی ترمنځ روانې وې. مدینې ته د رسول الله علیه

السلام له راتلو وروسته دا دواړه قبيلې سره وروڼه وروڼه شول، له دوی يو أمت او ټولی جوړ شو؛ دوی د ټول عالَم لپاره قدوه او اسوه شول او کلی ئې د يوې لويې امپراتوریِ دارالخلافه شو؛ د داسي ستر امت لپاره په محور بدل شول چې له زرګونو قومونو او له ډېرو اوسنيو هېوادونو جوړ شوی وو؛ په غرب کي تر هسپانيا او المغرب پوري، په شمال کي تر يوګوسلاويا پوري، په شرق کي تر اندونيزيا او د چين تر ترکستان پوري ئې پولې رسېدلې؛ دا لوی او ستر امت د مدينې او مدينه والو پر محور څرخېدو او قيادت او زعامت ئې د همدغه قوم په لاس کي وو چې تر اسلام وړاندي؛ يهودو په خپلو منځو کي جنګول، د دې قرآن په طُفيل او برکت؛ له هغوی دغسي ستر او عظيم امت جوړ شو. الله تعالی همدا د دوی مخي ته ږدي چې د اور د کندي ژې کي ولاړ وئ؛ بس لږ پاته وو چې په کي وسوزېږئ، خو د الله تعالی د دې کتاب (قرآن) په برکت وژغورلئ، متحد شوئ او په خپلو منځونو کي وروڼه وروڼه شوئ.

په همدې سورې کي دوی ته مزيد ويل شوي:

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ آل عمران: ١٠٥

او د هغو په څېر مه کېږئ چې په خپلو کې له هغه وروسته ېبل ېبل شول او اختلاف ئې وکړ چې څرګندي نښې ورته راغلې؛ او د همدغو لپاره ستر عذاب دئ.

په داسي حال کې چې د يوه روايت د صحت لپاره لومړی او اساسي شرط دا دئ چې د متن او محتوی لپاره ئې په قرآن کې شاهد ومومو؛ يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ د روايت إسناد او د راويانو اعتبار او ثقه والی په دوهم قدم کې د صحت لپاره ضروري ګڼل کېږي؛ دا هم په هغه صورت کې چې راوي ئې دومره شاهدان هم ولري چې قرآن ئې د يو چا د ادعاء د ثبوت

لپاره ضروري ګڼي؛ قرآن د عادي قضایاوو د اثبات لپاره کله دوه، کله درې او کله څلور شاهدان ضروري بولي؛ له دې پرته د چا ادعاء د اعتبار وړ نه ګڼي؛ طبیعي ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه کومه ادعاء او هغه ته د یوې رأیی انتساب؛ تر بلي هري انساني قضیې زیات اهمیت لري؛ نو د شاهدانو شمېر او د دوی وزن او اعتبار هم باید په همدې تناسب زیات وي.

څو کاله وړاندي مي د شهادت په درنې ورځپاڼي کې د یوه لیکونکي هغه لیکنه ولوسته چې د تنویر په درنې مجلې کې؛ د هغې خپرې شوې لیکنې په اړه ځینې ملاحظات وړاندي کړي وو؛ چې د بحث محوري موضوع همدا مطلب وو؛ د قرآن په رڼا کې د اختلافاتو حل؛ ما غوښتل دغسې ملاحظات او د هغوی ځوابونه د هغو خلکو په وړاندي کښېښودی شي چې د حق په لټه کې دي، غواړي د دین په حقیقت، د قرآن په صحیح تفسیر او د نبوي احادیثو په سم او حقیقي معنی او تعبیر پوه شي او هغه خلك وپېژني چې د نبوي احادیثو په اړه په کړه لار درومي او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته نامناسبي او د دین او عقل خلاف ویناوي او کړني منسوبوي. ښه شو چې دې ښاغلي دا بحث د شهادت ورځپاڼي ته راویست، د ده په ځواب کې مي څو عرائض درلودل:

د ده لومړۍ ملاحظه پر دې خبرې وه چې ویل شوي: حدیث به هغه وخت قبلېږي چې کله د قرآن کریم سره ټکر نه وي!! ورپسې خپل تعلیق په دې توګه وړاندي کوي: دا خبره په عام ډول هغه خلك کوي څوك چې له احادیثو منکر دي... ورپسې لیکي: دوی استدلال په دې روایت کوي:

«مَا أَتَاكُمْ عَنِّي فَاعْرِضُوهُ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ فَإِنْ وَافَقَ كِتَابَ اللَّهِ فَأَنَا قُلْتُهُ وَإِنْ خَالَفَ كِتَابَ اللَّهِ فَلَمْ أَقُلْهُ أَنَا، وَكَيْفَ أُخَالِفُ كِتَابَ اللَّهِ، وَبِهِ هَدَانِي اللَّهُ».

څه چې زما له لوري (چا) درورسول؛ نو د الله کتاب ته ئې وړاندي کړئ؛ که ئې ورسره موافقت درلود نو ما به ویلي وي؛ او که د الله د کتاب خلاف وه؛

نو ما نه دي ويلي؛ او زه به څنګه د الله د کتاب مخالفت کوم په داسي حال کي چې زه ئې په همدې کتاب سره هدایت کړی یم.

دې ښاغلي هم روایت په ناسمه توګه رانقل کړی وو او هم ئې ژباړه ناسمه؛ او ورپسې ئې د روایت په رد کې د داسي خلکو اقوال رااخیستي چې ویلي ئې دي: دا روایت زنادقه وو له ځانه جوړ کړی!! په داسي حال کې چې ګمان نه کوو هیڅ په دین پوه او له خدای وېرېدونکی انسان به د داسي فتوی ورکولو جسارت وکړي، په دې روایت کې هیڅ داسي خبره نشته چې ویوونکی ئې زندیق وګڼل شي!! له تاسو پوښتنه کوم: آیا په دې روایت کې ورانه او غلطه خبره شته؟ هر مؤمن انسان به دا خبره کوي چې قرآن وروستی ملاك او معیار دئ، هغه وینا به مني چې له قرآن سره موافق وي او هغه وینا به ردوي چې له قرآن سره مخالفه وي، قرآن په خپله موږ ته ویلي: په څه چې اختلاف وکړئ نو حکم او پرېکړه ئې الله ته (د الله کتاب ته) ستنېږي؛ لیکونکی په خپله څو سطره وروسته همدغه خبره کوي چې په دې روایت کې راغلې او دلته ئې د هغه راوي ته د زندیق خطاب کړی!! زندیق هغه دئ چې د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د قرآن خلاف خبري منسوبوي. دا د تکفیري ډلو کار دئ چې د خپل غلط مسلك هر مخالف په ضد د تکفیر فتوی ګاني صادروي، دوی هم په خپلو فتوی ګانو سره خلك تکفیروي او هم له دین، قرآن او حدیث په خپلو غلطو تعبیرونو او تفسیرونو سره خلك له اسلام متنفر کوي. دوی ته په ځواب کې وایو:

تا د لیکني مطلب په امانت سره نه دئ نقل کړی، د سالم او صحیح نقد تقاضا دا وي چې تر نقد لاندي مطلب په احتیاط او امانت سره نقل شي، دا روایت تا له خپله ځانه راوړی، په لیکني کې په دې روایت استناد نه دئ شوی. په لیکني کې راغلي چې د متن له پلوه هغه حدیث صحیح ګڼل کېدی شي چې:

- په قرآن کې د هغه لپاره کوم شاهد وي، د قرآن له کوم آیت سره په واضح توګه توافق ولري، یا لږ تر لږه د کوم آیت له الفاظو اشارتاً داسي معلومه شي چې د روایت متن ورسره اړخ لګوي.
- له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د کبار صحابه او د ابو حنیفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاءو مسلك دئ چې حدیث قرآن ته راجع کوي او په هغه صورت کې ئې د استناد وړ ګڼي چې په قرآن کې د هغه لپاره شاهد وموميِ او یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

دا د جلیل القدر امام ابو حنیفه په شمول د ټولو فقهاءو رأیه ده چې روایت یوازي هغه مهال د اعتبار وړ ګڼلی شو چې له قرآن سره تعارض ونه لري، له دې خبرې سره یوازي هغه غرضي او مرضي خلك مخالفت کوي چې له قرآن منکر وي، د الله تعالی کلام وروستی معیار او ملاك نه ګڼي، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوبوي چې د قرآن خلاف وي، غواړي خپله خبره د حدیث په نامه پر خلکو ومني!! دې ته نه ګوري چې محدثینو د امام بخاري په شمول روایات د قرآن په رڼا کې چڼلي او په زرګونو هغه روایات ئې لري غورځولي چې له قرآن سره ئې تعارض درلود. امام بخاري له شپږو لکو روایاتو دوه زره دوه سوه غوره کړل او نږدې پنځه لکه اته نوي زره ئې ونه منل او په خپل کتاب کې ئې د هغوی له راوړلو ډډه وکړه. آیا دا له حدیث د انکار په معنی ده که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د غلطي وینا له انتساب ځان لري ساتل؟!! آیا ته امام بخاري هم د حدیثو منکر ګڼې؟

د امام ابو حنیفه رحمه الله د مُسْنَد په شرحي کې ملا علي القاري د امام ابو حنیفه په اړه لیکي: د امام ابو حنیفه له اصولو یو دا وو چې أخبار الآحاد (هغه روایات چې یو یا لږ راویان لري) د الله تعالی د کتاب عامي او څرګندي وینا ته راجع کوي که دا روایت د قرآن له عمومي او څرګندي لارښوونې سره مخالفت ولري نو پر کتاب استناد کوي او دا روایت پرېږدي، په دې توګه هغه

پر قوي دليل استناد کوي، دا ځکه چې د قرآن حقانيت ثابت دئ او عموميات او ظواهر ئې د ده له نظره پرېکنده دليل دئ.

- ومن أصوله: عرض أخبار الآحاد على عمومات الكتاب وظواهره فإذا خالف الخبر عاما أو ظاهرا في الكتاب أخذ بالكتاب وترك الخبر، عملا بأقوى الدليلين، لأن الكتاب قطعي الثبوت وظواهره وعموماته قطعية الدلالة عنده.

سند له هغه وروسته د اعتناء او اعتبار وړ ګڼلی شو چې د روايت متن له قرآن سره تعارض ونه لري. که ئې له قرآن سره تعارض نه درلود، له نورو صحيح رواياتو سره متعارض نه وو، د عقل او عدل خلاف خبره په کې نه وه، نو که ئې په سند کې څه ضعف هم وي راوړل ئې هيڅ اشکال نه لري، مګر محدثينو په خپلو کتابونو کې ګڼ شمېر ضعيف احاديث نه دي راوړي؟!! دغه روايت چې تا د ځينو په وينا ضعيف ګڼلی د متن له پلوه نه يوازي صحيح دئ بلکې بايد هر مسلمان ئې د لارښود په توګه ومني، هغه به کوم مسلمان وي او څنګه به مسلمان وي چې د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې منسوبوي؟!! قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې د هري اختلافي قضيې په اړه پرېکړه به الله تعالى او د هغه کتاب ته راجع کوئ.

دا ډېره کمزورې خبره ده چې که حديث له قرآن سره د موافقت په شرط منلی شو نو بيا خو حديث ته څه ضرورت دئ؟!! دا خبره هيڅ هوښيار انسان نه کوي، امکان نه لري چې صحيح حديث دي له قرآن سره مخالفت ولري؛ حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، د قرآن شرح او تفصيل به حتماً له قرآن سره بشپړ مطابقت لري؛ او موږ دې شرحي ته همدومره ضرورت لرو لکه د پيغمبر بعثت ته، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هم قرآن ورکړی شوی او هم د قرآن فهم، رسول الله صلى الله عليه و سلم هم قرآن موږ ته رارسولی، هم ئې په خپل عملي ژوند کې موږ ته عملاً انځور کړی، د هغه ژوند او د ژوند ټول اړخونه د قرآن عملي تجسم وو؛ په خپل ژوند سره ئې د قرآن شرح او تفصيل موږ ته راښودلی. د ايمان تقاضا دا ده چې له قرآن سره موافقه خبره

ومنو، مخالفه رد کړو، که مخالفه نه وي؛ سند، شواهدو او متن ته ئې له پام وروسته د هغې د منلو او نه منلو پربکړه وکړو. جناب لیکوال لیکي چې: دا صورت مورږ هم منو چې حدیث هله دلیل دئ چې د قرآن کریم مخالف به نه وي!! پوښتنه کوم: که دا خبره منې نو بیا ستا اعتراض په څه دئ؟ ولې دي د هغه روایت راوي ته د زندیق خطاب وکړ؟ هغه خو همدا خبره کوي، ته ولې دا روایت زنادقه وو ته منسوبوې؟ مورږ خو همدغه خبره کړې او تل به ئې کوو چې روایت په هغه صورت کې د منلو دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري!! ائمه وو همدا خبره کړې، علماءو او فقهاءو همدا خبره کړې او هر مؤمن ئې باید وکړي؛ نه پوهېږو تا ته هسې اختلاف خوند درکوي که څنګه؟ ته له دې خبرې سره توافق کوې خو دا پرې زیاتوې چې: خو دا مخالفت معلومول د هر چا کار نه دئ!! علماء کرامو ته چې د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض لپاره د تطبیق یا نسخي لار اختیاروي، داسې نه وایي چې دا حدیث نه منو... بیا لیکي: په احادیثو کې د تضاد او تعارض په اړه ادعاء یوه بې بنسټه او بې دلیله ادعاء ده!!! عجیبه ده!! څو سطره وړاندي لیکي علماء کرامو ته چې د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض د تطبیق یا نسخي لار اختیاروي!! خو دلته د تعارض له شتون په بشپړه توګه انکار کوي او دا بې بنسټه ادعاء ګڼي!! دا خبره یوازي هغه څوك کولی شي چې نه ئې د احادیثو کتابونه لوستلي وي او نه ئې د احادیثو د شرحي کتابونه، په دې خبر نه وي چې د احادیثو د شرحي کتابونه د دې لپاره لیکل شوي چې دغو تعارضونو ته توجیه پیدا کړي او هغو پوښتنو ته ځواب ووایي چې په دې اړه راولاړېږي، ځینو ته ئې توجیه وړاندي کړې، د ځینو په پای کې ئې خپل عجز څرګند کړی او ویلي ئې دي والله اعلم او په ځینو مواردو کې ئې اعتراف کړی چې توجیه مي ونه موندله؛ او ډېر ئې بې اعتبار، ضعیف او موضوعي ګڼلي؛ زه حاضر یم د بخاري دومره متعارض روایات ستا مخي ته کښېږدم چې یو کتاب ترې جوړېږي، داسې متعارض

روايات چې هيڅ شارح ئې په توجيه او تلفيق نه دئ توانېدلی، د عمدة القاري معروف او منلي مؤلف علامه عيني د بخاري په لسګونو هغه روايات په ګوته کړي چې په خپلو کې تعارض لري. راشه چې دلته ئې څو بېلګې ستا مخې ته کښېږدم، په دې طمع چې د حقيقت په موندلو کې ستا مرسته وکړي، د پېښور له نمڼ منډيي د رياض تر مسجد کبير پوري ولاړ شه او د دغو متعارضو او متضادو روایاتو توجيه او تلفيق راوړه، هغه کتاب په ګوته کړه چې د دغو متعارضو او متضادو روایاتو په توجيه او تلفيق توانېدلی!!

امام بخاري رحمه الله د معراج په اړه داسې روايات هم صحيح ګڼي چې وايي: د معراج سفر له پيل تر پای يو خوب وو؛ په خوب کې پيل شوی او په خوب کې پای ته رسېدلی او په مقابل کې ئې هغه روايات هم صحيح ګڼلي چې دا سفر ئې د ويښې سفر او جسمي ګڼلي!! هغه روايات ئې هم راوړي چې د مړو سماع ردوی او د قرآن د څرګندو آيتونو خلاف ئې بولي او هغه هم چې وايي: مړي د خپلوانو د کېيو څپا هم اوري!! په بخاري کې دا روايات هم مومو چې وايي: خضر ته ژوندی او په سيند کې روان کب د نښې په توګه ټاکل شوی وو او دا روايات هم چې په ټوکري کې مړ او وريت ماهي ئې نښه وو!!

امام بخاري د ابو طالب او ابن ابي په اړه دوه متعارض روايات راوړي، دواړه ئې هم له قرآن سره تعارض لري او هم د بخاري له نورو روایاتو سره، نه ئې له قرآن سره تلفيق ممکن دئ او نه په خپلو منځونو کې، يو ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابو طالب د مړيني او ساه ختو په وخت کې د هغه ليدو ته ورغی او د شهادت د کلمې ويلو بلنه ئې ورکړه، هغه ونه منله، ده ورسره وعده وکړه چې تر هغه به د مغفرت غوښتنه درته کوم چې الله تعالى مي ترې منع کړي؛ او په همدې اړه دا آيت نازل شو:

إِنَّكَ لَا تَهْدِی مَنْ أَحْبَبْتَ...

بل ئې وايي دا آيت نازل شو:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسْتَغْفِرُواْ لِلْمُشْرِكِينَ...

ته به ښايي پوهېږې چې يو ئې د القصص د سورې ٥٦ آيت دئ او بل ئې د التوبه د سورې ١١٣، ته ما ته ووايه چې کوم روايت صحيح دئ؟ کوم آيت نازل شوی؟ بخاري دواړه صحيح ګڼي!! خو ته ښايي په دې پوهېږې چې له دوو متعارضو او متضادو خبرو يوازي يوه ئې احتمالاً صحيح ختی شي نه دواړه، له دغو دواړو متعارضو روایاتو يوازي يو به ئې احتمالاً صحيح وي نه دواړه!! که قرآن ته رجوع وکړو نو له شك پرته راته جوتېږي چې د القصص د سورې آيت د ابو طالب له مرګ ډېر مخکې نازل شوی او د التوبې د سورې آيت د هغه له مرګ نږدې دولس کاله وروسته او د تبوك له جګړې وروسته او له تبوك د راستنېدو په مهال نازل شوی. که څوك ادعاء وکړي چې ښايي دا آيتونه به دوه ځلي نازل شوي وي دا ادعاء د منلو وړ نه ده، ځکه داسي روايت نشته چې وښيي دا آيتونه دي دوه ځلي نازل شوي. هيڅ عقلمن انسان به دا خبره ونه کړي چې جبريل عليه السلام به د ابی ابن سلول او ابو طالب لپاره دوه ځلي له اوم آسمان زمکې ته راغلی وي او د دوی په اړه به ئې يو يو آيت له ځان سره راوړی وي!! زه به ستا ځواب ته انتظار کوم چې ووايې: په دغو دواړو روایاتو کې کوم يو صحيح دئ؟ همدا راز د ابن ابی په اړه درې سخت متعارض او متضاد روايات زموږ مخي ته راځي، دوه ئې په بخاري کې راغلي او درېيم ئې واقدي راوړی، يو ئې وايي: د ابن ابی زوی د خپل پلار د مړيني په ورځ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او ورته وئې ويل: خپل کميس دي راکړه چې خپل پلار ته کفن ترې جوړ کړم، رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل کميس ورکړ او بيا ئې د هغه جنازه هم وکړه... بل ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ابن ابی له قبره راويست او خپل کميس ئې ورواغوست، بل ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل کميس د ابن ابی له مړيني مخکې په خپله ابن ابی ته ورکړی وو!! ما ته ووايه: په دغو روایاتو کې کوم يو صحيح دئ؟ څوك توانېدی شي چې دا متعارض روايات تلفيق او

توجيه کړي؟! په دغو رواياتو کې يو ئې وايي: عمر رضي الله عنه هغه مهال چې رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل د ابن ابی د جنازې لمونځ پيل کړي وويل: آيا د يوه منافق د جنازې لمونځ کوې، حال دا چې الله تعالى ترې منع کړی يې؟! يعني دا چې د منافقينو د جنازې له لمانځه د اجتناب آيت تر دې د مخه نازل شوی وو!! خو بل ئې وايي چې د ابن ابی د جنازې له لمانځه وروسته دا آيت نازل شو!! ما ته ووايه: په دې دواړو کې کومه خبره صحيح ده؟ دا آيت هم د التوبې د سورې په هغې برخې کې راغلی چې د تبوك له جګړې وروسته نازله شوې، ما ته ووايه: ابن ابی د تبوك له جګړې مخکې مړ شوی که وروسته؟ که يوه خبره وکړې يو روايت دې رد کړی او که بله وکړې بل روايت دې رد کړی! که د شهادت ورځپاڼه ئې د نشرولو حوصله لري نو زه تيار يم په لسګونو لسګونو هغه روايات وروليږم چې يا له قرآن سره تعارض لري او يا په خپلو منځونو کې، داسې تعارض چې هيڅوك ئې په توجيه او تلفيق نشي توانېدی.

ځينې ښاغلي وايي: که حديث له قرآن سره د موافقت په شرط منلی شو نو بيا خو حديث ته څه ضرورت دئ؟!! د دې خلکو منطق د تعجب وړ دئ؛ الله تعالى د دې لپاره خپل کتاب د يوه پيغمبر په لاس رالېږلی چې هم ئې مور ته بيان او تشريح کړي او هم ئې عملي مصداق راوښيي؛ د پيغمبر قول او عمل په حقيقت کې د قرآن عيني تجسم دئ؛ همغسې چې قرآن فرمايي:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ الأحزاب: ٢١

يقيناً چې تاسو ته د الله په استازي کې نېکه بېلګه او اسوه ده؛ هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته اميد ساتي او الله زيات يادوي.

يعني پر الله تعالى او آخرت د ايمان او الله تعالى او آخرت ته د طمعې او هيلې درلودو څرنګوالی د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت او کړنلارې

کې پېژندی او زده کوی شو، یعني څوک چې غواړي الله تعالی ته د هیلې درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې له کبله ئې انسان د الله د مرستې، رعایت او عنایت طمع او هیله کولی شي؛ څوک چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هیله درلودل یعني څه؛ غواړي هغه عملونه وپېژني چې له امله ئې کولی شي د نېک آخرت طمع ولري او څوک چې غواړي د الله د زیات ذکر په څرنګوالي پوه شي نو دا ټول له پیغمبر علیه السلام زده کولی شي؛ په قرآن کې ئې په لیکلې بڼه موندلی شي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شخصیت او سنت کې ئې په مجسمه او عملي توګه لیدلی او تري زده کولی شي.

د پیغمبر رسالت په همدې کې راخلاصه شوی؛ او د همدې لپاره رالېږل شوی؛ صحابه وو هغه مخامخ لیدلو؛ او په هر څه کې ئې په هغه پسې اقتداء کوله؛ اما موږ ته هغه توصیف شوی؛ د ده په اړه مو له نورو اورېدلي چې څه ئې ویلي او څه ئې کړي؛ موږ ته هم صحیح اقوال رارسېدلي او هم ناصحیح؛ محدثینو راته ویلي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته تر صحیح اقوالو ناسم او غیر ثقه اقوال زیات منسوب شوي؛ احتیاط کوئ چې هره خبره ونه منئ؛ هغه شرائط ئې موږ ته راښودلي چې په مرسته ئې کولی شو سم او ناسم اقوال تفکیک کړو؛ یو له دغو شرائطو او تر ټولو وړاندي او مهم ئې دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب وینا د قرآن په رڼا کې وڅېړو؛ قرآن موږ ته همدا لارښوونه کړې او رسول الله صلی الله علیه و سلم همدا راته ویلي. د قرآن له مخې صحیح له ضعیف پېژندی شو؛ صحیح حدیث هغه دئ چې له قرآن سره مطابقت ولري او ناصحیح ئې هغه دئ چې له قرآن سره تعارض ولري؛ امکان نه لري چې صحیح حدیث دي له قرآن سره مخالفت ولري؛ حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ، د قرآن شرح او تفصیل به حتماً له قرآن سره بشپړ مطابقت لري.

دوه مثالونه وړاندي کوم:

عائشې رضي الله عنها ته د ابن عمر رضي الله عنهما دا وینا ورسېده چې

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مړی په قبر کې د خپلوانو په ژړا تعذيب کېږي؛ هغې وويل: ابن عمر اشتباه کړې؛ د قرآن څرګند آيت راته وايي: يو د بل په ګناه نه نيول کېږي. عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابن عمر په ژوند کې همدا خبره کوي؛ د قرآن په استناد د هغه ادعاء ردوي؛ آيا دا کافي نه ده چې مورږ اوس څوارلس پېړۍ وروسته د داسي راويانو وينا قرآن ته راجع کړو چې اول، دوهم، درېيم، څلورم او پنځم او تر دې وروسته راويان ئې ټول وفات شوي؟!! عائشې رضي الله عنها ونه ويل چې ابن عمر صحابي دئ؛ د ده خبره سند ده؛ دې ته ئې هم انتظار ونه کړ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتي؛ قرآن ئې کافي وګڼلو او د قرآن په استناد ئې وويل: دا خبره پيغمبر عليه السلام نه ده کړې. په داسي حال کې چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ژوندی وو او عائشه رضي الله عنها هم ژوندۍ وه، مورږ ته چې اوس کوم روايات راځي، له مړو راويانو روايت شوي دي، له دوهم نسل، درېيم نسل، څلورم، پنځم او شپږم نسل؛ دا ټول وفات شوي، خو هلته عبدالله بن عمر ويلي وو چې ما مخامخ له پيغمبر عليه السلام اورېدلي دي؛ عائشه رضي الله عنها فوراً د قران په رڼا کې د روايت په اړه فيصله کوي؛ او دا مورږ ته راښيي چې که غواړو د رواياتو په ارتباط د صحابه وو پر منهج عمل وکړو نو بايد همدا د عائشې رضي الله عنها لاره غوره کړو، روايات بايد ټول د قرآن په رڼا کې وڅېړو.

په بل روايت کې راغلي: ابوهريره له رسول الله صلى الله عليه و سلم واورېدل چې خلکو ته ووايه: چا چې لا إله إلا الله وويل؛ د جنت زېرى ورکړه؛ هغه بهر ووتلو چې خلك خبر کړي؛ عمر رضي الله عنه ئې مخي ته راغی او ترې وئې پوښتل: څه دي اورېدلي: خبره ئې ورته وکړه؛ او خپل نيت ئې چې خلك پرې خبر کړي ورته بيان کړ؛ عمر رضي الله عنه دومره پرې غصه شو چې وايي: ابو هريره رضي الله عنه ته ئې داسي کلك سوك پر سينه ورکړ چې پر زمکه ولوېدو... او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغی او وئې پوښتل:

آیا تا ابوهریره ته دا خبره کړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هو؛ هغه وویل: که دا خبره خلك واوري نو ټول به عمل پرېږدي او یوازي د کلمې په ویلو به بسنه او اکتفاء وکړي.

مور د قرآن شرح او تفسیر ته همدومره ضرورت لرو لکه د پیغمبر بعثت ته؛ پیغمبر علیه السلام ته هم قرآن ورکړی شوی او هم د قرآن فهم، مور ته ئې هم قرآن رارسولی؛ هم ئې په خپل عملي ژوند کې مور ته راښودلی؛ د هغه ژوند او د ژوند ټول اړخونه د قرآن عملي تجسم وو؛ په خپل ژوند سره ئې د قرآن شرح او تفصیل مور ته راښودلی.

د ایمان تقاضا دا ده چې له قرآن سره موافقه خبره ومنو، مخالفه رد کړو، که مخالفه نه وي؛ سند، شواهدو او متن ته ئې له پام وروسته د هغې د منلو او نه منلو پرېکړه وکړو.

ائمه وو، علماءو او فقهاءو همدا خبره کړې او هر مؤمن ئې باید وکړي؛ د متعارضو روایاتو مدافعین په ډېر تکلف او له مجبوریت وروسته له دې خبرې سره توافق کوي خو دا پرې زیاتوې چې: دا مخالفت معلومول د هر چا کار نه دئ!! علماء کرامو ته چې د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورشي؛ دوی د دې تعارض لپاره د تطبیق یا نسخې لار اختیاروي، خو سره له دې په ډېر لجاجت سره وایي: په احادیثو کې د تضاد او تعارض په اړه ادعاء یوه بې بنسټه او بې دلیله ادعاء ده!!!

هغوی ته وایو: دا خبره یوازي هغه څوك کولی شي چې نه ئې د احادیثو کتابونه لوستلي وي او نه ئې د احادیثو د شرحې کتابونه، په دې خبر نه وي چې د احادیثو د شرحې کتابونه د دې لپاره لیکل شوي چې دغو تعارضونو ته توجیه پیدا کړي او هغو پوښتنو ته ځواب ووایي چې په دې اړه راولاړېږي، ځینو ته ئې توجیه وړاندي کړې، د ځینو په پای کې ئې خپل عجز څرګند کړی او ویلي ئې دي والله اعلم او په ځینو مواردو کې ئې اعتراف کړی چې توجیه مې ونه موندله؛ او ډېر ئې بې اعتباره، ضعیف او موضوعي ګڼلي؛ زه حاضر یم

د بخاري دومره متعارض روايات ستاسو مخي ته کښېږدم چې يو کتاب ترې جوړېږي، داسي متعارض روايات چې هيڅ شارح ئې په توجيه او تلفيق نه دئ توانېدلی.

ځيني نور داسي دي چې وايي: دين او عقل يو ځای نشي خوځېدی؛ که دين منې نو له عقل سره به خدای پاماني کوې؛ همغه د بايبل د ليکونکي خبره کوي؛ خدای آدم ځکه له جنت بهر کړ چې د معرفت مېوه ئې وخوړه؛ خدای د معرفت خاوند نه خوښوي او په جنت کې ئې نه پرېږدي!! روايات به منې؛ که څه هم ستا د عقل خلاف وي؛ ځکه ستا عقل معيار نه دئ؛ په پټو سترګو به هر روايت منې که څه هم دا روايات يو د بل داسي خلاف وي چې هر انسان ئې تر منځ توپير، تعارض او تناقض درک کولی شي؛ نه د فيلسوف عقل ته اړ وي، نه د مجتهد، فقيه، محدث او محقق عقل ته؛ هغه به کوم انسان وي چې د تکراري رواياتو تر منځ تفاوت، تعارض او تناقض نشي درک کولی؛ که په يوې موضوع پوري مربوط رواياتو کې؛ په يوه کې پنځه او په بل کې پنځوس، په يوه کې اوه، په بل کې اويا، په يوه کې خوب په بل کې ويښه، په يوه کې شپه په بل کې ورځ؛ او دې ته ورته تعارضات او توپيرونه راغلي وي؛ آيا هر عادي انسان دا تعارض نشي درک کولی؟! مگر ضرور دئ چې د فيلسوف عقل به لري؟ يا د مجتهد او د فقيه؟ عادي انسان هم دا کار کولی شي.

هغه چې وايي: کوم عقل او د چا عقل به معيار ګڼو؟ هغوی ته وايو: همغه عقل چې مورِ خپل رب پرې پېژندی شو، هم د الله تعالی د کتاب حقانيت او هم د ده د رسول د رسالت او سنت حقانيت؛ د مؤمن عقل؛ هغه چې الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب قرآن کې ٤٩ ځلي د عقل او تعقل په نامه ياد کړی او په حقائقو د پوهېدو او ايمان راوړو وسيله ئې بولي او ١٩ ځله ئې د فکر او تفکر په نامه ياد کړی او وايي: يوه د عقل او فکر په مرسته خدای پېژندلی، حقائق ئې درک کړي او إيمان ئې راوړی؛ او بل د تعقل او تفکر پر ځای په هوی او هوس پسي تللی او کافر شوی، همغه عقل چې الله تعالی ئې

خاوندان شپارس ځلي د أولو ألالباب په نامه یاد کړي او ستایلي؛ هغه عقل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ ده ته د منسوب روایت د صحت لپاره معیار ګڼلی؛ او له وینا ئې په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې د یوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چې سمه او ناسمه وینا پېژندی شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چې په هر څه کې د ده لارښود دئ؛ او د خپل ایمان په رڼا کې؛ د یوې وینا په اړه سم قضاوت کولی شي؛ که ئې زړه او مشاعرو ومنله چې دا وینا صحیح ده؛ نو باید ډاډه وي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا خبره کړې وي او که ئې د زړه او دماغ درې ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شکمن شو؛ نو باید د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن ئې لري وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وکړي.

امام شافعي وايي:

١٩٧٦٥ - قَالَ الشَّافِعِيُّ:... فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُمْ بِطَاعَةِ اللَّهِ، ثُمَّ رَسُولِهِ، ثُمَّ الِاجْتِهَادِ، فَيُرْوَى أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاذٍ: «بِمَ تَقْضِي؟» قَالَ: بِكِتَابِ اللَّهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟» قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ؟» قَالَ: أَجْتَهِدُ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِهِ» معرفة السنن و الآثار

بل روايت وايي:

٢٣٤٤٣- حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: يَا مُعَاذُ بِمَ تَقْضِي؟ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ؟ قَالَ أقضى بما قضى به نبيه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ نَبِيُّهُ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: أَؤُمُّ الْحَقَّ

جَهْدِی؛ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِی جَعَلَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِی بِمَا يَرْضَی بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُصَنَّف ابن ابی شيبه

د دې دواړو روایاتو خلاصه دا ده: کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ مُعاذ بن جبل یمن ته د والي په توګه لېږلو نو هغه ته ئې وفرمایل: د څه له مخې به قضاوت او پرېکړي کوې؟ وئې ویل: د الله په کتاب سره؛ وئې فرمایل: که داسي قضیه درته راشي چې د الله په کتاب کې نه وي؟ وئې ویل: د پیغمبر علیه السلام د پرېکړو مطابق به پرېکړه کوم؛ وئې فرمایل: که داسي څه درته راشي چې نه د الله په کتاب کې وي او نه پیغمبر د هغه په اړه پرېکړه کړې وي؟ وئې ویل: خپله هڅه او اجتهاد به له حق سره برابروم. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: الحمد لله چې د پیغمبر استازي ته ئې پوهه ورکړې او داسي ئې ګرځولی چې پرېکړه ئې د رسول الله د رضایت مطابق وي.

یعني چې له کتاب الله او د پیغمبر له سنت وروسته؛ د پرېکړو واك او اختیار د مؤمن انسان عقل، درایت او اجتهاد ته پرېښودل شوی.

مور په دې باور یو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هر څه هم د قرآن مطابق وو او هم د عقل مطابق؛ هم ئې عمل، هم ئې وینا، هم ئې امر، هم ئې نهي، همغسي چې په دې روایت کې راغلي:

١٣٥٩ - عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، قَالَ: قُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ يَعْنِي عَائِشَةَ حَدِّثِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: " بَلَى "، قَالَتْ: " فَإِنَّ خُلُقَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ الْقُرْآنَ " أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيحِ و الْبَيْهَقِيُّ فی

شعب الايمان

له عائشې رضي الله عنها پوښتنه شوې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اخلاقو مو خبر کړه؛ هغې وويل: آيا قرآن دي نه دئ لوستى؟ ومي ويل: ولې نه؛ نو هغې وويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم خلق همدا قرآن وو.

خُلُق د اخلاق جمع ده؛ په اخلاق کې د انسان ټول اعمال، اقوال، صفات او عادات شامل دي؛ يعني چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن عملي تجسم وو؛ هر څه ئې د قرآن مطابق.

د قرآن ځيني لارښوونې داسي دي چې هر څوك پرې پوهېږي، ځيني ئې داسي دي چې د علم او پوهې خاوندان پرې پوهېږي، ځيني ئې داسي دي چې يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوه شوى او هغه خپل امت ته بيان کړې، د دې خبرې يو مثال دا دئ: هر څوك د قرآن په دې حكم پوهېږي چې لمونځ به كوي، د لمانځه د اوقاتو په اړه په قرآن کې داسي اشارې شته چې د لمانځه وختونه ترې معلومېږي، د پوهې او علم خاوندان دا اشارې درك كولى شي، خو د لمانځه د ركعتونو د شمېر او څرنګوالي په اړه داسي اشارې راغلې چې يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوه شوى او خپل امت ته ئې ښودلې.

دا ښاغلي ځيني احاديث په هغو مسائلو پورې مربوط ګڼي چې قرآن ترې ساكت دئ او په مثال کې ئې د واده کړې زناكار د رجم او د ترور او وړېږې په يوه نكاح کې د جمع كولو ناروا کېدل راوړي!! او وايي: دا لارښوونې په قرآن کې نشته؛ يوازې په حديث کې راغلې؛ نو ګواکې قرآن كافي نه دئ او په حديث سره بشپړ کېږي؛ هغوى ته وايو: ستاسو ستونزه همدا ده چې قضاوتونه مو سطحي او ظاهري دي؛ هم د قرآن په ارتباط او هم د روایاتو په ارتباط. د رجم په اړه هم ستاسو دا ادعاء غلطه ده او د وړېږې او ترور يو ځايي نكاح په ارتباط هم. د دواړو منشأ د الله تعالى كتاب دئ.

د النساء د سورې ۲۳ آیت هغه ښځي معرفي کړې دي چې نکاح ورسره حـرامه ده، اوه ئې له نسبي پلوه او اوه ئې له صِهري (خسرګنۍ) له پلوه، قرآن په دې اړه یو څرګند اصل زموږ مخي ته ایښی او فرمایلي ئې دي چې یوه سړي ته دوې خویندي په ګډه نکاح کول او ښځه او د هغې مور یا لور ورسره یو ځایي نکاح کول حرام دي، رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه اصل ته په پام سره د هغو دوو ښځو یو ځایي نکاح هم ناجائزه ګڼلې چې په خپلو کې ترور او ورېره وي، دا ځکه چې قرآن د دوو خویندو یو ځایي نکاح، له ورېرې سره نکاح، له ښځي او د هغې له مور سره نکاح او له بل مېړه د هغې له لور سره نکاح حرام کړې. یعني د دوو داسي ښځو د یوځایي نکاح په اړه صریح او واضح حکم د ده مخي ته پروت وو چې په خپلو منځونو کې ئې خاص تعلق وو، که په دوی دواړو کې یو ئې نارینه وي؛ نو تر منځ ئې نکاح جائزه نه وي؛ د دوی دواړو یو ځایي نکاح هم جائز نه ده. رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه حکم ته په پام سره د ورېرې او ترور په اړه دا لارښوونه کړې. دا حکم ئې له خپل ځان نه دئ صادر کړی، د قرآن له صریح حکم ئې اقتباس کړی. قرآن خو دا هم نه دي ویلي چې د لمسۍ او انا حکم څه دئ، که دا خپله وي یا د مېرمني او یا د خور او ورور، خو هر عقلمن انسان د دوی په اړه حکم له نورو احکامو قیاس کولی شي، له دغو څوارلسو مواردو علاوه نور محرمات د همدغو آیتونو له مخي ټاکل شوي، نه دا چې د دوی په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ېېله ېېله وحي نازله شوې!!

د دوی دا بل مثال هم مخکیني مثال ته ورته دئ، قرآن د ناوادە زناکار سزا په څرګندو الفاظو ټاکلې او ویلي ئې دي چې دواړه سل سل درې ووهئ، یو هوښیار انسان پوهېږي چې که د ناوادە زناکار سزا دا وي نو د وادە شوي زناکار سزا به طبعاً تر دې زیاته وي. رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسي زناکار سزا په خپله خوښه نه ده ټاکلې، د قرآن د دغه حکم په رڼا کې او دې ته په پام سره چې په مخکیني الهي شریعت کې د دوی سزا رجم وو؛ فرمایلي

چي داسي زناکار به رجم کېږي. موږ وايو چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغو لارښوونو منشأ همدغه آيتونه دي، دوی وايي: دا ښه ښه وحي ده!! پوښتنه کوو: ستاسو دليل څه دئ؟ دا خبره خو تاسو له ځانه کوئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دي ويلي چي په دې اړه ما ته ښه وحي شوې.

دوی وايي: حديث حجت دئ؛ موږ وايو: تر تاسو زيات موږ پر دې اصرار کوو چي حديث حجت دئ؛ خو په دومره تفاوت سره چي صحيح حديث حجت دئ، نه هر روايت؛ او صحيح حديث هغه دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، کوم روايت چي له قرآن سره تعارض ولري که ټوله دنيا ئې صحيح وګڼي موږ ئې نه د اعتبار وړ ګڼو او نه پرې استناد کوو.

موږ له دوی سره په دې کې هم موافق نه يو چي حديث هم د قرآن په څېر د الله تعالى له لوري ښه او مستقله وحي ګڼي. عقيده مو دا ده چي قرآن د الله تعالى له لوري پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی او حديث هغه فهم او پوهه ده چي الله تعالى د قرآن په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په برخه کړې. دا مطلب هغه روايت ښه توضيح کوي چي وايي:

٢٦٥٨ -... عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قُلْتُ لِعَلِيٍّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ مِنَ الْعِلْمِ لَيْسَ عِنْدَ النَّاسِ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا عِنْدَ النَّاسِ، إِلَّا أَنْ يَرْزُقَ اللَّهُ رَجُلًا فَهْمًا فِي الْقُرْآنِ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ «فِيهَا الدِّيَاتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ» سنن ابن ماجه

له ابو جُحَيفه روايت دئ چي وايي: علي رضي الله عنه ته مي وويل: آيا کوم خاص کتاب او ليکنه درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي او هغه څه چي په دې پاڼي کې دي، وايي: ورته ومي ويل: نو په دې پاڼي کې څه دي؟ وئې ويل: د رسول الله صلى

الله علیه و سلم له لوري د دیت حکم (د اسیر آزادولو معاوضه) او دا چې مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کېږي.

ځینې خلك داسې دي چې قرآن مني خو حدیث نه مني او ځینې داسې دي چې حدیث مني خو قرآن نه مني، ځینې داسې دي چې د یوه کتاب احادیث مني او د بل نه؛ او د دې کتاب هر روایت ته که څه هم غریب وي او له قرآن سره په بشپړه توګه متعارض او متناقض؛ هغه هم داسې تناقض او تعارض چې هر عادي انسان پرې پوهېږي؛ همدې ته به د داسې حجت په سترګه ګوري چې د قرآن څرګند آیت د هغه لپاره شا ته غورځوي!! مورږ له دغو ډلو کرکه لرو او الله تعالی ته پناه وړو چې د دوی له ډلې شو. هم قرآن منو او هم صحیح حدیث.

دا ښاغلي چې د قرآن او حدیث تر منځ د توپیرونو په اړه څه وایي او تعارض رفع کولو او تلفیق کومه ناکامه هڅه چې کوي؛ اکثر ئې بې بنسټه او له ځان جوړې شوې خبرې دي؛ سمه او دقیقه وینا فقط دا ده چې قرآن د الله تعالی کلام دئ چې د الله تعالی له لوري رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وحي شوی او حدیث د قرآن قولي شرح او تفصیل، عملي مصداق او عیني تجسم دئ. (ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ) ئې پیل دئ او د (ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ) آیت ئې پای دئ؛ نه تر دې وړاندې وحي پرې نازله شوې او نه ترې وروسته.

دا ښاغلي دې اعتراض او پوښتنې ته چې ولې له صحابه وو په لیکلي بڼې کې روایات نه مومو؛ او دا خو ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حدیث له لیکلو ممانعت کړی؛ نو ځواب ئې داسې وي چې ښیي: قولي روایت تر لیکلي روایت د زیات اعتبار وړ ګڼي؛ ښایي غواړي ووایي چې له صحابه وو په لیکلې بڼې کې د روایاتو نه راتګ د هغوی اعتبار ته زیان نه رسوي!! مورږ ته دا یوه مغالطه معلومېږي، که لیکل ضروري او مهم نه وی او تر وینا ئې اعتبار زیات نه وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د قرآن د لیکلو

امر نه کاوو، صحابه وو به په یوه مصحف کې د قرآن د لیکلو په اړه اجماع نه کوله، محدثینو به د احادیثو کتابونه نه لیکل، د قرآن په لومړي نازل شوي آیت کې به د قرائت او قلم یادونه نه کېده، د قرض او پور په اړه به ئې دا حکم نه کاوو چې هغه ولیکئ. که مسلمانانو او په خاصه توګه زمور درنو محدثینو د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول احادیث په یوه کتاب کې راغونډ کړي وی او ټولو پرې اجماع کړې وی نو نن به مور د متعارضو روایاتو له ستونزې سره مخامخ نه وو، ببلي ببلي داسي مذهبي ډلي به نه وې چې هره یوه ئې ځان ته د روایاتو خاصه لړۍ لري او د هغوی په اړه ږوند تعصب.

د روایاتو په اړه دا هم په پام کې ولرئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله مور ته لارښوونه کړې:

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: "إِذَا سمِعْتُمُ الْحَديثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ فَأَنَا أَوْلاكمْ بِهِ. وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَديثَ تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَنْفِرُ مِنْهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّه مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ" مسند احمد

له ابي حُمید او ابي اُسید روایت دئ چې نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: که مو ما ته منسوب داسي حدیث واورېد چې ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ او داسي ئې ومنئ چې تاسو ته نږدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولی یم او که مو ما ته منسوب داسي حدیث واورېد چې ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي تړې نفرت کوي او داسي ئې ومنئ چې له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زیات له هغه لري یم.

دا روایت د مسند احمد او صحیح حبان تر څنګ ځینو نورو کتابونو کې

هم راغلی؛ راویان ئې ثقه او صادق ګڼل شوي؛ او محققینو ویلي: رجاله رجال الصحیح: راویان ئې د صحیح روایاتو معیار مطابق دي.

یعني د یوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چي سمه او ناسمه وینا پېژندی شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چي په هر څه کې د ده لارښود دئ؛ او د خپل ایمان په رڼا کې؛ د یوې وینا په اړه سم قضاوت کولی شي؛ که ئې زړه او مشاعرو ومنله چي دا وینا صحیح ده؛ نو باید ډاډه وي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به دا خبره کړې وي او که ئې د زړه او دماغ دړه ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شکمن شو؛ نو باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم له شأن ئې لري وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وکړي.

آیا حدیث د قرآن شرح ده که بېله وحي؟

دا هم یوه له هغو مسائلو ده چي په اړه ئې د مسلمانانو تر منځ د اختلاف شاهد یو، دا چي آیا وحي یوازي تر قرآن پوري منحصر او مختص ده که پر رسول الله صلی الله علیه و سلم پر قرآن علاوه هم وحي نازله شوې؟ آیا د الله تعالی ټول احکام په قرآن کې جمع شوي؛ که داسي الهي احکام هم شته چي په قرآن کې ئې نه مومو؛ یوازي د احادیثو په ضمن کې بیان شوي؟ آیا حکم او قانون صادرول فقط الله تعالی ته مختص صفت دئ او دا حق ئې بل چا ته نه دئ ورکړی او که پیغمبران هم د حلال او حرام وضع کولو حق لري؟ آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث ته به د قرآن د شرحي او تفسیر په سترګه ګورو که د بېلي او مستقلي وحي په سترګه؟ که دا بېله وحي وي نو په کوم نامه به ئې یادوو او له هغه بلي وحي سره به ئې توپیر څه وي؟ آیا دا دواړه د وحي متلو او وحي غیر متلو یا وحي جلي او وحي خفي په نامه یادولی

شو؟ که د وحي اصلي معني رمز او خفي اشاره وي نو آيا کولی شو وحي د جلي په نامه يادہ کړو او آيا د جلي اطلاق پر وحي کېدی شي؟ دا ليکنه دغو پوښتنو ته مختص شوې.

ځيني ادعاء کوي چې وحي دوه ډوله ده: متلو او غير متلو يا جلي او خفي، وايي پر رسول الله صلی الله عليه و سلم دوه ډوله وحي نازله شوې: يوه ئې هغه چې د قرآن په بڼې کې تر موږ رارسېدلې او بله ئې هغه چې د حديث په بڼې کې رارسېدلې، دوی د خپلې ادعاء د اثبات لپاره دا دليل وړاندي کوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په احاديثو کې داسي احکام او لارښوونې مومو چې په قرآن کې د هغوی لپاره کوم شاهد او اشاره نه تر سترګو کېږي؛ او قرآن وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له وحي پرته بله خبره نه کوي، د قرآن دا آيت د دې ادعاء لپاره د دليل په توګه وړاندي کوي چې وايي: وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ * إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ*: د خپل هوس له مخي خبرې نه کوي، دا خو له هغې وحي پرته بل څه نه دي چې ده ته وحي کېږي. او ګواکې د دې آيت معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم هره وينا او حديث وحي ده. راشئ دا دواړه ادعاءګاني لږ په دقت او غور سره وڅېړو.

دوی له هغو مواردو چې وايي په قرآن کې ورته اشاره نه ده شوې خو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت کې راغلي دغو مواردو ته په ډېر زور شور سره ګوته نيسي:

الف: وايي په قرآن کې دا حکم نه مومو چې د بيت المقدس لوري ته د قبلې په توګه مخ کړئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم په مکه کې او تر هغه چې په مدينه کې د قبلې بدلولو حکم راغی؛ د بيت المقدس لوري ته لمونځ کولو او په قرآن کې راغلي چې بيت المقدس مو د دې لپاره قبله ګرځولی وو چې وګورو څوک د رسول الله صلی الله عليه و سلم متابعت کوي او څوک پر خپلو پوندو شا ته اوړي:

وَ مَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِی کُنت عَلَیهَا إِلا لِنَعْلَمَ مَن یَتَّبِعُ الرَّسولَ مِمَّن یَنقَلِب عَلَی عَقِبَیْهِ... البقرة: ١٤

او ستا مخکینۍ قبله مو له دې پرته د بل څه لپاره نه وه ګرځولې چې معلومه کړو څوک د پیغمبر متابعت کوي او څوک پر خپلو پوندو بېرته ګرځي؛

یعني مخکې مو د دې لپاره دوی ته د کعبې پر ځای بیت المقدس قبله ټاکلې وه چې معلومه کړو دا خلك د پیغمبر په متابعت کې د خپل پلار نیکه له قبلې تېرېدو ته تیار دي که نه او د ایمان لپاره ټولو قومي او ژبني تعصباتو ته لغته ورکوي که نه؟

دوی وایي: له دې آیت معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د بیت المقدس په اړه وحي شوې وه خو په قرآن کې دا وحي نه ده راغلې!! د دوی په ځواب کې باید ووایو:

- ١- دا ادعاء په هغه صورت کې د اعتناء او اعتبار وړ ګڼل کېدی شوی چې یا خو په قرآن کې دا حکم راغلی وی؛ یا رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله ویلي وی چې ما ته د بیت المقدس په لوري د مخ اړولو حکم شوی وو، حال دا چې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره کړې او نه په هیڅ آیت یا حدیث کې صراحتاً یا اشارتاً دا خبره مومو. پوښتنه کوو: تاسو ولې دا جسارت کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه څه منسوبوئ چې هغه نه دي ویلي؟!! آیا دا بې ځایه جسارت نه دئ؟!!

- ٢- رسول الله صلی الله علیه و سلم د بیت المقدس په لوري له دې کبله لمونځ کولو چې دی تر هغه د مخکیني شریعت په متابعت مکلف وو چې حکم ئې په وحي سره عوض شوی؛ نه دا چې ده ته د ېبلي وحي له مخې حکم شوی وو چې بیت المقدس ته مخ کړي. ټول انسانان تر هغه د مخکیني شریعت او مخکیني پیغمبر په متابعت مکلف دي چې د الله تعالی له لوري نوی شریعت راشي او نوی پیغمبر مبعوث شي. رسول الله صلی الله علیه و

سلم به تر هغه بيت المقدس قبله ګڼله چي د نوي الهي حکم له مخي د هغې پر ځای نوې قبله وټاکل شي. قرآن وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا تلوسه درلوده چي ده ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر داسي قبله وټاکل شي چي د ده د دعوت په سيمي کې وي، تر ده وړاندي پيغمبران په شام او فلسطين کې تېر شوي او الله تعالی هغوی ته په همغې سيمي کې بيت المقدس د قبلې په توګه ټاکلی وو، ده غوښتل چي د بيت المقدس پر ځای کعبه د ده او د ده د امت قبله شي، د همدې لپاره ئې په وار وار د آسمان لور ته مخ اړولو او د قبلې د تحويل په اړه ئې د وحي راتلو انتظار او توقع درلوده، که ده ته بېله وحي شوې وی نو د الله تعالی پر حکم به په بشپړه توګه قانع او راضي وو او هيڅکله به ئې د قبلې د تحويل تلوسه نه وه کړې.

٣- رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټولو نورو مواردو کې تر هغه په مخکيني شريعت عمل کړی چي يا اړوند حکم ئې منسوخ شوی، يا تعديل شوی يا تأييد شوی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د تقوی، طهارت، پاك لمني، صدق، امانت او نورو نېکو عملونو او د شراب، قمار، زنا، غلا، دروغ، خيانت، دوکه او ټولو نورو ګناهونو په اړه تر هغه په مخکيني شريعت عمل کولو چي په دې اړه په قرآن کې نوي احکام راغلل، آيا ويلی شو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دغو امورو په اړه د قرآن تر نازلېدو وړاندي بېله بېله وحي شوې وه؟!! که څوك دا غلطه او بې بنسټه ادعاء کوي نو مونږ ته دي د رسول الله صلی الله علیه و سلم يو داسي حديث راوښيي چي په هغه کې ويل شوي وي: ما ته د قرآن تر نزول وړاندي په دې اړه وحي شوې وه!!!

٤- د رجم په اړه په قرآن کې دا حکم نه مومو چي محصن زاني دي رجم شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم نه دي ويلي چي ما ته د محصن زاني د رجم په اړه بېله وحي شوې، خو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي زاني او زانيه رجم کړي!! آيا د دې په توجيه کې له دې پرته بله خبره کولی شو چي د رجم حکم په مخکيني شريعت کې راغلی، په قرآن کې د دې حکم په اړه نه

دا ویل شوي چي مخکینی حکم منسوخ دئ، نه ئې هغه تعدیل کړ او نه ئې د هغه پر ځای بل حکم ولېږو، نو له همدې کبله رسول الله صلی الله علیه و سلم د محصن زاني په اړه د مخکیني شریعت له حکم سره سم عمل کړی.

دې ته مو باید پام وي چي نن تر ټولو زیات مسیحیان پر اسلام دا اعتراض کوي چي اسلام ولې د رجم سخت او د ترحم او عاطفي خلاف قانون وضع کړی!! پوهېږئ چي دوی ته به زمونږ مضبوط او په اصطلاح غاښ ماتوونکی ځواب څه وي؟ ځواب مو دا دئ: دا خو ستاسو د مذهب قانون دئ، تاسو پر قرآن نه بلکي پر خپل بایبل اعتراض کوئ، ځواب ئې له خپلو کشیشانو وغواړئ!! مونږ ستاسو د مذهب په یوه څرګند حکم عمل کوو، ولې او څنګه مو ملامتوئ؟ ښایي الله تعالی به د همدې لپاره په قرآن کې د رجم حکم نه وي ذکر کړی چي مونږ د قرآن سخت زړو او نه پخلا کېدونکو معترضینو ته دغه ځواب ورکړی شو!!

- ب: د دوی بل کمزوری دلیل دا دئ چي وایي: په قرآن کې داسي راغلي:

أُحِلَّ لَكُمۡ لَيۡلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمۡۚ هُنَّ لِبَاسٞ لَّكُمۡ وَأَنتُمۡ لِبَاسٞ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَخۡتَانُونَ أَنفُسَكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ وَعَفَا عَنكُمۡۖ فَٱلۡـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبۡتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ... البقرة: ١٨٧

له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نږدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې، هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس یئ، الله په دې پوه شوی چي تاسو له ځان سره خیانت کولو، نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئې درته وکړه، نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چي الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نیت نږدې والی وکړئ) او وخورئ وڅښئ تر هغه چي د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي،...

دوی دا آیت داسي تعبیروي: د دې آیت تر نزول وړاندي حکم دا وو چي د روژې له ماښام تر ماخستن پوري خوراك، څښاك او نور د روژې اړوند ممنوعات جائز وو خو تر ماخستن وروسته بیا تر بل ماښام پوري ممنوع او حرام وو، ځینو له دې حکم سرغړاوی وکړ نو ځکه دا آیت نازل شو او دوی ئې خپل خیانت ته متوجه کړل، خو په ضمن کې ئې هغه مخکینی حکم منسوخ کړ او تر سحر پوري ئې دغه ممنوعات جائز وګرځول!! دوی په دې آیت استناد کوي او وایي: دا د ممنوعیت حکم په قرآن کې نه مومو که وحي یوازي په قرآن کې منحصره وی نو ولي به د هغو صحابه وو عمل د خیانت په نامه یادېدو!!

دوی ته په ځواب کې وایو: دا ډېر ډېر کمزوری استدلال دئ، هیڅ وزن او اعتبار نه لري، لکه څنګه چي په قرآن کې دا ممانعت نشو موندلی همدا راز په احادیثو کې هم دا ممانعت نشو موندلی، مهرباني وکړئ موږ ته هغه حدیث راوښیئ چي دا ممانعت په کې راغلی!! که نه په قرآن کې د دې ممانعت حکم وي او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې نو تاسو څنګه جسارت کوئ او وایئ چي د دې ممانعت حکم په وحي خفي او وحي غیر متلو ثابت دئ؟!! تاسو خو یوازي په هغه صورت کې د دې خبري کولو حق درلود چي په دې اړه مو په قرآن او حدیث کې کوم صریح حکم موندلی وی، نه دا چي په خپل سر او له کوم نص پرته داسي څه وایئ چي نه الله تعالی ویلي او نه د هغه رسول!! حقیقت دا دئ چي دا د ځینو صحابه وو خپل ګمان وو چي د روژې په شپو کې باید د ماخستن له لمانځه وروسته تر راتلونکي ماښام د روژې له ممنوعاتو ډډه وکړي، ځینو بیا د خپلي دغي رأیي خلاف عمل کړی، قرآن دا عمل د (تختانون انفسکم) په صیغه یاد کړی، ځکه دوی د خپلي رأیي خلاف هغه څه کړي چي ګناه ئې ګڼله؛ او دا له خپل ځان او نفس سره خیانت دئ، که دوی د الله تعالی او د هغه د رسول د کوم حکم مخالفت کړی وی نو بیا به د دوی عمل له ځان سره د خیانت په صیغه نه یادېدو بلکي د ذنب او

اثم په نامه به یادېدو.

د دې آیت دقیق تفسیر دا دئ: مسلمانانو داسي ګمان کاوو چې د روژې په شپه له ویدېدو وروسته باید له مېرمنو سره له نږدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځینې په دې باور دي چې دا کار په دوی حرام کړی شوی وو، خو نه په قرآن کې د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حدیث کې، په خپله ځې همداسي انګېرله، خو کله کله به ځې د خپل دغه ذهنیت خلاف کار وکړ او په دې سره به ځې د ګناه او خیانت احساس کاوو، الله تعالی ورته په صریحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمایل چې مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له ګناهونو د حفاظت سبب دئ، داسي لکه لباس چې انسان له تودوخي او یخنۍ ساتي، همدا راز ځې ورته وویل چې د مباشرت هدف او غایه باید د اولاد درلودل وي، نه فقط د جنسي غریزې اشباع. دا وضاحت ځې هم وکړ چې د روژې وخت د سباوون د سپیني ګاري له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پورې دئ، شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي. الله تعالی هغه بنده خوښوي چې نه په دین کې څه زیاتوي او نه څه ترې کموي، هغه چې د روژې حدود مراعاتوي، نه څه پرې زیاتوي او نه ځې ترې کموي، نه د روژې پیل تر خپل ټاکلي وخت ډېر وړاندې نیسي او نه ځې پای تر خپل ټاکلي وخت ډېر وروسته، دا ځکه چې دا کار د دې نښه ده چې هغه د بې ځایه تقوی په نامه په دین کې له ځانه څه نه دي زیات کړي، د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځای پیل شوی، مذهبي مشرانو او علماءو ځې له خپل لوري په دین کې زیاتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ځې درانه کړي او په لاس پښو کې ځې ورته زنځیرونه او زولنې اچولي، قرآن د هر پیغمبر یوه لویه دنده دا ګڼي چې راغلی؛ دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځیرونه وشلوي. پیغمبر علیه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

- ج: د دوی يوه بله ادعاء دا ده چې وايي: په قرآن کې ټول احکام نه دي راغلي، ځينې احکام داسې دي چې يوازې ئې په احاديثو کې موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وايي: په قرآن کې يوازې هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چې د ذبحي په مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکې د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، په ډېر زور شور سره وايي: راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! دوی ته په ځواب کې وايو: په قرآن کې دا استثناء شته خو څه وکړو چې تاسو نه يئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښې په نامه ياد کړی او دا ښيي چې ماهي د تازه او پاکې غوښې حکم لري، پيغمبر عليه السلام د قرآن دغې وينا ته په پام سره ويلي چې ماهي له ذبحي پرته حلال دئ.

دوی دا هم وايي چې اهلي خر د حديث له مخي تحريم شوی؛ نه د آيت له مخي، دوی ته وايو: ټول محقق علماء وايي چې اهلي خر له هره پلوه صحرايي خره ته ورته دئ، په څارويو کې شمېرل کېږي، واښه خوري او داړي نه لري، د ذبحي د ممانعت دليل ئې فقط دا دئ چې هغه مهال د سورلۍ مهمه وسيله وه، رسول الله صلی الله عليه و سلم د خيبر د جګړې په ورځ د هغه د ذبح کولو او د غوښې له خوړلو نهي او ممانعت کړی؛ ځکه ځينو صحابه وو په غنيمت نيول شوي اهلي خره ذبح او پاخه کړي وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته اطلاع ورسېده او د نهي او ممانعت امر ئې وکړ. دا نهي داسې ده لکه د آس له غوښې نهي؛ د مصلحت له مخي دئ نه د ذات له مخي. د تحريم حکم هغو حيواناتو او مرغانو ته شامل دئ چې غوښه خوري؛ داړي او کړې مښوکي او منګولي لري. صحرائي او کورني خره په دې ډلې کې نه راځي؛ په روایاتو کې د هغه په اړه هم د تحريم لفظ راغلی او هم د نهي؛ صحيح روايت يوازې هغه دئ چې د نهي لفظ ئې کارولی؛ نه د حرمت لفظ؛ نهي او تحريم توپير لري؛ د حل او حرمت پربکړه الله تعالی ته مختص ده؛ اما

د کوم مصلحت او ضرورت لپاره د کوم څه له خوړلو نهي او ممانعت د حلال او جائز شي په اړه جائز دئ او د حرام اطلاق نشي پرې کېدی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم دا کار کړی؛ یعقوب علیه السلام دا کار کړی او ډاکټران دا کار کوي. اما د حل او حرمت پربکړه داسي ده چي الله تعالی هیڅوك په دې کار کي له ځان سره نه شریکوي؛ قرآن فرمایي:

قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ مَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ الكهف: ٢٦

د آسمانونو او زمکي د غیبو (علم) له ده سره دئ، ښه لیدونکی ئې او ښه اورېدونکی، نه دوی ته له ده پرته کوم ولي (ملاتړی) شته او نه ئې په خپل حکم (حاکمیت) کي څوك له ځان سره شریکوي.

یعني الله تعالی هیڅوك د حکم صادرولو په ارتباط له ځان سره نه شریکوي؛ دا یوازي ده ته مختص دئ؛ همغسي لکه د غیب علم چي ده ته مختص دئ.

(... إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ أَمَرَ أَلا تَعْبُدُوا إِلا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾) یوسف ٤٠

... حکم (صادرول) خو یوازي الله ته مختص دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هیڅا عبادت مه کوئ، سم او سیده دین همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي.

یعني الله تعالی ټولواك دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واك ئې په لاس کي دئ، د هر کار پربکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول او قانون وضع کول ده ته مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کي هیڅوك ورسره شریك نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پربکړو کولو صلاحیت او اختیار هیڅا ته نه دئ ورکړی، باید د ژوند په ټولو چارو کي له الله تعالی او د هغه له دین هدایت او لارښوونه تر

لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو.

- د: دوی دا هم وایي چې د ورېرې او عمه، خورزې او خاله د یو ځایي نکاح یادونه په قرآن کې نه ده شوې او حرمت ئې یوازې د حدیث له مخې ثابت دئ!! یعني د هغو دوو ښځو یوځایي نکاح جائزه نه ده چې په خپلو کې ورېره او عمه یا خورزه او خاله وي، دا چې د دې حرمت منشأ قرآن دئ او که له قرآن پرته بېله او مستقله وحي، باید ووایم: د دې منشأ په خپله قرآن دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم دې ته په پام سره چې د دوو خویندو، د ښځي او د دې د مور، د ښځي او د هغې د لور یوځایي نکاح حرامه ګڼل شوې، دا وضاحت کړی چې د ټولو هغو ښځو یوځایي نکاح ناجائزه ده چې که په دوی کې ئې یو نارینه وي نو په خپلو منځونو کې ئې نکاح جائزه نه وي. ورېره او عمه، خاله او خورزه داسې دي چې که یو ئې نارینه وي نو د دواړو تر منځ نکاح ناجائزه ده، نو د دوی یوځایي نکاح ناجائزه ده. د هغو خلکو ادعاء بې بنسټه او له ځانه جوړه کړې ادعاء ده چې وایي د دوی حرمت د مستقلي وحي له مخې ثابت شوی نه د قرآن له مخې!! حال دا چې قرآن د ټولو مسائلو په اړه اصول وضع کړي، رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه اصول تشریح کړي او تفصیلات ئې مورِ ته بیان کړي، قرآن د مور او لور یادونه کړې او ویلي ئې دي ((حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ ...) خو د انا او لمسۍ یادونه ئې نه ده کړې، هر عاقل انسان پوهېږي چې د انا حکم د مور په څېر دئ او د لمسۍ حکم د لور په څېر. د فروعاتو او تفاصیلو په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لارښوونو منشأ په خپله قرآن دئ نه مستقله او بېله وحي، که دا مستقله وحي وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ویلي وو چې ما ته وحي شوې چې داسې نکاح حرامه ده.

- هـ: دوی دا ادعاء هم کوي چې په قرآن کې د لمانځه د ترتیب، اوقات او د رکعتونو د شمېر په اړه واضح لارښوونې او احکام نه مومو، رسول الله صلی الله علیه و سلم د مستقلي وحي له مخې په دې اړه مورِ ته لارښوونې کړې...

دوی ته وایو: ستاسو دا ادعاء هم د نورو په څېر بې بنسټه ده، رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمانځه هر څه له قرآن اخیستي، د الله په نامه د لمانځه پیل، قیام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کې تسبیحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چې په قرآن کې ورته یا په ډېر وضاحت سره یا تلویحاً اشاره شوې، په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ، د هر حدیث منشأ په قرآن کې شته، خو مور د ځینو منشأ درک کولی شو او د ځینو نه، ځینې ئې داسې دي چې یوازې د قرآن لومړنی مفسر او حامل رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې پوهېدو او ځینې ئې داسې چې هر څوک پرې پوهېږي. په دي اړه په تېرو عنوانونو کې کافي تفصیلي بحث شوی؛ دلته ئې له تکرار تېرېږو.

- و: دوی د خپلې غلطې عقیدې په دفاع کې پر یوه بل آیت هم ناسم استناد کوي چې وایي:

وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍ ۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٣﴾ التحريم: ٣

او کله چې پیغمبر له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره په سري توګه یاده کړه، نو کله چې هغې دا خبره (نورو ته) بیان کړه او الله دی پرې پوه کړ، یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه، نو کله چې ئې هغه پرې خبره کړه وئې ویل: چا دا خبره درته وکړه؟ وئې ویل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

دوی د دې آیت پر دغې فقرې (قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد کوي او وایي: په قرآن کې دا مطلب نه دئ راغلی چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا خبر ورکړ چې هغې مېرمني ئې نورو ته هغه سري خبره افشاء کړې؛ او ګواکې له دې معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم

ته په دې اړه ښله وحي شوې!!

دوی ته وایو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توګه غلط دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي ویلي چې ما ته الله تعالی مخامخ او بلاواسطه وویل، که داسي وی نو هغه به فرمایلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وویل، دا ئې هم نه دي ویلي چې ما ته ئې په خپله یا د فرشتې په واسطه وحي وکړه، که داسي وی نو هغه به فرمایلي وو: اوحی إلي: ما ته ئې وحي وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم، د دې معنی قطعاً دا نه ده چې الله تعالی ما ته بلاواسطه او مخامخ یا د فرشتې له لاري اطلاع راکړه، په حقیقي معنی ئې هر هغه څوك پوهېږي چې د آیت نوري فقرې هم په پام کې ونیسي، مخصوصاً دا فقره چې وایي: وَ أَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ: او الله دی پرې پوه کړ، یعني الله تعالی داسي انتظام وکړ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له موضوع خبر شي، په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لوري ورکړی شوې چې دا خبره ئې اوربدلې وه، داسي بالواسطه خبرېدا الله تعالی ته منسوبول نه د حقیقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل کېدی شي، د کوم انسان په واسطه له کومي خبري خبرېدل په حقیقت کې د الله تعالی په اراده او توفیق ترسره کېږي، د (أَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ) معنی همدا ده. په آیت کې ویل شوي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له اړوند مېرمني پوښتنه وکړه چې ولې دي هغه سري خبره افشاء کړې، خو دا ئې تري پټ کړل چې چا اطلاع ورکړې، د آیت دا فقره چې وایي: عَرَّف بَعْضهُ وَ أَعْرَض عَن بَعْضٍ: یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلي ئې ډډه وکړه، په یقیني توګه همدا مطلب افاده کوي او په دې سره قرآن مور ته لارښوونه کوي چې په داسي مواردو کې د هغه چا د نامه له افشاء کولو ډډه وکړئ چې که ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج کېږي. عجیبه ده چې دوی د دې مبارك آیت له څرګندو الفاظو داسي غلطه انتباه اخلي!!

- ز: دا هم باید دوی ته ووایو چې د قرآن د دې آیت په اړه د دوی تعبیر کاملاً غلط دئ چې وایي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝٤ النجم: ٣-٤

د خپل هوس له مخې خبري نه کوي، دا خو له هغې وحي پرته بل څه نه دي چې ده ته وحي کېږي.

دوی ادعاء کوي چې د دې آیتونو معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هره وینا د الله تعالی له لوري وحي ده؛ د دې لپاره چې د دغو آیتونو په معنی او تفسیر سم پوه شو؛ راشئ تر دې وړاندي او وروسته آیتونو ته لږ ځیر شو:

وَ النَّجْمِ إِذَا هَوَى ۝١

قسم په ستوري چې کله ناڅاپه پرېوزي.

دلته الله تعالی د ستوري ناڅاپي پرېوتل د ورپسې مدعی لپاره د شاهد په توګه وړاندي کړی؛ مدعی دا ده:

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَ مَا غَوَى ۝٢

ستاسو ملګري نه لاره ورکه کړې او نه بې لاري شوی

وَ مَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى ۝٣

او نه له خپلې نفسي هوی هوس خبري کوي.

إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى ۝٤

دا نده مګر وحي شوې وحي.

لومړی آیت قسم دئ او ورپسې آیتونه ئې ځواب دئ؛ د قسم او ځواب ترمنځ ئې ارتباط موندل دقت او غور ایجابوي؛ په ارتباط ئې د پوهېدو لپاره څو خبرو ته پام وکړئ:

- د مکې مشرکینو پیغمبر علیه السلام ته د ده د کومی خبرې په وجه ویل چې "ضل و غوي: لار ئې ورکه کړې او بې لارې شوی"؟
- آیا په دې سورې یا ټول قرآن کې دغه خبره موندلی شو؟ دلته خو قرآن وایي چې دا د ده خپله خبره نده، بلکې د الله له لورې د وحي خبره ده، تاسي هسې د دې خبرې له کبله ده ته بد او رد وایئ.
- د ستورې ناڅاپي پرېوتل؛ نه آرام غروب؛ څنګه په دې شهادت ورکوي چې د ده دا خبره رښتیا ده؟

د دې سورې په پای کې له ۵۷ آیت تر ۶۰ آیت پورې لولو:

أَزِفَتِ الآزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾ أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿۶۰﴾

نږدې راتلونکې رانږدې شوه، له الله پرته بل څرګندوونکی ورته نشته، نو آیا لدې خبرې تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

لدې آیتونو په څرګنده معلومېږي چې قریشو د پیغمبر علیه السلام په دې خبرې تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ویل: د قیامت ورځ رانږدې شوې، دا دنیا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزاء او سزا عالم په لور درومو. په قرآن کې دې ته ورته ګڼ شمېر آیتونه همدا مطلب په ګوته کوي چې قریشو ته د پیغمبر علیه السلام په ټولو خبرو کې د زیاتې حیرانتیا او تعجب خبره دا وه چې قیامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به له منځه ځي، بله دنیا، له ځانګړي نظام سره به راځي، مړه به راژوندي کېږي او د خپلو عملونو سزا او جزاء به ګوري، په دې خبرې پورې به ئې خندل او د همدې خبرې په وجه به ئې کله پیغمبر ته مجنون ویل او کله ضال.

خو دا خبره چې د ستورې ناڅاپي پرېوتل څنګه د دغې ورځې راتګ په

گوته کوي او څنګه د دې ورځې په اړه د پیغمبر علیه السلام د وینا په ارتباط د قریشو ناروا دریځ ردوي؛ ځواب ئې دا دئ:

د یوه ستوري ناڅاپي پرېوتل، له خپل ټاکلي مسیر وتل او په لایتناهي فضاء کې ورکېدل؛ داسي ده لکه له یوې سترې مانۍ چې یوه خښته راپرېوځي او ځمکې ته په رارسېدو سره ذره ذره شي، د همدغې یوې خښتې راپرېوتل؛ دا په ګوته کوي چې دا مانۍ زړه شوې، نوري خښتې به ئې هم یو په بل پسې راپرېوځي او یوه ورځ به دا ټوله مانۍ رانسکورېږي. نو اوس که څوک د پیغمبر علیه السلام دا وینا چې قیامت رانږدې شوی؛ نه مني او د ده په اړه وایي: یا غلط شوی یا قصداً دا غلطه خبره کوي؛ پداسي حال کې چې دا د ده خپله خبره نه؛ بلکې د الله له لوري د وحي خبره ده او د ستورو نابرې پرېوتل د هغې پر حقانیت شهادت ورکوي، آیا دا کس له خپل عقل سره جفا نه کوي؟ آیا له څرګند دلیل انکار نه کوي؟ آیا د دوی په عقل او عمدي انکار ژړا نده پکار؟ أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ * وَ تَضحَكُونَ وَ لا تَبْكُونَ * نو آیا لدې خبرې تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

د دې تعبیر په تأیید کې دوه اساسي دلائل په همدې سورې کې راغلي:

- د "هوی" لغوي معنی ناڅاپي پرېوتل او راغورځېدل دي نه د معمول مطابق غروب. دا پرېوتل د قیامت د نږدې کېدو نښه کېدی شي نه بل څه.
- د سورې په ۵۷ آیت کې د قیامت ورځ د " الآزِفَةُ: نږدې راتلونکې" په نامه یاده شوې او ویل شوي چې رانږدې شوې ده، لدې په څرګنده معلومېږي چې اصلي موضوع د قیامت رانږدې کېدل دي.

د دې مبارکو آیتونو معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري وړاندي شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د ویناوو مجموعه نه دئ، دا خو یوازي هغه وحي ده چې د یوه پیاوړي او شدیدالقوی ملك له لوري ده ته وحي شوی، دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته

او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم هري وینا ته، د رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېري ویناوي نه وحي وې او نه د وحي شرح او تفسیر، بلکي د ده خپلي خبري وې، دا درې باید سره خلط نه کړو، قرآن وحي ده، حدیث د وحي شرح او تفسیر دئ او پر دې دواړو سربېره رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل شخصي ورځني ژوند کې ډېري داسي خبرې کړې چې نه د وحي نوم ورکولی شو او نه ئې د وحي شرح او تفسیر ګڼلی شو، لکه دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتي، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لوري ته لېږلې، د ډلې غړي ئې غوره کړي او دې ته ورته نور کارونه، آیا ویلی شو چې دا هره وینا ئې د وحي له مخي وه؟! جبرئیل علیه السلام ورته راغلی او دا لارښوونې ئې هغه ته کړې؟!!

که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن علاوه نوره وحي هم شوې وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هغې د لیکلو او نورو ته د رسولو په اړه دومره جدي اهتمام کړی وو لکه چې د قرآن په اړه ئې کاوو؛ کله به چې پر پیغمبر علیه السلام وحي نازلېده نو سخت مشوش او پریشان به وو؛ تلوار به ئې کاوو چې ژر ئې حفظ کړي، شونډې به ئې پرې خوځولې، الله تعالی ورته وفرمایل: تلوار مه کوه، په دقت سره ئې اوره، بیانول ئې زموږ پر ذمه دي، ستا په سینه کي ئې راجمع کول هم زموږ پر ذمه دي او بیا دا توفیق درکول چې خلکو ته ئې بیان کړې، شرح او تفسیر ئې وړاندي کړی شې؛ دا هم پر موږ ده؛ د وحي له نزول سره سم او له ځنډ پرته به ئې کاتبان راغوښتل؛ هغوی ته به ئې اورولو او هغوی به لیکل؛ او همدا پاڼې او لیکل شوې وحي به په مسلمانانو کي خپرېده او په لیك لوست پوه مسلمانانو ترې لیکل؛ پیغمبر علیه السلام به په خپلو خطبو او لمونځونو کي خلکو ته اورول؛ که له قرآن پرته بله وحي پر پیغمبر علیه السلام نازله شوې وی؛ نو حتماً به ئې همدغسي اهتمام ورته کولو لکه چې د قرآن آیتونو په ارتباط ئې کولو؛

کاتبان به ئې ورغوښتل، هغوی ته به ئې ویل چې دا ولیکئ او د دې لپاره چې ضائع نه شي؛ باید غائب کسانو او راتلونکو نسلونو ته ورسېږي؛ او دا له لیکلو پرته په بله طریقه ممکن نه وو؛ ځکه ئې د قرآن د لیکلو انتظام وکړ، د وحي کاتبان معلوم وو، نومونه ئې هم څرګند، شمېر ئې هم زیات او د هغوی مأموریت هم دا وو چې هره نازله شوې وحي باید ولیکي او نورو ته ئې ورسوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له قران پرته د خپلې بلې وینا په ارتباط نه یوازي دا کار نه دئ کړی؛ بلکي تاکید ئې کړی چې ما ته منسوب روایات او احادیث مه لیکئ. ولې به ئې صحابه وو ته ویل: زما حدیث مه لیکئ؛ چا چې له قرآن پرته بل څه ما ته منسوب کړي او لیکلي ئې دي هغه دي له منځه یوسي!! څنګه به رسول الله صلی الله علیه و سلم د الهي وحي له کتابت ممانعت کولو او حتیٰ د هغه د محو کولو سپارښتنه به ئې کوله؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم خو د وحي په اړه دومره جدي اهتمام کولو چې لا به د فرشتې له لوري د هغې القاء پای ته نه وه رسېدلې چې ده به له ځان سره تکراروله او د حفظولو هڅه به ئې کوله، د ده دغې تلوسې او تلوار ته په پام سره الله تعالی هغه ته لارښوونه وکړه چې تلوار مه کوه، پرېږده چې فرشته د وحي القاء پای ته ورسوي، ډاډه اوسه چې ستا په زړه کې د هغې جمع کول او ستا پر ژبې د هغې بیانول زموږ پر ذمه دي، د وحي متصل به ئې هغه هم د وحي کاتبانو ته ویله او هم خپلو صحابه وو ته، ځینو به لیکله او ځینو به حفظوله، آیا دا کافي نه ده چې ووایو: د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د وحي شرح او تفسیر دئ نه بېله او مستقله وحي؟!!

الله تعالی هغه ته فرمایلي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾

المائدة: ٦٧

اې پيغمبره! هغه څه ورسوه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونکړ نو د ده پيغام دي نه دئ رسولی؛ او الله دي له خلکو ساتي؛ يقيناً چې الله دا کافر قوم نه هدايت کوي.

د دې لارښووني معنی دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم مکلف وو هره هغه وحي خپل ټول امت ته ورسوي چې د الله تعالی له لوري ورته شوې؛ که حديث هم وحي وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به حتماً امت ته د هغه د رسولو داسي اهتمام کړی وو لکه د آيتونو په اړه د ده جدي اهتمام؛ د حديث لپاره به ئې همغسي کاتبان ټاکلي وو لکه د وحي لپاره کاتبان؛ ولې ئې د حديث د ليکلو ممانعت کړی او حتیٰ فرمايل ئې چې که چا زما کوم حديث ليکلی وي هغه دي له منځه يوسي؟ ولې له صحابه وو يو ليکلی حديث نه دئ نقل شوی؟

هغه چې ادعاء کوي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په احاديثو کې داسي احکام راغلي چې منشأ ئې په قرآن کې نه مومو؛ او ګواکې دا ښيي چې پيغمبر عليه السلام ته پر قرآن سربېره نوره وحي هم شوې ده؛ هغه وحي چې دوی ئې د غير متلو يا خفي وحي په نامه يادوي؛ دوی چې د دغي ادعاء د اثبات لپاره کوم دلائل وړاندي کوي؛ ټول مو په مخکينيو درسي حلقو کې وخېړل؛ تاسو وليدل چې استدلال ئې څومره کمزوری او بې بنسټه دئ او له قرآن د دوی فهم څومره نيمګړی او ناسم.

دوی ته وايو: ستاسو د دغي ادعاء معنی دا ده چې ګواکې قرآن ناقص دئ او په حديث سره بشپړ کېږي، ګواکې قرآن د لارښود په توګه کافي نه دئ او ګواکې د ځينو امورو په اړه په قرآن کې لارښووني نشته، حديث دا نقص پوره کوي!! مور الله تعالی ته له داسي غلطي وينا پناه وړو، هغه قول او وينا پر دېوال وهو چې قرآن ته نقص منسوبوي، قرآن کامل او بشپړ دئ، قرآن د لارښود په توګه کافي دئ، ټولې هغه ضروري لارښووني په قرآن کې راغلې چې انسان ورته ضرورت لري، د آدم عليه السلام له پيدايښت بيا د رسول الله صلی

الله علیه و سلم تر رحلت پورې چې د الله تعالی له لورې پیغمبرانو ته د احکامو او هدایاتو کومه وحي شوې او کومې لارښوونې شوې، قرآن پر ټولو دغو احکامو او لارښوونو احتواء کړې، قرآن پر ټولو مخکینیو کتابونو محیط او مهیمن دئ، داسې څه نه دي پاته چې قرآن دي نه وي بیان کړي، خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یو پوه، امین او رښتیني حامل او شارح غواړي چې په خپل قول او عمل کې د هغه شرح او تفسیر د قرآن د ټولو مخاطبینو په وړاندې کښېږدي، دا هم له دې کبله نه چې قرآن په کافي پیمانه واضح او مفصل نه دئ بلکې له دې کبله چې ځینې مخاطبین ئې د فهم له پلوه نقص لري؛ او شرح او تفصیل ته ضرورت لري. دا د قرآن په اړه زموږ شخصي وینا او ادعاء نه ده، الله تعالی قرآن په همدغه توګه معرفي کړی، د قرآن په اړه په قرآن کې داسې لولو:

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا ۚ ...

الانعام: ١١٤

آیا له الله پرته بل حَکَم ولټوم؟ حال دا چې (الله) همغه ذات دئ چې دا مفصل کتاب ئې درته رالېږلی...

په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې مخالفینو ته ووایي: آیا له الله تعالی پرته بل حَکَم ځان ته ولټوم؟ آیا خپل ژوند د بل چا د حکم او دستور مطابق تنظیم کړم؟ آیا په ژوند پورې مربوط قضایا د بل چا د قانون مطابق حل و فصل کړم؟ په داسې حال کې چې الله تعالی د دې مقصد لپاره مفصل او جامع کتاب رالېږلی، د داسې جامع او مفصل کتاب په شتون کې به څنګه او ولې بل چا او بل څه ته رجوع کوم؟!

همدا راز قرآن فرمایي:

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾

الانعام: ١١٥

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هیڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- دا ستا د رب کلام دئ.
- هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتینې ده.
- هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.
- هیڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعید د تحقق مخه نشي نیولی.
- هیڅا ته دا واك او اختیار نه دئ ورکړی شوی چې د ده په احکامو او قوانینو کې کوم تغییر او تبدیلي راولي.
- الله تعالی چې په دې کتاب کې څه ویلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحید او شرك، حق او باطل، دنیا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پایلو او عواقبو په اړه دي؛ که احکام او لارښوونې دي؛ ټول حق او رښتیني دي او دا د هغه ذات له لوري ویل شوي چې پوه اورېدونکی دئ.

.... وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا ﴿١٢﴾ الإسراء: ١٢

او هر څه مو په تفصیل سره بیان کړي.

یعني په قرآن کې هر څه په بشپړ تفصیل سره راغلي.

....ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا .... المائدة: ٣

.... نن مو ستاسو دین درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسو بشپړ کړ او اسلام مي د دین په توګه درته غوره کړ...

یعني د دغو احکامو او لارښوونو په راتلو سره ستاسو دین بشپړ شو، الله

د دین د بشپړتیا او پر کافرانو ستاسو د برلاسي په نتیجه کې خپل ستر نعمت او پېرزوینه پر تاسو مکمله کړه، اوس نو کافرانو ته له یأس او ناهیلۍ پرته بل څه نه دي پاته، نه پر تاسو د بریا طمع کولی شي او نه خپل دین ته ستاسو د راګرځولو هیله ساتلی شي.

د مستندو روایاتو له مخي پیغمبر علیه السلام د حجة الوداع په تاریخي خطبې کې د دې آیت دغه برخه ولوسته (ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا) له دې معلومېږي چې یا خو د آیت دا برخه په دغه وخت کې نازله شوې او یا له دې مخکې او د آیت له نورو برخو سره یو ځای. او دا ښیي چې قرآن کامل او بشپړ دئ، هیڅ نقص او کموالی په کې نشته. د بشپړ او کامل معنی دا ده چې هیڅ نقص او کمی په کې نشته؛ داسي څه نه دي ترې پاته چې په بل ځای او مرجع کې ئې ولټوو. هغه چې وایي: په دین کې داسي احکام شته چې په قرآن کې ئې نه مومو؛ هغوی د دې څرګند آیت خلاف خبره کوي او قرآن ته نقص او کمی منسوبوي.

أَوَ لَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت:٥١

آیا دا ورته کفایت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

دا آیت وایي: آیا د معارضینو د قناعت لپاره دا له إعجازونو ډک کتاب چې ته ئې پرې لولې کفایت نه کوي؟!! یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه ده ځپل شوې؛ هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

یعني په چا کې چې د ایمان راوړلو استعداد وي هغه ته دا کتاب په خپله

د لارښود، معجزې او دلیل په توګه کافي دئ، تر دې لویه او ستره معجزه نشته. که څوک لږ له شفاف ذهن او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وکړي؛ نو یقیناً چې د قرآن هره وینا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقیقه وممي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هیڅ شی او حقیقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندې داسې حجاب نشته چې د یوه شي په حقیقت د پوهېدو مانع شي، مور په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وینا او قضاوت دقیق او صحیح دئ، دا دقیق او سل په سلو کې صحیح او علمي قضاوتونه او پرېکړې مور ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحیې قرآن معجزه ده او د پیغمبر علیه السلام په حقانیت شهادت ورکوي. له دې مبارک آیت معلومېږي چې قرآن له هره پلوه کافي دئ.

همدا راز الله تعالی د قرآن په اړه فرمایي:

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٦٤ النحل: ٦٤

او پر تا مو دا کتاب یوازې د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ایمان راوړي.

یعني د اختلافاتو د حل و فصل یوازینۍ مرجع همدا قرآن دئ چې د ټولو اختلافي مواردو حقیقت ئې څرګند کړی.

قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗ قُلِ ٱللَّهُ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ...) الأنعام: ١٩

ووایه: کوم شیء به ستر شهادت ورکوونکی وي؟ ووایه: الله؛ زما او ستاسو تر منځ شاهد؛ او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چې تاسو هم پرې انذار کړم او هغه څوک هم چې (دا قرآن) ورورسېږي ....

له دې آیت هم معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فقط دغه قرآن د ټولو انسانانو د انذار لپاره ورکړی شوی او د الله تعالی له لوري وحي په قرآن کې راخلاصه شوې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر آیتونه وایي: قرآن کامل دئ، هر څه ئې په تفصیل سره بیان کړي، د هر اختلاف په اړه که فکري وي، که حقوقي وي او که سیاسي او اجتماعي؛ وروستۍ سمه پرېکړه کوي او وروستی صحیح قضاوت وړاندي کوي، تر هرې معجزې ستره معجزه ده، له هره پلوه کافي دئ او د انسان ټولو ضروري اړتیاوو او پوښتنو ته ځواب وایي. آیا د قرآن په اړه د الله تعالی له دې ویناوو سره سره دا لوی او ستر ظلم نه دئ چې څوک ووایي: قرآن ناقص دئ او په حدیث سره ئې نقص او کموالی رفع شوی؟!!

قرآن کافي، مکمل او بشپړ دئ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یوه حامل او شارح ته ضرورت وو چې هغه خلکو ته ورسوي او ټول جامع مطالب ئې تشریح کړي. رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی هغه امین رسول او استازی دئ چې خپل لارښود پیغام ئې د ده په لاس خپلو بندګانو ته لېږلی، هغه د دې الهي پیغام هم امین حامل دئ او هم ئې رښتینی شارح، داسي حامل چې په بشپړه توګه ئې عمل پرې کړی او په دقیقه توګه ئې خلکو ته قولاً او عملاً تشریح کړی، دې الهي پیغام داسي یوه امین حامل او رښتیني عامل ته ضرورت درلود چې د ده په قول او عمل کې عیني تجسم وموميي، داسي چې که څوک وغواړي په شي چې الله تعالی څنګه انسان، له کومو فکري، اخلاقي او عملي ځانګړتیاوو سره خوښوي نو ورته وویل شي: داسي انسان لکه د دې لارښود الهي کتاب لومړنی حامل، لکه رسول الله صلی الله علیه و سلم، که ووایي: د الله تعالی صحیح لمانځنه او عبادت به څنګه وي،

ځواب ئې دا وي: همغسي لکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل رب عبادت او لمانځنه کوله، که پوښتنه وکړي: کوم څه حلال دي او کوم څه حرام، ځواب ئې دا وي: همغه څه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغه الهي کتاب په رڼا کې د حلال او حرام په سترګه ورته کتلي، هو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يعني مجسم او ژوندی قرآن، همغسي لکه چې عائشه رضي الله عنها وايي: كان خلقه القرآن: قرآن د ده اخلاق وو، يعني که غواړې پوه شې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم اخلاق څنګه وو، تقوی ئې څنګه وه، عبادت ئې څنګه، جهاد ئې څنګه، صبر ئې څنګه او جرأت ئې څنګه وو، سخاوت ئې څنګه، عاطفه ئې څنګه، ترحم ئې څنګه وو او په کومو کومو صفاتو متصف وو، نو ځواب دا دئ: قرآن ولوله او وګوره چې الله تعالى کوم صفات خوښوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم په ټولو دغو صفاتو متصف وو. موږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کامل اطاعت مکلف يو، د ده اطاعت داسي دئ لکه د الله تعالى اطاعت، دا ځکه چې دی د الله تعالى استازی دئ او هره وينا او عمل ئې د الهي لارښوونو مطابق، د رسول الله صلى الله عليه و سلم هره وينا او هر عمل موږ ته حجت دئ.

خو دا بايد په پام کې ولرو چې محمد عليه السلام دوه ډلي ډلي ځانګړتياوي او حيثيتونه لري: ۱- د ده ذاتي او بشري حيثيت او ۲- د رسالت حيثيت؛ د ذاتي حيثيت له پلوه هغه يو بشر او انسان دئ؛ خو غوره او داسي کامل انسان چې الله تعالى د انسانانو له منځ او انسانانو ته د خپل پيغام رسولو لپاره غوره کړی؛ قرآن د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذاتي او بشري حيثيت په اړه فرمايي:

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلا صَالِحًا وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴿١١٠﴾ الكهف: ۱۱۰

ووايه: يقيناً چي زه فقط ستاسو په څېر يو بشر يم، دا وحي راته کېږي چي ستاسو معبود يوازينی معبود دئ. نو څوك چي د خپل رب د ملاقات هيله او طمع لري نو نېك عمل دي وکړي او د خپل رب په عبادت کي دي هيڅوك نه شريکوي.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ ۝٦ فصلت: ٦

ووايه: يقيناً چي زه ستاسو په څېر يوازي يو بشر يم، دا وحي راته کېږي چي ستاسو معبود يوازينی معبود دئ؛ نو د ده لوري ته استقامت غوره کړئ او بخښنه تري وغواړئ؛ او د مشرکينو پر حال افسوس.

د ټولو پيغمبرانو په اړه فرمايي:

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝١١ إبراهيم: ١١

خپلو پيغمبرانو ئې ورته وويل: موږ نه يو مگر ستاسو په څېر بشر؛ خو الله له خپلو بندگانو پر هغه چا پېرزوينه کوي چي دی ئې غواړي؛ او موږ ته ممکنه نه ده چي د الله له اجازې پرته تاسو ته کوم دليل او نښه راوړو؛ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

يعني د رسول الله صلى الله عليه و سلم په شمول هر پيغمبر د نورو انسانانو په څېر بشر وو، مور او پلار ئې وو؛ د مور په غېږ کي ستر شوی؛ مور تی ورکړی، دی ئې مينځلی، جامې ئې وراغوستې، خوراك او څښاك ته اړ وو، مريض شوی، علاج او تداوي ته اړ شوی، لوږه او تنده پرې راغلې، کله کله څه تري هېر شوي، حتىٰ په لمانځه کي هم نسيان پرې راغلی، د مازديگر څلور رکعته لمونځ ئې د نسيان له کبله دوه رکعته کړی، يوه مقتدي ئې له لمانځه

وروسته متوجه کړی؛ نو لمونځ ئې بشپړ کړی او په پای کې ئې د سهوي سجده کړي. یارانو به ئې کله کله د کومي رأیي په اړه ورته ویل: یا رسول الله! دا ستا خپله رأی ده که د الله تعالی له لوري درته وحي شوې؛ او د ده ځواب به دا وو: دا زما خپله رأی ده؛ داسي هم شوي چي له خپلې رأیي تېر شوی او د نورو رأی ئې منلې؛ د احد په جنګ کې ئې همداسي وکړل، د احزابو په جنګ کې ئې غوښتل د مدینې هغه خلك چي له قریشو سره د ملګرتیا اراده ئې کړې وه؛ په دې قانع کړي چي د مسلمانانو د کجورو د یوه کال حاصل هغوی ته ورکړي؛ په دې اړه ئې له سعد بن معاذ او سعد بن عباده سره مشوره وکړه؛ هغوی ورته وویل: یا رسول الله! دا ستا خپله رأی ده او که د الله تعالی له لوري وحي؟ وئې فرمایل: زما شخصي رأی ده؛ هغوی وویل: یا رسول الله! په خدای قسم چي موږ د جاهلیت په دور کې دوی ته جزیه نه ده ورکړې؛ اوس چي الله تعالی په ایمان سره موږ ته عزت راکړی؛ ځنګه به دوی ته جزیه ورکوو!! رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلې رأیي تېر شو او د دوی دواړو رأی ئې ومنله. حتیٰ ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته ئې ویلي: که تاسو دواړه په کومي رأیي توافق وکړئ؛ زه به د اړوند کار په اړه له خپلې شخصي رأی تېرېږم او ستاسو رأی به منم.

اما د رسول الله صلی الله علیه و سلم نبوي حیثیت بیا داسي دئ چي د الله تعالی لارښووني او کلام ئې په بشپړ امانت او له هر راز تغییر، تأخیر او تصرف پرته امت ته رسولی؛ په خپله ئې عمل پرې کړی او نورو ته ئې د عمل کولو سپارښتنه کړې؛ د هیڅ قضیې په اړه ئې له خپل لوري او د وحي تر راتلو وړاندي پرېکړه نه ده کړې؛ ډېر ځلي داسي شوي چي له نوې قضیې سره مخامخ شوی؛ او تر هغه ئې له څه ویلو ډډه کړې چي د الله تعالی له لوري ورته وحي او لارښوونه شوې او همدا وحي په قرآن کې راغلې. قرآن د ده دا نبوي حیثیت داسي بیان کړی:

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ۝٣ إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى ۝٤ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى ۝٥
النجم: ٣-٥

او نه له خپلي هوى او هوس خبري کوي، دا نه دئ مګر داسي وحي چې وحي کېږي، چې د مضبوط ځواك خاوند (فرشتې) ورښودلی.

يعني نبوي حيثيت ئې داسي دئ چې په دې کې هيڅ خبره له ځانه نه کوي، فقط د هغي وحي مطابق خبره کوي چې د قرآن په بڼې کې د وحي له لاري ده ته ويل شوي؛ هغه قرآن چې د مضبوط ځواك خاوند (فرشتې) (جبريل) ورښودلی. يعني د رسول په حيث چې هغه هر څه وايي نو فقط د قرآن خبره کوي؛ نه بل څه.

دا آيت هم وايي چې د پيغمبر عليه السلام دنده او رسالت فقط د قرآن ابلاغ او رسول دي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ۝٦٧
المائدة: ٦٧

اې پيغمبره! هغه څه ورسوه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونکړ نو د ده پيغام دي نه دئ رسولی؛ او الله دي له خلکو ساتي؛ يقيناً چې الله دا کافر قوم نه هدايت کوي.

دا مطلب په المائده سورې کې د پيغمبر عليه السلام په اړه درې ځلي، ٦٧، ٩٢ او ٩٩ آيتونو کې او د مؤمنانو په اړه يو ځل په ١٠٥ آيت کې راغلی؛ په دې آيت سره پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې خپل رسالت له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه قرآن په تبليغ او ولس ته په رسولو کې هيڅ کمی او قصور مه کوه چې د خپل رب له لوري درکړی شوی؛ که داسي ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي تر سره کړی؛ د دښمنانو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه؛ الله تعالی ستا ساتونکی دئ.

آیا پوهېږئ چې الله تعالی پیغمبر علیه السلام ته څه ویلي؟

وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الإسراء: ٧٤- ٧٥

او نږدې وه په فتنه کې دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه مونږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نږدې دوست نیولې. او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نږدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې؛ چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درځکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

په دې آیتونو کې داسې له عتابه ډکې صیغې مومو چې نظیر ئې په ټول قرآن کې نشو موندلی!! رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دي منلې وی چې په الهي وحي کې د لږ قدري تغییر مطالبه ئې کوله او له ځانه دي څه ویلي وی نو هم به مو په دنیا کې تا ته دوه برابره عذاب درځکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزویني له امله پر خپل دریځ ثابت او ټینګ پاته شوې او د دوی غلطي غوښتني ته تسلیم نه شوې!!

دا آیت د قریشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې په وار وار او په ټیلو ټیلو الفاظو ویل: زمونږ د معبودانو په ضد له څه ویلو ډډه وکړه، داسې څه ووایه چې ټول پرې راغونډ شو، د تلفیق او روغي جوړي کوم مناسب صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به مونږ او په دې سره به د دښمنیو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!!

خو گورئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسي روغي جوړي منع کړی!! گورئ چي د پيغمبرانو عليهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې دروند الهي مأموريت کې د معمولي اشتباه پايله څومره جدي او هيبتناکه!! گورئ چي د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالى د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز گورئ چي که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمايل دومره جدي نيول کېږي او د داسي سختي مؤاخذې وړ ګڼل کېږي، له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟!! او گورئ چي د وحي په رسولو کې د پيغمبر مسئوليت څومره دروند او حساس دئ او محاسبه ئې څومره جدي؟!!!

متأسفانه ځيني د دې دواړو له تفکيك عاجز دي؛ د پيغمبر عليه السلام هره وينا او کړنه؛ حتىٰ هغه چي بشپړه انساني منشأ لري؛ او له رسالت سره ئې هيڅ تعلق نشته؛ د وحي په ضمن کې نيسي!! داسي چي د ده بشري حيثيت او هغه واك او اختيار چي الله تعالى ده ته د يوه انسان په توګه ورکړی؛ هغه هم تري سلبوي. دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم څه ډول او کوم رنګ جامه، کوم خوراك او کوم څښاك خوښولو، هره ورځ به ئې له لسګونو خپلو او پردیو سره ليدل او هر يوه ته به ئې څه ويل، څوك به ئې د دعوت لپاره کومي سيمي ته لېږلو او لازمي سپارښتني به ئې ورته کولې، د دښمن خلاف د کوم ټولې لېږل به ئې ضروري وګڼل؛ غړي به ئې ورته غوره کړل او لازم هدايات به ئې ورکړل؛ دې ته ورته ډېر نور کارونه ئې داسي وو چي له وحي سره هيڅ تړاو نه لري او د هر يوه په ارتباط ښکله وحي نه ده پرې نازله شوې؛ د خپل فراست له مخې او په خپله خوښه او اختيار ئې ترسره کړي.

د ده نبوي حيثيت داسي دئ:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا

﴿۸۰﴾ النساء: ۸۰

څوك چې د پيغمبر اطاعت وکړي؛ په حقيقت کې ئې د الله اطاعت کړی او څوك چې مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه يې لېږلی.

د پيغمبر اطاعت په حقيقت کې د الله اطاعت دئ او د ده مخالفت له الله سره مخالفت، پيغمبر د الله استازی دئ؛ دنده ئې دا ده چې د الله پيغام خلکو ته ورسوي، هغه د خلکو څارندوی نه دئ، له ده دا پوښتنه نه کېږي چې ولې ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، مکلفيت ئې دا دئ چې خلکو ته د الله دين ورسوي او د حلال او حرام کړښې وروښيي؛ دی چې څه حلال او حرام ګڼي؛ فقط همغه دي چې الله په خپل کتاب کې حلال او حرام کړي.

قُلْ لا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِی خَزَائِنُ اللَّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّی مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِی الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلا تَتَفَكَّرُونَ ﴿۵۰﴾ الأنعام: ۵۰

ووايه: زه نه درته وايم چې د الله خزانې له ما سره دي او نه په غيب پوهېږم او نه دا درته وايم چې زه فرښته يم، زه يوازې د هغه څه متابعت کوم چې راته وحي کېږي. ووايه: آيا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آيا تفکر نه کوئ؟

د دې آيت مهمي لارښوونې دا دي:

- پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې خلکو ته ووايي: د الله تعالی د خزانو واك له ما سره نه دئ، تاسو ته نه وايم چې که له ما سره ملګرتيا وکړئ، ټول مالي او اقتصادي حاجتونه مو پوره کوم او ټولې غوښتنې مو تر سره کوم، په دې هيله زما ملګرتيا مه کوئ، له ما دا انتظار مه لرئ، الله تعالی د خپلو خزانو ټولواك دئ، دا پربکړه هغه کوي چې چا ته څه ورکړي، د هغو جاهلانو په څېر مه کېږئ چې ګمان کوي پيغمبران او اولياء الله بايد داسې وي چې د دوی په يوې اشارې سره د ډبرو غرونه په سرو زرو بدلېدی شي، په يوې دعاء سره

ئې د زمکې لاندې خزانې بهر راوځي، هر چا ته هر څه ورکولی شي، حاجتونه ئې پوره کولی شي، ځینې همداسې ګمان کوي؛ او دا انتظار به هم له داسې چا لرې چې هغه به د ده جیب ته سترګې نیولې وي؛ ټولې شتمنۍ به ئې د دغو غولېدلو له شکرانو تر لاسه کړې وي!! رزق او روزي به ئې د مرید له جیبه وي؛ مرید به ئې ګمان کوي چې له سختو بیماریو ئې ژغورلی شي؛ د نړۍ ټول ډاکټران چې د چا له علاجه عاجز شوي وي؛ د آغا جان یو دم او دعاء کافي ده چې روغ ئې کړي؛ دا په داسې حال کې چې آغا جان به د زکام د علاج لپاره هم ډاکټرانو ته درومي؛ که په وطن کې ئې علاج ونه شو نو اروپا او امریکا ته به ځي!! عجیبه ده؛ څوک چې د ځان د عادي مرض علاج نشي کولی بل له همدې محتاج انسان د خپلو سختو بیماریو د علاج طمع لري!!! ګورئ چې پیغمبران علیهم السلام په هغو ټګمارو سیاسي مشرانو قیاس نه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره دروغجني وعدې کوي، شنه باغونه ورښیي، د سوکالي او ښه ژوند دروغجني ژمنې ورسره کوي، زه په واضح الفاظو تاسو ته وایم چې د الله تعالی په خزانو کې هیڅ واك او اختیار نه لرم.

- دوی ته ووایه: زه په غیب نه پوهېږم، له ما دا انتظار مه لرئ چې درته ووایم: سبا به څه کېږي، له ما او له تاسو سره به الله تعالی څه کوي، پیغمبران علیهم السلام د هغو غولوونکو مذهبي مشرانو په څېر مه ګڼئ چې خلك په دې دوکه کوي چې په غیب پوه دي، د دوی له مقدراتو خبر دي، پوهېږي چې کوم مصیبت ورته انتظار کوي او څنګه ترې ژغورل کېږي، دوی کولی شي په دم او تعویذ سره د دې مصیبتونو مخه ونیسي، په دې شرط چې په شکرانو سره د دوی جیب وړدك او رضاء تر لاسه کړي، پیغمبران په غیب د پوهېدو دعوی نه کوي، دا یوازې ټګماران دي چې د جاهلانو په وړاندې او د هغوی د غولولو لپاره په غیب د پوهېدو ادعاء کوي.

- ورته ووايه: زه تاسو ته نه وايم چي فرشته يم، په واضحو الفاظو درته وايم چي زه انسان يم، له نورو انسانانو سره مي توپير يوازي په دې کې دئ چي د الله تعالى له لوري راته وحي شوې او زه د الهي وحي متابعت کوم.
- څوک چي د الهي وحي په رڼا کې خوځي، د هغه چا په پرتله چي له دې رڼا محروم دئ، داسي دئ لکه سترګور د ړوند په پرتله، خو د دوی تر منځ دا ژور توپير؛ د عقل او فکر خاوندان درک کولی شي.

دې ته مو بايد پام وي چي په وحي سره له غيبي امورو اطلاع علم غيب نه دئ، په يوه آيت کې او يو په بل پسي (په غيب نه پوهېدل) او (د وحي متابعت) راوړل دا مطلب افاده کوي چي که پيغمبر عليه السلام د وحي په اساس له غيب او غيبي امورو خبري کوي نو دا د ده علم غيب نه، بلکي د الله له لوري وحي ده، داسي نه چي د وحي له لاري د غيبي امورو په اړه څه ويل، د پيغمبر علم غيب وګڼل شي.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ويلي: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چي زما د رب له لوري راته وحي شوي؛ او په دې کې قرآن ته اشاره شوې او ښيي چي له وحي ئې مراد فقط د قرآن متابعت دئ؛ لکه چي په دې آيت کې راغلي:

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلا اجْتَبَيْتَهَا قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَى إِلَيَّ مِنْ رَبِّي هَذَا بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ الأعراف ٢٠٣

او کله چي ته کوم آيت ورته رانه وړې، وايي: ولې دي غوره نه کړ؟ ووايه: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چي زما د رب له لوري راته وحي شوي، دا (قرآن) ستاسو د رب له لوري د بصيرت او پوهي وسيله او د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ.

يعني مخاطبينو به له رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلي خوښي

معجزې غوښتې، چې داسې معجزه به ورته وړاندې نشوه نو دوی به ویل: ولې ئې نه شې وړاندې کولی؟ پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې دوی ته ووایي: زه هغه څه کوم چې د الله تعالی له لورې پرې ګمارل شوی یم، هغه څه تاسو ته وایم چې ما ته ئې وحي شوې، دغه قرآن چې پر ما نازل شوی؛ د پوهې او بصیرت منبع او د هغه چا لپاره لارښود او الهي پېرزوینه او رحمت دئ چې ایمان راوړي؛ یعني وحي او قرآن یو د بل مترادف ګڼل شوي. ځکه د آیت په سر کې ویل شوي چې زه یوازې د وحي متابعت کوم او په پای کې ویل شوي: دا الهي کتاب هر ایمان راوړونکي ته د بصیرت منبع، بشپړ لارښود او الهي پېرزوینه ده، عجیبه ده چې تاسو د داسې قرآن په شتون کې بله معجزه غواړئ!!

ښایي د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه خوب او رؤیا د دې مطلب په ښه پوهېدا کې ستاسو مرسته وکړي چې د حدیبیې تر معاهدې وړاندې ئې لیدلی وو او قرآن په دې توګه بیان کړی:

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحًا قَرِيبًا ٢٧ الفتح: ۲۷

یقیناً چې الله د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ، حتماً به مسجدالحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان یا خریځ یا لنډوئ، نه به وېرېږئ، نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه یاست، تر دې وړاندې ئې بله نږدې بریا او فتح مقدره کړې.

دا د الفتح سورې ۲۷ آیت دئ؛ د دې سورې د نزول شالید داسې دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه شپه په خوب کې لیدلي چې د عمرې لپاره مکې ته تللی، د خوب تعبیر ئې داسې وو چې د عمرې سعادت به د ده او د ده د یارانو په برخه شي، دا رښتینې رؤیا ئې له ځینو یارانو سره شریکه کړې، له یوې خوا د رسول الله صلی الله علیه و سلم رؤیا او له بلې خوا د عمرې او

مکې ته تګ شوق په دې منتج شو چې دې سفر ته تیاری ونیسي، په ظاهر کې ظروف او شرائط د دې کار لپاره نه یوازې چمتو نه وو بلکې دا یو ډېر خطرناك تصمیم معلومېدو، د کینه کښ او سخت زړې دښمن تر ولکې لاندې مکې ته ننوتل او هغه هم د عمرې په موخه او له کافي جنګي وسائلو پرته؛ ډېرې خطرناکې پایلې درلودی شوې، د عمرې په سفر کې ئې یوازې یوه توره له ځان سره وړلی شوه، داسې سیمې ته تلل چې استوګن ئې په وار وار له دوی سره جنګېدلې، دوی ئې له خپل کور کلي ایستلي، په مدینه کې ئې هم آرام نه دي پرېښې او پر دوی ئې بریدونه کړي، په داسې خطرناکو ظروفو او شرائطو کې د دښمن تر سلطې او واك لاندې سیمې ته ننوتل داسې تصمیم وو چې منافقینو او مشرکینو هغه له ځان وژنې سره مترادف کار ګڼلو.

نږدې څوارلس سوه هغه مؤمنان دې سفر ته چمتو شول چې د الله تعالی په لار کې او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ملګرتیا کې ئې هر خطر او ضرر منلی او هرې قربانۍ ته چمتو کېدلی شول، د شپږم هجرې کال د ذي القعدې په میاشت کې د مؤمنانو دا قافله د مکې په لور وخوځېده، د قربانۍ څاروي ورسره وو، ذو الحلیفې ته په رسېدو سره ئې احرامونه وتړل، د قافلې له تمځای د اللهم لبیك زړه راښکونکې نعرې اورېدل کېدې، هر څوك پوهېدو چې دا قافله د عمرې لپاره خوځېدلې، د عام دود او قاعدې مطابق له هر چا سره یوازې یوه توره او هغه هم په تېکې کې وه؛ او دا په داسې حال کې چې یو کال وړاندې د عربو ستر لښکر د قریشو تر مشرۍ لاندې پر مدینې برید کړی وو، نږدې یوه میاشت ئې مدینه محاصره کړې وه، خلك حیران وو چې اوس به څنګه د قریشو دا دښمنان تش لاس او له جنګي وسائلو او تیاري پرته او د قریشو له موافقې پرته د دوی تر واك او سلطې لاندې مکې ته ولاړ شي او عمره به اداء کړي!!

قریشو په حدیبیه کې د دوی مخنیوی وکړ؛ جنګیالیو ئې څو ځلي داسې شرارتونه وکړل چې نږدې وه په خونړۍ جګړې منتج شي؛ خو رسول الله صلی

الله علیه و سلم په درایت او فراست سره وضعیت مهار کړ؛ په پای کې خبره تر یوې داسې معاهدې ورسېده چې یو بند ئې دا وو: مسلمانان به سږ کال عمره نه کوي؛ راتلونکي کال کې کولی شي عمره وکړي خو له یوې توري پرته به نور جنګي وسائل ورسره نه وي.

د دې معاهدې د لاسلیك په وخت کې مسلمانان ډېر پرېشان او مضطرب ول، هر چا ته د هغو سترو سترو مصلحتونو او حکمتونو درك کول ګران وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته په پام سره دا معاهده ومنله، ډېرو داسې انګېرله چې په دې معاهدې کې قریشو ته زیات امتیازات منل شوي، په ځانګړې توګه دا بند ئې چې که په دې مودې کې د قریشو کوم کس وتښتي او مسلمانانو ته پناه یوسي ېېرته به قریشو ته مسترد کېږي، خو که له مسلمانانو څوك قریشو ته پناه یوسي دوی ته به نه مسترد کېږي. مسلمانان له دې پلوه هم مضطرب ول چې د معاهدې یو بند د هغې رؤیا او خوب خلاف دئ چې د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو دوو تشویشونو په اړه ویل: هغه څوك چې له قریشو مورِ ته راځي او ېېرته هغوی ته سپارل کېږي الله تعالی به د نجات بله لار ورته پرانیزي؛ او څوك چې له مورِ دوی ته پناه وروړي هغه زمورِ په کار نه دئ او ښه ده چې الله تعالی ئې له مورِ ېېل کړي؛ او د خوب په اړه ئې هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال ترسره نه شوه راتلونکي کال کې به ترسره شي، ما ته په خوب کې دا نه وو ویل شوي چې تاسو به سږ کال عمره کوئ، په دې مبارکې سورې کې هم د خوب په اړه ویل شوي چې الله تعالی هغه رښتینی کړ او تاسو به په ډاډ او اطمئنان سره مسجد الحرام ته داخل شئ. له دې رؤیا ېیا تر هغه چې له حدیبیې د ستنېدو په دوران کې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د الفتح سوره نازله شوه؛ ده ته بله وحي نه ده نازله شوې؛ په داسې حال کې چې دا یو مهم سفر وو او په یوې تاریخي پېښې او مهمې معاهدې منتج شوی؛ پیغمبر علیه السلام له خپلې رؤیا ځان ته تعبیر او تفسیر درلود؛ د

همدې تعبیر له مخي ئې عمل کړی؛ یارانو ئې هم د همدغي رؤیا له مخي په دې خطرناك سفر کې د ده ملګرتیا وکړه؛ رؤیا وحي ته ورته الهام دئ؛ لکه چې دلته د رؤیا په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم تعبیر مور ته انځور شوی؛ ګمان ئې کړی چې همدا کال به د عمرې سعادت ورپه برخه شي؛ خو په اصلي تعبیر ئې هغه مهال پوه شو چې د الفتح سوره نازله شوه او په هغې کې ورته لارښوونه وشوه چې خوب دي ریښتینی شو؛ دا راتلونکی کال به په ډاډ او اطمئنان سره عمره وکړئ؛ دا دئ قریشو ومنله چې تاسو کولی شئ راتلونکی کال عمره وکړئ. د قرآن اړوند وحي هم دغسي ده؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په وحي سره آیتونه راغلي؛ دی ئې په معنی او تفسیر سم پوه شوی، په دقیقه توګه ئې امت ته د بیانولو توفیق او وړتیا ورکړی شوې؛ هم ئې قرآن له هیڅ تغییر پرته امت ته رسولی او هم ئې په قول او عمل سره د هغه شرح او تفسیر خلکو ته بیان کړی؛ له رؤیا سره ئې توپیر په دې کې دئ چې د رؤیا تعبیر په خپله پیغمبر علیه السلام ته پرېښودل شوی؛ خو د قرآن وحي داسي ده چې الله تعالی ئې په سمه او دقیقه توګه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ژبه د بیانولو او تفسیرولو ذمه هم وهلې؛ په دې کې د ده رسول او پیغمبر هیڅ اشتباه نه کوي.

او دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د احکامو او اوامرو په صادرولو کې هیڅ ونډه نه لري؛ او دا فقط الله تعالی ته مختص دي؛ په دې اړه الله تعالی فرمایي:

لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾

آل عمران: ۱۲۸

د دې امر او حکم هیڅ څه په تا پوري اړه نه لري؛ یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چې ظالمان دي.

یعني الله تعالی د اوامرو او پرېکړو په صادرولو کې هیڅوك؛ د پیغمبر علیه

السلام په شمول؛ له ځان سره نه دئ شريك کړی؛ دا په الله پوري اړه لري چي د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا يوازي د الله کار دئ.

په روایاتو کي راغلي چي د احد په جګړي کي پيغمبر عليه السلام له زخمي کېدو وروسته او په داسي حال کي چي د خپل زخمي مخ ويني ئې پاکولې؛ وفرمايل: هغه قوم به څنګه نجات وموميي چي د خپل پيغمبر مخ ئې په وينو سور کړ!! په داسي حال کي چي هغه ئې د الله لوري ته بلي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ كُسِرَتْ رَبَاعِيَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَشُجَّ، فَجَعَلَ الدَّمُ يَسِيلُ عَلَى وَجْهِهِ، وَجَعَلَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ، وَيَقُولُ: «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ خَضَبُوا وَجْهَ نَبِيِّهِمْ بِالدَّمِ، وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ؟» فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ {لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ} [آل عمران: ١٢٨] " سنن ابن ماجه

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ وَجْهُهُ شَجَّةً فِي جَبْهَتِهِ حَتَّى سَالَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِهِ، فَقَالَ: «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ فَعَلُوا هَذَا بِنَبِيِّهِمْ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ؟» فَنَزَلَتْ: {لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ} [آل عمران: ١٢٨] إِلَى آخِرِهَا. سنن الترمذى

الله تعالى د دغي خبري په ځواب کي وفرمايل: د بخښني او عذاب پرېکړه به زه کوم نه ته؛ د پرېکړو، قضاوتونو، احکامو او اوامرو صادرول زما مختص او ځانګړی صفت دئ؛ په دې کي نه ته شريك يې او نه بل څوك؛ الله تعالى د خپل علم له مخي او د خپلو سننو مطابق فيصله کوي چي له کوم بنده سره کومه معامله وکړي.

له همدغو قريشو چي د احد په جګړي کي د کفر تر بيرغ لاندي جنګېدل؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې له نجات او فلاح مأيوس شوی وو؛

ډېرو ئې ایمان راوړ، الله تعالی هدایت کړل او د الله په لار کې ئې د سترو سترو کارونو توفیق ورکړ؛ خالد بن ولید ئې یو ښه مثال دئ.

دې ته مو پام وي چې موږ پیغمبر د الله تعالی د استازي او رسول په توګه منلی؛ د ده اطاعت ځکه کوو چې دا په حقیقت کې د الله تعالی اطاعت دئ؛ دا د چا ذاتي اطاعت نه دئ د هغو اوامرو اطاعت دئ چې د الله تعالی له لوري د ده په لاس موږ ته رارسېدلي؛ دا هم په پام کې ولرئ چې د نړۍ ټول انسانان؛ د پیغمبرانو په شمول؛ او دا زموږ زمکه، لمر، سپوږمۍ، شمسي نظام؛ او زموږ ټول ستور لیکي (کهکشان)؛ د الله تعالی په دې ستر ملك کې؛ دومره دئ لکه د انسان د وېښته وړوکی سر؛ ډېرو خپل ستر رب هېر کړی او یو وړوکی انسان ئې د هغه ځای ناستی کړی؛ مسیحیانو له عیسی علیه السلام سره همدا وکړل؛ یهودانو له عزیر علیه السلام سره، بودایانو له بودا سره، علویانو له علي رضي الله عنه سره، کربلایانو له امام حسین رضي الله عنه سره او ډېرو سنیانو ته منسوبو افراطیونو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره. خپل انساني معبودان ئې په الوهیت او ربوبیت کې له الله تعالی سره شریك کړل او په هغو صفاتو ئې وستایل چې الله تعالی ته مختص دي؛ خلقت، امر، حکم، ملك، حلال او حرام ټاکل، په غیب پوهېدا او نور الله ته مختص صفات.

دا چې په قرآن کې په مکرره توګه راغلي: د پیغمبر دنده فقط د وحي او د الله تعالی له لوري د لېږل شوو لارښوونو او احکامو متابعت دئ؛ او بس؛ د همدې لپاره دي؛ لکه د قرآن دا آیتونه چې فرمایي:

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ یونس: ۱۵

او کله چې زموږ څرګند آیتونه پرې ولوستل شي؛ هغه چې زموږ د ملاقات هیله نه لري وایي: له دې پرته کوم بل قرآن راوړه یا ئې بدل کړه! ووایه: ما

ته نه ښايي چې له خپلې خوا ئې بدل کړم، زه خو يوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کېږي. يقيناً چې زه خو د يوې ستړي ورځې له عذاب وېرېږم که له خپل رب سرغړاوی وکړم.

دا آيت ښيي چې قريشو له پيغمبر عليه السلام بل قرآن او يا په همدې قرآن کې تغييرات غوښتل؛ ده په ځواب کې ورته ويلي: دا قرآن د الله تعالى له لورې پر ما نازل شوی؛ زه فقط د همدغه قرآن متابعت کوم؛ نه يوازې د بدلولو اختيار ئې نه لرم بلکې له دې وېرېږم چې که د قرآن له لارښوونو سرغړونه وکړم؛ نو له ستر الهي عذاب سره به مخ کېږم.

پېغمبر عليه السلام ته امر شوی چې مخالفينو ته ووايي:

قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَكَذَّبْتُمْ بِهِ مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾ الأنعام: ٥٧

ووايه: زه خو د خپل رب په څرګند دليل (متکي) يم، په داسي حال کې چې تاسو همدا (څرګند قرآن) تکذيب کړ، له ما سره هغه څه نشته چې تاسو ئې په تلوار غواړئ، د پرېکړې واك خو يوازې له الله سره دئ، چې حق بيانوي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دئ.

په دې آيت سره رسول الله صلى الله عليه و سلم مکلف شوی چې ووايي:

- زه په هغې لارې او د هغه قرآن مطابق روان يم چې زما رب راښودلی.
- د خپلې لارې د حقانيت په اړه څرګند دلائل لرم.
- او تاسو بيا داسي يئ چې دا حقيقت تکذيبوئ.
- له ما په تلوار سره غوښتنه کوئ چې يا د الله تعالى د وعد او وعيد رښتينوالی ثابت کړم او عملاً ئې دروښيم او يا په دين کې ستاسي د خوښې تبديلي او تغيير راوړم او يا بل قرآن وړاندې کړم؛ دا يو هم زما په واك کې نه دئ.

- اصلي حَکَم او حاکم خو یوازي الله تعالی دئ، هغه ټول حقائق بیان کړي او هغه تر ټولو غوره حُکم کوونکی دئ.

دا او دې ته ورته آیتونه په ټول صراحت سره ښیي چې پرېکړي یوازي د الله تعالی له لوري کېږي او د پیغمبر علیه السلام دنده فقط د پرېکړو او لارښوونو ابلاغ او عملي کول دي.

د دغو څرګندو دلائلو په رڼا کې په بشپړ یقین او اطمئنان سره ویلی شو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم (قولي او عملي) سنت ته باید د قرآن د شرحي او تفسیر په سترګه وګورو نه د مستقلي وحي په سترګه، هغه رأیه صحیح او د قرآن د وینا مطابق ده چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن دقیق او ښتینی فهم؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ. هغه رأی بې بنسټه او له ځانه جوړه شوې رأیه ده چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن سربېره نوره وحي هم شوې او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب هره وینا او حدیث د دې وحي مظهر دئ. دا غلطه رأی؛ نه په قرآن کې کوم شاهد لري او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په صحیح احادیثو کې؛ له ځانه اختراع شوې ادعاء ده.

دا ادعاء اکثراً د هغو له لوري شوې چې په خرافاتو باور لري؛ د توجیه لپاره ئې دلائل لټوي؛ په قرآن کې نه یوازي داسي دلائل نشي موندلی بلکې خپل خرافات د څرګند قرآني لارښوونو خلاف مومي؛ له خرافاتو لاس نشي اخیستلی؛ ځکه روزي ئې ورپوري تړلې ده؛ غواړي له دې مخمصې د جعلي او ضعیفو روایاتو او قصو په مرسته ووځي؛ او ناچار دغو روایاتو ته به د مستقلي وحي نوم ورکوي. یو مثال ئې وړاندي کوم: د یوه دېوال سیوري ته ناست کوډګر او تعویذ ګر؛ د جادو دفع کولو، په تعویذ سره د حاجتونو ترسره کولو ادعاء کوي؛ همدا ئې دکان او د خرڅلاو متاع ده، روزي ئې ورپوري تړلې ده؛ دا ټګمار دې ته ضرورت لري چې جادو او تعویذ او تأثیر ئې په څلورو کتابونو او څلورو

مذاهبو ثابت کړي؛ نو خپل ساده او له عقل پوروړي مشتري ته وايي: د سليمان عليه السلام ټوله ستره پاچايي د يوې جادويي ګوتې له کبله وه!! پر رسول الله صلى الله عليه و سلم جادو شوی وو؛ دومره چې خبرې به ترې هېرېدې او ګډې وډې کېدې؛ سِحر حق دئ او انکار ئې کفر!! که ده ته سل ځله ووايي: الله تعالى او د هغه رسول د سِحر په اړه ويلي چې سحر هسې يوه دوکه ده؛ نه کوډګر په سحر سره چاته ضرر رسولی شي او نه ځان او بل ته ګټه؛ قرآن جادو کول او له جادوګر مرسته غوښتل؛ له کفر سره مترادف ګڼي او هغوی ته وايي: فلا تکفر: مه کافر کېږه. دا خبرې نه پر دې ټګمار کوډګر څه تأثير لري او نه ئې درسره مني. هغه چې ځان ته دينپال وايي خو په خرافاتو کې تر ستونې غرق دي؛ د دغه کوډګر په څېر دي؛ منطق ئې هم دې کوډګر او تعويذګر ته ورته او د قرآن له څرګندو آيتونو سره د دوی مخالفت هم د هغه مخالفت ته ورته.

هيڅکه بايد د قرآن په اړه دا تصور زمونږ ذهن کې راونه ګرځي او داسې څه ونه وايو چې ښيي قرآن کافي نه دئ، دا باور مو بايد هيڅکله خلل ونه مومي چې قرآن د هدايت داسې ځلانده ډېوه ده چې انسان ته د ژوند په ټولو فکري او عملي برخو کې کافي او شافي دئ، په قرآن کې هر څه راغلي، دا د قرآن په اړه د الله تعالى وينا او لارښوونه ده؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا ده؛ څوک چې له قرآن پرته په بل څه کې هدايت لټوي الله تعالى ئې بې لاري کوي:

.... وَمَنْ يَبْتَغِي الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ.... حلية الأولياء

د حديث په اړه بايد زمونږ عقيده دا وي چې صحيح حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن حامل، شارح، معلم او مفسر دئ، دنده ئې خلکو ته د قرآن رسول دي، وحي په قرآن کې راخلاصه شوې، څه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وحي شوي ټول په قرآن کې

راغلي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټولې رسولانه ويناوي او کړني د قرآن مطابق دي، داسي صحيح حديث نشته چې منشأ ئې په قرآن کې نه وي، هغه روايت چې له قرآن سره تعارض ولري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې منسوبول ستر جهالت دئ، ټول فقهاء او محدثين په دې متفق دي چې صحيح حديث هغه دئ چې نه له قرآن سره تعارض ولري او نه له عقل سره. هغه وينا چې قرآن ته نقص منسوبوي؛ په دېوال ووهئ؛ داسي وينا د هغو ضاله ډلو تبر ته لاستی برابروي چې قرآن شا ته غورځوي او په جعلي رواياتو پوري ښنلي (نښلي)، دا نه يوازي بد عواقب لري بلکې د قرآن د صريحو او څرګندو آيتونو خلاف وينا ده.

هغو ته چې حديث ته د غير متلو وحي يا وحي خفي نوم ورکوي او قرآن د وحي جلي او وحي متلو په نامه يادوي؛ وايو: دا تسميه او نومَوَنې د چا له لوري شوې او دا نومَوَنه د چا اختراع ده؟ په قرآن او حديث کې خو په قطعي توګه دا نومَوَنې نشته، ولې دې ته د غير متلو نوم ورکوئ؟ غير متلو خو هغه څه ته ويل کېږي چې څوک ئې په خوله نه تکراروي او له لوستلو او ويلو ئې ډډه کوي!! تاسو ولې وحي ته د جلي صفت ورکوئ؟ پر وحي د جلي اطلاق په بشپړه توګه غلط اطلاق دئ؛ وحي هغه رمز او اشارې ته وايي چې د جلي خلاف او خفي وي!! يو څوک پاڅېدلی او له ځانه ئې دا اصطلاحات راايستلي او ته اوس داسي پرې ټينګ يې چې د قرآن تر آيت هم درته مهم برېښي!! جنابه! ستا ئې خوښه خو مور دا اصطلاحات درسره نه منو ځکه په بشپړه توګه او له هره پلوه غلط دي!!

دې ته مو پام وي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته ډېر غلط افکار او باورونه په مسلمانانو کې خواره شول، همغسي لکه چې تر ده وړاندي د نورو پيغمبرانو له رحلت وروسته د دوی په امتونو کې خواره شوي؛ تر پيغمبر عليه السلام وړاندي؛ عيسى عليه السلام چې هم تورات ورکړل شوی وو او هم انجيل؛ له دې کتابونو د هغه له رحلت وروسته؛ هيڅ څه نه

دي پاته شوي، حتی د هغو کتابونو یوه جمله به هم تاسو په هغه کتاب کي ونه مومئ چي عیسی علیه السلام ته منسوب دئ؛ په بایبل کي؛ د مخکینیو الهي کتابونو یوه روغه او بشپړه برخه او حتیٰ جمله هم نشته، ټول خرافات، قصې، شجرې او جعلي روایات دي، آیتونه ئې هېر کړي او روایات ئې راوړي، نن د تورات او انجیل اصلي نسخي اصلاً په ټولې نړۍ کي نشته؛ تورات، انجیل او زبور ډېر وړاندي په بشپړه توګه له منځه وړل شوي، ځای ئې هغه بایبل نیولی چي د یهودانو او مسیحیانو دښمنانو لیکلی؛ او په هغه کې د یهودانو پر ټولو پیغمبرانو سخت اخلاقي تورونه لګېدلي؛ داسي تورونه چي نه یوازي د یوه پیغمبر له شأن ډېر لري دي بلکي عادي انسانانو ته ئې منسوبول هم د شرم او حیاء له پولو تېرېدل ایجابوي. ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې یا پټه ساتلې یا ئې ځینو خاصو وګړو ته ویلې، ګواکي وحي په قرآن کي نه راخلاصه کېږي؛ ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی، ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو!! عائشې رضي الله عنها د دغو غلطو او د قرآن خلاف افکارو او باورونو د تردید لپاره مسروق رضي الله عنه ته وویل: د دې خبرې په اورېدو مي وېښتان زیر شول، رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نه خپل رب په خپلو سترګو لیدلی، نه له قرآن پرته داسي وحي شته چي له خلکو ئې پټه ساتلې وي او نه په غیب پوهېدو. چا چي دا خبرې وکړې ستر دروغ ئې ویلي!! روایت داسي دئ:

... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِي قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ

عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذى

... مسروق وايي: عائشې رضي الله عنها ته ورغلم ومي ويل: آيا محمد (عليه السلام) خپل رب ليدلى؟ وئې ويل: داسي خبره دي وکړه چي وېښتان مي ورته زيږ شول، ومي ويل: لږ حوصله وکړه، بيا مي دا آيت تلاوت کړ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ويل: چېرې ئې ښولى يې؟ دا خو جبرئيل وو، چا چي درته وويل: محمد عليه السلام خپل رب ليدلى، يا ئې له هغه وحي کوم څه پټ کړي چي پر ابلاغ ئې مأمور شوى او يا په هغو پنځو شيانو پوهېږي چي الله تعالى د هغوى په اړه فرمايلي:

(إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ) لقمان ٣٤؛ نو سترە بدغونې خبره ئې کړې (ستر دروغ ئې ويلي)، خو هغه جبرئيل ليدلى، په خپلې اصلي بڼې کې ئې يوازې دوه ځلي ليدلى، يو ځل په سدرة المنتهى کې او بل ځل په جياد کې؛ شپږ سوه وزري ئې وې، ټول افق ئې پوښلى وو.

په دې اړه له علي رضي الله عنه هم پوښتنه شوې او ورته ويل شوي: آيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اهل بيت کې له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل کتاب هم شته؟ د پوښتني موخه دا وه چي آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي وحي هم شوې چي تا يا کوم بل خاص کس ته ئې ويلي وي او په قرآن کې د هغې په اړه څه نه وي ويل شوي؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي...

حقيقت دا دئ چي د ټولو جعلي، خرافي او غلطو مذاهبو بنسټ پر دې

دروغجني ادعاء ايښودل شوی چي وايي: د الله کتاب کامل او کافي نه دئ؛ او الله تعالی نور داسي احکام هم لېږلي چي په قرآن او نورو الهي کتابونو کي ئې يادونه نه ده شوې، هر ټګمار خپل غرضي افکار او هغه غلط آراء چي د الله تعالی له کتاب سره په بشپړه توګه تعارض لري؛ همداسي وحي ګڼلي او ساده عوامو ته ئې ويلي: دا هم د الله تعالی له لوري وحي شوي که څه هم په الهي کتاب کي نه دي راغلي!!! د قاديانت بنسټ په همدې غلط بنياد ايښودل شوی، د شيعه مذهب بنسټ همدا باور دئ، د متصوفينو مشرب او مسلك همدا دئ، ټول له دې سره په کلکه مخالفت کوي چي د الله تعالی کتاب وروستی معيار او محك وګڼل شي او وحي په قرآن کي خلاصه کړی شي. که تاسو دوی ته ووايئ: ولي په داسي څه عقيده کوئ او د خپل مذهب بنسټ تړې جوړوئ چي په ټول قرآن کي معمولي اشاره هم نه ده ورته شوې؟!! په قرآن کي د علي رضي الله عنه په شمول د هيڅا د منصوصي إمارت او د پيغمبر د ځای ناستي يادونه نه ده شوې؛ او نه د پنځه کلن ماشوم او غائب امام يادونه، نو تړې وابه ورئ چي وايي: وحي په قرآن کي نه ده خلاصه شوې، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د علي د امارت وحي هم شوې او زمور ائمه وو ته د امام زمان د امامت وحي هم!!! که تاسو قاديانانو ته ووايئ: قرآن وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم خاتم النبيين دئ، د وحي سلسله په قرآن پای ته رسېدلې، نو تاسو ته به ووايي: نه وحي په قرآن کي خلاصه شوې او نه ئې د راتلو لړۍ پای ته رسېدلې، غلام احمد قادياني ته داسي وحي کېده لکه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته!! يقيناً چي دا د ټولو خرافي مذاهبو ګډ بنسټ دئ، څوك چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره وحي شوې هغوی په حقيقت کي د ټګمارانو تبر ته لاستي اچوي او د هغوی غلط مشرب مضبوطوي!!

د ټولو فتنو، انحرافاتو، مذهبي اختلافاتو، فکري او اعتقادي تشنجاتو او د دجالانو او دوکه مارانو د مکرونو د مخنيوي يوازينۍ، اغېزمنه او ډاډمنه لار

دا ده چې قرآن کامل او کافي وګڼو، هغه ته د بشپړ لارښود الهي کتاب په سترګه وګورو، هر اختلاف هغه ته راجع کړو او د هغه فیصله وروستۍ پرېکړه ومنو، باور مو دا وي چې قرآن له نقص او عیب منزه دئ، د هر ډول فکري او اعتقادي اختلاف د حل وروستۍ مرجع او د هري قضیې په اړه د هغه قضاوت او پرېکړه وروستۍ عادلانه او حقیقي پرېکړه ده؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث ته د قرآن د دقیقي او جامع شرحي او تفسیر په سترګه وګورو، په دې باور وو چې د قرآن او صحیح حدیث تر منځ هیڅکله تعارض او تضاد نشي رامنځته کېدی، یوازې هغه روایت د اعتبار وړ وګڼو چې په قرآن کې کوم شاهد ورته ومومو، یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، پر الله تعالی او د هغه پر رسول د ایمان حقیقي معنی او د الله تعالی او د هغه د رسول د اطاعت رښتینی مصداق همدا دئ.

د دې عنوان خلاصه دا ده:

- متعارض روایات د مذهبي اختلافاتو اصلي عامل دئ.
- کمعلمه خلك له دې خبر نه دي چې متضادو روایاتو په امت کې څومره ستونزې راولاړې کړې او هغه متحد امت ئې څنګه ټوټې ټوټې او په بېلو بېلو فرقو ووېشلو چې د وحدت مزی ئې قرآن وو!!
- هغه چې ګمان کوي مذاهبو امت ووېشلو او په احادیثو عمل کولو سره دا اختلاف له منځه وړی شو؛ یا ادعاء کوي چې په احادیثو کې تضاد او تعارض نشته او روایات د اختلاف او وېش سبب نه بلکې د اتحاد او اتفاق سبب کېدی شي!! دا دواړه خبرې؛ داسي کړې او د حقیقت خلاف دي چې هیڅ عقلمن انسان ورسره توافق نشي کولی.
- نه یوازې د امت په وروستیو نسلونو کې د اختلافاتو اساسي منشأ متعارض روایات دي؛ بلکې د مخکینیو تر منځ اختلافات هم له همدې متعارضو روایاتو راولاړ شوي، متعارضو روایاتو ته په پام سره؛ د امت فقهاء او محدثین راولاړ

شول چې روایات وڅېي، د راویانو په اړه ژور تحقیقونه وکړي، صحیح روایات تشخیص کړي، د اعتماد وړ راویان له کمزورو بېل کړي، یوازي هغه روایات د اعتماد او اعتبار وړ وګڼي چې راویان ئې ثقه وي او متن ئې له قرآن سره تعارض ونه لري. الله تعالی دي دوی ته ډېر ډېر اجرونه ورکړي.

- خو د دې معنی دا نه ده چې د احادیثو په کتابونو کې راغلي ټول روایات سل په سلو کې هم د سند له پلوه صحیح دي او هم د متن له پلوه، په دې کتابونو کې هم صحیح روایات شته، هم ضعیف، هم له قرآن سره موافق روایات او هم متعارض، ځینې روایات ئې یو له بل سره موافق او ځینې ئې متعارض.

- الله تعالی پر موږ ستره پېرزوینه کړې چې د قرآن په بڼې کې ئې موږ ته داسې رون او لارښود محك او معیار په اختیار کې راکړی چې د روایاتو په شمول د ژوند په ټولو اختلافي مسائلو کې د هغه په رڼا کې قضاوت کولی شو او سمه خبره له کمزورې او غلطې بېلولی شو.

- قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې په ځینو مواردو کې د یوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چې دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځینو مواردو کې هغه مهال چې درې او څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي چارو او معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته چې څوك څه منسوبوي او ادعاء کوي چې داسي ئې وکړل یا داسي ئې وویل؛ څنګه ئې ادعاء له هیڅ شاهد پرته ومنو؟!! په کار خو دا وه چې زموږ درنو محدثینو د احادیثو په اړه تر څلورو هم زیات شاهدان غوښتی، د داسي روایاتو له راوړلو ئې ډډه کولی چې یو راوي لري؛ نه په صحابه وو کې د راوي ترڅنګ شاهد شته، نه په تابعینو او تبع تابعینو کې، لږ تر لږه دومره خو ئې باید کړي وی چې د داسي روایاتو تر څنګ ئې لیکلی: پام کوئ چې د دې راوي

یوازي یو کس دئ او هیڅ شاهد نه لري!! یا ئې لیکلي وی: دا روایت په قرآن کې شاهد لري که نه؟

- که نن د یوه داسي روایت په اړه چې غریب وي، یو راوي لري، په قرآن کې هم کوم شاهد ورته نه مومي، یو څوك ووایي: زه دا روایت نه منم، استناد پرې نه کوم، وېرېږم چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه کړم چې هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه یوازي له حدیث انکار نه دئ کړی، ګنهګار او مجرم ئې نشو ګڼلی، بلکې د عمر رضي الله عنه په منهج او سلوك ئې عمل کړی او له دې ئې ځان ساتلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غریب روایت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې ترې کوله، که عائشې رضي الله عنها د عبد الله بن عمر په څېر شخصیتونو هغه روایت نه منلو چې له قرآن سره ئې مطابقت نه درلود؛ نو مور به ولې داسي روایات منو چې په څلورو او پنځو طبقو کې یوازي یو یو راوي لري، مخصوصاً هغه روایات چې نه په قرآن کې کوم شاهد ورته مومو، نه په احادیثو کې او نه له عقل او درایت سره اړخ لګوي؟!!

- په امت کې د اختلاف عوامل یا سیاسي دي او مفسدو واکمنانو راولاړ کړي، یا اقتصادي دي او حریص شتمن او ټګمار علماء سوء ئې تر شا دي او یا له متعارضو روایاتو راولاړ شوي؛ دغو متعارضو روایاتو حتیٰ نېکان او صالح خلك هم سره بېل کړي او کله کله ئې د دوی تر منځ دومره شدید اختلافات راولاړ کړي چې یوه ئې بل تکفیر کړی او د هغه په ضد ئې د وسلې کارول جائز ګڼلي!! د شیعه او سني تر منځ اختلاف خو پرېږده چې سیاسي وجوهات لري، د ائمه وو تر منځ اختلافات هم له متضادو او متعارضو روایاتو راولاړ شوي، په امت کې دوه اویا فرقې؛ له مرجئه نیولې تر شیعه پوري، له خوارجو نیولې تر سلفیانو پوري، له بریلویانو تر تبلیغیانو، ټولې له متعارضو او متضادو روایاتو راولاړي شوې، څوك چې د قبر خوا ته ناست دئ او له مړي مرسته غواړي، د

قبر خاوند خدای ته شفیع کوي، ګمان کوي چې د ده دعاء اوري او خدای ته ئې رسوي او پر الله تعالی ئې مني نو هغه په ځینو روایاتو استناد کوي!! بریلوي چې وایي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو، د الله تعالی د فیض وېش ده ته سپارل شوی او د الهي فیض د خزانو کلیاني د ده په واك کې دي، نو هغه هم په روایاتو استناد کوي!! که سلفیان د خپل مذهب په ګټه پر بخاري تکیه کوي نو بریلویان هم د خپلو ټولو عقائدو لپاره د بخاري په روایاتو استناد کوي!! دا په داسي حال کې چې یو بل ته د مشرك او له حدیث د منکر په سترګه ګوري!! دا ټول د قرآن د هغه آیت مصداق دي چې وایي:

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١١٣ البقره: ١١٣

او یهودانو وویل: نصرانیان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي؛ او نصرانیانو وویل: یهودان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي؛ په داسي حال کې چې دوی کتاب لولي؛ همدا راز هغو کسانو هم چې نه پوهېږي (مشرکینو)؛ دوی ته ورته وینا وکړه؛ نو الله به د قیامت په ورځ د دوی تر منځ په هغه څه کې قضاوت کوي چې دوی په کې اختلاف کاوو.

د دې آیت معنی دا ده چې له حقپالو سره د شیطاني ډلو مخالفت او له مسلمانانو سره د یهودو او نصرانیانو اختلاف نوې خبره نه ده، دوی په خپلو کې هم یو له بل سره تل په اختلاف کې پاته شوي، په شدید او نه پخلا کېدونکي اختلاف کې، هومره چې یهودانو به ویل: نصارا خو اصلاً هیڅ دین او مذهب نه لري او نصرانیانو به دغه خبره د یهودانو په اړه کوله حال دا چې دواړو به په الهي کتاب د ایمان دعوی کوله!! د الله کتاب خو یو دئ، تورات او انجیل یو د بل مؤید او د الله دا کتابونه خو د اختلافاتو د حل لپاره راغلي، څنګه

دوی د الله کتاب شا ته غورځولی، په غلطو روایاتو پسې تللي او د الله دین ئې د اختلاف وسیله ګرځولی؟!! ناپوهو مشرکانو به هم د دوی دواړو په اړه دغه خبره کوله چې د دوی مذهب خو اصلاً څه مذهب نه دئ.

څوک چې رفع الیدین کوي او په دې کې له احنافو سره اختلاف لري نو هغه یو روایت مني او بل نه، هغه روایت مني چې د ده مذهب ئې صحیح ګڼي او هغه روایات نه مني چې تر دې روایت ډېر ډېر معتبر او ارجح دي او احناف پرې استناد کوي، څوک چې په قرائت خلف الامام باور لري، په جهري لمونځونو کې د فاتحې لوستل هم پر امام فرض ګڼي او هم پر مقتدي او له دې پرته لمونځ ناقص ګڼي، په امام پسې په لوړ غږ آمین ویل داسې ګڼي لکه چې ویل ئې فرض وي او تر فرض هم اوښتی، نو هغه په داسې روایاتو استناد کوي چې نور ئې کمزوري او مرجوح بولي او ورته وایي: ستا دغه روایات له هغو معتبرو او صحیح روایاتو سره تعارض لري چې نه د فاتحې لوستل فرض بولي، نه په امام پسې قرائت کول او نه په لوړ غږ آمین ویل. څوک چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپلو سترګو الله تعالی لیدلی هغه هم د بخاري په روایت استناد کوي!! او څوک چې وایي هغه کس دروغجن دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی؛ هغه هم د بخاري په روایاتو استناد کوي، څوک چې وایي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د معراج سفر یوه رؤیا وه او په مقابل کې ئې بل وایي چې دا د ویښې سفر وو، دواړه د بخاري پر روایاتو استناد کوي!! څوک چې وایي: چا چې د شهادت کلمه وویله د دوزخ اور پرې حرام دئ، که ئې عمل هر ډول وي حتماً به جنت ته درومي، د بخاري پر روایاتو استناد کوي او څوک چې وایي: هر کس به د خپلو عملونو سزا ګوري، یوازې د شهادت د کلمې په ویلو سره له عذاب او محاسبې نه ژغورل کېږي، دا هم د بخاري پر روایاتو استناد کوي!! څوک چې وایي مړي د ژوندیو خبرې نه اوري او څوک چې د ده په خلاف وایي: مړي حتیٰ د ژوندیو د پښو ترپا هم اوري دواړه د بخاري پر روایاتو

استناد کوي!! دا په داسي حال کې چې له دغو خبرو ځينې ئې له قرآن سره مطابقت لري او ځينې ئې سل په سلو کې د قرآن خلاف دي!! دې ته ورته په سلګونو نور موارد. نن که کوم بريلوي ته ووايې: د قرآن ګڼ شمېر آيتونه وايي چې نه رسول الله صلى الله عليه و سلم په غيب پوهېدو، نه نور پيغمبران او نه په زمکي او آسمان کې له الله تعالى پرته بل څوك، هغه به ګڼ شمېر روايات ستا مخي ته کېږدي او درته وبه وايي: دا روايات ښيي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په غيب پوهېدو!! که نن کوم شيعه ته ووايې: په ټول قرآن کې يو آيت هم داسي نشته چې د علي رضي الله عنه يا امام زمان په اړه ئې صراحتاً يا اشارتاً څه ويلي وي نو هغه به درته ووايي: زمونږ روايات وايي چې د قرآن درې سوه آيتونه د علي عليه السلام په اړه دي!!

په همدې غونډې کې به د قرآن ډېر حافظان وي؛ له دوی پوښتنه کوم: آيا په ټول قرآن کې مو داسي کوم آيت له نظره تېر شوی چې په هغه کې د علي بن ابي طالب نوم؛ يا د هغه د إمارت يا د کوم بل صحابي د إمارت يادونه صراحتاً يا اشارتاً شوې وي؟ که چا ته له کوم آيت د دې ادعاء کومه شائبه په نظر ورغلې وي لاس دي اوچت کړي. ما تر ۵۰ کلونو زيات د قرآن خوا ته تېر کړي؛ نږدې دوه ثلثه مي حفظ کړی؛ په سلګونو ځلي مي تلاوت کړی؛ په لمانځه او له لمانځه بهر؛ قرآن مي ترجمه او تفسير کړی؛ په ټول قرآن کې مي د دې يوه معمولي او احتمالي شائبه هم نه ده موندلې؛ په خلاف ئې ما منصوصي او موروثي إمارت او إمامت د قرآني لارښوونو خلاف موندلی.

د رواياتو کتابونه داسي دي چې شارحين ئې د تعارضاتو په توجيه او تلفيق ستړي شوي. مونږ دغه حقيقت ته په پام وايو: ای کاش په اسلامي امت کې داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چې د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چې عثمان رضي الله عنه د قرآن په اړه وکړ، کاش مونږ د رواياتو داسي متفق عليه کتاب او مجموعه درلودی چې ټول امت پرې متفق وی او په هغه کې داسي روايت نه وی چې له قرآن سره تعارض لري او يا يو

ئې له بل سره، که مورږ د احادیثو او روایاتو یوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه درلودی او د احادیثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کې له تنقیح وروسته په یوې مجموعې کې راغونډ شوي وی نو له سترو سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. مورږ همدا وړاندیز کوو چې د امت صالح، د مسلمانانو په درد دردمن او په قرآن او حدیث پوه او مجاهد علماء دي په یوې معتبرې مجمع کې راغونډ شي، د روایاتو کتابونه دي د قرآن په رڼا کې وڅېي او د صحیح روایاتو یوه معتبره مجموعه دي امت ته وړاندي کړي. خو یقیناً چې دا کار تر هغه ممکن نه دئ چې د نړۍ په کوم ګوټ کې یو واقعي اسلامي حکومت جوړ شي. که داسي حکومت جوړ شو نو زما لومړی وړاندیز به هغه ته دا وي چې دغه ستر او تاریخي کار ته ملا وتړي.

دوی وایي: حدیث هم د قرآن په څېر د الله تعالی له لوري دئ!! که له دې خبرې د دوی غرض دا وي چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن سربېره احادیث هم د قرآن په څېر د وحي له لارې لېږلي!! نو دوی ته وایو: که داسي وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به هیڅکله د احادیثو د لیکلو ممانعت نه وو کړی، دا امر به ئې نه کولو: چا چې له ما له قرآن پرته بل څه لیکلي وي هغه دي له منځه یوسي!! دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې مأمور وو چې هره الهي وحي او پیغام به خلکو ته رسوي، د ده مأموریت او رسالت همدا وو، الله تعالی د همدې لپاره غوره کړی وو، څنګه به هغه د وحي له لیکلو او د هغې د سوزولو او له منځه وړلو امر کولو؟!! پوښتنه کوم: د مکي دور د روایاتو شمېر څومره دئ؟!! آیا د دیارلسو کلونو ټول احادیث، د حدیث په ټولو کتابونو کې، دومره دي چې په هر کال کې لسو شلو ته ورسېږي؟ ولې د حدیث په کتابونو کې د مکي دور ډېر لږ احادیث او هغه هم اکثراً مطلق غریب احادیث تر سترګو کېږي؟!! ولې صحابه وو په مدینه کې هم د حدیث له لیکلو په داسي حال کې ډډه کوله چې قرآن به ئې لیکلو؟!! مهرباني وکړئ مورږ ته ووایئ: له صحابه وو په لیکلې بڼه کې تر لاسه

شوي روايات څومره دي؟!!

راشئ د قرآن هغي وينا ته غوږ شو چي د وحي په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم چلن ته اشاره کوي او فرمايي:

لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ القيامة: ١٦-١٩

ژبه دي مه پرې خوځوه، د دې لپاره چې تلوار پرې کوې، راغونډول او ویل ئې زمونږ پر ذمه دي. نو چې کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. بیا ئې بیانول هم زمونږ پر ذمه دي.

یعني پیغمبر علیه السلام د قرآن د هري نوې برخي په اورېدو سره داسي په وجد راځي او هڅه کوي چې په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاته نشي، هیڅ لفظ ئې هېر نه کړي او دا احساس ورسره راپیدا کېږي چې که د ده مخاطبینو تر اوسه د ده هیڅ مخکینۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آیتونو په اورېدو سره به خامخا ایمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کې مومي، باید ژر ئې تر لاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبینو مخې ته کېږدي. عجله او تلوار ئې دومره چې الله تعالی ورته د تلوار نه کولو توصیه کوي او فرمايي: د قرآن د نویو آیتونو د تر لاسه کولو په اړه ډېره عجله مه کوه، کله چې ئې د وحي فرشته پر تا لولي ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چې فرشته خپل پیغام بشپړ کړي، د وحي له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشویش ئې مه کوه، موږ د دې ذمه وار یو چې هغه ستا په حافظې کې خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصیل ئې بیان کړو.

له دې آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دوه شیان ورکړی شوي: د الله تعالی له لوري وحي شوی پیغام او د دې الهي پیغام د قرائت، بیان او تشریح (علم او) توفیق. یعني رسول

الله صلی الله علیه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم، قرآن ورکړی شوی او د قرآن د حفظ، لوستلو، بیانولو او تشریح کولو توفیق. قرآن د الله تعالی له لوري پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی او حدیث هغه فهم او پوهه ده چې الله تعالی د قرآن په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په برخه کړې.

د بخاري په اړه د اهل حدیثو ادعاءګاني

هغه مهال چې زه د قرآن په تفسیر مصروف وم؛ په تفاسیرو کې داسې متعارض روایات مخې ته راتلل چې د صحت او ضعف په اړه قضاوت او د یوه غوره کول راته ګران وو، سره له دې چې بخاري او مشکوة مي څو ځلي لوستلي وو، هم له استاد او هم له ځان سره، دا لوستل کافي نه وو، تحقیقي لوستلو ته اړ وم، پرېکړه مي وکړه چې صحاح سته ولولم او په بخاري کې تحقیق وکړم، د تفسیر کار مي متوقف کړ او د بخاري تحقیق ته مي ملا وتړله، نږدې نه میاشتي مي په مسلسله توګه پرې کار وکړ، د (حکمة البارئ) په نامه د بخاري د پښتو ژباړې او مختصر شرحي لومړی جلد مي بشپړ کړ؛ او د دوهم جلد نږدې دوه سوه صفحې مي ولیکلې، همدغه تحقیق راسره مرسته وکړه او دا ئې راوښوده چې د روایاتو د صحت او سُقم په اړه قضاوت وکولی شم. د تفسیر پاته برخه مي له دې وروسته ولیکله.

د حکمة البارئ لومړی جلد د ۱۳۸۹ هـ ش کال د حمل په درېیمه پای ته ورسېد او چاپ شو، دوهم ځل د ۱۳۹۵ کال د دلوي میاشت کې خپور شو، انتظار دا وو چې ښایي هغه به خامخا او ډېر ژر غبرګون ښیي او څه به پرې ولیکې؛ چې ځان ته اهل حدیث وایي؛ اما له نېکه مرغه تر ۱۳۹۸ کال پوري په تېرو لسو کلونو کې څوک ونه توانېدو هغه نقد کړي او څه پرې ولیکي؛ لومړی

ځل د انتخاباتو د کمپاین په دوران کې او د یوه سیکولر نوماند له لورې توظیف شوي ډېر ضعیف او له قرآن او حدیث بې خبر لیکوال؛ د حکمة البارئ نقد ته ملا وتړله؛ خو د دې پر ځای چې حکمة البارئ نقد کړي؛ د همدغه سیکولر نوماند په نفع ئې د حکمة البارئ د لیکوال تورنولو او تخریبولو هڅه کړې، داسې کتاب ئې لیکلی او خپور کړی چې په ځواب نه ارزي، سویه ئې ډېره ټیټه او استدلال ئې ډېر منحط او ضعیف، که په دې کتاب څه مرتب شوي وي نو هغه به یوازې دا وي چې لوستونکي ئې د حکمة البارئ مطالعې ته هڅولې. دا کتاب په اصل کې د مؤلف د افکارو زېرنده نه وو، هغه د خپل کتاب ډېره برخه د بل چا له غیر مطبوع کتاب کاپي کړې وه؛ چې هغه هم پروسږ کال خپل کتاب چاپ او خپور کړ. البته تر دې دواړو وړاندې؛ ځینو د فیسبوک له لارې پر حکمة الباري نیوکې کړې وې چې ځواب ئې ورکړی شوی او اړوند لیکنې ئې په دغې رسالې کې نشر شوې: (له صحیح حدیث تر جعلي راوایاتو). همغه مهال ما هم په مستعار نامه یوه لیکنه درلوده چې دلته ئې راوړل مفید ګڼم؛ تر دې عنوان لاندې: د امت څو سلنه له امام بخاري سره اختلاف لري او څومره ورسره موافق دي؟!! او دا ئې د لیکنې متن:

په دې ورځو کې ځینو فیسبوکې مفتیانو د بخاري په حمایت کې دومره افراط وکړ چې د امام بخاري د هر روایت مخالفین ئې له اسلام او اسلامي امت وتلي او د حدیث منکرین وګڼل، دوی ته د یوه خواخوږي او داعي په توګه څو عرائض او سپارښتني لرم او څو پوښتني؛ پوښتني مي دا دي:

- ما ته وویئ: په امت کې د بخاري د اتباعو او پلویانو شمېر څومره دئ؟ زه به ئې ځواب درکړم: د امت تر نوي سلني زیات د څلورو مشهورو حقه مذاهبو پلویان دي، غوڅ اکثریت ئې؛ شاوخوا اویا سلنه ئې احناف دي، نږدې پنځه سلنه ئې د شیعه وو مختلفې ډلې دي، په پاته پنځه سلني کې ئې ځینې ځان ته اهل قرآن وایي، ځینې اهل حدیث او ځینې داسې چې د خاص مذهب متابعت نه کوي، دغه چې ځان ته اهل حدیث وایي د بخاري اصلي اتباع دي،

امام بخاري ئې امام او صحيح البخاري ئې مذهبي کتاب دئ. د دې معنی دا ده چې د امت ډېر وړوکی شمېر د امام بخاري په اتباعو کې راځي.

- آيا خبر يئ چې امام بخاري رحمه الله له ټولو مخکينيو امامانو سره په ډېرو مواردو کې اختلاف لري، خو دا اختلاف دومره نه وو چې هغوی ته په سپکه سترګه وګوري او يا ئې اتباع تکفير کړي، حتیٰ دومره احتياط ئې کړی چې په اختلافي مواردو کې ئې د مقابل لوري د نامه له يادولو هم ډډه کوله. متأسفانه اوس د ده اتباع د ټولو مذاهبو اتباع تکفيروي، تقليد ته د شرك په سترګه ګوري او مقلدين د مشرکينو په نامه يادوي!! دا په داسي حال کې چې دوی په خپله په تقليد کې دومره غرق دي چې د بخاري هر روايت ورته د قرآن تر آيت هم معتبر برېښي؛ او دليل ئې هم دا چې د آيت يوازي هغه شرح د منلو وړ ده چې د بخاري په صحيح حديث کې راغلې وي. شيعه هم روايت ته پر آيت ترجيح ورکوي او استدلال ئې هم دوی ته ورته دئ، وايي: موږ په قرآن نه پوهېږو، قرآن اوه بطون لري، يوازي د پيغمبر اهل بيت پرې پوهېږي، نو روايت معتبر دئ نه آيت!!!

- آيا خبر يئ چې د احاديثو د کتابونو شمېر څومره دئ؟ دا اوس زما په اختيار کې د احاديثو ۲۸۰ کتابونه (او اوس ٤۳۰) دي، هر يو ئې له يو جلد تر دېرشو جلدونو پوري؛ او د احاديثو اړوند نورو کتابونو شمېر د دې تر درې برابره هم زيات. په دوی کې يو ئې صحيح البخاري دئ، بخاري له ټولو نورو کتابونو سره په ډېرو مواردو کې اختلافات لري، يا ده د نورو ځيني روايات نه دي منلي او يا نور د ده ځيني روايات د اعتبار وړ نه بولي.

- آيا پوهېږئ چې امام بخاري د مخکينيو ائمه وو د شاګردانو مقام ته هم نه رسي، نه په علم کې، نه د صحيحو احاديثو په راغونډولو کې او نه د قرآن او حديث په استناد د فقهي احکامو په استنباط کې.

- آيا پوهېږئ: څوك چې په لمانځه کې لاس پر سينه نه ږدي، پښې ډېرې ارتې نه نيسي، په جهر سره آمين نه وايي، په جهر لمونځونو کې په امام پسې د فاتحې سوره نه وايي او د امام پر قرائت اکتفاء کوي، په قعده کې ګوته په مسلسله توګه نه خوځوي، په قعده کې يوه پښه تر بلې لاندې نه ږدي، له دوهمې سجدې مخامخ او له ناستې پرته ودرېږي، مختصر ځنډ نه کوي، تراويح شل رکعته کوي نه اته رکعته، له يوه بل ته د ساري مرض انتقال مني، د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف معتبر نه ګڼي.... په ټولو دغو مسائلو کې له امام بخاري سره موافق نه دي او عملاً ئې مخالفت کوي؟!! اوس ما ته ووايه: په افغانانو کې د هغو شمېر څومره دئ چې په دې مواردو کې د امام بخاري روايات معتبر ګڼي او عمل پرې کوي او څومره د ده روايات معتبر نه ګڼي او عمل نه پرې کوي او هغو رواياتو ته ترجيح ورکوي چې د بخاري له رواياتو سره تعارض لري؟ امام بخاري يو څه وايي او امام ابو حنيفه بل څه، امام بخاري يو څه وايي او نور ټول مخکيني امامان بل څه، دا هسي څو عام فهم مسائل دي، که نه نو د هغو مسائلو شمېر سلګونو ته رسېږي چې امام بخاري او کتاب ئې په يوې وادي کې او مخکيني ائمه او کتابونه ئې په بلې وادي کې دي. آيا په افغانستان کې به د اهل حديثو شمېر ۱٪ وي؟ د دې ۹۹٪ افغانانو په اړه ستاسو فتوى څه ده؟ منکر حديث ئې بولئ که منکر روايات بخاري؟ په ټول امت کې د هغو په اړه څه وايئ چې په دغو مواردو کې د افغانانو په څېر عمل کوي؟ آيا دا د امت ۹۸٪ په دې دليل تکفيروئ او منکر حديث ئې بولئ چې د بخاري اړوند روايات د منلو وړ نه ګڼي؟!!

- آيا پوهېږئ چې په افغانستان کې د اهل حديثو د راټوکېدو لړۍ کله پيل شوه او د چا له لوري او په کومه موخه؟!! زه د داسې چا په توګه چې د حوادثو په متن کې وم او له ډېرو پښښو او جريانانو خبرېدم او د يوه مسلمان په توګه تاسو ته وايم چې د دې تر شا د هغو لاس وو چې په افغانستان کې د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو وېرېدل، غوښتل ئې افغانان د دين

او مذهب په نامه په خپلو کې وجنګوي. دا لږ فقط هغه مهال پیل شوه چې مجاهدین د روسانو په خلاف په جهاد بوخت ول او بري ته نږدې شوي وو. د اسلام کورني او بهرني دښمنان له دې ووېرېدل چې که په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړ شي نو په نورو اسلامي هېوادو کې به هم دا تجربه تکرارېږي. د مخنیوي مناسبه او ارزانه چاره ئې دا وګڼله چې په افغانانو کې مذهبي اختلافات رامنځته کړي.

سپارښتنې مې دا دي:

- امام بخاري رحمه الله یو له لسګونو محدثینو او صحیح البخاري یو له سلګونو کتابونو وګڼئ، مه څوک له امام بخاري سره په کومې مسئلې کې د اختلاف له کبله تکفیروئ او مه څوک د صحیح البخاري له ځینو روایاتو سره د عدم توافق له کبله د حدیث منکر ګڼئ. مورِ احناف په ډېرو مسائلو کې له امام بخاري سره موافق نه یو او د نورو حقه مذاهبو اتباع هم زمورِ په څېر له امام بخاري سره خپل اختلافات لري. لکه څنګه چې امام بخاري له خپلو استادانو سره اختلافات درلودل، شاګردانو ئې له ده سره درلودل، ډېر روایات ده صحیح ګڼلي او شاګردانو ئې ضعیف او په خپلو کتابونو کې ئې د هغوی له روایلو ډډه کړې. آیا دا مخکیني او وروستني ټول منکر حدیث ګڼئ؟!!! په افغانانو کې اختلافات مه راولاړوئ، د مذهبي اختلافاتو فتنې ته لمن مه وهئ، له دوی مه غواړئ چې خپل مذهب بدل کړي، مسلمانان مه تکفیروئ بلکې کافر مسلمان کړئ، د فساد، الحاد، کفر، ظالمانو او اشغالګرانو مقابله وکړئ، داسې مه کوئ لکه چې ستاسو ملګرو په مصر کې وکړل، د مسلمان مرسي په خلاف له مفسد او ظالم جنرال سیسي سره ملګري شول!! پر اساسي مسائلو ترکیز وکړئ، ګمان مه کوئ چې د فقهاءو او مذاهبو د مخالفت او پر احادیثو د اکتفاء له لارې کولی شو امت متحد کړو!! فقهاءو د دې لپاره د فقه تدوین ته ملا وتړله چې د متعارضو روایاتو له کبله په امت کې شدید اختلاف رامنځته شوی وو. د یوې یوې مسئلې په اړه به له لسګونو متعارضو روایاتو سره مخامخ

کېدل، په لکونو جعلي روايات جوړ او خواره شول. د فقهاءو د مبارکو هڅو په نتيجه کې هغه فتنه وځپل شوه.

- تعصب مه کوئ، د بخاري هغه روايات ومنئ او دفاع ترې وکړئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري، په قرآن کې شاهد ورته وموميئ، په مقابل کې ئې داسې روايات نه وي چې اصح او ارجح وي او مخکينيو محدثينو او امامانو غوره ګڼلي وي. معقوله دفاع وکړئ، دلائل وړاندي کړئ، ښکنځلي مه کوئ، ځکه مسلمان پوچ خولی او لعان نه وي، تکفيرول مه کوئ، ښايي نه پوهېږئ او د بخاري په دې روايت هم عمل نه کوئ چې وايي: د لعن او تکفير الفاظ تر آسمانونو پورې دروميږي، که ئې مصداق ونه موند بېرته د ويونکي پر سر راپرېوځي!! دروغ مه وايئ، افتراء مه کوئ، له مبالغې ډډه وکړئ، په داسې حال کې چې د امت يو وړوکی ټولګی د بخاري کتاب تر نورو غوره ګڼي او د امت غوڅ اکثريت د نورو محدثينو او ائمه وو روايات او کتابونه غوره بولي؛ دا له مبالغې ډکه ادعاء مه کوئ چې ټول امت پر دې اجماع کړې چې بخاري تر قرآن وروسته تر ټولو کتابونو اصح او غوره دئ!! آيا د اجماع په معنی پوهېږئ؟ اجماع يعني د ټول امت بشپړ اتفاق!! مور امام بخاري ته درناوی لرو، صحيح البخاري ته د يوه دروند او معتبر کتاب په سترګه ګورو؛ خو په خپل حد کې. له پيغمبر عليه السلام رالاندي هيڅوک معصوم نه ګڼو، مور له خپل امام؛ ابو حنيفه سره نه يوازي اختلاف کول جائز ګڼو بلکې په ډېرو مسائلو کې د ده د شاګردانو رأی ته ترجيح ورکوو، په ځانګړې توګه هغه مهال چې استاد يوه لوري ته او شاګردان ئې بل لوري ته وي. مسلمان حقپال وي نه شخصيتپال، د حق پېژندو لپاره رون څراغ او ځلانده معيار او ملاك (قرآن) په واك کې لرو، راشئ د قرآن په دې لارښوونې عمل وکړو چې فرمايي: وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللهِ: او په هر هغه څه کې چې اختلاف وکړئ نو حکم ئې الله تعالی ته راجع کېږي. حتماً به پوهېږئ چې د (هر څه) په ضمن کې روايات هم راځي، يعني که په روياتو کې هم له اختلاف سره مخامخ شوئ نو

پربکړه ئې د الله تعالی له لارښود قرآن وغواړئ؛ ما د حکمة الباري په لیکلو کې فقط همدا کار کړی.

معراج او حقیقت ئې

د معراج د څرنګوالي په اړه هم په امت کې د شدید اختلاف شاهد یو، دا اختلاف هم له متعارضو روایاتو راولاړ شوی، ځینې روایات داسې دي چې ښیي د معراج سفر جسماني وو او په ویښه تر سره شوی؛ او ځینې ئې داسې چې ښیي دا یوه رؤیا او روحاني سفر وو.

د معراج لغوي معنی د عروج او لوړتګ وخت، وسیله او مکان دئ؛ په اسلامي فرهنګ کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه روحاني سفر ته ویل شوي چې له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی (بیت المُقَدَّس) او سدرة المنتهی پورې وو او د الإسراء او النجم په سورتونو کې ورته اجمالي اشاره شوې او هم په ګڼ شمېر روایتونو کې چې شمېر ئې شا او خوا ۲۵ ته رسېږي.

قرآن د معراج په اړه څو مختصر آیتونه لري؛ له همدې آیتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج یوه رؤیا وه؛ د قرآن له هیڅ آیت؛ نه صراحتاً معلومېږي چې دا سفر د ویښې سفر او جسماني وو او نه اشارتاً. که دا سفر جسماني او د ویښې وی نو په قرآن کې به په داسې کامل وضاحت او تفصیل سره د مخاطب مخې ته ایښودل شوی وو چې د مناقشې او شك لپاره به هیڅ مجال په کې نه وو؛ همغسې لکه چې الله تعالی موسی علیه السلام؛ دوه ځلي د طور په اړخ کې خپل حضور ته ومنلو: یو ځل هغه مهال چې له مدین د مصر په لور روان وو؛ د طور په وادي کې او د شپې له لورې؛ لار ترې ورکه شوې وه، کورنۍ (میرمن او بچیان) ئې ورسره وو، یخني وه، لري ئې رڼا تر سترګو شوه؛ په دې طمع چې هلته به شپانه راټول

شوي وي او اور ئې بل کړی دئ؛ کېدی شي له هغوی کومه سکروټه یا معلومات تر لاسه کړم چې لار راوښیي، په همدې طمع هغه لور ته خوځېدلی، هلته ئې د طور ښي اړخ ته له مبارکي ساحې او یوې شنې وني پرې غږ شوی چې اې موسی! زه رب العالمین یم، کېږه (پښې) دي وباسه؛ ته په سپېځلي ځای کي یې. هملته په پیغمبرۍ مبعوث شو؛ دا ئې یو معنوي معراج وو. له ګڼ شمېر معجزو سره د فرعون لوري ته ولېږل شو؛ او دوهم ځل هغه مهال چې ده ته تورات سپارل کېدو؛ دېرش ورځي د طور په میقات کي تم شو او لس نوري پرې اضافه شوې؛ همدا مهال هغه ته تورات د ډبرو په لوحو کي لیکل شوی ورکړ شو؛ دا په حقیقت کي د موسی علیه السلام دوهم معراج وو؛ قرآن په پوره تفصیل او وضاحت سره دا هر څه بیان کړي؛ د معراج معنی لوړ تګ دئ؛ فرشتې هم ځانته معراج لري؛ د ځینو ئې معراج هر پنځوس زره کاله وي؛ د مؤمن معراج د ده لمونځ دئ.

د معراج په اړه د اختلاف ستونزه له متعارضو روایاتو راولاړه شوې؛ که متعارض روایات نه وی او د قرآن وینا وروستۍ وینا ګڼل شوې وی او هغه روایات حذف شوي وی چې د قرآن له وینا سره تعارض لري؛ نو امت به له دې ستونزې سره نه مخامخ کېدو. تفصیل به ئې د درس په دوران کي وګورئ.

غوره دا ده چې د بحث په پیل کي د معراج اړوند آیتونه په دقت سره له نظر تېر کړو؛ قرآن فرمایي:

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١

الإسراء:۱

پاکي ده هغه ذات ته چې یوه شپه ئې خپل بنده له مسجد الحرام تر هغه مسجد الاقصی پوري بوت چې مورِ ئې چاپېر ور برکتي کړې؛ د دې لپاره چې ځینې خپل آیتونه وروښیو. یقیناً چې هغه ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

په دغه مبارك آيت کې د معراج اړوند دا لارښوونې زموږ مخې ته ايښودل شوې:

- دا سفر په شپه کې ترسره شوی.
- له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پورې بېول شوی.
- د سفر موخه دا وه چې الله تعالی خپل آيتونه وروښيي.
- په دې اړه چې خلکو څه ويلي الله تعالی اورېدلي.
- په دې سفر کې چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم څه تېر شوي الله تعالی لیدلي.

د النجم په سوره کې په دې اړه مزید وضاحت کوي او فرمايي:

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ﴿١٨﴾ النجم: ۱۲- ۱۸

نو آيا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئې ويني؟!! په داسي حال کې چې هغه ئې يو ځل بل هم لیدلی وو، د سدرة المنتهی (وروستۍ بېړي) خوا ته؛ چې هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت هستوګنځی) دئ، هغه مهال چې سدرة المنتهی ځانګړي شي پوښلې وه، نه سترګي کاږه لیدل کړي او نه تېروتې، یقیناً د خپل رب ځینې ستر ستر آيتونه ئې ولیدل.

دا آيتونه ښيي چې:

- قریشو د دغې رؤیا له امله له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره سخته شخړه او مجادله پیل کړې. هغه څه ئې نه منل چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې رؤیا کې لیدلي وو.

- رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کې جبرئيل عليه السلام په خپل اصلي بڼه کې ليدلی او دا د ده دوهم ځل ليدل وو.

- دا ليدنه په سدرة المنتهى کې شوې، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسي وګڼئ لکه چې د يوه جګ غره په ډډه کې د ونو ځنګل وي، دا وني تر هغه ځای راټوکېدلې وي چې تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسيجن د کموالي له امله نه بوټي راشنه کېږي او نه وني، د دې ځنګله د وروستۍ وني په يادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چې تر دې آخوا نوري وني نشته، سدرة المنتهى همداسي ده.

- د قرآن د وينا له مخې جنت المأوى هم دلته دئ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوى. رسول الله صلى الله عليه و سلم تر دغه ځای تللی او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلی.

- سدرة المنتهى داسي څه پوښلې وه چې د انسان په قاموس کې د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.

- په دې رؤيا کې ئې د الله تعالى نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

د قرآن صريح آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل عليه السلام په خپلې اصلي څېرې کې ليدلی، يو ځل داسي چې د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنږدې شوی او د الله تعالى وحي ئې وررسولې او بل ځل په سدرة المنتهى کې د معراج په شپه.

د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې له جنت المأوى مراد همغه جنتونه دي چې په آخرت کې به له محاسبي وروسته د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چې اوس او تر آخرت مخکې د شهداءو ارواح په کې اوسي، په صحابه وو کې هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله؛ قتاده رحمه الله په دوهمي

رأيي دئ او ابن عباس رضي الله عنهما هم دغه رأيه لري او دا پرې اضافه کوي چې د آخرت جنت به په زمکې کې وي نه په آسمان کې؛ د قرآن وينا هم دا ده چې دا جنت به هم په زمکه کې وي، دا زمکه به ختمېږي او بله لويه او سټره زمکه به رامنځته کېږي، ټول انسانان چې د پيدايښت له لومړۍ ورځې تر قيامت پورې د زمکې پر سر پيدا شوي دي؛ د دې نوې زمکې په يوه هوار ميدان کې به؛ د الله تعالى په وړاندې حشر کېږي. جنت او دوزخ به دوی ته نږدې کړی شي، يعنې جنت ئې هم دلته دئ او دوزخ ئې هم دلته. حسن بصري رحمه الله وايي چې جنت المأوى همغه جنت دئ چې مؤمنان به په آخرت کې ورننوځي.

د الإسراء سورې په ٦٠ آيت کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه خوب يادونه شوې چې مفسرين همدا خوب د معراج خوب ګڼي؛ آيت دا دئ:

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠ الإسراء:٦٠

او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او دغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې؛ او په قرآن کې (يادې شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې؛ نو (دغو خبرو) يوازې د دوی ستر طغيان لازيات کړ.

په دې مبارك آيت کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خوب د (الرؤيا) په معرفه صيغه ياد شوی؛ او دا ښيي چې د دې رؤيا يادونه تر دې آيت وړاندې شوې ده؛ که لږ دقت وکړو او مخکيني آيتونه له نظره تېر کړو نو راته جوتېږي چې په دې سره د همدې سورې لومړي آيت ته اشاره شوې؛ چې وايي:

سُبْحَانَ الَّذِی أَسْرَی بِعَبْدِهِ لَيْلا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَی الْمَسْجِدِ الأَقْصَی الَّذِی بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴿١﴾ الإسراء ١

پاکي ده هغه ذات ته چي يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام (محترم جومات) تر هغه مسجد الاقصی (لري جومات) پوري بوت چي مورِ ئې شاو خوا وربرکتي کړې؛ چي ځينې خپل آيتونه وروښيو، يقيناً چي هغه ښه ليدونکی اوربدونکی دئ.

الله تعالی خپل پيغمبر ته دا آيتونه او الهي نښي په همدې رؤيا کې ورښودلي. يعني دا إسراء او د آيتونو ښودنه همدا رؤيا وه.

د همدې رؤيا او په هغې کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ښودل شوي آيتونه د خلکو لپاره يو آزمېښت وو؛ همغسي لکه د قرآن دا وينا چي الله تعالی پر خلکو احاطه کړې؛ داسي څه نشي کولی چي الله تعالی ئې د کولو توفيق او اجازه ورنه کړي او په قرآن کې د هغې لعنت شوې وني يادونه (چي د دوزخ په تل کې راټوکېږي او د دوزخيانو خوراك به وي)؛ او په همدې سره کافران وېروي؛ دا خبري د دې باعث شوې چي د دښمنانو طغيان لا زيات شي.

ځينو مفسرينو د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا رؤيا د معراج اړوند رؤيا ګڼي؛ د نورو دلائلو تر څنګ وايي: ۱- د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا رؤيا په همدې سورې کې راغلې چي د إسراء او معراج يادونه په کې شوې؛ ۲- له معراج پرته د رسول الله صلی الله عليه و سلم بله داسي رؤيا نه مومو چي د دښمنانو لپاره د فتنې او آزموينې باعث وي او د دښمن طغيان ئې زيات کړی وي. يعني:

- دا هر څه فقط يوه رؤيا وه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خوب کې ښودل شوې.

- خلکو ته دا رؤیا یوه آزموینه وه، ځینو ته ئې منل ګران وو، ځینو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځینو د تبلیغاتو لپاره وکاروله او ویل به ئې دا دئ دا پیغمبر اوس ادعاء کوي چې په یوه شپه کې تر مسجد الاقصی پورې تللی، د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې یو یو پیغمبر لیدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو لیدلي او... دا رؤیا د دوی لپاره داسي فتنه وه لکه په قرآن کې چې د دوزخیانو په اړه یادونه وشوه چې خوراك به ئې د زقوم هغه تریخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، قریشو دا تبلیغات پیل کړل چې آیا په اور او هغه هم د دوزخ ستر اور کې د بوټي او وڼي راشنه کېدا ممکنه ده؟! دا که پرون د قریشو تبلیغات وو؛ نن د سروش په څېر سیکولران هم د هغوی همدا خبره تکراروي؛ او وایي: په اور کې د بوټي شنه کېدا د عقل او واقع خلاف خبره ده؛ مور ئې ځواب ورکړی؛ او ورته ویلي مو دي: هو د دوزخ اور به همداسي وي؛ یو څه به سوزوي او بل به روغ رمټ پرېږدي؛ همداسي لکه نن چې مایکروویو داش کې اوبه په پلاستیکي لوښي کې واښي خو لوښی نه سوزي؛ غوښه په رابري لوښي کې پخوي. یا د قرآن هغه وینا چې الله تعالی کافران احاطه کړي، داسي څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفیق ورنه کړي؛ قریشو له دې هم تبلیغاتي خبره جوړه کړه او ویل ئې: که داسي وي نو د محمد (علیه السلام) خدای ولي د هغو مخه نه نیسي چې پیغمبر او د ده یاران ځوروي او تعذیبوي؟!! قرآن ئې مناسب ځواب ورکړی.

لکه چې قریشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډي وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې؛ ستا د دغي رؤیا په اړه هم همدا کار کوي!!

د إسراء او معراج اړوند آیتونو کې قرآن دا هم ویلي چې (مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ) النجم: ۱۱: زړه چې څه لیدلي دروغ ئې نه دي ویلي؛ یعني په دې ملکوتي سفر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم چې څه لیدلي د خپل زړه په سترګو سره ئې لیدلي؛ او تاسو پوهېږي چې انسان په ویښه په خپلو اصلي دوو

سترګو لیدل کوي او په رؤیا کې ئې د خپل زړه په سترګو ګوري؛ نه د خپل مخ په سترګو. په خوب کې سترګې پټې وي؛ هر څه د زړه په سترګو لیدل کېږي؛ له دې معلومېږي چې د معراج سفر روحاني سفر وو نه جسمي سفر.

له دې علاوه قرآن په واضح توګه او د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې موږ ته لارښوونه کوي چې کله الله تعالی وغواړي کوم بنده خپل حضور ته ومني نو په زمکي کې ئې خپل حضور ته مني؛ همغسي لکه موسی علیه السلام ئې د طور په اړخ کې خپلې خوا ته وغوښت؛ په یوې خفې تجلي سره ئې د طور اړخ ته تلو ته وهڅولو او بیا ئې د شنې وني له منځ تکلم ورسره وکړ؛ داسي چې موسی علیه السلام ژغ اورېدلی. باید متوجه وو چې الله تعالی د ټولو انسانانو له منځ؛ یوازې له موسی علیه السلام سره د حجاب له شا مخامخ تکلم کړی. په قرآن کې د دې حضور او تکلم یادونه د دې لپاره شوې چې راوښیي: ۱- کله چې الله تعالی وغواړي څوک خپل حضور ته ومني نو لوړ ئې آسمانونو او عرش ته نه بیایي؛ همدلته په زمکي کې خپل پیغام ورړسوي. ۲- انسان په خپلو کمزورو سترګو او واړه ظرفیت سره د الله تعالی د لیدلو توان او طاقت نه لري.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٤٣ الاعرف: ٤٣

او کله چې موسی زمونږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبرې وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چې درته وګورم؛ وئې فرمایل: هیڅکله مي لیدی نه شې؛ خو دې غره ته وګوره؛ که په خپل ځای ثابت پاته شو نو ته به مي هم حتماً وګورې؛ خو کله چې د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه؛

ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت. کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکې تا ته ده؛ تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبرې چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی).

دلته څو ډېرې اساسي او مهمې خبرې زمونږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسی علیه السلام سره تکلم او خبرې کړې؛ مونږ د دې خبرو په کیفیت او څرنګوالي نه پوهېږو؛ دومره ویلی شو چې موسی علیه السلام دا خبرې اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبرې په داسي حالت کې شوې چې موسی علیه السلام خپل رب نه لیدو؛ د لیدو تمنی ئې کړې او الله تعالی ورته فرمایلي چې زما د لیدو توان او استعداد نه لرې؛ ستا په څېر یو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندې مقاومت نشي کولی؛ که دا غر زما د تجلي په وړاندې تم شو نو ته مي هم لیدی شې.
- کله چې الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکې تا لره ده؛ تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم؛ یعنی له ما غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چې انسان دي په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مي توبه ده، زه لومړنی کس یم چې دې نتیجې ته رسېدلی چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.
- تر دې وړاندې ئې همدلته اور تر سترګو شوی وو؛ ګمان ئې دا وو چې دلته به شپنو اور بل کړی وي؛ د کومي سکروټي تر لاسه کولو لپاره دې ځای ته راغلی؛ ناڅاپي ئې له یوې وني د الله تعالی خطاب اورېدلی؛ پرته له دې چې الله تعالی یا د هغه نور او تجلي وګوري.

- له دې آيت په څرګنده توګه معلومېږي چې د الله تعالى حضور ته رسېدل دغسې وي؛ په زمکې کې د الله تعالى حضور احساسوي؛ آسمانونو ته لوړ نه ښول کېږي؛ انسان زمکنى مخلوق دئ نه آسماني؛ هر څه به ئې د همدغې زمکې پر سر وي؛ پيدايښت ئې، ژوند او مرګ ئې، بيا ژوندون ئې، جنت او دوزخ ئې او معراج ئې. دا د معراج لپاره واضح او عملي بېلګه او مثال دئ؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم معراج همداسي وو؛ د ام هاني رضي الله عنها له کور او په رؤيا کې د معراج په سفر تللى.

د قرآن دا وينا او هغه هم د موسى عليه السلام د قصې په ترڅ کې د يهودانو او د بايبل د هغو پلويانو په خوله سخت سوك دئ چې د بايبل دا غلطه خبره مني چې د دوى ګڼ شمېر انبياوو الله تعالى په خپلو سترګو ليدلى او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالى د ليدو خبره کوي. که د موسى عليه السلام په څېر اولوالعزمه پيغمبر نشي کولى الله تعالى وګوري بل څوك به ئې څنګه وليدى شي، بخاري روايت کوي چې عائشي رضى الله عنها د محمد عليه السلام په اړه وويل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صلى الله عليه و سلم رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ (لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ) (وَ مَا كانَ لِبَشرٍ أَن يُكلِّمَهُ اللَّهُ إلا وحياً أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ .

که چا درته وويل چې محمد صلى الله عليه و سلم خپل رب ليدلى دئ نو پوه شه چې دا شخص دروغ وايي؛ ځکه الله تعالى فرمايي: (سترګى ئې نشي ليدلى)، (او هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا

د حجاب له شا او يا کومه فرشته ولېږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چې غوښتي ئې وي) او که چا درته وويل چې هغه (محمد عليه السلام) علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالى فرمايي: له الله پرته هيڅوک علم غيب نه لري.

موسى عليه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چې الله تعالى ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو ليدلي چې نه غر او نه انسان د الله تعالى د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي. قرآن فرمايي:

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤

وئې فرمايل: اې موسى! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره تا ته پر خلکو غوره والى درکړ، نو څه چې مي درکړل وائې خله او له شکر کوونکو اوسه.

دلته څو خبري په پام کې ولرئ:

الله تعالى خپل پيغمبر موسى عليه السلام هغو سترو سترو پېرزوينو ته متوجه کوي چې د ده په برخه شوې وې: رسالت ئې ورپه برخه کړی وو او د ټولو انسانانو له منځه ئې يوازي له ده سره په استثنائي او ځانګړې توګه تکلم کړی وو او ده ته ئې په لوحو کې ليکلي هدايات ورکړي وو.

دې دلائلو ته په پام سره بايد د معراج په اړه ستا دريځ دا وي: که چا درته وويل چې محمد عليه السلام په ويښه او جسماً د معراج په سفر تللى؛ ورته ووايه: الله تعالى په خپل قرآن کې او د موسى عليه السلام په قصه کې مورِ ته معراج تعريف کړی؛ د الله تعالى د تعريف په وړاندي بل تعبير نه منم.

په مخکيني درس کې مو د معراج په اړه د قرآن هغه آيتونه وڅېړل چې د إسراء سورې په لومړي او ٦٠ آيتونو کې او د النجم سورې په لومړيو اتلسو آيتونو کې راغلي. د إسراء سوره د بعثت يولسم دولسم کال کې او د معراج له سفر وروسته او د النجم سوره يا ټوله او يا همدا ١٨ آيتونه ئې د الإسراء له

سورې وروسته نازل شوي؛ دا ځکه چې په دې آيتونو کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم جبرئيل دوه ځلي ليدلی؛ دوهم ځل ئې په سدرة المنتهى کې وو. او سدرة المنتهى د معراج د سفر وروستی پړاو وو؛ اتلسم آيت وايي چې د خپل رب ستر ستر آيتونه ئې وليدل؛ او دا همغه څه دي چې د إسراء سورې په لومړي آيت کې په دې صيغه راغلي: لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ : چې خپل آيتونه ورښيو. د النجم سورې آيتونه دا دي:

وَٱلنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ۝٥ ذُو مِرَّةٍ فَٱسْتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝٩ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ۝١٠ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ۝١١ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ۝١٢ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ۝١٣ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ۝١٤ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ۝١٥ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ۝١٦ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ۝١٧ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ۝١٨

۱- قسم په ستوري چې کله ناڅاپه وغورځي، ۲- ستاسو ملګری نه تېروتی او نه بې لاري شوی، ۳- او نه له خپلې هوی او هوس خبرې کوي، ٤- دا نه دئ مګر داسې وحي چې وحي کېږي، ٥- د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، ٦- د مکنت او متانت خاوند، چې برابر شو؛ ۷- حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، ۸- بيا نږدې شو نو کوز راغی، ۹- نو د دوو لیندیو په واټن وو یا تر دې هم ورنږدې، ۱۰- نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ، ۱۱- نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې ليدلي ئې وو، ۱۲- نو آيا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئې ويني؟!! ۱۳- په داسې حال کې چې هغه ئې يو ځل بل هم ليدلی وو، ١٤- د سدرة المنتهى (وروستۍ ببرې) خوا ته،

۱۵- چې هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت استوګنځی) دئ، ۱۶- هغه مهال چې سدرة المنتهی ځانګړي شي پوښلې وه، ۱۷- نه سترګي کاږه لیدل کړي او نه تېروتې، ۱۸- یقیناً د خپل رب ځینې ستر ستر آیتونه ئې لیدلي.

له دې آیتونو معلومېږي چې اصلاً د معراج سفر پیغمبر علیه السلام ته د سترو الهي آیتونو دښودلو لپاره وو، معجزه نه وه، نورو ته ئې نه دي ښودلي، قریشو ته ئې نه دي ښودلي، خپله پیغمبر علیه السلام ته ئې ښودلي. د هغو آیتونو مصداقونه ئې عملاً ورښودلي چې د غیب په عالم کي دي او پیغمبر علیه السلام یوازي د وحي له لارې ورباندې پوه شوی دئ نه مشاهدتاً. دې ته اړ وو، ضرورت ئې درلودو چې دا په خپلو سترګو وګوري چې ایمان او یقین ئې بشپړ او مضبوط شي، د یوه داعي لپاره همداسي د خپل دعوت په ارتباط کامل باور اړین او ضروري دئ، د همدې لپاره الله تعالی وغوښتل چې هغه ته دا ستر ستر آیتونه د معراج د سفر په دوران کي وروښيي چې په خپلو سترګو ئې وګوري؛ خو نه د مخ په سترګو بلکي د زړه په سترګو او نه په ویښه بلکي په رؤیا کي.

په قرآن کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه خوبونه راغلي: لومړی ئې د إسراء سورې په ٦٠ آیت کي راغلی او دوهم ئې د الفتح سورې په ۲۷ آیت کي داسي راغلی:

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحًا قَرِيبًا ٢٧

یقیناً چې الله د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ؛ که خدای وغوښتل حتماً به مسجدالحرام ته په داسي حال کي خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان یا خریئ یا لنډوئ، وېره به نه لرئ، نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه یاست، تر دې وړاندي ئې بله نږدې

بریا او فتح مقدر کړي.

د معراج خوب د ټولو قریشو (مؤمن او غیر مؤمن) لپاره فتنه او آزموینه وه؛ او د حدیبیې خوب د مؤمنانو لپاره یوه آزموینه؛ هغوی د همدې رؤیا له مخې یوه خطرناك سفر ته چمتو شول؛ لومړی ځل دئ چې د دښمن تر واك لاندې مکې ته داخلیږي؛ هغه هم د دښمن له اجازې او موافقې پرته؛ خو کله چې د دوی مخنیوی کیږي او خبره د حدیبیې معاهدې ته رسیږي؛ نو د همدې معاهدې په اړه د دوی ستره اندیښنه دا وه چې د معاهدې یو بند د هغې رؤیا او خوب خلاف دئ چې د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، هغه خوب لیدلی چې عمره به کوي او د دغې رؤیا له مخې د مسلمانانو دا لوی کاران مکې ته راغلی؛ خو دا دئ له عمرې پرته بېرته ستنیږي!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی د دغې اندیښنې او تشویش په اړه هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال ترسره نه شوه؛ إن شاء الله په راتلونکي کال کې به ترسره شي، ما ته په خوب کې دا نه وو ویل شوي چې تاسو به سږ کال عمره کوئ. په همدې ارتباط دلته ویل شوي: الله تعالی د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ، مطمئن اوسئ چې که خدای غوښتل حتماً به مسجد الحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې له عمرې وروسته به خپل وېښتان یا خریئ یا لنډوئ، هیڅ وېره به هم نه لرئ، دا په حقیقت کې ستره وړاندوینه وه چې ترسره شوه، دا په داسې حال کې چې مسلمانان د دې ټرون له کبله سخت ناراض او خفه ول او ډېرو د دې هیلي ترسره کېدا محال او لږ تر لږه ګرانه ګڼله، خو د قرآن له وړاندویني سره سم په راتلونکي کال کې مکې ته ننوتل او لنډه موده وروسته مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه.

پوښتنه دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه بل خوب چې د إسراء سورې په ٦٠ آیت کې راغلی؛ کومه رؤیا ده؟ قرآن وایي: دا رؤیا داسې وه چې د دښمنانو ستر طغیان ئې لا زیات کړ: "فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا"؛ له دې الفاظو معلومېږي چې په دې رؤیا سره نه یوازې کومه معجزه

قريشو ته نه ده ښودل شوې او د دوی پوښتنو او اعتراضونو ته کوم قاطع ځواب نه دئ ویل شوی او د کومي معجزې په ښودلو سره هغوی ساکت او له مخالفت لاس اخیستلو ته نه دي اړ کړی شوي؛ بلکي مخالفت او طغیان ئې لا زیات شوی.

که د إسراء سورې لومړی آیت، ٦٠ آیت او ۹۳ آیت یو د بل خوا ته کښېږدو نو د معراج په اړه ډېر څه مور ته جوت کېږي.

لومړی آیت وایي:

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١

الإسراء: ۱

پاکي هغه ذات ته ده چي یوه شپه ئې خپل بنده (رسول الله صلى الله عليه و سلم) له مسجد الحرام تر مسجد الاقصى پورې ښولی؛ تر هغه مسجد الاقصى (لرې جومات) پورې چي مور ئې شاو خوا ور برکتي کړې، د دې لپاره چي ځینې خپل آیتونه وروښیو، یقیناً چي هغه ښه لیدونکی اوربدونکی دئ.

د شپې له لورې ښول او په همدې شپې کي هغه ته د آیتونو ښودل؛ ښیي چي دا یو خوب وو؛ دا ځکه چي انسان په تیاره کي او په ویښه هیڅ نشي لیدلی؛ دا د انسان نه بدلېدونکی فطرت او جِبِلَت دئ؛ د انسان سترګي له نور پرته څه نشي لیدلی. او د الله تعالى سنن هم نه بدلېدونکي دي، د انسان په ارتباط هم چي الله تعالى کوم سنن وضع کړي دي دا نه بدلېدونکي دي، له دغو سنو یو هم دا دئ چي د لیدلو لپاره رڼا ته ضرورت لري. اما په خوب کي په پټو سترګو لیدل کولی شي؛ خو نه د مخ په سترګو؛ بلکي د زړه په سترګو؛ او قرآن وایي: پیغمبر علیه السلام په دې سفر کي د زړه په سترګو په رښتیني توګه لیدل کړي: مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ: زړه چي څه لیدلي دروغ ئې نه دي ویلي.

۶۰ آیت همدا خبره کوي او فرمایي:

وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ الإسراء: ٦٠

او دا رؤیا چي تا ته مو وښوده؛ دغه رؤیا د خلکو لپاره یوازي یوه فتنه او آزموینه وه. او په قرآن کي یاده شوې هغه لعنت شوې ونه؛ چې پرې ویروو ئې؛ نو دغو خبرو (رؤیا او ملعونه شجرې) بل څه نه بلکي د دوی ستر طغیان لا زیات کړ.

لکه چي ګورئ دلته رؤیا په معرفه صیغه راغلې (دا رؤیا)؛ او دا ښیي چې تر دې وړاندي د دې رؤیا یادونه شوې؛ که په مخکینیو آیتونو کي غور وکړو نو راته جوتېږي چې په دې سره لومړي آیت ته اشاره شوې. یعني هغه له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پوري د رسول الله صلی الله علیه و سلم ښول؛ په دې موخه چې خپل آیتونه وروښیي؛ همدا رؤیا وه.

او په ۹۳ آیت کي راغلي:

أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فِي السَّمَاءِ وَلَنْ نُؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَقْرَؤُهُ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنْتُ إِلا بَشَرًا رَسُولا﴿٩٣﴾ الإسراء: ٩٣

- او یا د سرو سپینو زرو کور دي وي او یا آسمان ته وخیژې او ختل دي هم تر هغه نه منو چي کوم داسي لیکلی کتاب راته راوړې چي مور ئې لوستی شو. ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

دا آیت وایي: قریش له رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه نوري معجزې غوښتې: ۱- په معجزې سره ځان ته د سرو سپینو زرو کور جوړ کړه؛ ۲- آسمان ته د ختلو معجزه وښیه؛ یوازي ختل هم کافي نه ګڼي بلکي ترې غواړي چي له

ځان سره داسي ليکلی کتاب راوړي چي دوی ئې لوستی شي!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چي د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟! یعني زه یو بشر یم؛ څنګه له بشر دا غواړئ چي آسمان ته وخېژي؟ یعني ستاسو غوښتنه ناسمه او نامعقوله ده؛ د انسان د فطرت خلاف ده؛ زه انسان یم، انسانانو ته د رسول په توګه لېږل شوی یم، فرشته نه یم؛ فرشتې په آسمان کې اوسي، که په زمکي کې فرشتې وی نو الله تعالی به فرشته د رسول په توګه لېږلې وه؛ لکه چي قرآن فرمایي:

قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَسُولًا ﴿٩٥﴾ الإسراء ٩٥

ورته ووایه: که په زمکي کې فرشتې وی او په ډاډ او اطمئنان سره په زمکي کې ګرځېدی نو حتماً به مو له آسمان فرشته د رسول په توګه پرې رالېږلې وه؛ یعني چي زه زمکنی پیغمبر یم؛ نه د فرشتو په څېر آسماني مخلوق؛ آسمان ته د تګ دا توقع له ما نه؛ بلکي له ملائکو وکړئ.

د إسراء سورې دا درې آیتونه په بشپړ وضاحت سره ښیي چي د معراج سفر یوه رؤیا وه نه بل څه؛ د روایاتو په بحث کې به وګورئ چي اکثر روایات همدا وایي. که داسي نه وی نو قریشو به ولي آسمان ته د ختلو غوښتنه ترې کوله؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم به ولي دوی ته دا ځواب ورکولو چي زه انسان یم له ما داسي غوښتني مه کوئ؟! ورته ویلي به وو؛ آبله ورځ ختلی وم؛ هماغه کافي دئ؛ تاسو ته مي د سفر څو نښي هم وړاندي او ثابتي کړې!!

د مخکیني آیت متصل په ۹٤ آیت کې داسي راغلي:

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓاْ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ الإسراء : ٩٤

او خلك له دې پرته بل څه له ایمان راوړو منع نه کړل مګر دا چې وئې ویل: آیا الله یو بشر د رسول په توګه بعث کړی!!

یعني د نه ایمان وجه ئې دا وه چې پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر یو انسان لیدو؛ نه ئې خارق العاده جوړښت وو او نه ئې خارق العاده کارونه کول شو. یعني چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دوی ته د مخکینیو پیغمبرانو په څېر معجزې نه وې ښودلې؛ نو ځکه ئې د پیغمبر په توګه نه منلو؛

او د سورې په ٥٩ آیت کې فرمایي:

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ ... الإسراء: ٥٩

او موږ د آیتونو له لېږلو (معجزو له ښودلو) له دې پرته بل څه نه یو منع کړي؛ چې مخکینیو تکذیب کړل.

یعني د معراج سفر قریشو ته د معجزو ښودلو لپاره نه وو؛ بلکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د سترو سترو الهي آیتونو ښودلو لپاره وو. عجیبه ده چې ځینې د دغو حقائقو له درك او هغوی ته له اعتناء یا عاجز دي او یا د خپلو ذهني ستونزو له کبله ئې منل ورته ګران!!

ځینو مفسرینو هڅه کړې چې د إسراء د سورې د رؤیا اړوند آیت لپاره په تکلف سره داسي تعبیر او توجیه پیدا کړي چې خپله ذهني ستونزه پرې حل کړي؛ وایي: دلته له رؤیا په ویښه ښودل مراد دي نه په خوب کې!! او دا له شك پرته یوه ناکامه او ناسمه هڅه ده؛ رؤیا له خوب پرته په بله معنی تعبیرول سره اشتباه ده؛ قرآن اوه ځله د(رؤیا او رءیا) کلمه راوړې چې په ټولو کې ئې معنی د خوب رؤیا ده. عجیبه ده که څوك د یوه ناسم تصور او انګېرنې لپاره داسي ناسمه هڅه کوي؛ د رؤیا اصلي معنی پرېږدي او د ویښې رؤیا ئې ګڼي. د دوی ستونزه دا ده چې پوهېږي دا رؤیا د إسراء سورې له لومړي آیت سره ژور تړاو لري؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج

ته اشاره کوي؛ خو دوی د معراج په اړه دا رأی او هغه روایات منلي چي معراج په ویښه وو؛ اوس نو نه د خپلو انګېرنو له زندان وتلی شي او نه دې ته چمتو دي چي رؤیا په اصلي معنی ونیسي؛ ناچار به د رؤیا لپاره کومه بله توجیه او تعبیر وړاندي کوي؛ که څه هم دا توجیه او تعبیر ډېر کمزوری وي!

که دا رؤیا د معراج رؤیا ونه ګڼو؛ نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه رؤیا به ئې ګڼو؟ آیا داسي بله رؤیا شودلی شو چي له کبله ئې د دښمن تبلیغات او طغیان زیات شوی وي؟

متأسفانه ځیني داسي هم مومو چي وایي د إسراء سوره کي له یادي رؤیا؛ مراد د حدیبیې د سفر اړوند رؤیا ده!! دا په داسي حال کي چي د إسراء سوره په مکه کي او د بعثت د یولسم کال پای یا د دولسم کال پیل کي نازله شوې او د حدیبیې پېښه له دې نېردې اته کاله وروسته (په شپږم هجري کال) وه او اړوند خوب ئې د حدیبیې له پېښي لږ د مخه لیدل شوی؛ هغه خوب ته د الفتح په سورې کي اشاره شوې. په إسراء کي یاد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ؛ نه بل څه.

راشئ وګورو چي د معراج په اړه په روایاتو کي څه راغلي؟ د ټولو هغو روایاتو چي د معراج په اړه راغلي او د احادیثو کتابونو کي ئې مومو؛ تر نوي سلنه زیاتو کي ئې دا الفاظ مومو:

۱- بینا أنا نائمٌ فِي الحَطِيْمِ: په داسي حال کي چي زه په حطیم کي ویده وم؛ وهْو نائِمٌ فِي المسْجدِ الحرامِ: او دی په مسجد الحرام کي ویده وو؛ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ او دې ته ورته الفاظ.

۲- فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ: په داسي حال کي چي زړه ئې لیدل کول او د رسول الله صلی الله علیه و سلم سترګي ویدې وې؛ او زړه ئې ویده نه وو؛ او انبیاء همداسي وي چي سترګي ئې ویدې وي خو زړونه ئې نه وېدېږي.

۳- یا د روایت په پای کې داسي راغلي: واسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي المسجدِ الحرامِ: او راویښ شو په داسي حال کې چې په مسجد الحرام کې وو.

نوي سلنه روایات همداسي دي؛ او که هغه روایات هم پرې علاوه کړو چې یوازي د خوب د پېښې تعبیر تري کولی شو نه بل څه؛ لکه دا چې ویل شوي:

فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ.

زما د کور سقف پرانیستل شو په داسي حال کې چې زه په مکه کې وم، جبرئیل نازل شو نو زما سینه ئې پرانیستله، بیا ئې د زمزم په اوبو ومینځله، بیا ئې د سرو زرو لوښی (طشت) راوړ چې له حکمت او ایمان ډک وو؛ او زما په سینه کې ئې تش کړ، بیا ئې بنده کړه.

مګر کېدی شي دا له خوب پرته په بل څه تعبیر کړو؟ نو په دې صورت کې تر نوي سلنه زیات روایتونه داسي کېږي چې د معراج سفر یوه رؤیا ګڼي.

تاسو چې نن د معراج اړوند روایاتو په اړه دا خبره اورئ چې تر نوي سلنه زیاتو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خوب حالت کې د معراج سفر پیل کړی او پای ته رسېدلی؛ نو یقیناً چې حتماً به حیران شوي یئ؛ ما هم چې د تحقیق په دوران کې روایات داسي ومومندل نو حیران شوم چې له دې ټولو روایاتو سره سره؛ څوک څنګه جرأت او جسارت کوي چې د معراج سفر له رؤیا او روحاني سفر پرته بل ډول او داسي تعبیر کړي چې هم له دې ټولو روایاتو سره خلاف وي او هم د قرآن له څرګندو آیتونو سره؟!!!

د معراج د روایاتو راویان: ابوذر، انس چې ده هم له ابوذر او ابی بن کعب اورېدلي، ابْنَ عَبَّاسٍ، أَبُو حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ، صعصعه او ام هاني رضي الله عنهم دي. دا پېښه په مکه کي واقع شوې ده، روایت به ئې هم هغه چا کړی وي

چي له مکې مديني ته تللي دي.

دلته هغه روايات ستاسو مخي ته ږدم چي د معراج په اړه راغلي او له مخي ئې قضاوت کولی شئ چي د رواياتو څو سلنه وايي: د معراج سفر يوه رؤيا وه:

روايات دا دي:

عن أنس بن مالكٍ، أنَّ مالك بن صَعْصَعَة حَدَّثهمْ أنّ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- حَدَّثَهُمْ عَن ليلةِ الإسراء قال: "بينا أنا نائمٌ فى الحَطِيْمِ وَرُبما قال فى الحِجْرِ- إذْ أتانى آتٍ فَجَعَلَ يَقولُ: أحد الثلاثة" قالَ : "فأتانى فَشَقَّ - وَرُبما قال: فَقَدَّ- ما بين هذه إلى هذه".

له انس بن مالك روايت دئ چي مالك بن صعصعه دوی ته ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم دوی ته د إسراء د شپې په اړه وفرمايل: کله چي زه په حطيم کي ويده وم؛ يا ښايي وئې ويل: په الحجر کي؛ چي يو راتلونکی راته راغی او لګيا شو ويل ئې: يو له دغو دريو؛ وئې فرمايل: نو راته راغی او زما سينه ئې شق يا قد (څيري) کړه؛ له دې ځای تر دې ځای.

عن أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النبى - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، قَالَ: "بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِى فِى الْجَنَّةِ، فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَتَوَضَّأُ إِلَى جَنِبِ قَصْرٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ فَقَالَتْ: لِعُمَرَ، فَذَكَرْتُ غَيْرَتَهُ فَوَلَّيْتُ مُدْبِرًا"

له ابو هريره روايت دئ چي وئې ويل: موږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته ناست وو چي وئې فرمايل: په داسي حال کي چي زه ويده وم؛ ځان مي په جنت کي ولېدو؛ ناڅاپه د يوه قصر خوا ته له يوې مېرمني سره مخامخ شوم چي اودس ئې کولو؛ پوښتنه مي وکړه چي دا د چا قصر دئ؛ مېرمني راته وويل: د عمر؛ نو د ده غيرت راپه ياد شو او په شا شوم او مخ مي واړولو.

دا روايت يا د معراج د سفر يوه برخه زمونږ مخي ته ږدي او يا ښيي چي د معراج سفر همداسي يوه رؤيا وه.

٣٥٧٠ - عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يُحَدِّثُنَا عَنْ " لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الكَعْبَةِ: جَاءَهُ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ، قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ، وَهُوَ نَائِمٌ فِي مَسْجِدِ الحَرَامِ، فَقَالَ أَوَّلُهُمْ: أَيُّهُمْ هُوَ؟ فَقَالَ أَوْسَطُهُمْ: هُوَ خَيْرُهُمْ، وَقَالَ آخِرُهُمْ: خُذُوا خَيْرَهُمْ. فَكَانَتْ تِلْكَ، فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ، وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلَّاهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ " رواه البخارى

له شريك بن عبد الله بن ابي نَمِر روايت دئ چي وايي: له انس بن مالك مي واورېدل چي مونږ ته ئې ويل: هغه شپه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د كعبې له مسجد د شپې له لوري بېول شو؛ درې تنه ورته راغلل؛ تر هغه وړاندي چي ده ته وحى شوې وي؛ په داسي حال كې چي دى په مسجد الحرام كې ويده وو، نو لومړي تن ئې وويل: دى كوم يو دئ؟ منځني په ځواب كې وويل: دى ئې تر ټولو غوره دئ؛ وروستي ئې وويل: همدا غوره ئې درواخلئ؛ نو دا شپه همداسي وه؛ نو تر هغه ئې ونه ليدل چي بله شپه ورته راغلل؛ په داسي حال كې چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم سترګي ويدې وې او زړه ئې ويده نه وو؛ او انبياء همداسي وي چي سترګي ئې ويدې وي خو زړونه ئې نه وېدېږي؛ نو جبرئيل له ځان سره كړ او بيا ئې د آسمان په لوري لوړ كړ.

د دې روايت په اړه دا خبري بايد په پام كې ولرو:

- د روايت دا برخه (وهْو نائِمٌ فِي المسْجدِ الحرامِ: په داسي حال كې چي دى په مسجد الحرام كې ويده وو) په ځينو رواياتو كې نه ده راغلې؛ په داسي حال

کي چې هم ئې لومړي او دوهم راویان سره ورته دي او هم ئې نور متن؛ او د دې معنی دا ده چې دا برخه له وروستیو راویانو هېره شوې

- د (قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ: تر دې وړاندي چې ورته وحي وشي)؛ په اړه علماء او محققین جدي ملاحظه لري او د شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ نااشنا خبره ئې ګڼي. (((قبل أن يوحى إليه))) هذه الجملة مما أنكره العلماء على شريك، وخَطَّؤُوه فيها، منهم الخطابي، وابن حزم، والقاضي عِياض، والنووي.)؛ ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د معراج تر شپې نږدې دولس کاله وړاندي د وحی لړۍ پیل شوې وه او ګڼ شمېر سورتونه په دې موده کې نازل شوي وو!! په داسي حال کې چې امام بخاري د ده همدا روایت له همدې ناسمي وینا سره د صحیح روایاتو په لړ کې نیولی او په مکرره توګه ئې راوړی؛ دا او ورپسې روایتونه دواړه د ده دي!!

د شریك په اړه د علماءو او محدثینو رأیه دا ده: من صغار التابعين؛ (د تابعینو د وړو له ډلې دئ) رتبته عند ابن حجر: صدوق يخطىء كثيرا، تغير حفظه منذ ولي القضاء بالكوفة؛ (رښتینی دئ خو ډېر خطا کېږي، حفظ ئې له هغه وروسته کمزوری شو چې د کوفې قاضي شو)، قال النسائي: ليس بالقوى وقال غيره سيء الحفظ (نسائي وایي: قوي او مضبوط نه دئ او نورو ویلي: حفظ ئې کمزوری دئ؛ تَوَقَّفَ بَعْضُ الأَئِمَّةِ عَنِ الاحْتِجَاجِ بِمَفَارِيْدِه: ځینو ائمه وو د ده د هغو روایاتو په اړه توقف کړی چې په کې یوازي دئ.

د (سترګي ئې ویدې وې) معنی له دې پرته بل څه نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ویده وو؛ خوب د سترګو له ویدېدو پیل کېږي؛ نور غړي ورو ورو او یو په بل پسې ویده کېږي؛ لاسونه او پښې له حرکت ولوېږي؛ غوږونه په پیل کې نیمه ویښ وي، د غږ په وړاندي عکس العمل ښي او انسان راویښوي خو وروسته او په ژور خوب کې په بشپړه توګه ویده شي، زړه تل ویښ وي او په ټول ژوند کې یوه شېبه هم نه ویدېږي؛ د دماغ هغه برخي ویده شي او خپل کار متوقف کړي چې سترګي، غوږونه، لاسونه او پښې اداره

کوي؛ نوري برخي ئې تل ويښي او فعالي وي. د خوب دا حالت په ټولو انسانانو کي يو ډول دئ؛ توپير ئې يوازي د خوب عمق او ژوروالي کي وي.

وروستی روایت دوه برخي لري؛ لومړۍ برخه ئې دا ده:

٢٧٤٦ - عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يُحَدِّثُنَا عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ حَوْلَ الْكَعْبَةِ، إِذْ جَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَوَّلُهُمْ: أَيُّهُمْ هُوَ؟، قَالَ أَوْسَطُهُمْ: هُوَ خَيْرُهُمْ، فَقَالَ آخِرُهُمْ: خُذُوا خَيْرَهُمْ، فَكَانَتْ تِلْكَ فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ، وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَلَمْ يُكَلِّمُوهُ حَتَّى احْتَمَلُوهُ فَوَضَعُوهُ عِنْدَ بِئْرِ زَمْزَمَ، فَتَوَلَّاهُ مِنْهُمْ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَشَقَّ جِبْرِيلُ مَا بَيْنَ نَحْرِهِ إِلَى لَبَّتِهِ حَتَّى فَرَّجَ عَنْ صَدْرِهِ وَجَوْفِهِ فَغَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ حَتَّى أَنْقَى جَوْفَهُ، ثُمَّ أَتَى بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ فِيهِ نُورٌ مِنْ ذَهَبٍ مَحْشُوًّا إِيمَانًا وَحِكْمَةً، فَحَشَا بِهِ صَدْرَهُ وَجَوْفَهُ وَعَادَ يَدَهُ ثُمَّ أَطْبَقَهُ،:

دلته څو برخي غور ايجابوي:

- وايي: درې فرشتې ورته راغلې؛ تر هغه وړاندي چې ده ته وحي وشي؛ له دې داسي معلومېږي چې دا فرشتې تر بعثت وړاندي ورته راغلې دي!! په داسي حال کي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم معراج د بعثت د يولسم کال په پای يا د دولسم کال په پيل کي وو. په راويانو کي حتماً يوه اشتباه کړې.
- د فرشتو د دغه درې کسيز ټولې له ويناوو داسي معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم نه پېژني؛ لومړی ئې وايي: په دغو کسانو کي چې دلته پراته دي کوم يو ئې زموږ مطلوب شخص دئ؟ منځنی ئې وايي: هغه تر ټولو

غوره دئ. وروستی ئې وایي: تر ټولو غوره ئې درواخلئ. له دې معلومېږي چې راوي نه دئ توانېدلی مطلب په روښانه توګه بیان کړي.

- ورپسې داسي راغلي: دا فرشتې ئې بیا ونه لیدلې تر هغه چې بله شپه په داسي حال کې ورته راغلې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم زړه لیدل او سترګې ئې ویدې وې؛ خو زړه ئې ویده نه وو؛ او انبیاء همداسي وي؛ سترګې ئې ویدې وي خو زړه ئې نه ویدېږي. دا الفاظ ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ویده وو؛ د هر چا خوب همداسي وي؛ خوب د سترګو له وېدېدو پیل کېږي؛ نور غړي ورو ورو او له سترګو وروسته یو په بل پسې ویده شي؛ زړه په ټول ژوندون کې یوه شېبه هم نه ویدېږي؛ د مغز هغه برخه خپل کار متوقف کړي چې سترګي، لاسونه، پښې، غوږونه اداره کوي؛ اما نوري برخي ئې په مسلسله توګه او له توقف پرته فعالي وي، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ « يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ- يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ مَكَانَهَا عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ . فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ - فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ - فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ كُلُّهَا - فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ - وَإِلاَّ أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ ». بخاری: ۳۲٦۹

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (کله چې څوک ویده شي شیطان ئې د سر په شاتنۍ برخي کې درې غوټې غوټه کړي، هره غوټه په خپل خپل ځای ووهي، له هري غوټې سره وایي: شپه دې اوږده، ویده شه، که دا سړی راویښ شي، د الله تعالی ذکر وکړي، نو یوه غوټه پرانیستل شي او که اودس وکړي بله غوټه پرانیستل شي او چې لمونځ وکړي نو ټولې غوټې پرانیستل شي او سحر تازه او پاك زړی

راپاڅېږي؛ او که نه نو لټ، پرېشانه او بد حاله به راپاڅېږي).

- که څه هم دا روایت غریب دئ او په صحابه وو کې یوازي یو راوي لري خو دا مطلب په نورو روایاتو کې هم له ځینو توپیرونو سره راغلی، نږدې ټولو مهمو کتابونو راوړی، د متن له پلوه داسي دئ چې یوې ژوري علمي موضوع ته اشاره کوي، داسي موضوع چې یوازي یو پیغمبر ئې ویلی شي، نن او له دېرو علمي تحقیقاتو وروسته معلومه شوې چې د انسان خوب همداسي دئ لکه چې په دې حدیث کې ورته اشاره شوې، که د انسان خوب ته ځیر شو نو ګورو چې خوب په تدریجي توګه انسان ته راځي او په تدریجي توګه ترې ځي، داسي لکه چې د بدن د هغو برخو سویچونه ئې ورو ورو او یو په بل پسي وهل کېږي چې د انسان په واك کې دي او د ده له حکم او ارادې سره سم عمل کوي، لکه لاسونه، پښې، سترګې، شونډې او ژبه، دا سویچونه د ویدېدو په وخت کې یو په بل پسي بر وهل کېږي او د ویښېدو په وخت کې لاندي، د خوب پر مهال د انسان دماغ؛ د ده په ویني کې د داسي توکي راپیدا کېدو پرېکړه وکړي چې د خوب باعث کېږي، دا ماده د دماغ هغو برخو ته درومي چې همدا غږي اداره کوي، لومړی سترګي پټي شي، بیا د لاس او پښو د خوزولو برخه خپل کار متوقف کړي، ورو ورو انسان په ژور خوب ویده شي، ویښېدا ئې هم همداسي تدریجي وي. د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې حدیث کې دغي ژوري علمي موضوع ته اشاره شوې.

- د روایت بله برخه وایي: تر هغه چې پورته ئې کړ او د زمزم څاه خوا ته ئې کښېښود، نو جبرئیل ترې واخیست؛ جبرئیل د ده له ستوني د سینې تر برنې برخي پورې ځیري کړه؛ دومره چې سینه او نس ئې تش کړل؛ په خپل لاس ئې د زمزم په اوبو پرېمینځل، تر هغه چې منځ ئې صفا سټره کړ، بیا ئې د سرو زرو داسي طشت راوړ چې په هغه کې د اوبو داسي لوښی وو چې د سرو زرو وو او له إیمان او حکمت ډك وو؛ نو د ده سینه او د غاړې رګونه ئې پرې ډك کړل، بیا ئې (ځیري ځای) بند کړ.

له دې الفاظو په څرګنده توګه معلومېږي چې دا صحنه په رؤیا کې لیدل شوې؛ الله تعالی د چا په زړه کې حکمت په دې توګه او داسې نه اچوي چې لومړی ئې سینه پرانیزي، زړه او سینه ئې د زمزم په اوبو پرې مینځي؛ بیا د سرو زرو په طشت کې حکمت او إیمان راوړي او د هغه په سینه کې ئې تش کړي. نه ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته حکمت او ایمان داسې ورکړی او نه نورو پیغمبرانو ته، ټولو ته حکمت او ایمان ورکړی شوی؛ خو د وحي له لارې؛ نه د جراحي عملیاتو له لارې؛ ځکه چې حکمت او ایمان مجسم شیان نه دي چې په فزیکي شکل راوړل شي او بیا د انسان په سینه کې واچول شي؛ دا فقط د خوب ژبه ده نه د ویښې ژبه؛ دا د انسان خوب او رؤیا ده چې ژبه ئې رمزونه او انځورونه وي او د ویښې ژبه ئې غږ او کلام وي.

په دې خوب سره ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ښودلي چې ستا سینه مې له ایمان او حکمت ډکه کړې؛ د إیمان او حکمت د ورکړې په ارتباط چې کوم مطلب د قرآن په آیتونو کې او د وحي له لارې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوی وو؛ په خوب کې د تمثیل او انځورنې له لارې ښودل شوی؛ د قرآن نور همداسې آیتونه د معراج په دې سفر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د انځورونو په بڼې کې ښودل شوي؛ او په دې سره الله تعالی پیغمبر علیه السلام ته څو مهم ستر آیتونه ښودلي دي: لومړی ئې دا چې جبرئیل علیه السلام ئې لیدلی؛ دوهم دا چې د هغه سینه ئې له مخکنیو افکارو پاکه کړې او بیا ئې له ایمان، علم او حکمت ډکه کړې؛ دا چې په قرآن کې په وار وار ویل شوي دي چې تا ته مو اې پیغمبره! ایمان درکړی، حکمت مو درکړی، کتاب مو درکړی او علم مو درکړی دئ، همدغه په کې تمثیل شوي دي.

دوهمه برخه ئې دا ده:

ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَضَرَبَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِهَا، فَنَادَاهُ أَهْلُ السَّمَاءِ: مَنْ هَذَا؟، فَقَالَ: هَذَا جِبْرِيلُ، فَقَالُوا: مَنْ مَعَكَ؟، قَالَ: مُحَمَّدٌ، قَالُوا: قَدْ بُعِثَ

إِلَيْهِ؟، قَالَ: نَعَمْ، قَالُوا: فَمَرْحَبًا بِهِ وَأَهْلًا، يَسْتَبْشِرُ بِهِ أَهْلُ السَّمَاءِ، لَا يَعْلَمُ أَهْلُ السَّمَاءِ مَا يُرِيدُ اللَّهُ فِي الْأَرْضِ حَتَّى يُعْلِمَهُمْ، فَوَجَدَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا آدَمَ، فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ: هَذَا أَبُوكَ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ وَأَهْلًا يَا بُنَيَّ، فَنِعْمَ الِابْنُ أَنْتَ، فَإِذَا هُوَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا بِنَهَرَيْنِ يَطَّرِدَانِ، فَقَالَ: مَا هَذَا النَّهْرَانِ يَا جِبْرِيلُ؟ [ص:٦٦٣١]، فَقَالَ: هَذَا النِّيلُ وَالْفُرَاتُ، ثُمَّ مَضَى فِي السَّمَاءِ فَإِذَا هُوَ بِنَهْرٍ آخَرَ عَلَيْهِ قَصْرٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ فَذَهَبَ لِيَشَمَّ تُرَابَهُ فَإِذَا هُوَ مِسْكٌ، قَالَ: يَا جِبْرِيلُ مَا هَذَا النَّهَرُ؟، فَقَالَ: هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي خَبَّأَ لَكَ رَبُّكُ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مِثْلَ مَا قَالَتْ لَهُ فِي الْأُولَى: مَنْ هَذَا قال: جِبْرِيلُ، قالوا: ومن معك؟ قال: مُحَمَّدٌ؛ قَالُوا: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟، قَالَ: نعم، قَالُوا: مَرْحَبًا وَأَهْلًا، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ مَا قَالَتِ الْأُولَى وَالثَّانِيَةُ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى الرَّابِعَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى الْخَامِسَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّادِسَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّابِعَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكُلُّ سَمَاءٍ فِيهِ أَنْبِيَاءُ قَدْ سَمَّاهُمْ فأوْعيْتُ فَوَعَيْتُ مِنْهُمْ إِدْرِيسَ فِي الثَّانِيَةِ، وَهَارُونَ فِي الرَّابِعَةِ وَآخَرَ فِي الْخَامِسَةِ لَمْ أَحْفَظِ اسْمَهُ، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّادِسَةِ، وَمُوسَى فِي السَّابِعَةِ بِفَضْلِ كَلَامِهِ اللَّهَ، فَقَالَ مُوسَى: رَبِّ لَمْ أَظُنَّ أَنْ يُرْفَعَ عليَّ أحدٌ. ثُمَّ عَلَا بِمَا لَا يَعْلَمُهُ إِلَّا اللَّهُ حَتَّى جَاءَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى، وَدَنَا الْجَبَّارُ عَزَّ وَجَلَّ رَبُّ الْعِزَّةِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَتَدَلَّى حَتَّى كَانَ مِنْهُ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى، فَأَوْحَى إِلَيْهِ مَا شَاءَ اللَّهُ فَأَوْحَى إِلَيْهِ فِيمَا أَوْحَى خَمْسِينَ صَلَاةً عَلَى أُمَّتِهِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، ثُمَّ هَبَطَ حَتَّى بَلَغَ مُوسَى،

فَاحْتَبَسَهُ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ مَاذَا عَهِدَ إِلَيْكَ رَبُّكَ؟، قَالَ: عَهِدَ إِلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ وَعَنْهُمْ، فَالْتَفَتَ إِلَى جِبْرِيلَ كَأَنَّهُ يَسْتَشِيرُهُ فِي ذَلِكَ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ أَنْ نَعَمْ إِنْ شِئْتَ، فَعَلَا بِهِ جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى بِهِ الْجَبَّارَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ مَكَانُهُ، فَقَالَ: يَا رَبِّ، خَفِّفْ عَنَّا، فَإِنَّ أُمَّتِي لَا تَسْتَطِيعُ هَذَا، فَوَضَعَ عَنْهُ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُوسَى فَاحْتَبَسَهُ، فَلَمْ يَزَلْ يُرْدِدُهُ مُوسَى إِلَى رَبِهِ حَتَّى صَارَتْ إِلَى خَمْسِ صَلَوَاتٍ، ثُمَّ احْتَبَسَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ، فَقَالَ: وَاللَّهِ يَا مُحَمَّدُ قَدْ رَاوَدْتُ بَنِي إِسْرَايِيلَ عَلَى أَدْنَى مِنْ هَذِهِ الْخَمْسِ فَضَيَّعُوهُ وَتَرَكُوهُ فَأُمَّتُكَ [ص:٧٠٧١] أَضْعَفُ أَجْسَادًا وَقُلُوبًا وَأَبْصَارًا وَأَسْمَاعًا، فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ رَبُّكَ، كُلُّ ذَلِكَ يَلْتَفِتُ إِلَى جِبْرِيلَ يُشِيرُ عَلَيْهِ وَلَا يَكْرَهُ ذَلِكَ جِبْرِيلُ، فَرَفَعَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ، فَقَالَ: يَا رَبِّ إِنَّ أُمَّتِيَ ضِعَافٌ أَجْسَادُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ وَأَسْمَاعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ فَخَفِّفْ عَنَّا "، فَقَالَ الْجَبَّارُ إِنْ كَانَ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، فَقَالَ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ،: إِنِّي لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ، هِيَ كَمَا كَتَبْتُ عَلَيْكَ فِي أُمِّ الْكِتَابِ وَلَكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشَرَةٌ أَمْثَالُهَا، وَهِيَ خَمْسُونَ فِي أُمِّ الْكِتَابِ وَهِيَ خَمْسٌ عَلَيْكَ، فَرَجَعَ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: كَيْفَ فَعَلْتَ؟، فَقَالَ: خَفَّفَ عَنَّا، أَعْطَانَا بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا وَهِيَ خَمْسُونَ. فَقَالَ: قَدْ وَاللَّهِ رَاوَدْتُ بَنِي إِسْرَايِيلَ عَلَى أَدْنَى مِنْ هَذَا فَتَرَكُوهُ، فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ أَيْضًا، قَالَ: يَا مُوسَى قَدْ وَاللَّهِ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي مِمَّا اخْتَلَفْتُ إِلَيْهِ، قَالَ: فَاهْبِطْ بِاسْمِ اللَّهِ، فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ " رواه البخارى

د روايت په پاى كي گورئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: د الله په مرسته او نامه كوز شه؛ او په همدې سره هغه راويښ شو؛ په

داسي حال کي چي په مسجد الحرام کي وو. له دې الفاظو څو خبرې په څرګنده توګه معلومېږي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د سفر په پای کي ویل شوي: په خپله کوز شه؛ داسي نه چي فرشتو ته ویل شوي وي چي دی کوز کړئ؛ معنی ئې دا ده چي په خوب کي ځان په سدرة المنتهى کي ګوري؛ هملته ورته ویل شوي: کوز شه؛ د دې وینا له اوربدو سره سم راویښ شوی او ځان ئې په مسجد الحرام کي لیدلی. یعني چي د سفر پیل هم په خوب کي وو او پای ئې هم.

٣٣٠٥ - حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُنَا عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِىَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الْكَعْبَةِ جَاءَهُ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ فَقَالَ أَوَّلُهُمْ أَيُّهُمْ هُوَ فَقَالَ أَوْسَطُهُمْ هُوَ خَيْرُهُمْ وَقَالَ آخِرُهُمْ خُذُوا خَيْرَهُمْ فَكَانَتْ تِلْكَ فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ فَتَوَلَّاهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ رواه البخارى

دلته د ټول روایت یوه برخه راغلې؛ د (قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ) له فقرې سره.

٣٣٦ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ

الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَال هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنِهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ فَفَتَحَ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُهُ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِى مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ رواه البخارى

دلته ويل شوي: (زما د کور سقف پرانيستل شو؛ په داسي حال کي چې زه په مکه کي وم؛ نو جبرئيل راکوز شو، زما سينه ئې څيري کړه، بيا ئې د زمزم په اوبو ومينځله، بيا ئې د سرو زرو يو پتنوس راوړ چې له حکمت او ايمان ډک وو؛ نو هغه ئې زما په سينه کي تش کړ؛ بيا ئې هغه بنده کړه)؛ د دې برخي له ټولو الفاظو معلومېږي چې دا هر څه په خوب کي ليدل شوي؛ نه په ويښه کي.

٣٤٩ - عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي، فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ

الدُّنْيَا، قَالَ جِبْرِيلُ: لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ، قَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ، قَالَ: هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ؟ قَالَ: نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ، وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ لِجِبْرِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا آدَمُ، وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ اليَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، فَقَالَ لِخَازِنِهَا: افْتَحْ، فَقَالَ لَهُ خَازِنِهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ: فَفَتَحَ، - قَالَ أَنَسٌ: فَذَكَرَ أَنَّهُ [ص:٣٦] وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ، وَإِدْرِيسَ، وَمُوسَى، وَعِيسَى، وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قَالَ أَنَسٌ - فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِدْرِيسُ، ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا مُوسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا عِيسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِيَّ، كَانَا يَقُولاَنِ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثُمَّ عُرِجَ بِي

حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ»، قَالَ ابْنُ حَزْمٍ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ، حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً، قَالَ: فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُ، فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، قُلْتُ: وَضَعَ شَطْرَهَا، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ، فَقَالَ: هِيَ خَمْسٌ، وَهِيَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ القَوْلُ لَدَيَّ،

باید متوجه وو چې د قرآن دا آیت په دې ارتباط نه دئ نازل شوی.،

فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَقُلْتُ: اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي، ثُمَّ انْطَلَقَ بِي، حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ المُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ؟ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا المِسْكُ " رواه البخارى

١٥٤٠ - عن أنس، عن أبى ذَرٍّ: أَنَّ رسول اللَّه -صلى اللَّه عليه وسلم- قال: "فُرِجَ سقفُ بيتى وأنا بمكة"، وذكر حديث الإسراء، وسيأتى إن شاء اللَّه، وفيه: وقال أنس: فلما مر جبريل بادريس قال: مرحبًا بالنبى الصالح، والأخ الصالح، فقلت: من هذا؟ قال: هذا إدريس.

دا باید په پام کې ولرو چې د پنځو پیغمبرانو مقام او منزلت تر ټولو لوړ دئ: محمد علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام، عیسی علیه السلام او نوح علیه السلام. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به پیغمبران داسې لیدلي وي چې همدا څلور به ئې په څلورو برنیو آسمانونو کې یو په بل

پسي په دې توګه ليدلې وي: ۷-٦-۵-٤ ؛ په پاته دريو کې به ئې نور پيغمبران د ادريس عليه السلام په شمول ليدلې وي؛ نو هغه روايات دقيق نه دي چې له دې ترتيب سره اړخ نه لګوي او وايي: ابراهيم عليه السلام په شپږم آسمان کې، موسى عليه السلام په اوم آسمان کې او إدريس عليه السلام په څلورم آسمان کې ليدل شوي. دې ته مو بايد پام وي چې د دې ترتيب په ارتباط رواياتو کې د اختلاف رأى شاهد يو.

٣٠٩٤ - حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنْ الزُّهْرِيِّ ح حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَانَ أَبُو ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جَاءَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ مَعِي مُحَمَّدٌ قَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَافْتَحْ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ فَفَتَحَ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ

أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ إِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يُثْبِتْ لِي كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّادِسَةِ وَقَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ عِيسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَيَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ بِمُوسَى فَقَالَ مُوسَى مَا الَّذِي فَرَضَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَجَعْتُ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَجَعْتُ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ حَتَّى أَتَى بِي السِّدْرَةَ الْمُنْتَهَى فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ رواه البخارى

٢٣٧ - و حَدَّثَنِي حَرْمَلَةُ بْنُ يَحْيَى التُّجِيبِيُّ أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام لِخَازِنِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِيَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَفَتَحَ قَالَ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ قَالَ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ قَالَ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ خَازِنُ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَفَتَحَ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَاوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَعِيسَى وَمُوسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ قَدْ وَجَدَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ قَالَ

مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قَالَ ثُمَّ مَرَّ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ هَذَا إِدْرِيسُ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عَرَجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ بِمُوسَى فَقَالَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام مَاذَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قَالَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ لِي مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَرَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَوَضَعَ شَطْرَهَا قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى نَأْتِيَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ قَالَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ رواه مسلم

٢١٢٨٨ - حَدَّثَنَا عَبْد اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْمُسَيَّبِيُّ حَدَّثَنَا

أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ قَالَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جَاءَ السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَافْتَتَحَ فَقَالَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ قَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَافْتَحْ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ تَبَسَّمَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ هُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام حَتَّى جَاءَ السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ خَازِنُ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَفَتَحَ لَهُ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِمْ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَلَمْ يُثْبِتْ لِي كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاء السَّادِسَةِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قَالَ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ

هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ يَقُولَانِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ بِمُسْتَوًى أَسْمَعُ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَضَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَاذَا فَرَضَ رَبُّكَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً فَقَالَ لِي مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام رَاجِعْ رَبَّكَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى أَتَى بِي سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى قَالَ فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ مَا أَدْرِي مَا هِيَ قَالَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ هَذَا آخِرُ مُسْنَدِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ؛ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ مسند احمد

٣٣٤٢ - حَدَّثَنَا عَبْدَانُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، ح حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ:

قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَانَ أَبُو ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ " فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ، فَلَمَّا جَاءَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا [ص:٣٣] قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ: افْتَحْ، قَالَ مَنْ هَذَا؟ قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ: مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ: مَعِي مُحَمَّدٌ، قَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ فَافْتَحْ، فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ، وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ مَنْ هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ اليَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، فَقَالَ لِخَازِنِهَا: افْتَحْ، فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ " قَالَ أَنَسٌ: فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ إِدْرِيسَ، وَمُوسَى، وَعِيسَى، وَإِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يُثْبِتْ لِي كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ ذَكَرَ: أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّادِسَةِ، وَقَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِإِدْرِيسَ قَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ، ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ عِيسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ

وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ، فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ: هِيَ الفِطْرَةُ الَّتِي أَنْتَ عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَوَاتُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَا أُمِرْتَ؟ قَالَ: أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ، وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَ أُمِرْتَ؟ قُلْتُ: أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، قَالَ: سَأَلْتُ رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ، وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ، قَالَ: فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادَى مُنَادٍ: أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي "

٣٢٠٧ - حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، ح وقَالَ لِي خَلِيفَةُ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، وَهِشَامٌ، قَالاَ: حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ - وَذَكَرَ: يَعْنِي رَجُلًا بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ -، فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَشُقَّ مِنَ

النَّحْرِ إِلَى مَرَاقِّ البَطْنِ، ثُمَّ غُسِلَ البَطْنُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، وَأُتِيتُ بِدَابَّةٍ أَبْيَضَ، دُونَ البَغْلِ وَفَوْقَ الحِمَارِ: البُرَاقُ، فَانْطَلَقْتُ مَعَ جِبْرِيلَ حَتَّى أَتَيْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ جِبْرِيلُ: قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى آدَمَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ، قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى عِيسَى، وَيَحْيَى فَقَالاَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّالِثَةَ قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى يُوسُفَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ قَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قِيلَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِدْرِيسَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الخَامِسَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْنَا عَلَى هَارُونَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا عَلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى مُوسَى، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَلَمَّا جَاوَزْتُ

بَكَى، فَقِيلَ: مَا أَبْكَاكَ: قَالَ: يَا رَبِّ هَذَا الغُلاَمُ الَّذِى بُعِثَ بَعْدِى يَدْخُلُ الجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَفْضَلُ مِمَّا يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِى، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ السَّابِعَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ، مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِىءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَرُفِعَ لِى البَيْتُ المَعْمُورُ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: هَذَا البَيْتُ المَعْمُورُ يُصَلِّ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ، وَرُفِعَتْ لِى سِدْرَةُ المُنْتَهَى، فَإِذَا نَبِقُهَا كَأَنَّهُ قِلاَلُ هَجَرَ وَوَرَقُهَا، كَأَنَّهُ آذَانُ الفُيُولِ فِى أَصْلِهَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ نَهْرَانِ بَاطِنَانِ، وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: أَمَّا البَاطِنَانِ: فَفِى الجَنَّةِ، وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ: النِّيلُ وَالفُرَاتُ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَىَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جِئْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: فُرِضَتْ عَلَىَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ بِالنَّاسِ مِنْكَ، عَالَجْتُ بَنِى إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، وَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَسَلْهُ، فَرَجَعْتُ، فَسَأَلْتُهُ، فَجَعَلَهَا أَرْبَعِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ، ثُمَّ ثَلاَثِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عِشْرِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عَشْرًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مِثْلَهُ، فَجَعَلَهَا خَمْسًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: جَعَلَهَا خَمْسًا، فَقَالَ مِثْلَهُ، قُلْتُ: سَلَّمْتُ بِخَيْرٍ، فَنُودِىَ إِنِّى قَدْ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِى، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِى، وَأَجْزِى الحَسَنَةَ عَشْرًا، وَقَالَ هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى البَيْتِ المَعْمُور

د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ. قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِى مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ. وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، حَتَّى عَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ. فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ ". قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ

الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ صلى الله عليه و سلم ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولاَنِ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم " ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ ". قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم " فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً. قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ. فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا. فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ. فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهْيَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ. فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ. فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي. ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ ". بخاري:٣٤٩

له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابو ذر رضي الله عنه به ويل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: "په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبرئيل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئې پرانيسته او د زمزم په اوبو ئې ومينځله، بيا ئې د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان ډک وو او زما په سينه کي ئې تش کړ، بيا ئې سينه راته بنده کړه، بيا ئې له لاس ونيولم او لومړي آسمان ته ئې وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم؛ جبرئيل (عليه السلام) د آسمان خازن

(ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانيزه؛ هغه وويل: څوک يې؟ وئې ويل: زه جبرئيل يم. هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبرئيل (عليه السلام) وويل: هو؛ محمد صلى الله عليه و سلم راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په ده پسې څوك لېږل شوى (بلل شوى)؟ جبرئيل (عليه السلام) وويل: هو؛ او کله چې ئې دروازه پرانيستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو؛ گورو چې يو سړی ناست دئ، ښي اړخ ته ئې سړي دي او کيڼ اړخ ته ئې هم سړي دي، کله چې ښۍ خوا ته وگوري وخاندي او چې کيڼ اړخ ته وگوري نو وژاړي؛ ما ته ئې وويل: صالح پيغمبر او صالح زوی ته هرکلی وايم. ما جبرئيل (عليه السلام) ته وويل: دا څوک دئ؟ هغه وويل: دا آدم (عليه السلام) دئ او دا چې ښي او کيڼ اړخ ته ئې گورې دا ئې د اولاد ارواح دي؛ هغه چې ښي اړخ ته ئې دي هغوی جنتيان دي او هغه چې کيڼ اړخ ته ئې دي هغوی دوزخيان دي، نو کله چې ښۍ خوا ته گوري خاندي او چې کيڼې خوا ته گوري ژاړي. بيا ئې دوهم آسمان ته پورته کړم؛ خازن ته ئې وويل: پرانيزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وکړه؛ بيا ئې دروازه پرانيستله. انس رضي الله عنه وايي چې ابوذر رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په آسمانونو کي آدم، ادريس، موسى، عيسى او ابراهيم (عليهم السلام) ليدلي، خو ابوذر د هغوی ځايونه نشو تثبيتولى، يوازي دومره ئې په ياد وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په لومړي آسمان کي آدم (عليه السلام) او په شپږم آسمان کي ابراهيم (عليه السلام) وليد. انس رضي الله عنه وايي: کله چې محمد صلى الله عليه و سلم له جبرئيل (عليه السلام) سره ادريس (عليه السلام) ته ورسېد؛ هغه ورته وويل: صالح پيغمبر او صالح ورور ته هرکلی وايم. محمد صلى الله عليه و سلم وايي: (ما وويل: دا څوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا ادريس دئ بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم؛ هغه وويل: صالح نبي او صالح ورور ته هرکلی وايم، ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا موسى (عليه السلام) دئ. بيا عيسى (عليه السلام) ته ورسېدم؛ هغه وويل: صالح ورور او صالح نبي ته هرکلی وايم. ما وويل: (داڅوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا عيسى (عليه السلام) دئ. بيا ابراهيم (عليه السلام) ته ورغلم

هغه وويل: صالح نبي او صالح زوی ته هرکلی وایم. ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا ابراهيم (عليه السلام) دئ.
ابن شهاب وايي چې ابن حزم راته ويلي: ابن عباس رضي الله عنهما او ابو حبة انصاري رضي الله عنه به ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا لوړ بوتلی شوم او هغه ځای ته پورته شوم چې د (ملائکو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا الله تعالى زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض کړل؛ زه له همدې حکم سره راوګرځېدم، تر هغه چې موسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالى ستا پر امت څه فرض کړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئې فرض کړل. موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلري، زه بېرته وروګرځېدم، نو يوه برخه ئې ترې کم کړل، بېرته چې موسى (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومې ويل: الله تعالى يوه برخه ترې ساقطه کړه، موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلرى، زه بېرته وروګرځېدم، الله تعالى ئې يوه برخه راته ساقطه کړه، بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم، هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نلري، ما بيا الله تعالى ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل کېږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئې د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکې نه ده، زه بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب حياء کوم، بيا جبرئيل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چې (سدرة المنتهى) ته ئې بوتلم؛ او دا ځای داسي رنګونو پوښلی وو چې توصيف ئې نه شم کولی، بيا جنت ته داخل کړی شوم، په جنت کي د ملغلرو مزي ول او خاوره ئې له مشکو وه).

دا روايت په بخاري کي په دغو شمېرو اوه ځلي نور په تکرار سره راغلی: ١٦٣٦، ٣٣٤٢، ٣٥٧٠، ٤٩٦٤، ٥٦١٠، ٦٥٨١، ٧٥١٧، چې په هغوی کي دا توپيرونه تر سترګو کېږي: دوه روايتونه وايي چې دا عروج په خوب کي وو، په٣٥٧٠ روايت کي راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صلى

الله علیه و سلم نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلَّاهُ جبرئيل ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ او په ۷۵۱۷ روایت کې راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کې ئې دا برخه نه ده راغلې او پر ځای ئې د دې خلاف د مسجد الحرام پر ځای په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کور یادونه شوې ګواکې له خپل کور بېول شوی.

په پورتني روایت کې تر سدرة المنتهی وړاندي د الله حضور ته رسېدل او د لمونځونو په اړه لارښوونې راغلې؛ خو په نورو روایاتو کې عکس د دې ویل شوي چې له سدرة المنتهی وروسته بر بېول شوی.

د احادیثو په نورو کتابونو کې هم په دې اړه ګڼ شمېر روایات راغلي، ټول پنځه ویشت روایات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپیرونه او ژور تعارض تر سترګو کېږي، د دغو متعارضو روایاتو له لیدو سره به تاسو ته دغه پوښتنې راولاړېږي: آیا معراج په ویښه وو که په خوب کې؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله صلی الله علیه و سلم له کور که له مسجد الحرام؟ مستقیماً د آسمان په لور که لومړی بیت المقدس ته او بیا له هغه ځای آسمان ته؟ آیا لمونځ تر دې د مخه فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدنه له پیغمبرانو علیهم السلام سره په کوم ترتیب ترسره شوې، په لومړي، دوهم، دریېم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کې ئې څوک څوک لیدلي؟ په لومړي آسمان کې ئې آدم علیه السلام لیدلی که عیسی علیه السلام؟ ابراهیم علیه السلام ئې په شپږم آسمان کې لیدلی که په اوم کې؟ موسی علیه السلام ئې په اوم کې لیدلی که ابراهیم علیه السلام؟ هارون علیه السلام ئې لیدلی که نه؟ په دغو متعارضو روایاتو کې کوم یو صحیح دئ؟ سدرة المنتهی چېرې ده؟ هلته ئې جبرئیل علیه السلام لیدلی که الله تعالی؟ الله تعالی ئې په خپلو سترګو لیدلی که نه؟ په هرې مراجعې کې پنځه پنځه لمونځونه کم شوي که لس لس او که ځینې؟ د دې معنی څه ده چې هر ځل د الله تعالی په پرېکړې کې بدلون راغلی خو سره له دې ویل شوي: لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ؟: زما

نزد کې وینا نه بدلېږي. آیا دا آیت په قرآن کې په همدې ارتباط راغلی؟ قرآن د معراج په اړه څه وایي؟ آیا په قرآن کې د دې روایاتو لپاره کوم شاهد موندلی شو؟ د معراج په اړه د متعارضو روایاتو له منځ به یو څنګه انتخابوو؟ کوم یوه ته به په کوم دلیل صحیح وایو او بل به یوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چې نه امام بخاري رحمه الله ځواب ورته ویلی، نه ئې د بخاري په روایاتو کې ځواب موندلی شو او نه په نورو روایاتو کې. له دې پرته بله چاره نه لرو چې دا روایات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحیح ګڼو چې له قرآن سره تطابق ولري یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

اوس له هغو چې نه د قرآن صراحتونو ته اعتناء کوي، نه هغه روایات مني چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا سفر له مکې او په خوب کې پیل کړی او په خوب کې ئې پای ته رسولی او د سفر په پای کې په داسې حال کې راویښ شوی چې په همغه مسجد الحرام او په خپل ځای کې وو؛ له دوی دا پوښتني لرو:

١. د هغو ګڼ شمېر روایاتو په اړه به څه کوو چې وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم إسراء او معراج فقط یو خوب وو؛ دا روایات لږ هم نه بلکې په لسګونو دي او د ټولو اړوند روایاتو تر نوي سلنه هم زیات دي؟!!

٢. نه پوهېږو چې ستاسو مجبوریت څه دئ او ولې په داسې رأیي ټینګار کوئ چې په قرآن کې ورته شاهد نه مومو او د ډېرې روایاتو خلاف ده؟ نه ئې نقل مني او نه عقل!! په کومي ذهني لومي کې ښنتي (ښتي) یئ او تر ې وتلی نشئ؟ که وایئ: معراج یوه رسولانه رؤیا وه؛ د قرآن وینا همدا ده او تر نوي سلنه د زیاتو روایاتو وینا همدا ده؛ نو څه زیان به مو کړی وي؟ په دنیا او آخرت کې به له کومي ستونزي او اشکال سره مخامخ شئ؟ مور خو په رؤیا باور لرو؛ دا مو د ایمان یو رکن او د نبوت شپږ څلوېښتم جزء دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الرُّؤْيَا

الْحَسَنَةُ مِنْ الرَّجُلِ الصَّالِحِ، جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنْ النُّبُوَّةِ"

له انس بن مالك روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د صالح انسان نېکه رؤيا د نبوت شپږ څلوېښتمه برخه ده.

قرآن يوازي د معراج خوب نه؛ بلکې ګڼ شمېر مهم خوبونه زمونږ مخي ته ږدي؛ د ابراهيم عليه السلام خوب، د حديبيې اړوند د پيغمبر عليه السلام خوب، د يوسف عليه السلام خوب، د ده د دوو زنداني ملګرو خوبونه، د مصر د ملك خوب.

اکثريت روايات همدا وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې په خوب ويده وو؛ په مسجد الحرام يا خپل کور يا مکه کې، ناڅاپي ګوري چې سقف پرانيستل شوی، فرشته ورته راغلې، .... دی ئې له ځان سره بېولی، تر مسجد الاقصی او له هغه ځای تر سدرة المنتهى پورې رسېدلی او په پای کې ورته ويل شوي چې په بسم الله سره کوز شه او په داسي حال کې راويښ شوی چې ځان په مسجد الحرام کې ګوري. آيا دا له رؤيا پرته بل څه کېدی شي؟!!

انسان داسي دئ چې د شپې په تياره کې څه نشي ليدلی؛ خو په خوب کې ئې ليدی شي؛ کله کله ئې په خوب کې ليدنه دومره دقيقه، جامع، وسيع او سريع وي چې د ويښې ليدا ئې ورسره مقايسه کېدی نشي، په خوب کې په داسي اسرارو پوهېدی شي چې په ويښه ورته ممکنه نه وي، د خوب ليدا ډېره سريع وي، په لنډ وخت کې دومره څه ليدلی شي چې په ويښه ئې په اوږدې مودي کې هم نشي ليدلی، هغه خلك چې د رؤيا ليدني ته په ټيټه سترګه ګوري او خاص اهميت نه ورکوي په دې خبرې باور کول ورته ګران برېښي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج سفر د رؤيا سفر وګڼي؛ له همدې کبله د قرآن او حديث د صريح وينا په وړاندي د تذبذب شکار شي او په منلو کې ئې زړه نا زړه وي، د منلو پر ځای داسي لاري لټوي چې د ده غلطه رأی د توجيه وړ ثابته کړي؛ خو څوك چې رؤيا ته د قرآن له مخي ګوري هغه پوهېږي

چې داسې سفر یوه انسان ته یوازې په رؤیا کې ممکن دئ نه په ویښه. که دا د ویښې سفر وي نو حتماً به د ورځې له لورې وو، کله چې د انسان روح د کالبد په قید کې وي نو د سترګو لرې لید ئې دومره کمزورى وي چې څو کیلو متره لرې لوى لوى شیان هم نشي لیدى، د نرۍ پردې له شا څه نشي لیدى، له رڼا پرته څه نشي لیدى، د شپې په تیاره کې څه نه ویني؛ خو کله چې روح په نسبي توګه د کالبد له قید او محدودې آزاده شي نو له پرېږو پرېږو حجابونو واوړي؛ هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو، نه ئې تیاره مخه نیولى شي او نه حجـابونه، هم په نسبي توګه د زمان له محدودې ووځي او هم د مکان، د شپې په تیاره کې داسې ویني لکه د ورځې په رڼا کې. د ویښې لیدا ئې د مخ په دوو سترګو وي او د رؤیا لیدا ئې د زړه په سترګو.

یو مثال ئې د مصر د هغه غیر مسلم مَلِك خوب دئ چې د پنځلسو کلونو مهمې پېښې د څو ثانیو په رؤیا کې ورته انځور شوې وې؛ په خوب کې ګوري چې اوه څوربې غواوي؛ اوه ډنګري غواوي وخوري او اوه شنه وړي او اوه نور وچ؛ له درباریانو ئې وغوښتل چې د خوب په تعبیر ئې خبر کړي؛ هغوى (په ځواب کې) وویل: دا هسې ګډ وډ خوبونه دي او موږ د دغو خیالي خوبونو په تعبیر نه پوهېږو. له یوسف علیه السلام د تعبیر غوښتنه کوي او هغه له ځنډ پرته او فوراً وایي: تر اوو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې تر لاسه کوئ په خپلو وړیو کې ئې پرېږدئ مګر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، بیا به له دې وروسته اوه نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخیره کړي مو وي، مګر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. بیا به له دې وروسته داسې کال راشي چې په هغه کې به پر خلکو بارانونه ووربږي او په هغه کې به (خلك د مېوو) عصاره وباسي.

رؤیا همداسې وي؛ د انځورونو او رمزونو په ژبه؛ د کلونو کلونو پېښې په څو ثانیو کې ستا مخې ته تېروي. د معراج هغه اوږد سفر چې له زمکې پیل شوى او له اوو آسمانونو بر تر سدرة المنتهى پورې رسېدلى؛ یوازې په رؤیا سره

ممکن دئ؛ نه په ویښه؛ همدا د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ او همدا د انسان فطرت او جبلت؛ هم د مؤمن په ارتباط او هم د کافر.

اجازه راکړئ؛ زه د تېري چهارشنبې شپې یوه رؤیا درسره شریکه کړم: په یوې خونې کې له یو شمېر خلکو سره دسترخان ته ناست او ډوډي خورو؛ ابراهیم علیه السلام د دسترخان بل اړخ ته ناست وي؛ د هغه چا کیڼ لاس ته چې ما ته مخامخ ناست وي؛ په خبرو مصروف یو؛ خبري مي په یاد نه دي؛ خو ما ته په دې رؤیا کې هغه پیغام پروت وو چې سخت ورته اړ وم او زما د ډاډ او خوشحالۍ باعث شوی؛ او هغه دا چې له ابراهیم علیه السلام سره یو ځای له یوه دسترخان تغذیه کېږو؛ یعني چې د هغه د امتي په توګه قبول شوی یم او په فکري لحاظ له یوې منبع تغذیه کېږو!! په خوښونو کې پیغامونه دغسي انځورېږي.

د قرآن په رڼا کې د معراج اړوند روایاتو په اړه څو خبري باید په پام کې ولرو:

- قرآن د إسراء سوره کې وایي چې دا سفر له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پورې وو، مزید ئې څه نه دي ویلي چې له مسجد الاقصی وروسته څه شوي، خو د النجم په سوره کې د دې سفر نوري برخي هم بیان شوې، د دې معنی دا ده چې هغه روایات د منلو وړ نه دي چې وایي: د معراج سفر د رسول الله صلی الله علیه و سلم له کور مخامخ د آسمان په لور پیل شوی.
- قرآن وایي چې په دې سفر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ستر ستر آیتونه ښودل شوي، جبرئیل علیه السلام ئې یو ځل بیا په خپلې اصلي بڼې کې لیدلی، سدرة المنتهی ته رسېدلی، د سدرة المنتهی له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وینا له مخې جنتونه هم دلته دي، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هم اوه آسمانونه لیدلي او هم جنت. هغه روایات صحیح نه دي چې وایي: رسول

الله صلی الله علیه و سلم دلته الله تعالی په خپلو سترګو لیـدلی؛ دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو روایاتو سره چې وایي: انسان نشي کولی په دنیا کې او په دغو سترګو الله تعالی وګوري. پیغمبر علیه السلام د یو چا په ځواب کې فرمایي چې الله تعالی نور دئ نو څنګه به لیدل کېږي؟! جبرئیل علیه السلام د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې پوښتني چې آیا الله تعالی دي لیدلی؟ په ځواب کې وایي: زما او الله تعالی تر منځ د نور اویا زره حجابونه دي، که لاندیني حجاب ته ورنږدې شم وزرونه مي سوزي!! قرآن دلته وایي چې هغه ئې یو ځل مخکې هم لیدلی وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چې دا جبرئیل علیه السلام وو چې تر دې د مخه ئې هم لیدلی وو چې دې لیدني ته د التکویر سورې په ۲۳ آیت کې داسي اشاره شوې:

وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ:

او بې شکه چې هغه ئې په افق کې په څرګنده توګه لیدلی.

دې دوهم ځل لیدني ته په احادیثو کې هم اشاره شوې چې په خپل ځای کې به ئې وګورئ.

عائشه رضي الله عنها وایي: که چا درته وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل رب لیدلی نو پوه شه چې هغه دروغ وایي. ځکه قرآن فرمایي:

لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴿١٠٣﴾ الأنعام ۱۰۳

سترګي ئې درک کولی نشي او دی سترګي درک کوي؛ او دی خبیر لطیف دئ.

- د قرآن کوم آیت چې وایي: مَا يُبَدَّلُ ٱلۡقَوۡلُ لَدَيَّ... دا د (ق) سورې د ۲۹ آیت یوه فِقره ده چې د قیامت په ورځ د دوزخیانو تر منځ د شخړې په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چې د الله تعالی پرېکړې پرېکنده او تغییر نه منونکې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، هر چا ته به عادلانه سزا ورکوي. دا آیت له یوې خوا د معراج له سفر سره هیڅ تړاو نه لري؛ له بلي خوا

د روايت له هغي برخي سره په بشپړه توګه تعارض لري چې وايي الله تعالى د لمانځه په اړه خپله پربکړه څو څو ځلي بدله کړې ده!!

- د إسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چې په هغوی کې هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، له ځینو روایاتو داسې معلومېږي چې ګواکې لمونځونه د معراج په سفر کې فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ په ډېر یقین سره ویلی شو چې د معراج له سفر مخکې هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ځې اوقات ټاکل شوي وو. د کوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کې د لمانځه امر شوی، دا ټول له الإسراء وړاندي نازل شوي. د هود په سوره کې داسې راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ هود: ١١٤

او د ورځې په دواړو خواوو کې او (ورپسې نږدې) د شپې ځینې برخې کې لمونځ کوه؛ یقیناً چې ښېګڼې؛ بدي له منځه وړي، دا د پند اخیستونکو لپاره پند دئ.

د آیت له الفاظو داسې معلومېږي چې له (طرفي النهار) مراد د ورځې دواړه خواوي دي، له غرمې مخکې او وروسته برخې ځې، چې په دې سره د ګهیځ، ماسپښین او مازدیګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من اللیل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځې ته نږدې وي؛ چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د إسراء په سوره کې هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ځې لارښوونه شوې او وایي:

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩ الإسراء: ٧٨- ٧٩

د لمر له زوال د شپې تر پخېدو پوري لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت؛ یقیناً چې د سباوون قرآن ویل مشهود وي. او د شپې په یوې برخي کې تهجد کوه (پر لمانځه بې خوبي ګاله) ستا لپاره اضافي (کار)؛ هیله ده چې ستا رب دي په ستایل شوي مقام راپاڅوي.

په دغو مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې؛ د لمر له زوال د شپې تر پخېدو پورې څلور لمونځونه: ماپښین (ماسپښین)، مازدیګر، ماښام او ماخستن، په قرآن الفجر سره د سحر لمونځ او د شپې په یوې برخي کې د تهجد لمونځ؛ که د إسراء له سورې مخکې د لمانځه او د هغه د وختونو هیڅ یادونه نه وی شوې نو ویلی مو شوی چې لمونځ د معراج د روایت له مخې فرض شوی؛ خو خبره د دې عکس ده، تر معراج ډېر د مخه هم لمونځ فرض شوی وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو.

له ګڼ شمېر آیتونو او روایاتو معلومېږي:

- لمونځونه د معراج له سفر مخکې فرض شوي وو.
- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په مکه کې وو؛ اما دا چې په مشخصه توګه د مکې کوم ځای کې؛ په دې اړه روایات بېل بېل ځایونه ښیي؛ لکه: حطیم، الحجر، مسجد الکعبه، مسجد الحرام، د رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کور، د ام هاني کور؛ قرآن وایي چې دا له مسجد الحرام پیل شوی.

- په داسي حال کي فرشتې ورته راغلې چې دي په مسجد الحرام کي ويده وو.
- په داسي حال کي د معراج سفر پای ته رسېدلی چې دی په مسجد الحرام کي له خوبه راويښ شوی.

شيعه هم د معراج په اړه ځانته روايات لري، د رواياتو څرنګوالی ئې له دې قياس کولی شئ چې وايي: فاطمه رضي الله عنها د هغې جنتي مېوې له نطفې پيدا شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د معراج په سفر کي جبرئيل عليه السلام ورکړه، هغه ځلوېښت ورځې له ځان سره وساتله، په دې مودې کي ئې له خديجې رضي الله عنها سره نږدېکت ونه کړ؛ او په ځلوېښتمه شپه ئې دا مېوه وخوړه او بيا ئې له هغې سره نږدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې رضي الله عنها نطفه خلق شوه!! دا په داسي حال کي چې د معراج واقعه تر هجرت يو کال مخکې او هغه مهال شوې چې خديجه رضي الله عنها لا څو کاله د مخه وفات شوې وه او فاطمه رضي الله عنها پېغلتوب ته رسېدلې وه!! دغسي مسخره رواياتو په امت کي د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې ټوټې ټوټې کړی.

د مخکيني درس په دوام؛ د معراج اړوند څو نور روايتونه له نظر تېروو:

٣٨٨٧ - حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ: " بَيْنَمَا أَنَا فِي الحَطِيمِ، - وَرُبَّمَا قَالَ: فِي الحِجْرِ - مُضْطَجِعًا إِذْ أَتَانِي آتٍ، فَقَدَّ: قَالَ: وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: فَشَقَّ مَا بَيْنَ هَذِهِ إِلَى هَذِهِ - فَقُلْتُ لِلْجَارُودِ وَهُوَ إِلَى جَنْبِي: مَا يَعْنِي بِهِ؟ قَالَ: مِنْ ثُغْرَةِ نَحْرِهِ إِلَى شِعْرَتِهِ، وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: مِنْ قَصِّهِ إِلَى شِعْرَتِهِ - فَاسْتَخْرَجَ قَلْبِي، ثُمَّ أُتِيتُ

بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مَمْلُوءَةٍ إِيمَانًا، فَغُسِلَ قَلْبِي، ثُمَّ حُشِيَ ثُمَّ أُعِيدَ، ثُمَّ أُتِيتُ بِدَابَّةٍ دُونَ البَغْلِ، وَفَوْقَ الحِمَارِ أَبْيَضَ، - فَقَالَ لَهُ الجَارُودُ: هُوَ البُرَاقُ يَا أَبَا حَمْزَةَ؟ قَالَ أَنَسٌ: نَعَمْ - يَضَعُ خَطْوَهُ عِنْدَ أَقْصَى طَرْفِهِ، فَحُمِلْتُ عَلَيْهِ، فَانْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ، فَقِيلَ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ فَفَتَحَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا فِيهَا آدَمُ، فَقَالَ: هَذَا أَبُوكَ آدَمُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ السَّلاَمَ، ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ، وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ فَفَتَحَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يَحْيَى وَعِيسَى، وَهُمَا ابْنَا الخَالَةِ، قَالَ: هَذَا يَحْيَى وَعِيسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِمَا، فَسَلَّمْتُ فَرَدَّا، ثُمَّ قَالاَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ، وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ، فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يُوسُفُ، قَالَ: هَذَا يُوسُفُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: أَوَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ إِلَى إِدْرِيسَ، قَالَ: هَذَا إِدْرِيسُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ

الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ صَعِدَ بِي، حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الخَامِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا هَارُونُ، قَالَ: هَذَا هَارُونُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ، وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّادِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا مُوسَى، قَالَ: هَذَا مُوسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ، وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، فَلَمَّا تَجَاوَزْتُ بَكَى، قِيلَ لَهُ: مَا يُبْكِيكَ؟ قَالَ: أَبْكِي لِأَنَّ غُلاَمًا بُعِثَ بَعْدِي يَدْخُلُ الجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِي، ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ: هَذَا أَبُوكَ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، قَالَ: فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلاَمَ، قَالَ: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ رُفِعَتْ إِلَيَّ سِدْرَةُ المُنْتَهَى، فَإِذَا نَبْقُهَا مِثْلُ قِلاَلِ هَجَرَ، وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الفِيَلَةِ، قَالَ: هَذِهِ سِدْرَةُ المُنْتَهَى، وَإِذَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ: نَهْرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، فَقُلْتُ: مَا هَذَانِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: أَمَّا البَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الجَنَّةِ، وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالفُرَاتُ، ثُمَّ رُفِعَ لِي البَيْتُ المَعْمُورُ، ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ، فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ: هِيَ الفِطْرَةُ الَّتِي أَنْتَ

عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَوَاتُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَا أُمِرْتَ؟ قَالَ: أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ، وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَ أُمِرْتَ؟ قُلْتُ: أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، قَالَ: سَأَلْتُ رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ، وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ، قَالَ: فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادَى مُنَادٍ: أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي "

٣٢٠٧ - حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، ح وقَالَ لِي خَلِيفَةُ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، وَهِشَامٌ، قَالاَ: حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ - وَذَكَرَ: يَعْنِي رَجُلًا بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ -، فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَشُقَّ مِنَ النَّحْرِ إِلَى مَرَاقِّ البَطْنِ، ثُمَّ غُسِلَ البَطْنُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا،

وَأُتِيتُ بِدَابَّةٍ أَبْيَضَ، دُونَ البَغْلِ وَفَوْقَ الحِمَارِ: البُرَاقُ، فَانْطَلَقْتُ مَعَ جِبْرِيلَ حَتَّى أَتَيْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ جِبْرِيلُ: قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى آدَمَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ، قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى عِيسَى، وَيَحْيَى فَقَالاَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّالِثَةَ قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى يُوسُفَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ قَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قِيلَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِدْرِيسَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الخَامِسَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْنَا عَلَى هَارُونَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا عَلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى مُوسَى، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَلَمَّا جَاوَزْتُ بَكَى، فَقِيلَ: مَا أَبْكَاكَ: قَالَ: يَا رَبِّ هَذَا الغُلاَمُ الَّذِى بُعِثَ بَعْدِى يَدْخُلُ

الجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَفْضَلُ مِمَّا يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ السَّابِعَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ، مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَرُفِعَ لِي البَيْتُ المَعْمُورُ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: هَذَا البَيْتُ المَعْمُورُ يُصَلِّي فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ، وَرُفِعَتْ لِي سِدْرَةُ المُنْتَهَى، فَإِذَا نَبِقُهَا كَأَنَّهُ قِلاَلُ هَجَرَ وَوَرَقُهَا، كَأَنَّهُ آذَانُ الفُيُولِ فِي أَصْلِهَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ نَهْرَانِ بَاطِنَانِ، وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: أَمَّا البَاطِنَانِ: فَفِي الجَنَّةِ، وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ: النِّيلُ وَالفُرَاتُ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جِئْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: فُرِضَتْ عَلَيَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ بِالنَّاسِ مِنْكَ، عَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، وَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَسَلْهُ، فَرَجَعْتُ، فَسَأَلْتُهُ، فَجَعَلَهَا أَرْبَعِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ، ثُمَّ ثَلاَثِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عِشْرِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عَشْرًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مِثْلَهُ، فَجَعَلَهَا خَمْسًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: جَعَلَهَا خَمْسًا، فَقَالَ مِثْلَهُ، قُلْتُ: سَلَّمْتُ بِخَيْرٍ، فَنُودِيَ إِنِّي قَدْ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي، وَأَجْزِي الحَسَنَةَ عَشْرًا، وَقَالَ هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي البَيْتِ المَعْمُور

په مخکيني درس کي مو دا وويل چي د إسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چي په هغوی کي هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې دا ټول سورتونه ښيي چي لمونځ د معراج تر سفر ډېر

کلونه وړاندي فرض شوی؛ خو تاسو داسي روایات ولیدل چي وایي لمونځونه د معراج په سفر کي فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ په ډېر یقین سره ویلی شو چي د معراج له سفر مخکي هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د علق، کوثر، مدثر، مزمل، هود، طه، عنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کي د لمانځه یادونه او امر او وختونو ته ئې اشاره شوې، دا ټول له الإسراء وړاندي نازل شوي.

په لومړۍ نازل شوې سورې العلق کي داسي راغلي:

أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ۝٩ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ۝١٠ العلق: ۹-۱۰

آیا ودي لید هغه چي مخنیوی کوي؟ ۱۰- د یوه بنده چي کله لمونځ کوي.

د هود په سوره کي داسي راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ۝١١٤ هود: ۱۱٤

او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسې نږدې) د شپې ځینې برخي کي لمونځ کوه؛ یقیناً چي ښېګڼې بدي له منځه وړي، دا د پند اخیستونکو لپاره پند دئ.

د دې آیت له الفاظو داسي معلومېږي چي له (طرفي النهار) مراد د ورځي دواړه خواوي دي، له غرمې مخکي او وروسته برخي ئې، چي په دې سره د ګهیځ، ماسپښین او مازدیګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من اللیل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چي ورځي ته نږدې وي؛ چي په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې. پیغمبر علیه السلام د دغو آیتونو له دغسي ویناوو او اشارو په دې پوهېدلی چي د لمانځه اوقات کوم دي؛ قرآن کي دا راغلي چي د لمانځه ترتیب به ئې څنګه وي، الفاظ به ئې کوم وي، حرکات به ئې کوم وي، اول به کوم وي، دوهم به کوم وي او اوقات به ئې کوم وي. قران کي د دې یادونه شوې ده، پیغمبر علیه السلام له همدې

پوهېدلی چې د ورځې په پنځو لمونځو باندې مکلف دئ او اوقات ئې هم دا دا دي او دا ټول د إسراء له سورې مخکې نازل شوي دي.

یقیناً چې د امت یوه سټره ستونزه له متعارضو او متضادو روایاتو راولاړه شوې؛ د روایاتو په یوه یوه کتاب کې به د یوې قضیې په اړه داسې متعارض روایات وموميء چې یوازې یو ئې ترې غوره کولی شئ؛ دواړه هممهاله نشي منل کېدی. حتی د قرآن له صریح او څرګندو آیتونو سره متعارض روایات.

د امت یووالی دا ایجابوي چې د روایاتو کتابونه تنقیح شي او له ټولو یو کتاب جوړ شي؛ او یوازې هغه روایات په کې راغونډ شي چې د صحت ټول شرطونه په کې مراعات شوي وي؛ داسې چې:

- په قرآن کې ورته شاهد وموموء؛ یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، دا ځکه چې حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ؛ الله تعالی پیغمبر علیه السلام ته هم قرآن ورکړی او هم د قرآن دقیق فهم او د هغه د بیانولو او تفسیر او تشریح ملکه او استعداد.
- روایت باید له بل روایت سره تعارض ونه لري.
- د عقل او علم خلاف خبره ئې نه وي کړې.
- راویان ئې ثقه وي، هر راوي په خپلې خوا کې دومره شاهدان ولري چې قرآن ئې د یوه مدعي د ادعاء ثابتولو لپاره ضروري ګڼي؛ لږ تر لږه دوه، درې او څلور شاهدان.
- داسې خبره ئې نه وي کړې چې په ډېرو پورې مربوطه وي او ډېرو به اورېدلې وي؛ خو راوي یوازې دئ؛ نه په خپل څنګ کې بل څوك ورسره دئ او نه شاهد لري.
- د عقل، فطرت او علم خلاف خبره ئې نه وي کړې.

- او ډېر نور هغه شرائط چې محققین ئې د یوه روایت د صحت لپاره ضروري ګڼي.

څوك چې په روایاتو کې په شفاف ذهن او صفا زړه سره تحقیق او څېړنه وکړي ورته معلومېږي چې متعارضو روایاتو په امت کې څومره خطرناکې ستونزې زېږولې دي؛ حتماً دې نتیجې ته رسېږي چې د دې ستونزو د حل یوازینۍ لار دا ده چې روایات تنقیح او د روایاتو کتابونه داسې توحید شي چې ټول امت یوازې د صحیح احادیثو یو معتبر او ټول امت ته د منلو وړ کتاب ولري؛ دا کار هغو ته ګران برېښي یا ئې عمداً ګران بولي چې مذهبي اختلافات د دوی د تغذیې پټې او دکان دئ؛ له دې ئې د رزق تر لاسه کولو ذریعه جوړه کړي؛ اختلاف راولاړول ئې هغه مأموریت دئ چې د اسلام خطرناکو دښمنانو ورسپارلې؛ که دا مفسدین او مغرضین نه وی نو دا ستونزه په آساني حل کېدی شي. زه ئې د مثال په توګه ستاسو مخې ته د حل لار ږدم: صحاح سته: بخاري، مسلم، ترمذي، ابو داؤد، نسائي او ابن ماجه؛ هم د روایاتو د شمېر له پلوه سره نږدې دي او هم د محتوی له پلوه؛ د ځینو تکراري روایات لرې دي او د ځینو نسبتاً ډېر؛ د بخاري د اصلي روایاتو شمېر د کمپیوټر د دقیقي شمېرې له مخې ۷۵٦۳ دي؛ او په التجرید الصریح للجامع الصحیح کې د بخاري غیر مکرر روایات ۲۲۰٦ دي. چې په دې توګه ۵۳۵۷ مکرر راغلي. په ډېرې تکراري روایاتو کې له اصلي روایاتو سره لږ یا ډېر توپیرونه او حتیٰ تعارضات او تضادات تر سترګو کېږي؛ اما(امام) بخاري دا تعارضات نه دي رفع کړي او دا ئې نه دي ویلي چې په کوم یوه کې ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کلام اصلي الفاظ له تغییر پرته راغلي؛ څوك چې د بخاري کتاب مخې ته کښیني ورته ګرانه ده چې دا پرېکړه وکړی شي؛ ناچار به د هر روایت په پای کې وایي: او کما قال رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نشي کولې خپلې پوښتنې او یا د بل پوښتنې ځواب کړي؛ دا پوښتنې چې د توپیرونو وجه څه ده؟ کوم یوه ته پر بل ترجیح ورکړو؟ د ترجیح دلیل به ئې څه وي؟

که نن مخلص، صادق او بې تعصب محققین دا تکراري روایات له تنقیح او تصحیح وروسته او د قرآن او صحیح احادیثو په رڼا کې توحید کړي؛ نو بخاري به د اوسني حجم په پرتله درې نیم ځلي راکم شي؛ له ۷۵۰۰ به ۲۲۰۰ ته راکوز شي. همدا کار د روایاتو له نړدې ۴۳۰ کتابونو او مجلداتو سره کېدی شي؛ او له ټولو په ګډه د متفق علیه روایاتو داسي کتاب جوړېدی شي چې تر قرآن به ووړ وي. زه په بشپړ یقین سره ویلی شم چې د هغو صحیح روایاتو چې د صحت ټول شرائط په کې مراعات شوي وي؛ شمېر به ئې د قرآن د آیتونو په اندازه نه وي؛ د قرآن د آیتونو شمېر له ٦٢٣٦ تر ٦٦٦٦ پوري ښودل شوي؛ دا ځکه چې ځینو د یوه آیت دوه فقرې بېل بېل آیتونه ګڼلي او ځینو دوه پر له پسې آیتونه یو آیت ګڼلی. قرآن د احادیثو اساسي بنسټ دئ او احادیث د قرآن شرح او تفصیل؛ که په روایاتو کې د قرآن د ټولو آیتونو شرح او تفصیل راغلی وي نو د روایاتو شمېر به همدا څه باندي شپږ زره وو؛ اما د قرآن ډېرې آیتونه دومره واضح دي چې شرح او تفسیر نه ایجابوي، ځینې ئې مجمل دي چې شرح او تفصیل ئې په خپله په قرآن کې راغلي. د قرآن د هغو مجمل آیتونو شمېر ډېر لږ دئ چې بشپړ فهم او عمق ته ئې رسېدنه د عام انسانانو د فهم له مستوی لوړه ده او د یوه پیغمبر فراست او درایت ایجابوي. دغو ټولو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې د ټولو صحیح روایاتو شمېر به د بخاري د اصلي روایاتو درې برابره او د قرآن د آیتونو په اندازه وو. دې ته هم باید متوجه وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په مکي دور کې د احادیثو له لیکلو ممانعت کړی او امر ئې کړی وو چې چا د ده احادیث لیکلي وي هغه دي حذف کړي؛ له همدې کبله ګورو چې په مکي دور پوري مربوط روایات ډېر لږ دي. ډېرې روایات د مدني دور او هغه هم د وروستیو کلونو او ځوانو صحابه وو له لوري راغونډ شوي. دا هم باید په پام کې ولرو چې الله تعالی خپل کتاب داسي معرفي کړی چې د هدایت لپاره کافي دئ او هر هغه څه په تفصیل سره په کې بیان شوي چې انسان ورته ضرورت لري.

وَمَا كَانَ هَذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَى مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴿٣٧﴾ يونس ٣٧

او دا قرآن داسي نه دئ چي له الله پرته دې (څوك) په دروغو جوړ کړی شي، خو ليکن د هغه څه تصديقوونکی دئ چي ترې مخکې وو او د کتاب تفصيلي بڼه، چي هيڅ شك پکې نشته؛ د عالميانو د رب له لوري.

دلته د قرآن څو ځانګړتياوي په ګوته شوې:

- داسي دئ چي له الله تعالی پرته ئې هيڅوك د جوړولو توان نه لري؛ له هره پلوه داسي دئ چي له الله تعالی پرته ئې بل څوك پر وړاندي کولو قادر نه دئ.
- د مخکينيو الهي کتابونو تصديقوونکی دئ، که څوك تر دې د مخه په کوم بل الهي کتاب ايمان لري، نو دا قرآن به داسي وومي چي د هغه کتاب د هر اساسي مطلب او هري مهمي خبري تصديق کوي، همغه څه وايي چي هغو کتابونو ويلي.
- د الهي کتاب تفصيلي بڼه دئ، څه چي په نورو کتابونو کې په مجمله او مختصره توګه راغلي په قرآن کې په لازيات تفصيل او وضاحت سره راغلي.
- د شك مورد په کې موندلی نه شئ، هيڅوك نه شي توانېدی په قرآن کې داسي څه په ګوته کړي چي د هغه په حقانيت کې او په دې کې چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ شك او شبهه راولاړه کړي.
- د دې کتاب هر څه په دې ګواهي ورکوي چي د عالميانو د رب له لوري لېږل شوی.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴿٥١﴾ العنكبوت: ٥١

آيا دا ورته کفايت نه کوي چې مورږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴿١١١﴾

يوسف ١١١

يقيناً چې د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانګړی پند او عبرت (پروت) دئ، دا هسې له ځانه جوړه شوې وينا نه ده، بلکې تر ځان د مخکينيو تصديق او تأييد دئ او د هر څه تفصيل او د ايمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

اوس پوښتنه کوو: معراج د مهمو مسائلو له جملې يوه موضوع ده، د بيان لپاره ئې يو روايت کافي وو؛ ټولو کتابونو بايد همدا يو روايت راوړی وی؛ نه په يوه کتاب کې مکرر او حتىٰ متعارض روايات ليدل کېدی او نه د حديث په ټولو کتابونو کې. په رواياتو کې بايد هيڅ تعارض نه تر سترګو کېدی؛ د داسې راويانو روايات مو نه موندلی چې راوي ئې د محققينو له نظره متروك او کذاب وي؛ له قرآن سره متعارض روايت مو نه وی ليدلی... اما متأسفانه مورږ له دغو ټولو ستونزو سره مخامخ يو؛ ام هاني رضي الله عنها ته منسوب روايت هم راغلی چې د متن او إسنادو د ضعف په اړه مو بحث کړی. آيا دا ټول نه ايجابوي چې امت بايد د احاديثو يو متفق عليه کتاب ولري؟ لکه چې قرآن يو دئ او په هيڅ لفظ کې ئې د امت تر منځ اختلاف نشته؛ همداسې بايد د احاديثو واحد او ټولو ته د منلو وړ کتاب ولرو؟!! يقيناً چې اسلامي امت همداسې کار ته ضرورت لري او يوازې له دې لارې کولی شو د مذهبي اختلافاتو ټغر ټول کړو.

آیا پېریان لیدل کېږي؟

د پېریانو په اړه عام ذهنیت دا دئ چې پېریان لیدل کېږي؛ د دوی په وړاندي دا خبره کول چې نه؛ پېریان نه لیدل کېږي؛ ډېره ګرانه ده او ډېر لوی جرأت او زړه غواړي؛ یقیناً چې عام خلک قانع کول ډېر ګران کار دئ، همدا ذهنیت په ټولو حاکم دئ؛ ګمان کوي چې پېریان نه یوازي لیدل کېږي؛ بلکي خلک نیسي هم. خصوصاً هغو ته خو ډېره ګرانه ده چې له همدې لارې ډېر څه تر لاسه کوي؛ سپین چرګ، سور سپرلی او اوس خو ډېر څه نور غواړي او ورته وایي: دا دا راوړه چې پېریان درنه لري کړم؛ د مداریانو او ټګمارانو قانع کول ډېر ګران دئ، ځکه چې روزي ئې په دې پورې تړلې ده، دا ئې دکان دئ، هغوی خو په څلورو کتابونو درته ثابتوي چې پېریان لیدل کېږي او خلک هم نیسي؛ په دې پسې نه ګرځي چې په دې اړه قرآن څه وایي؟ دین څه وایي او پیغمبر علیه السلام څه وایي؟ په داسي حال کې چې د پېریانو په ارتباط قرآن په صریحو الفاظو فرمایي چې انسانان نشي کولی وئې وینې؛ او د قیامت په ورځ به جن او شیطان په خپله اعتراف کوي چې موږ پر انسانانو هیڅ سلطه نه درلوده، دا دوی وو چې ځینو به ئې پېریانو ته پناه وړه او دا کار ئې د پېریانو طغیان لا زیات کړی وو؛ ما فقط ګناه ته بللي او وسوسه کړي او هغوی هم زما خبره منلې ده.

په اسلامي امت کې په دې اړه هم جدي اختلاف تر سترګو کېږي چې آیا انسان کولی شي پېریان په خپلو سترګو وګوري؟ آیا پېریان کولی شي خپل شکل او بڼه بدله کړي او د بل مخلوق په بڼه کې څرګند شي؟ راشئ وګورو چې قرآن او حدیث په دې اړه څه وایي او صحیح رأی کومه ده.

باید متوجه وو چې د الله تعالی مخلوقات د رؤیت له پلوه دوه ډوله دي: هغه چې انسان ئې لیدلی شي او هغه چې انسان ئې یا اصلاً نشي لیدلی او یا ئې په عادي او غیر مجهز سترګو نشي لیدلی. پېریان او ملائکي هغه مخلوقات دي چې انسان ئې له لیدلو عاجز دئ. انسان په خپلو عادي سترګو یوازي هغه مخلوفات لیدلی شي چې جامد وي او نور منعکس کوي؛ د انسان سترګي د لیدلو لپاره نور ته ضرورت لري؛ موږ نه نور لیدلی شو او نه حرارت، انرژي او ګازات. هغه څه ګورو چې د نور اشعه پرې لګېږي، نه په خپله د نور اشعه.

مثال ئې دا دئ: په دې هال کې موږ ګڼ شمېر مجسم شیان ګورو؛ لکه دېوالونه، انسانان، مېز، چوکۍ؛ خو د هال په فضاء کې ډېر شیان داسي شته چې موږ ئې نه ګورو؛ لکه ژوندي میکروبونه او وایرسونه، له دې بخاریو حرارت راوځي؛ موږ په خپل پوستکي سره د حرارت وجود احساسوو خو په خپلو سترګو ئې نه ګورو، له دې ګروپونو د نور وړانګي راوځي چې په مرسته ئې موږ دا ټول اجسام ګورو؛ خو په خپله د نور وړانګي نه ګورو، جاذبه او د برقي او مخابراتي وسائلو امواج او څپې نه ګورو. نو د دې معنی دا ده چې موږ نه له نور جوړ شوي شیان لیدلی شو او نه له حرارت او شعلې جوړ شوي شیان؛ فرشتې له نور پیدا شوې او پېریان د اور له بې دوده شعلې.

راشئ وګورو چې قرآن د جن د رویت په اړه موږ ته څه لارښوونې کړې؛ د الاعراف په سوره کې لولو:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۗ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧ الاعراف:۲۷

اې د آدم اولاده! پام چې شیطان تاسو ونه غولوي، همغسي لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنت وایستل، جامه ئې ترې ایستله چې بدن ئې وروښيي (بدن ئې ورته ښکاره او لوڅ کړي)، دی او قبیله ئې تاسو په داسي توګه ویني

چې تاسو ئې نشئ ليدلی، موږ شيطانان د هغو دوستان ګرځولي چې ايمان نه راوړي.

په دې مبارك آيت کې څو اساسي خبرې تر سترګو کېږي:

- انسانانو ته ويل شوي چې د شيطان وسوسو ته تسليم نشي.
- شيطان د دې باعث شو چې د انسانانو لومړني پلار مور له جنت ووځي.
- دوی لومړی له جنت ايستل شوي بيا جامه ترې ايستل شوې.
- دا جامه يو ځلي نه ده ترې ايستل شوې بلکې ورو ورو ترې ايستل شوې، د ينزع صيغه همدا مطلب افاده کوي.
- د شيطان هدف دا وو چې انسان لوڅ او بربنډ کړي، دی پوهېدو چې د دې کار پايلې انسان ته څومره خطرناکې دي، له ده سره د خپلو شيطاني منصوبو په عملي کولو کې څومره مرسته کوي، څومره فتنې پرې راولاړولی شي او د انسان د بې لاري کولو لپاره له دې څومره استفادې کولی شي!! نن په خپلو سترګو ګورو چې دا بربنډتوب د سترو سترو فتنو باعث دئ؛ همدا جامه د تفريق، يو له بل بېلولو، يو بل تحقيرولو او يو پر بل د ځان اوچت او لوړ ګڼلو باعث شوی دئ؛ ډېر پرېوتی انسان به په ښکلو جامو کي ځان پټ کړی وي او خلک به پرې غولېږي؛ ډېر شريف انسان به په زړو او ارزانه جامو کي سپک ګڼل کېږي، څومره ظلمونه د پوليس او اردو په برګو جامو کي کېږي؟! څومره د دين په جامه کي دين پلوري او خلک پرې غولوي؟! د شيطان لپاره دا ډېره اغېزمنه وسيله وه چې آدم او اولاد ئې بربنډ کړي.
- هغه مو داسي خطرناك دښمن دئ چې په هر ګام کې ئې تاسو ته کمين نيولی، تاسو ئې نه ګورئ او هغه مو وينې.
- هغه له شيطان سره دوستي کوي او د وسوسو تر اغېز لاندي ئې ځي چې ايمان نه لري، مؤمنان له شيطان سره دوستي نه پالي او نه غواړي د وسوسو تر اغېز لاندي ئې راشي.

د دې آیت له دغې فِقرې (إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ): دی او قبیله ئې تاسو په داسې توګه ویني چې تاسو ئې نشئ لیدلی) په واضح توګه څرګنده ده چې انسانان نشي کولی شیطان او د ده قبیله په خپلو سترګو وګوري، د محققو علماءو تعبیر او رأی همدا ده. دوی هغه آراء او روایات ضعیف او بې اعتباره ګڼي چې وایي شیطان لیدل کېدی شي. د دې آیت الفاظ هومره صریح او واضح دي چې نه شک ته کوم مجال پرېږدي او نه کومي توجیه ته. په قاطع او پرېکنده توګه وایي چې تاسو شیطان او د ده قبیله نشئ لیدی.

د الجن په سوره کې لولو:

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۝١ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ۝٢ الجن: ۱-۲

ووایه: راته وحي شوې چې د پېریانو یوه ډله ورته غوږ شول او وئې ویل: بې شکه چې مورږ عجیب قرآن واورېدو؛ د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ایمان مو پرې راوړ او هیڅکله به څوک له خپل رب سره شریك نه کړو.

په دې آیتونو کې څو ظریف ټکي زمورږ توجه جلبوي:

- د وحي له لارې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې د پېریانو یوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ ایښی او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلې چې نورو ته ئې ویلي: عجیب قرآن مو واوریدو، د کمال لوري ته لارښود، ایمان مو پرې راوړ او دا پرېکړه مو وکړه چې له دې وروسته به هیڅکله د شرك مرتکب نه شو او د الله تعالی په څنګ کې به د بل چا او بل څه عبادت ونکړو.
- پیغمبر علیه السلام دا ډله نه ده لیدلې او د دې سورې تر نازلېدو پورې له دې خبر هم نه وو چې دوی قرآن اورېدلی او غبرګون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وینا کړې. له ټول جریان د دې سورې په رڼا کې پوه شو.

دا آيتونه هم په دغي خبري شهادت ورکوي چي پېريان نه ليدل کېږي؛ او د احقاف د سورې دا آيت هم چي فرمايي:

وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ الاحقاف: ۲۹

او هغه وخت چي د پېريانو يوه ډله مو ستا لوري ته راوګرځوله چي قرآن ته غوږ شي چي کله ورته حاضر شول وئې ويل: خاموش شئ، نو کله چي پای ته ورسېدو، خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، خبرداری ورکوونکي.

دا او مخکینی آيت د دوو مکي سورتونو؛ الجن او الاحقاف؛ آيتونه دي او ښيي چي دا پېښه په مکه کې واقع شوې، دواړه په ډېر صراحت سره وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په تلاوت لګيا وو؛ د پېريانو يوه ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلی، إيمان ئې راوړی؛ خپل قوم ته ستانه شوي؛ پرته له دې چي پيغمبر عليه السلام پرې پوه شوی وي. د دې تفصيل د پلوشې تفسير د الجن او الاحقاف سورتونو په تفسير کې وګورئ. هلته به څو خبري درته جوته شي: ۱- دا پېښه هغه مهال شوې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له طائف د خلکو له ډېر بد سلوک وروسته مکې ته د راستنېدو په لار کې څه وخت د النخله سيمي کې پاته شوی، همدلته د ګهيځ لمانځه مهال د پېريانو يوې ډلې د ده تلاوت اورېدلی او ايمان ئې راوړی؛ ۲- دغه ډله داسي وه چي هم د قرآن په ژبه پوهېدل او هم د تورات او انجيل په ژبه، ځکه هغوی ويلي چي دا قرآن هغه کتاب دئ چي له موسی عليه السلام وروسته نازل شوی او د مخکينيو کتابونو تصديق کوي. يعني چي جنيات د انسانانو په ژبه پوهېږي. ۳- له دغو آيتونو معلومېږي چي دواړه يوې پېښې ته اشاره کوي؛ لومړی د جن سوره نازله شوې او له دې پېښې ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم خبر کړی او بيا د الاحقاف په سوره کې په دې توګه پېښې ته اشاره شوې: (وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ). له دې معلومېږي هغه آراء

صحيح نه دي چې دا دوه ښځې ښځې پښې ګڼي. دا آيت د الجن سورې د آيت شرح او تفصيل زمونږ مخې ته ږدي؛ د آيت په سر کې له (وَإِذْ) همدا معلومښږي؛ ځکه په (إذ) سره مخکيني وخت او پښې ته اشاره کوي او ښيي چې دواړه آيتونه د يوې پښې اړوند آيتونه دي.

د قرآن دغه درې څرګند او مُحکم آيتونه په ډېر وضاحت سره وايي چې نه مونږ پېريان ليدلی شو او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ليدلي.

څوک چې پر قرآن ايمان لري نو هغه ته په کار ده چې که د نړۍ ټول خلك راغونډ شي او د قرآن د دغو صريحو آيتونو خلاف خبره وکړي؛ نو هغه به نه د قرآن د وينا په اړه شك کوي او نه به د خلکو خبرو ته څه اهميت ورکوي. مونږ په خپل رب باور لرو او پر هغه کتاب هم چې زمونږ د لارښوونې لپاره ئې رالېږلی دئ، حق او باطل؛ رښتيا او دروغ؛ د همدې کتاب په رڼا کې پېژنو، همدې کتاب مونږ ته ويلي چې څه يو، څنګه پيدا شوي يو او د څه لپاره پيدا شوي يو، دا عالَم ئې مونږ ته معرفي کړی دئ، مونږ خپل رب د دغه کتاب په رڼا کې پېژندلی؛ نو زمونږ لپاره وروستۍ خبره د قران خبره ده.

دې ته مو هم پام وي چې قرآن پېرۍ د (جن) په نامه ياد کړی؛ جن هغه څه ته ويل کېږي چې د انسان له سترګو پټ او نامرئي وي او نه ليدل کېږي، طبري ليکي: (هر هغه څه چې د خلکو له سترګو پټ وي نو عرب د هغه په اړه وايي: "قد جَنّ: پټ شو"؛ او جن (پېرۍ) له همدې اخيستل شوی؛ د دې لپاره چې د انسانانو له سترګو پټ شوي او نه ليدل کېږي: وكل ما توارى عن أبصار الناس، فإن العرب تقول فيه:"قد جَنّ"، و"الجن" من ذلك لأنهم استجنُّوا عن أعين بني آدم فلا يُرون:

قرآن د جن لفظ د تيارې لپاره کارولی هلته چې فرمايي:

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَى كَوْكَبًا قَالَ هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لا أُحِبُّ الآفِلِينَ ﴿٧٦﴾ الأنعام ٧٦

نو کله چې د شپې تياره پرې راغله او ستورى ئې ولېد؛ وئې ويل: دا مې رب دئ؟، خو کله چې پرېوت؛ وئې ويل: پرېوتونکې نه خوښوم.

همدا راز قرآن فرمايي چې انسان له خاورې پيدا شوى او پيريان د اور له بې دوده شعلې. بې دوده شعله يعني گاز يا حرارت؛ يا د ساينس په ژبه انرژي. دا ټول د انسان لپاره غير مرئي شيان دي؛ يعني د پيريانو د خلقت اصلي ماده داسي څه ده چې انسان ته غير مرئي ده. لکه چې تاسو په هال کې د اور حرارت احساسوئ خو خپله حرارتي انرژي نه گورئ. قرآن فرمايي:

﴿خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ﴾ ﴿وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ﴾

الرحمن: ١٤-١٥

انسان ئې له داسي کړنگېدونکې خټې پيدا کړ چې د کودړي په شاني وه؛ او دا پيريان ئې د اور له سرو لمبو پيدا کړي.

له خاورو پيدا شوي شيان داسي جسم لري چې انسان ته مرئي (د ليدو وړ) وي؛ خو له اور پيدا شوى که څه هم ماده وي؛ خو انسان ته د رؤيت قابل نه وي. دا ټول آيتونه ښيي چې انسان نشي کولى پيريان وگوري.

اما راشئ وگورو چې د همدې پېښې په اړه روايات څه وايي؟

څو روايتونه زمورږ مخي ته راځي: يو ئې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته منسوب دئ او دوه ئې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته، د دغو دواړو جليل القدر صحابه وو د رواياتو تر منځ تعارض دئ، يو ئې د نه ليدو او بل ئې د ليدو خبره کوي؛ او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب روايتونه هم په خپلو کې تعارض لري، په يوه کې داسي راغلي چې مورږ يوه شپه پيغمبر عليه السلام ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پيدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، ټولې درې او ناوونه مو پسي ولټول؛ فَالْتَمَسْنَاهُ فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ؛ سهار هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرې تللى وې، هغه وفرمايل چې د پيريانو يوې ډلې ته مي قرآن اوراوو. په بل کې راغلي چې

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: زه ئې په يوه ځای کې ودروﻡ او راته وئې ويل چې له دې ځای مه خوځېږه او هغه لاړ او د پېريانو يوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. که څه هم ځينو د دې تعارض په اړه څه توجيهات کړي؛ خو په ډېر تکلف سره. د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه روايات او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ټول د يوې پېښې په اړه دي، خو دا دئ ګورئ چې تر منځ ئې څومره ژور تعارض او تضاد تر سترګو کېږي!! څوك چې وايي د عبدالله بن مسعود روايات د دوو بېلو بېلو پېښو په اړه دي هغوی د تعارض رفع کولو لپاره دا خبره کوي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب روايات دا دي:

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: قُلْتُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ: مَنْ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْجِنِّ، قَالَ: مَا كَانَ مَعَهُ أَحَدٌ مِنَّا غَيْرَ أَنَّا، فَقَدْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ اللَّيْلَةِ فَالْتَمَسْنَاهُ فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ فَقُلْنَا: اسْتُطِيرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبِتْنَا بِشَرِّ لَيْلَةٍ بَاتَ بِهَا قَوْمٌ، فَلَمَّا أَصْبَحْنَا طَلَعَ عَلَيْنَا مِنْ قِبَلِ حِرَاءَ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، بِتْنَا لَيْلَةً لَمْ نَبُتْ مِثْلَهَا، قَالَ: " إِنَّ دَاعِيَةَ الْجِنِّ ـ أَحْسَبُهُ ـ قَالَ: جَاءُوا فَذَهَبْتُ أُقْرِئُهُمُ الْقُرْآنَ "، فَذَهَبَ بِنَا فَأَرَانَا نِيرَانَهُمْ فَسَأَلُوهُ الزَّادَ، فَقَالَ: " كُلُّ عَظْمٍ ـ أَحْسَبُهُ ـ قَالَ: لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ يَقَعُ فِي أَيْدِيكُمْ " مسند البزار

له علقمه روايت چې وايي: له ابن مسعود مي وپوښتل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د جن په شپه څوك حاضر وو؟ په موږ کې له ما پرته هيڅوك له ده سره نه وو؛ په دغه شپه مو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورك کړ؛ ټول خوږونه او درې مو پسې ولټولې؛ ومو ويل: رسول الله صلى الله

علیه و سلم ځورول شوی؛ نو داسي بده شپه مو تېره کړه چې یو قوم ئې تر ټولو بد حالت کې تېروي؛ کله چې سبا راپاڅېدو د حراء له لوري راڅرګند شو؛ نو ومو ویل: یا رسول الله! داسي سخته شپه مو تېره کړې چې هیڅکله مو د دې په شان بده شپه نه ده تېره کړې؛ وئې فرمایل: د پېریانو یوه بلونکې ډله راغله؛ راوي وایي: ګمان کوم چې همداسي ئې وویل: نو ولاړم چې قرآن ورته ووایم؛ نو مورِ ئې له ځان سره بېولو او د دوی د اور پاته شوني ئې راوښودل؛ نو هغوی د توښې غوښتنه تري وکړه؛ نو ورته وئې ویل: هر هډوکی (ګمان کوم همداسي ئې وویل) چې د الله نوم پرې یاد نشي ستاسو لاس کې به پربوځي.

په همدې مُسند کې همدا روایت په دغې شمېرې (١٥٩٤) مکرر راغلی.

دا روایتونه چې متن او إسناد ئې سره ورته دي له همدې یوه مُسند پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دي راغلي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب بل او د پورتني مغاير روایت دا دئ:

عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنه قال: لم يحضره ليلة الجنّ أحد غيرى، فانطلقنا حتى إذا كنا بأعلى مكة فى شعب الحجون (د حجون غره وادى) فَخَطَّ لِي خَطًّا وَقَالَ: لاَ تخرج منه حتى أعود إليك، ثم افتتح القرآن وسمعت لغطا شديدا حتى خفت على رسول الله صلى الله عليه وسلم، وغشيته أسودة كثيرة حالت بينى وبينه حتى ما أسمع صوته ثم انقطعوا كقطع السحاب فقال لى رسول الله صلى الله عليه وسلم: هل رأيت شيئا؟ قلت: نعم رجالا سودا مستثفرى ثياب بيض «١»، فقال: أولئك جنّ نُصَيبين» «٢» وكانوا اثنى عشر ألفا، والسورة التى قرأها عليهم اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ...

له عبد الله بن مسعود روايت دئ چي وئې ويل: د جن په شپه له ما پرته بل هيڅوك له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره حاضر نه وو؛ نو وخوځېدو تر هغه چي د مکې برنې برخي د حجون وادي کې وو؛ نو ما ته ئې يوه کرښه وايستله او راته وئې فرمايل: تر هغه له دې مه وځه چي زه درته راشم؛ بيا ئې قرآن پيل کړ؛ او شديد شور او غوږ مي واورېدو؛ دومره چي پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ووېرېدم؛ او ډېرو تورو شيانو وپوښلو، داسي چي زما او ده تر منځ حائل شول؛ تر هغه چي د ده ږغ مي نه اورېدو؛ بيا ترې داسي خواره شول لکه د وريځو په څېر؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وويل: آيا څه دي وليدل؟ ومي ويل: هو؛ تور سړي چي سپين لونګونه ئې د ورنونو تر منځ راغوند کړي او تر ملا پوري ئې ترلي وو؛ نو وئې فرمايل: دوی د نُصَيبين پېريان ول. ابن مسعود وايي چي شمېر ئې دولس زره وو او هغه سوره چي دوی ته ئې لوستلې د اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الذی خلق سوره وه.

د دې روايت په اړه ملاحظات دا دي:

- د ابن مسعود له مخکينيو رواياتو سره بشپړ تعارض لري؛ هغه وايي: موږ په دغه شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم ورك کړی وو او له اندېښنو ډکه سخته شپه راباندي تېره شوې؛ ټول خوږونه او درې مو پسي ولټولې؛ دا هم يوه مبالغه ده؛ د مکې ټولې درې په ډېرو ورځو او شپو کې هم څوك نشي لټولی) سبا رسول الله صلى الله عليه و سلم راغی او موږ ته ئې وويل: د پېريانو يو بلونکی راغی او ورغلم چي دوی ته قرآن واوروم. او دا روايت وايي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ولاړم؛ ما ته ئې کرښه وايستله چي ترې ونه وځم او پېريان مي د تور رنګو سړو په بڼې کې ولېدل.
- قرآن وايي چي د پېريانو د ټولې شمېر د دريو او لسو تر منځ وو؛ د (نفراً) صيغه ئې ورته کارولې چي همدومره شمېر ته وايي. خو دا روايت ئې شمېر دولس زره ښيي!!

- دا روايت وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ... يعني د العلق سوره وراورولې؛ خو د الاحقاف او الجن له سورې په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې د پېريانو دغې ډلې د قرآن دومره برخه اورېدلې چې دوی د دې الهي کتاب په ډېرو مهمو لارښوونو پوه شوي؛ د دغو مطالبو خلاصه د الجن په سوره کې په تفصيل سره راغلې؛ په ضمن کې ئې پر دې هم پوه شوي چې دا قرآن د مخکينيو کتابونو تصديقوونکی دئ؛ او دا مطالب د العلق په سوره کې نه مومو.

بل روايت وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم صحابه وو ته وويل: ما ته امر شوی چې پېريانو ته قرآن واوروم؛ که څوک راسره ځي نو تيار دي شي؛ يوازي عبد الله بن مسعود تيار شوی؛ او بيا د کرښې ايستلو خبره کوي او حتىٰ وايي: کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ښېرته د ده خوا ته ستون شوی نو عبد الله بن مسعود ورته ويلي: ته وځنډېدې؛ غوښتل مي له کرښې ووځم؛ خو ستا امر ته په پام سره ښېرته تم شوم؛ او گواکې پيغمبر عليه السلام ورته ويلي: که وتلی وی نو تر قيامت پورې به دي بيا له ما سره نه وو ليدلې!!

الدار قطني بيا د دې روياتو په اړه داسې وايي:

٢٤٦ - حدثنا ابْنُ مَنِيعٍ، حدثنا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ، حدثنا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي عُبَيْدَةَ: حَضَرَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ لَيْلَةَ الْجِنِّ؟ قَالَ: «لَا» سنن الدار قطنی

له عمر بن مُرَّه روايت دئ چې ابو عبيده ته مې وويل: آيا عبد الله بن مسعود د جن په شپه کې حاضر وو؟ وئې ويل: نه؛ حاضر نه وو.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهماما ته منسوب روايت بيا د عبد الله بن مسعود روياتو خلاف وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم نه پېريانو ته قرآن اورولی او نه ئې هغوی ليدلي:

١٤٩ - حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَمَا رَآهُمُ انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ. وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ. فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ إِلَى قَوْمِهِمْ فَقَالُوا: مَا لَكُمْ. قَالُوا: حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ. قَالُوا: مَا ذَاكَ إِلَّا مِنْ شَيْءٍ حَدَثَ. فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا. فَانْظُرُوا مَا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَانْطَلَقُوا يَضْرِبُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا. فَمَرَّ النَّفَرُ الَّذِينَ أَخَذُوا نَحْوَ تِهَامَةَ - وَهُوَ بِنَخْلٍ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ صَلَاةَ الْفَجْرِ - فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ اسْتَمَعُوا لَهُ. وَقَالُوا: هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَرَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ. فَقَالُوا: يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا. فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ» مسلم

بيهقي هم دغه روايت راوړى:

٣١١١ - أخبرَنا أبو عبدِ اللهِ الحافظُ، حدَّثَنا أبو عبدِ اللهِ محمدُ بنُ يَعقوبَ، حدَّثَنا يَحيَى بنُ محمدِ بنِ يَحيَى، حدَّثَنا مُسَدَّدٌ، حدَّثَنا أبو عَوانَةَ، عن أبي بشرٍ، عن سعيدِ بنِ جُبَيرٍ، عن ابنِ عباسٍ قال: ما قرأَ رسولُ اللهِ -صلى اللَّه عليه وسلم- على الجِنِّ ولا رآهُم، انطَلَقَ رسولُ اللهِ -صلى اللَّه عليه وسلم- فى طائفَةٍ

مِن أصحابِه عامِدينَ إلى سُوقِ عُكاظٍ، وقَد حيلَ بَينَ الشَّياطينِ وبَينَ خَبَرِ السَّماءِ، وأُرسِلَت عَلَيهِمُ الشُّهُبُ، فرَجَعَتِ الشَّياطينُ إلى قَومِهِم، فقالوا: ما لَكُم؟ قالوا: قد حيلَ بَينَنا وبَينَ خَبَرِ السماء، وأُرسِلَت عَلَينا الشُّهُبُ. قالوا: ما حالَ بَينَكُم وبَينَ خَبَرِ السَّماءِ إلا شَيءٌ حَدَثَ، فاضرِبوا مَشارِقَ الأرضِ ومَغارِبَها، وانظُروا ما هذا الذى حالَ بَينَكُم وبَينَ خَبَرِ السَّماءِ. فانصرَفَ أولَئكَ الَّذينَ تَوَجَّهوا نَحوَ تِهامَةَ إلى النبيّ -صلى الله عليه وسلم- وهو بنَخلَةَ عامِدينَ إلى سوقِ عُكاظٍ، وهو يُصلّي بأَصحابِه صَلاةَ الفَجرِ، فلَمّا سَمِعوا القُرآنَ استَمَعوا له وقالوا: واللهِ هذا الذى حالَ بَينَكُم وبَينَ خَبَرِ السَّماءِ. فهُنالِكَ حينَ رَجَعوا إلى قَومِهِم قالوا: يا قَومَنا إنا سَمِعنا قُرآنًا عَجَبًا يَهْدِى إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبّنَا أَحَدًا. فأَنزَلَ اللَّهُ عَزَّ وجَلَّ على نَبيّه -صلى الله عليه وسلم-: {قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ} [الجن: ١]. وإِنّما أوحِىَ إلَيه قَولُ الجِنّ (١). رواه البخارىُّ فى "الصحيح" عن مُسَدَّدٍ، ورواه مسلمٌ عن شَيبانَ بنِ فرّوخَ عن أبى عَوانَةَ. السنن الكبرى للبيهقى

ترجمه ئې دا ده:

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهماما روايت دئ چي وايي: نه رسول الله صلى الله عليه و سلم پېريانو ته قرآن اورولى او نه ئې پېريان ليدلي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د صحابه وو له يوې ډلې سره د عكاظ بازار لوري ته د تلو په اراده وخوځېدل؛ په داسي حال كې چې د پېريانو او د آسمان له حال د خبرېدو مخه نيول شوې وه؛ او شهابونه پرې رالېږل شوي وو؛ نو شياطين خپل قوم ته ستانه شول او وئې ويل: څه درباندي شوي؟ وئې ويل: يقيناً چې زمونږ او د آسماني خبرو تر منځ حائل رامنځته شوى او شهابونه راباندي لېږل شوي؛

وئې ويل: ستاسو او د آسماني خبرو تر منځ به حتماً داسي څه حائل شوي وي چې اوس رامنځته شوي؛ نو همدا وخوځېده چې تهامه (د حجاز هغه اواره چې د ساحل په اوږدو کې پرته ده) لوري او هغه ځای ته مخه کړه؛ چې نبي عليه السلام د کجورو ونو کې وو؛ د عکاظ بازار ته د تګ قصد ئې کړی وو؛ او خپلو صحابه وو ته ئې د فجر لمانځه امامت کولو؛ کله چې پېريانو قرآن واوريدو ورته غوږ شول او وئې ويل: پر الله قسم چې همدا هغه څه دي چې ستاسو او د آسماني خبرو تر منځ حائل او مانع شوي. نو هملته کله چې د خپل قوم لوري ته ستانه شول وئې ويل: اې زموږ قومه! موږ عجيب قرآن واوريدو؛ د رشد لوري ته لارښوونه کوي؛ نو ايمان مو پرې راوړ او هيڅوک به له خپل رب سره شريك نه کړو. نو الله تعالى پر خپل نبي دا آيت نازل کړ: {قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ...} [الجن: ١]. او خبره دا ده چې ده ته د جنياتو وينا په وحي سره بيان شوې.

بخاري هم دا روايت راوړی خو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د وينا دا برخه ئې نه ده راوړې چې وايي: مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَمَا رَآهُمْ: نه رسول الله صلى الله عليه و سلم پېريانو ته قرآن اورولى او نه ئې پېريان ليدلي!

د بخاري روايت دا دئ:

١٩٩٤ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ، وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ، فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ فَقَالُوا: مَا لَكُمْ؟ فَقَالُوا: حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ. قَالَ: مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ إِلاَّ مَا [وفى روايةٍ: شىءٌ] حَدَثَ، فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا، فَانْظُرُوا مَا هَذَا الأَمْرُ الَّذِى حَدَثَ؟ فَانْطَلَقُوا، فَضَرَبُوا

مَشَارِقَ الأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا يَنْظُرُونَ مَا هَذَا الأَمْرُ الَّذِى حَالَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ؟ قَالَ: فَانْطَلَقَ [أولئك] الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم [وهُو] بِنَخْلَةَ، وَهْوَ عَامِدٌ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ، وَهْوَ يُصَلِّى بِأَصْحَابِهِ صَلاَةَ الْفَجْرِ، فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ تَسَمَّعُوا لَهُ، فَقَالُوا: هَذَا الَّذِى حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، فَهُنَالِكَ [حينَ] رَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ، فَقَالُوا: يَا قَوْمَنَا {إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا. يَهْدِى إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا}، وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ - صلى الله عليه وسلم: {قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ}، وَإِنَّمَا أُوحِىَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ (ﷺ). صحيح البخارى

بخاري دا روايت مكرر په دغو شمېرو راوړى: ٧٧٣، ٤٩٢١، ١٩٩٤

ماوردي د پېريانو د دې ډلې د شمېر او سيمې په اړه مختلف آراء داسي خلاصه کړي او وايي:

څلور ويناوي دا دي: ١- د ابن عباس قول چې وايي دوی د نصيبين ول؛ ٢- د قتاده قول چې وايي دوی د نينوی ول؛ ٣- د عکرمه خبره چې وايي دوی د موصل ول؛ د مجاهد وينا چې وايي دوی د نجران ول. د شمېر په اړه ئې درې ويناوي دي: ١- د ابن مسعود وينا چې وايي دولس زره ول؛ ٢- د زِرُّ بنُ حُبَيْشٍ قول چې وايي نه تنه ول؛ ٣- د مجاهد وينا چې وايي: اوه تنه ول. په دې اړه هم اختلاف دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د پېريانو پر راتګ او د قرآن اورېدو پوه شوی که نه؛ دوه قولونه دي: ١- دا چې پېريان ئې نه ليدلي او نه ئې قرآن مخامخ وراورولی؛ د وحي له نزول وروسته پرې پوه شوی؛ ٢- او دا چې پېريان ئې ليدلي او قرآن ئې وراورولی.

که د قرآن په رڼا کې د دغو متعارضو آراءو په اړه قضاوت وکړو نو په بشپړ ډاډ او قاطع توګه دا پرېکړه کولی شو چې: ١- قرآن ئې شمېر نه دئ ښودلی

خو تري معلومېږي چي تر لس زيات نه وو؛ ۲- سيمه ئې قرآن نه ده ښودلی؛ او ښودل ئې نه کومه ګټه لري او نه ضروري دي. ۳- رسول الله صلی الله علیه و سلم نه پېريان ليدلي او نه ئې قرآن مخامخ وراورولی؛ د وحي له نزول وروسته پرې پوه شوی؛

عجيبه ده چي څوک عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب دوه متعارض روايات په داسي حال کې صحيح ګڼي چي له قرآن سره هم جدي او ژور تعارض لري او په خپلو کې هم، خو بل لوري ته د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا قول ضعيف بولي چي وايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَمَا رَآهُمُ. رواه مسلم و الترمذی

- له عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم نه پېريانو ته د قرآن قرائت اورولی او نه ئې دوی ليدلي. مسلم او ترمذي دا روايت راوړی.

حال دا چي دا وينا د قرآن له صريح آيت سره مطابقت لري!! د قرآن له وينا کاملاً جوته ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پېريان نه دي ليدلي؛ نه ئې په راتګ پوه شوی، نه په دې چي دوی قرآن اورېدلی او ايمان ئې راوړي؛ ډېر وروسته او د جن سورې له نزول وروسته پرې پوه شوی.

په ټول قرآن کې صريحاً يا تلويحاً داسي څه نه ګورو چي وښيي پيغمبر عليه السلام پېريان په خپلو سترګو ليدلي، يا ئې بل څوک ليدی شي، اما دا چي سليمان عليه السلام ته پېريان مسخر وو؛ بايد ووايو چي دا د سليمان عليه السلام ځانګړې معجزه وه، بل هيڅ پيغمبر ته دا معجزه نه ده ورکړی شوې، قرآن د دغي معجزې د بيان په لړ کې هم دا نه وايي چي سليمان عليه السلام يا نورو پېريان په خپلو سترګو ليدل؛ فقط دا ئې ويلي چي پېريان هغه ته مسخر ول.

څوک چي وايي پېريان کولی شي خپله بڼه او شکل بدل کړي؛ ادعاء ئې بې

بنسټه او بې دليله ده، لږ تر لږه له قرآن په دې اړه کوم دليل نشي وړاندي کولی. هيڅ مخلوق نشي کولی خپل شکل او خلقت بدل کړي، الله تعالی دا توان هيڅ مخلوق ته نه دئ ورکړی. د قرآن دا آيت په قاطع او پرېکنده توګه فرمايي چې د مخلوق فطرت او خلقت نشي بدلېدی:

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

الروم:۳۰

نو خپل مخ دي په بشپړه توګه د دين لوري ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې پيدا کړي، د الله په خلقت کې تبديلي نشي راتلی، همدا قيم دين دئ خو ډېرى خلك نه پوهېږي.

که انسان نشي کولی له ځانه پېرى او فرشته جوړ کړي، په داسي حال کې چې هغه اشرف المخلوقات دئ نو پېريان به څنګه دا کار وکړى شي، پېريان له اوره پيدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چې هغه له خاوري پيدا شوی.

هغه فرشتې چې د انسان په بڼه کې ځينو پيغمبرانو عليهم السلام ته لېږل شوې؛ يا مريمي عليها السلام ته د انسان په بڼه کې متمثل شوې، دا د دوی ذاتي کار نه وو، هره فرشته دا کار نشي کولی، همدغه خاصي فرشتې د الله تعالی په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کې لېږل شوې چې انسان يوازي د انسان په وينا او خبرې پوهېدی شي.

څوك چې وايي آدم عليه السلام ته شيطان په داسي بڼې کې ورغلی چې ليدل کېدو؛ ادعاء ئې بې بنسټه او غلطه ده؛ آدم عليه السلام ته شيطان په داسي کيفيت کې ورغلی چې نن ئې اولاد ته ورځي؛ که هغه شيطان په خپلو سترګو ليدلی وی نو نن به مونږ هم ليدلو، هغه زمونږ جد دئ، هر څه ئې داسي وو لکه زمونږ، شيطان چې څنګه د ده اولاد غولوي، ګناه ته ئې هڅوي، ګناه ورته ښايسته کوي، له ده سره ئې دې ته ورته معامله کړې، نه ئې د شيطان

څېره لیدلې او نه ئې د هغه غږ اورېدلی، هغه ئې وسوسه کړی؛ قرآن وایي: (فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ...) الأعراف ۲۰: نو شیطان دوی دواړه؛ (آدم او حواء) وسوسه کړل؛ همغسي ئې وسوسه کړي چې نن د دوی اولاد وسوسه کوي!!

تر دې وړاندي چې د جن په اړه د روایاتو مخکینۍ لړۍ ته دوام ورکړو؛ ښه به وي د جن سورې اساسي مطالب له نظره تېر کړو؛ قرآن د الجن په نامه داسي مختصره خو ډېره جامع سوره لري چې د جن د معرفې او ښه پېژندو لپاره کفایت کوي، د جن په اړه د قرآن ټول آیتونه او لارښوونې په همدې لنډې سورې کې راخلاصه شوي؛ نوم ئې الجن (پېرۍ) دئ، ۲۸ آیتونه لري، د ټولو آیتونو فواصل ئې (عجبا) او (احدا) ته ورته دي او ډېر ډېر خوندور او ښکلی وزن لري، له مکي سورتونو ده، د بحث اصلي موضوع ئې دا ده چې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم له غیب خبر دئ، نه بل انسان او نه پېریان، د کاهنانو او ټګمارو غیب ویونکو دا خبره او ادعاء بې بنسټه ده چې پېریان ئې له غیب خبروي!!

د سورې په سر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې خلکو ته ووایه: ما ته وحي شوې چې یوې ډلې پېریانو دا قرآن واورېدو، د هغه عظمت ته حیران شول، وئې ویل: عجیب قرآن مو واوریدو، د رشد او کمال په لوري بلنه ورکوي، د دې لارښود کتاب د آیتونو په رڼا کې مو خپل رب وپېژندو، الله تعالی تر دې ډېر لوړ دئ چې شریك ولري، هیڅکله به څوك له الله تعالی سره شریك نه کړو، الله تر دې ډېر لوړ دئ چې مېرمن ولري یا زوی، دا خوشې او چټې خبرې دي چې زموږ بې عقلو او ناپوهانو کولې، موږ مخکې داسي ګمان کاوو چې ښایي هیڅ انسان یا جن به هیڅکله د الله تعالی په اړه دروغ نه وایي؛ او له ځانه به دروغجني خبرې الله تعالی ته نه منسوبوي، خو اوس او د قرآن له اورېدو وروسته پوه شوو چې موږ اشتباه کړې وه، د الله تعالی په اړه ډېرې دروغجني خبرې شوې، هم انسانانو کړې او هم پېریانو، اوس پوه شوو چې مخکې ځینو انسانانو پېریانو ته پناه وړې؛ یعني انسان د

شیطان ملګرتیا کړي؛ او په دې سره ئې د هغه طغیان او بغاوت لا زیات کړی، اوس پوه شوو چې په انسانانو کې هم ځینې داسې ول چې د پېریانو په څېر ئې دا ګمان کاوو چې الله تعالی به هیڅوک ېپرته راڅوندی نه کړي او د بیا ژوندون خبره ئې نه منله؛ اوس پوه شوو چې زمونږ له ډلې ځینو پېریانو د آسمان په لوري د ختو او په اسرارو ئې د پوهېدو هڅه کړې؛ خو هغه ئې له شهاب ثاقب او مضبوطو ساتونکو او محافظانو ډک موندلې؛ اوس په دې پوهېږو چې که څوک د پورته تلو هڅه وکړي نو شهاب ثاقب به په کمین کې ومومي؛ نو ځکه مونږ نه پوهېږو چې د زمکې د اوسېدونکو لپاره د شر اراده شوې او که الله تعالی ورته د هدایت او لارښوونې اراده کړې؛ یعني چې مونږ آسماني خبرې نه اورو او له غیب خبر نه یو؛ او دا چې زمونږ ځینې صالح او ځینې ناصالح ول؛ په حقیقت کې مونږ په بېلو بېلو لارو روان وو، مخکې د دې توپېر له درك عاجز وو، ټول مو ورته او یوه ډله او سره برابر ګڼل، د شه او بد تفکیك مو نه شو کولی؛ اوس مو دا تفاوتونه درك کړل؛ اوس پوه شوو چې نه په زمکې کې د الله تعالی د نیونې او مؤاخذې مخنیوی کولی شو او نه په تېښتې سره الله تعالی له خپلې نیونې ناتوانه کولی شو؛ مونږ د دې لارښود کتاب په اورېدو سره ایمان پرې راوړ؛ او څوك چې پر خپل رب ایمان راوړي؛ نه دي له کوم تاوان او زیان وېره کوي او نه د ظلم او حق تلفي؛ او دا چې له مونږ به ځینې الله تعالی ته منقاد او تسلیم وي او ځینې سرکښ؛ څوك چې الله تعالی ته تسلیم شو د کمال او رشد لار ئې غوره کړې؛ خو سرکښان به د دوزخ د اور خس او خاشاك شي؛ څوك چې په سمه لار نېغ لاړ شي الله تعالی به ئې په پرېمانه اوبو خړوبه کړي؛ چې په دې نعمت کې ئې وآزمویي، (یعني چې د پېریانو د رزق او روزي مهمه او اساسي برخه اوبه دي؛ همداسي لکه چې د انسانانو د ژوند او پایښت مهمه ماده اوبه دي)؛ او څوك چې د الله تعالی له ذکر ډډه وکړي نو په زیاتېدونکي عذاب به ئې اخته کړي؛ او دا چې عبادت به مو یوازي د الله تعالی لپاره وي او هیڅوك به په دعاء او عبادت کې له الله

تعالی سره نه شریکوو؛ او دا چې د زمانې په اوږدو کې کله هم د الله تعالی کوم مخلص او صالح بنده د الله تعالی عبادت ته ملا تړلې؛ د حق دښمنان پرې رابرګ شوي، هغه ئې ګواښلی او محاصره کړی!!

دا د قرآن د څو آیتونو له اوږدو د پېریانو د هغې ډلې انتباهات ول چې خپل قوم ته وروګرځېدل او له حقیقت ئې خبر کړل. په لږ دقت سره مومو چې په دغو موجزو او مختصرو جملو کې د قرآن ټول اساسي مطالب بیان شوي، خپل قوم ته د دغې ډلې له وینا معلومېږي چې دوی یا د قرآن ډېره برخه اوږدلې یا داسي کومه سوره چې دا ټول اساسي مطالب په کې راغلي؛ او بیا دوی نورو ته په دغو الفاظو بیان کړي. همدا راز ویلی شو چې هغه روایت ضعیف دئ چې وایي: دوی د العلق سوره اوږدلې؛ په داسي حال کې چې د دې مطالبو یوه وړه برخه د العلق په سوره کې موندلی شو.

کوم مطالب چې د سورې په لومړۍ برخې کې له لومړي آیت تر ۱۹ پورې او د هغې ډلې د وینا په بڼه کې راغلي، همدا مطالب په دوهمې برخې کې له ۲۰ آیت د سورې تر پایه او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د لارښوونو په ضمن کې راغلي او په دې سره قریشو ته ویل شوي چې ستاسو چلن له قرآن او د قرآن له حامل سره د ډېرې حیرانتیا وړ دئ، مګر عجیبه نه ده چې په دې الهي کتاب پېریان هم ایمان راوړي او تاسو تړې انکار کوئ؟! د پېریانو یوه ډله، تر انسان ډېره ټیټه ډله، هغه چې د ابلیس په څېر تر ټولو شریر مخلوق په دوی کې راپیدا شوی، د قرآن د څو آیتونو په اوږدو سره ایمان راوړي، هغه د هدایت او کمال لوړو مدارجو ته د رسېدو لارښود ګڼي، د هغه په رڼا کې د توحید او خدای پالنې په حقیقت پوهېږي، له شرك او کفر خپله بې زاري او برائت اعلانوي، صالح او طالح سره ټبلوي، مسلم او ظالم پېژني، د هغو دروغجنو ویناوو په حقیقت پوهېږي چې انسان یا پېرۍ د الله تعالی او آخرت په اړه کړې، دې ته متوجه کېږي چې یوازې الله تعالی د عبادت وړ دئ، هر عبادت باید یوازې د ده لپاره وي، نه به بل ته د بندګۍ سر ټېټوي او نه به د

الله تر څنګ بل د عبادت او استعانت وړ ګڼي، ډېره عجيبه او د حيرانتيا وړ ده چې تاسو په داسي حال کې ايمان نه راوړئ چې دا رسول ستاسو له منځ غوره شوی او دغه قرآن چې ستاسو په ژبه نازل شوی؛ ستاسو مخي ته ږدي؛ او دا دئ کلونه کلونه کېږي چې تاسو قرآن ته بلي؛ خو تاسو نه يوازي د دغو پېريانو په څېر هم نه شوئ بلکې مخالفت ته ئې ملا تړئ!!

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه کېږي چې د خپل دعوت مخاطبينو ته ووايه:

الف: زه د خپل رب عبادت کوم او په عبادت کې ئې هيڅوك شريك نه نيسم.

ب: زه نه درته د ضرر او زيان څښتن يم او نه د رشد او هدايت؛ د دې پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، زه په غيبو نه پوهېږم که پوهېدی نو تل به مي ډېر خير ځان ته راغونډولو او هيڅکله به ضرر نه رارسېدو، نه ځان ته د خير رسولو توان لرم او نه د شر او ضرر دفع کولو، زه يوازي دا دنده په غاړه لرم چې د الله له لوري پيغام او هغه رسالتونه درورسوم چې ما ته راسپارل شوي.

ج: نه يوازي د ګټې او تاوان واکمن نه يم، بلکې له الله تعالى پرته نه بل پناه ځای لرم او نه څوك توانېدی شي چې د ده له عذاب پناه راکړي.

د: څوك چې له الله تعالى او د ده له پيغمبر سرغړاوی وکړي ځای ئې دوزخ دئ چې په هغه کې به تلپاته وي.

هـ: کله چې دا موعود عذاب وګوري نو هغه چې پر خپل زور او لښکرو مغرور وو؛ پوه به شي چې د چا مرستندوی کمزوری او شمېر ئې لږ وو.

و: زه نه پوهېږم چې دا موعوده ورځ به ژر راشي او که به زما رب د هغې تر رارسېدو کوم وخت او موده وټاکي.

ز: زما رب عالم الغيب دئ او په خپلو غيبي اسرارو هيڅوك نه خبروي؛ له هيڅوک هم فرشتې مراد دي، هم انسانان او هم پېريان؛ دغه مفهوم د قرآن

کريم په ګڼ شمېر آيتونو کي راغلی.

ح: مګر هغه پيغام وړونکي (فرشتې) چې الله تعالی ئې د خپل پيغام د انتقال لپاره غوره کوي؛ او تر مخي او شا ئې څارن او مراقب ټاکي، چې وګوري آيا د خپل رب پيغامونه ئې رسولي؟ په داسې حال کي چې د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقيق او په شمار سره شمېرلي.

ګورئ چې د سورې په پيل کي هم راغلي چې پيغمبر عليه السلام؛ نه د پېريانو هغه ډله ليدلې او نه ئې په إيمان راوړلو پوهېدلی؛ د دې سورې له نزول وروسته له پېښې خبر شو؛ او د سورې په پای کي هم راغلي چې الله تعالی عالم الغيب دئ او په خپلو غيبي اسرارو هيڅوک نه خبروي؛ او که د وحي قاصد فرشتې په لاس هم د غيب په اړه کومه لارښوونه پيغمبر ته لېږي؛ نو محافظين او څارونکي ورسره وي.

دا سوره کافي ده چې ومنو: رسول الله صلی الله عليه و سلم پېريان نه دي ليدلي، پېريان په غيب نه پوهېږي، له آسماني اسرارو نه خبرېږي، نه يوازي چا ته ګټه او تاوان نشي رسولی؛ بلکي اعتراف کوي چې مور له دې هم خبر نه يو چې الله تعالی چا ته د ګټې او تاوان په اړه څه پرېکړه کړې؛ او حتّٰی وايي: په انسانانو کي چې چا پېريانو ته پناه وړې او ملګرتيا ئې کړې نو نه يوازي څه ګټه ئې نه ده کړې بلکي د همدغو پېريانو طغيان ئې زيات کړی.

آيا ډېره عجيبه نه ده چې څوک د قرآن صريح وينا او د هغه مؤيد صحيح روايات نه مني او په اوهامو او افسانو پسې درومي او وايي: ډېرو خلکو پېريان په خپلو سترګو ليدلي؛ که ورته ووايې له دغو کسانو يو زمور مخي ته ودروه چې پوښتنه تري وکړو: پېرۍ دي کله او چېرې وليد؟ په کومي بڼې کي؟ څوک درسره وو؟ داسې څوک نشي راوستی، که احياناً څوک په خپله په دې اړه څه وايي نو وبه ګورئ چې هر يوه ئې يوازي يوازي او د بل له ملګرتيا پرته، په شپه کي، په يوه تياره ځای کي، هلته چې سترګي سم ليدل نشي کولی، د ونو تر سيوري لاندي، په يوې کنډوالې کي او د ډېران خوا ته، يا د توري پښې په

بڼه کې يا د تور سپي په شکل کې پېريان ليدلي!!! نه کوم شاهد لري او نه کوم عاقل او بالغ انسان ته قناعت ورکولی شي!! هيڅ يوه ځې دې پوښتني ته ځواب نه دئ ويلی چې: څنګه پوه شوې چې دا تور سپی، توره پشۍ او جګ سيوری پېری وو نه ستا واهمه؟ ولې يوازې په شپه او تياره کې ليدل شوي؟ که غواړي ځان وښيي نو په کار ده چې دا کار د ورځې په رڼا کې وکړي؛ نه په شپه کې او هغه هم په تياره کې او له لرې؟ ځينې بيا وايي: دا د عقل خبرې نه دي، دلته به د عقل نيلۍ نه ځغلوو، د خلکو رواياتو ته به اعتبار ورکوو!! هغوی ته وايو: موږ خپله خبره نه؛ بلکې د قرآن خبره کوو؛ که داسې نه وی نو موږ به هغه قصې هرو مرو منلې وې چې په هر کور کې د واړه او زاړه په خوله تکرارېږي، انا خپل لمسيان پرې وېروي او د شپې له لورې؛ په تياره کې له کوره بهر وتلو ته ځې نه پرېږدي او ورته وايي چې پام کوه په ايرو پل کښېنږدې چې پېريان به دي ونيسي!! هر ناآشنا درَب د پېريانو د پښو ترپا ګڼي!! خو موږ د قرآن او سنت تابع يو او همغه خبره کوو چې د صريح نص له مخې ثابته وي.

راشئ هغه روايت ته ځير شو چې په تېر درس کې يوه ورور ورته اشاره وکړه؛ روايت دا دئ:

٢٤٢٤ - حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ بِشْرٍ الْبَصْرِيُّ بِخَبَرٍ غَرِيبٍ غَرِيبٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ، -مُؤَذِّنُ مَسْجِدِ الْجَامِعِ- حَدَّثَنَا عَوْفٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ أَحْفَظَ زَكَاةَ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: دَعْنِي، فَإِنِّي مُحْتَاجٌ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعْدَ مَا صَلَّى الْغَدَاةَ: "يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ اللَّيْلَةَ -أَوْ قَالَ: الْبَارِحَةَ-؟ " قُلْتُ: يَا رَسُولَ

اللهِ! شَكَا حَاجَةً فَخَلَّيْتُهُ وَزَعَمَ أَنَّهُ لَا يَعُودُ. فَقَالَ: "أَمَا أَنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُودُ". قَالَ: فَرَصَدْتُهُ، وَعَلِمْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. قَالَ: فَجَاءَ، فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ. فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَشَكَا حَاجَةً فَخَلَّيْتُ عَنْهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ اللَّيْلَةَ -أَوِ الْبَارِحَةَ-؟ " قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! شَكَا حَاجَةً فَخَلَّيْتُهُ وَزَعَمَ أَنَّهُ لَا يَعُودُ. فَقَالَ: "أَمَا أَنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ". فَرَصَدْتُهُ وَعَلِمْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. فَجَاءَ، فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. فَقَالَ: دَعْنِي حَتَّى أُعَلِّمَكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهِنَّ -قَالَ: وَكَانُوا أَحْرَصَ شَيْءٍ عَلَى الْخَيْرِ- قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ (اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) [البقرة: ٢٥٥]، فَإِنَّهُ لَنْ يَزَالَ مَعَكَ مِنَ اللهِ حَافِظًا. وَلَا يَقْرَبُكَ الشَّيْطَانُ حَتَّى تُصْبِحَ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ: "صَدَقَكَ، وَإِنَّهُ لَكَاذِبٌ، تَدْرِي مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ، ذَاكَ الشَّيْطَانُ". صحيح ابن خزيمه

د روايت ترجمه داسي ده:

ابن خزيمه وايي: هلال بن بِشر يو ناآشنا او ډېر غريب حديث رااورولی چي له عثمان بن هيثم د جامع جومات مؤذن؛ هغه له عوف؛ هغه له محمد بن سيرين او هغه له ابو هريره رضي الله عنه روايت کړی چي ويلي ئې دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې د صدقاتو په ساتني وګمارلم، يو راتلونکی

راته راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپېرل، نو ومي نیولو او ورته ومي ویل: قسم دئ چې حتماً دي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کوم، وئې ویل: زه محتاج یم، بچیان راپه غاړه دي او سخت اړ شوی یم، (ابو هریره رضي الله عنه) وایي: نو هغه مي پرېښود، سبا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وویل: اې ابو هریره! تېره شپه ستا اسیر څه وکړل؟ وایي ورته ومي ویل: یا رسول الله! د شدید حاجت او بچیانو شکایت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، وئې فرمایل: یقیناً چې هغه درواغ درته ویلي او حتماً به بیا راشي، نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا ته په پام سره چې حتماً به بیا راشي؛ پوه شوم چې هغه به حتماً بیا راشي، نو ځارنه مې کوله، نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپېرل، نو ومي نیولو او ورته ومي ویل: قسم دئ چې حتماً دي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کوم، وئې ویل: ما پرېږده، زه محتاج یم او بچیان راپه غاړه دي بیا نه راځم، نو زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، سبا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وویل: اې ابو هریره! تېره شپه ستا اسیر څه وکړل؟ وایي ورته ومي ویل: یا رسول الله! د شدید حاجت او بچیانو شکایت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، وئې فرمایل: یقیناً چې هغه درواغ درته ویلي او حتماً به بیا راشي، نو درېیم ځل ورته په ځار کې شوم، نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپېرل، نو ومي نیولو او ورته ومي ویل: قسم دئ چې حتماً دي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کوم او دا درېیم ځل دئ چې ته د بیا نه راتلو ژمنه کوې خو بیا راځې؛ وئې ویل: ما پرېږده؛ داسي کلمات به دروښیم چې الله تعالی ګټه پرې درورسوي، ورته ومي ویل: هغه څه دي؟ وئې ویل: کله چې ځملې نو آیة الکرسي (اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آیت تر پایه لوله، چې په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالی له لوري یو ساتونکی ګمارل شوی وي او شیطان به نشي درنېږدې کېدی، نو هغه مي پرېښود، سبا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وویل: اې ابو هریره! تېره

شپه ستا اسير څه وکړل؟ ومي ويل: يا رسول الله! ژمنه ئې وکړه چې داسي کلمات به دروښيم چې الله تعالى ګټه پرې درورسوي، نو پرې مي ښود، وئې فرمايل: دا څه دي؟ ومي ويل: راته وئې ويل: کله چې ځملې نو آية الکرسي (اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آيت تر پايه لوله، چې په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالى له لوري يو ساتونکى ګمارل شوى وي او شيطان به نشي درنږدې کېدى؛ او دوى د خير په چارو کې ډېر حريص ول، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: خو هغه يقيناً رښتيا درته ويلي په داسي حال کې چې ډېر دروغجن دئ. اې ابو هريره! آيا پوهېږې په دغو دريو شپو کې له چا سره مخاطب وې؟ وئې ويل نه؛ وئې فرمايل: دا شيطان وو.

همدا روايت په بخاري کې داسي راغلى:

٢٣١١ - وَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ الهَيْثَمِ أَبُو عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَوْفٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: وَكَّلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ، فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ، وَقُلْتُ: وَاللَّهِ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ، قَالَ: فَخَلَّيْتُ عَنْهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ البَارِحَةَ»، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً، وَعِيَالًا، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُودُ»، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ، لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ سَيَعُودُ، فَرَصَدْتُهُ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ، لاَ أَعُودُ، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

«يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً، وَعِيَالًا، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ»، فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ، وَهَذَا آخِرُ ثَلاَثِ مَرَّاتٍ، أَنَّكَ تَزْعُمُ لاَ تَعُودُ، ثُمَّ تَعُودُ قَالَ: دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهَا، قُلْتُ: مَا هُوَ؟ قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ، فَاقْرَأْ آيَةَ الكُرْسِيِّ: {اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ} [البقرة: ٢٥٥]، حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ، فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلاَ يَقْرَبَنَّكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ البَارِحَةَ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللَّهُ بِهَا، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «مَا هِيَ»، قُلْتُ: قَالَ لِي: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ: {اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ} [البقرة: ٢٥٥]، وَقَالَ لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلاَ يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ - وَكَانُوا أَحْرَصَ شَيْءٍ عَلَى الخَيْرِ - فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ، تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلاَثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ»، قَالَ: لاَ، قَالَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ» بخارى

د بخاري د دې روايت راويان دا دي: عُثْمَانُ بْنُ الهَيْثَمِ أَبُو عَمْرٍو، عَوْفٌ، مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، أَبِو هُرَيْرَةَ

د عثمان په اړه الدار قطني وايي: يخطىء: خطأ کېدو.

دا روايت په بخاري کې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی:. ٣٢٧٥، ٥٠١٠، په لنډه توګه او له دې توپير سره چې په دې کې وَاللهِ لأَرْفَعَنَّكَ راغلي

او په هغوی کې یوازي لأَرْفَعَنَّكَ.

دا روایت د سند له مخې داسې دئ چې په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري او د متن له پلوه؛ په دغو برخو کې له قرآن سره تعارض لري:

- قرآن وایي چې پېریان نه لیدل کېږي او دا روایت وایي چې ابو هریره درې شپې سر په سر شیطان ولید او ټینګ ئې ونیولو!
- قرآن وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب نه پوهېدو او دا روایت وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم درې شپې سر په سر په غیاب کې لیدل چې د ابو هریره رضي الله عنه او شیطان تر منځ څه تېرېدل!
- قرآن وایي چې شیطان انسان ته یوازي د فحشاء او منکر سپارښتنه کوي او غلطو کارونو او ناسمو باورونو ته ئې هڅوي؛ خو دا روایت وایي چې شیطان ابو هریره رضي الله عنه ته د آیة الکرسي فضائل وروښودل! دا په داسې حال کې چې قرآن په ټول تأکید او د حصر په صیغه وایي چې شیطان ستاسو دښمن دئ او یوازي په دغو دریو کارونو تاسو ګماري: سوء، فحشاء او د الله په اړه هغه څه ویل چې نه پرې پوهېږئ.

إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٦٩﴾
البقره:١٦٩

یقیني خبره دا ده بله نه ده چې هغه تاسو په کرکجنو او قبیح کارونو ګماري او په دې چې د الله په اړه هغه څه وواېئ چې نه پرې پوهېږئ.

- قرآن وایي چې د پېریانو خوراك اوبه دي، (وَ أَلَّوِ استَقَمُوا عَلى الطرِيقَةِ لأَسقَيْنَهُم مَّاءً غَدَقاً * الجن: ١٦: او دا چې که (پېریان) په سمه لار استقامت وکړي نو په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو)؛ خو دا روایت وایي چې شیطان د کجورو د غلا لپاره راغلی وو!!

- عقل وايي چې غل د غلا په وخت کې ځان پټوي او دا روايت وايي چې شيطان د غلا په وخت کې خپل اصلي شکل بدل کړی وو او د انسان په بڼه کې په څرګنده توګه د ابو هريره خوا ته ورغلی وو او هغه هم د غلا لپاره!
- د دې روايت لپاره په قرآن کې هيڅ شاهد نه مومو.
- قرآن وايي الهي سنت او الهي فطرت (فطرت الله) ثابت او نه بلېدونکی دئ؛ داسې چې هيڅ مخلوق نشي کولی خپل اصلي شکل بدل کړي او د بل مخلوق بڼه غوره کړي؛ عقل همدا خبره کوي؛ خو دا روايت وايي چې شيطان ابو هريره ته د انسان په بڼې کې څرګند شوی وو!
- دا روايت وايي چې ابو هريره رضي الله عنه درې ځلي په ډېر تأکيد سره لوړه کړې وه چې شيطان به تر لاس نيولی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورولي خو هر ځل ئې خپله لوړه ماته کړې!!
- په دې روايت کې چې کومي خبرې راغلې دي دا له ځينو جدي توپيرونو سره په نورو کتابونو کې بريدة او أبو أيوب الأنصاري ته منسوب شوې دي. خو هلته ويل شوي چې دوی په ناڅاپي توګه متوجه شوي چې له خوراکي توکو څه کم شوي، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې دا خبره کړې او ګواکې هغه ورته فرمايلي چې دا کار شيطان کوي او بيا د شيطان راتلو ته مترصد پاته شوي...
- داسې روايت مي هم له نظره تېر شوی چې وايي: ابو هريره په خپله د تېرې شپې جريان رسول الله صلی الله عليه و سلم ته بيان کړی؛ نه دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه ته ويلي چې تېره شپه دي اسير څه وکړل!!

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ ډاډ او يقين سره ويلی شو چې نه انسان کولی شي پېريان وګوري او نه پېريان کولی شي خپل شکل بدل کړي.

شاوخوا پنځلس کاله وړاندي؛ د پېريانو په اړه دغه ليکنه په شهادت ورځپاڼه کي خپره شوه، يوه محترم ورور په خپل ليك کي څو ملاحظات او پوښتني رالېږلې وې چي دوی ته په ځواب کي لاندي مطلب ليکل شوي وو؛ خو تر ننه ئې ما ته ځواب رانکړ:

- ما د قرآن په دريو څرګندو او محکمو آيتونو استناد کړی چي وايي نه موږ پېريان ليدلی شو او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ليدلي؛ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم نه پېريان ليدلي او نه ئې قرآن وراورولی. پر قرآن د ايمان تقاضا دا ده چي که د نړۍ ټول خلك راغونډ شي او د قرآن د دغو صريحو آيتونو خلاف خبره وکړي نو د يوه مؤمن په توګه به د قرآن د وينا په اړه شك نه کوو او د خلکو خبرو ته به اهميت نه ورکوو.

- ما د قرآن د صريح آيت په استناد ليکلي وو چي هيڅ مخلوق نشي کولی په بل مخلوق ځان بدل کړي، الهي فطرت او د خلقت په اړه د الله تعالی سنن تغيير نه منونکي دي. دا د قرآن قاطع وينا ده، که انسان نشي کولی له ځانه پېری او فرشته جوړ کړي، په داسي حال کي چي هغه اشرف المخلوقات دئ؛ نو پېريان به څنګه دا کار وکړی شي، پېريان له اوره پيدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چي هغه له خاوري پيدا شوی. هغه فرشتې چي د انسان په بڼه کي مريمي عليها السلام او ځينو پيغمبرانو عليهم السلام ته لېږل شوې، دا د دوی ذاتي کار نه وو، هره فرشته دا کار نشي کولی، همدغه خاصي فرشتې د الله تعالی په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کي لېږل شوې چي انسان يوازي د انسان په وينا او خبري پوهېدی شي.

- په دې اړه روايات متعارض دي، تر منځ ئې شديد تعارض او حتیٰ تضاد تر سترګو کېږي، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه روايات او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ټول د يوې پېښې په اړه دي، خو تر منځ ئې

شديد تعارض دئ، څوك چي وايي د عبدالله بن مسعود روايات د دوو بېلو بېلو پېښو په اړه دي هغوی د تعارض رفع کولو لپاره دا خبره کوي.

- د ابو هريره رضي الله عنه بل روايت د همدې پېښې په اړه داسي دئ چي سحر ده په خپله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته پېښه بيان کړې او هغه ورته ويلي چي دا شيطان وو!! هغه روايت دا خبره نه کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي: اسير دي تېره شپه څه وکړل؟! دوه نور روايات چي نورو ته منسوب شوي داسي دي چي وايي له غلې څه کمېدل، پرته له دې چي کموونکی ئې ليدلی وي، پېښه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوې او ګواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چي دا کار شيطان کوي!! دا ټول روايات د سند له مخې غريب دي او په څو طبقو کې يو يو راوي لري. په داسي مهمي اعتقادي موضوع کې داسي غريب روايات منل او هغه هم په داسي حال کې چي له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري؛ ډېره عجيبه ده!! د داسي رواياتو په اړه احتياط کول د إيمان تقاضا ده؛ په تلوار سره او له تحقيق پرته ئې منل د قرآن او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لارښوونو خلاف کار دئ؛ روايت هغه مهال بايد ومنل شي چي په قرآن کې ورته شاهد ومومو او په راويانو کې ثقه شاهدان؛ نه له قرآن سره تعارض ولري، نه له نورو صحيح رواياتو سره او نه له عقل سره.

د پوښتنو په ځواب کې:

مخکينۍ درسي حلقې کې ځينو وروڼو څو سوالونه درلودل؛ د ځينو سوالونو ته په تېر درس کې ځواب وويل شو؛ نن د نورو پوښتنو په اړه تر ځواب وړاندي څو عرائض لرم:

دغو دوو رواياتو ته ځير شئ:

١٣٤٥ - حَدَّثَنَا رَوْحٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ضُمُّوا إِلَيْكُمْ فَوَاشِيَكُمْ وَأَنْفُسَكُمْ حِينَ تَجِبُ الشَّمْسُ إِلَى أَنْ

تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَخْرُجُ مِنْ ذَلِكَ الْحِينِ، وَغَلِّقُوا أَبْوَابَكُمْ، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ، فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ (مشتعل کوی) عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ، وَلَوْ أَنْ يَعْرِضَ أَحَدُكُمْ عَلَى إِنَائِهِ بِعُودٍ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا، وَلَا يَكْشِفُ غِطَاءً» المعجم الاوسط للطبرانی

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: خپل څاروي او په خپله او ماشومان مو خپلي خوا ته هغه مهال راغونډ کړئ چې لمر تت شي تر هغه چې د ماخستن تياره ختمه شي؛ ځکه شياطين همدغه مهال راوځي؛ خپلي دروازې وتړئ، خپل څراغونه مړه کړئ، ځکه دا کوچني فاسقان د خلکو کورونه پرې مشتعل کوي (اور وراچوي)، د لوښو سرونه مو وپوښئ، که څه هم ستاسو کوم يو خپل لوښی د لرګي په تختې وپوښي، ځکه شيطان نه کوم ور پرانيستی شي او نه کوم پوښلی لوښی؛ او نه د هغې رسۍ غوټه چې د بورۍ يا مشك خوله پرې تړي)

بل روايت دا دئ:

٦٥٧٥ - حَدَّثَنَا جُبَارَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ النَّهْشَلِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ خَلْقًا يَبُثُّهُمْ تَحْتَ اللَّيْلِ كَيْفَ شَاءَ، فَأَوْكُوا السِّقَاءَ، وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ، وَغَطُّوا الْإِنَاءَ، فَإِنَّهُ لَا يَفْتَحُ بَابًا، وَلَا يَكْشِفُ غِطَاءً، وَلَا يَحُلُّ وِكَاءً» مسند ابی يعلى

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چې الله تعالى داسي مخلوق لري چې د شپې له لوري ئې څنګه چې غواړي خواره کړي، نو د اوبو مشکونو سرونه مو وتړئ، دروازې بندي کړئ، لوښي مو وپوښئ، ځکه هغه نه کوم ور پرانيستی شي او نه کوم پوښلی لوښی لوڅوی

شي؛ او نه د هغي رسۍ غوټه خلاصولی شي چې د بورۍ يا مشك خوله پرې تړلې وي)

له دې روایاتو معلومېږي چې پېریان حتیٰ دومره عادي او آسان کارونه هم نشي کولی.

نو بیا دې خبري ته څه ځواب لرو چې پېریان سلیمان علیه السلام ته تابع ول او د نورو سختو کارونو په شمول ئې داسي کار هم وکولی شو چې د سترګو په رپ کې د سبا ملکې تخت حاضر کړي؟

مختصر ځواب ئې دا دئ: دا د سلیمان علیه السلام معجزه وه او الله تعالی همغې ډلې پېریانو ته دا وس او توان ورکړی وو؛ هر پېری هغه کارونه نه شي کولی؛ د دغو روایاتو او د قرآن د هغه آیت تطبیق فقط همدا کېدی شي؛ په دې سره نه له آیت انکار ته اړ کېږو او نه له دغو روایتونو انکار ته. تفصیل ئې وروسته راغلی.

په تېر درس کې دوو وروڼو د الانفال سورې یوه آیت ته اشاره وکړه چې وایي: شیطان قریشو ته د بدر جنګ کې ویلي وو زه درسره یم؛ نو هیڅوك به درباندي غالب نشي؛ او ګواکې دا سبیي شیطان ورته مجسم شوی؛ راشئ وګورو چې د دې آیت تفسیر څنګه دئ؛ آیت دا دئ:

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَاللهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَكُمْ فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِنْكُمْ إِنِّي أَرَى مَا لا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾ الأنفال: ٤٧- ٤٨

او د هغو په څېر مه کېږئ چې له خپلو کورونو په کبر او خلکو ته د ځان

ښودني لپاره راووتل؛ او د الله له لاري مخنيوی کوي، په داسي حال کي چي الله په هغه څه چي دوی ئې کوي محيط دئ. هغه مهال چي شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل او وئې ويل: نن په خلکو کي هيڅ غالبېدونکی (دښمن) نه لرئ، په داسي حال کي چي زه مو ګاونډی (ملګری) يم، خو کله چي دواړو ډلو سره وليدل په خپلو پوندو واوښت او وئې ويل: زه له تاسو بې زار يم، زه هغه څه ګورم چي تاسو ئې نه ګورئ، زه له خدای وېرېږم؛ او الله خو شديدالعقاب دئ.

په دې مبارکو آيتونو کي د الله د لاري مجاهدين له هغو خصلتونو منع شوي چي تل د کافرانو په مغرورو ځواکونو کي تر سترګو کېږي او هغه دا چي:

- د هغو جګړمارو په څېر مه کېږي چي په کبر، غرور او مستۍ سره د جنګ ميدان ته درومي.
- خلکو ته خپل زور او ځواك ښيي.
- د الله له دين او د ده له ديندارو بندګانو سره د جنګ لپاره ملا تړي او موخه ئې دا چي خلك د الله په لار له تلو منع کړي.
- شيطان خپل بد عملونه ورته ښايسته کړي او دا دروغجنه ډاډېينه ئې ورکړې چي نن او زما د ملګرتيا په صورت کي هيڅوك ستاسو د مقابلې توان نه لري، په ټولو خلکو کي داسي ځواك نشته چي پر تاسو غالب شي.
- خو کله چي نښته پيل شي، شيطان ئې يوازي پرېږدي، د جګړې له ميدان تر شا شي، دا تر شا کېدا توجيه کوي، دلائل ورته تراشي، کله وايي: زه هغه څه ګورم چي تاسو ئې نه ګورئ، په هغه څه پوهېږم چي تاسو پرې نه پوهېږئ، ځان ورته عقلمن او ملګري بې عقله برېښي، جګړې ته دوام ورکول د کمعقلو او ناپوهو خلکو کار ګڼي. او کله خپلې تېښتي او په سنګر کي د خپلو ملګرو پرېښودو ته مذهبي توجيهات جوړوي، وايي: زه له خدای وېرېږم، بس دئ تر کله به دا جنګ وي او دا يو د بل وينې تويول!! له خدايه ووېرېږئ او له جګړو لاس واخلئ!!

خو دا چي دلته له شيطان مراد څوک دئ؟ جني شيطان که انسي شيطان؟ څو تعبيرونه درلودی شو:

- ١- کوم چا قريش هڅولي، د خپلي ملګرتيا ډاډ ئې ورکړی او همدې کس ته الله تعالی د شيطان لقب ورکړی؟ دا کس د داسي قبيلې وو چي د قريشو په ګاونډ کي اوسېدل؛ لکه چي قرآن فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴿١٧٥﴾ آل عمران: ١٧٥

دا خو فقط شيطان وو چي خپل دوستان ئې وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

او هغه چي مسلمانان ئې وېرول په مخکيني آيت کي داسي معرفي شوي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ آل عمران ١٧٥

دا خو فقط شيطان وو چي خپل دوستان ئې وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

دا هغه شيطانان دي چي مؤمنان ئې د دښمن له لښکرو وېرول:

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ آل عمران ١٧٣

هغه چي خلکو ورته وويل: "د دښمنانو" ډېر وګړي درته راغونډ شوي؛ له دوی بايد ووېرېږئ؛ نو دې خبري د دوی ايمان مزيد زيات کړ او ويل به ئې: الله موږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی.

يعني څوک چي مسلمانان د دښمن له ځواکونو وېروي؛ د قرآن له نظره "شيطان" دئ؛ الله تعالی همدا لقب ورته غوره کړی؛ د دې شيطان دا وېره

اچوونکي تبليغات پر هغو اغېز شيندي چي له شيطان سره ئې دوستي وي، د ده تبليغات پر هغه چا اثر نه کوي چي له شيطان سره ئې خپلي اړيکي قطع کړې وي.

- ۲- شيطان د معمول په څېر پرته له دې چي د کوم انسان په څېره کي ئې ځان ورته مجسم کړي وي؛ په خپلو وسوسو سره ئې هڅولي؟!
- ۳- شيطان د کوم چا په څېره کي دوی ته ورغلی، جنګ ته ئې هڅولي او د خپلي ملګرتيا ډاډ ئې ورکړی؟

په مخکينيو دوو صورتونو کي د هر يوه احتمال شته، خو درېيم او دا آخري صورت په دوه دلائلو د منلو وړ نه دئ: ۱- د شيطان وسوسه داسي نه وي چي ځان چا ته مجسم کړي، د انسان په څېره کي ورته راڅرګند شي او وئې غولوي. ۲- قرآن موږ ته په پرېکنده الفاظو سره وايي چي تاسو شيطان او د ده قبيله په خپلو سترګو نه شئ ليدئ.

نو د هغي رأيي او روايت په منلو کي تل احتياط کوئ چي د قرآن له کوم آيت سره اړخ نه لګوي او هغه خو هيڅکله مه منئ چي له قرآن سره تعارض لري. د قرآن د کوم آيت داسي تفسير او تعبير بايد قطعاً ونه منئ چي له بل آيت سره تضاد او تعارض رامنځته کوي؛ يوازي هغه تعبير او تفسير منئ چي په قرآن کي تناقض نه رامنځته کوي؛ تناقض ستر عيب دئ او د الله تعالی سپېځلی کلام له هر نقص او عيب منزه او مبرأ دئ. په پورتنيو دريو تفسيرونو کي وروستی ئې داسي دئ چي د قرآن له ډېرو آيتونو سره تناقض او تعارض لري.

د شيطان د وسوسې د څرنګوالي په اړه دا روايت موږ ته داسي وضاحت کوي:

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْحِزَامِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ عُمَرَ بْنِ مُوسَى بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْمَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ

الْحُسَيْنِ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزُورُهُ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً مِنَ الْعِشَاءِ، ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ (کور ته ستنه شي)، فَقَامَ مَعَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْلِبُهَا (کور ته ئې ورسوي)، حَتَّى إِذَا بَلَغَتْ بَابَ الْمَسْجِدِ الَّذِي كَانَ عِنْدَ مَسْكَنِ أُمِّ سَلَمَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَرَّ بِهِمَا رَجُلَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَسَلَّمَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ نَفَذَا، فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ» قَالَا: سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَبُرَ عَلَيْهِمَا ذَلِكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا» سنن ابن ماجه

له ام المؤمنين صفيه بنت حُيَي روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دوو انصارو ته چې دى ئې ماخستن له ما سره د ام سلمې مسجد خوا ته ليدلى وو وفرمايل: لږ ودرېږئ؛ دا صفيه بنت حُيَى ده؛ هغوى وويل: "سبحان الله يا رسول الله! (څنګه به شك كوو"؛ دا پرې ګرانه تمامه شوه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چې شيطان د بني آدم د وينې په بهير کې درومي او زه ووېرېدم چې داسې نه ستاسو زړونو کې کومه وسوسه واچوي.

يعني چې شيطان دومره لطيف دئ چې د انسان د وينې له لارې د ده زړه او دماغ ته ځان رسوي او وسوسې اچوي؛ وسوسې ئې داسې نه وي چې ځان مجسم کړي او بيا دا کار وکړي.

دا روايت نږدې ټولو کتابونو راوړى او په بخاري کې څلور ځلي راغلى؛

يوه محترم ورور هغه روايت ته اشاره وکړه چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل هغه مزاحم پېرى ونيسي چې په لمانځه کې ئې ده ته مزاحمت کړى وو؛ ... راشئ لومړى روايت وګورو:

٣ - حَدَّثَنا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا رَوْحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ البَارِحَةَ - أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا - لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ، فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى المَسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ: رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لاَ يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى "، قَالَ رَوْحٌ: «فَرَدَّهُ خَاسِئًا» , بخارى و المسند الموضوعى تفسير سورة ص

٤٦١ - حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا رَوْحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ البَارِحَةَ - أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا - لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ، فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى المَسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ: رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لاَ يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى "، قَالَ رَوْحٌ: «فَرَدَّهُ خَاسِئًا» بخارى

٤٨٠٨ - حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ (فشَدَّ عَلَيَّ يا يَفتِكَ بى)البَارِحَةَ - أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا - لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ، وَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى

سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى المَسْجِدِ، حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِى سُلَيْمَانَ: {رَبِّ هَبْ لِى مُلْكًا لاَ يَنْبَغِى لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى}، قَالَ رَوْحٌ: فَرَدَّهُ خَاسِئًا " بخارى

لکه چې ګورئ دا روایت په همدې صیغه او إسنادو په بخاري کې دوه ځلي په دغو شمېرو ٤٦١، ٤٨٠٨ راغلی او د دواړو راویان دا دي: إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، رَوْحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، شُعْبَةَ، مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ؛ او أَبو هُرَيْرَةَ، یعني په لومړیو دریو طبقو کې یو یو راوي لري، په څلورمي کې دوه او په پنځمي کې هم یو. یعني چې دا ډېر غریب روایت دئ. په نورو معتبرو کتابونو کې ئې هم راویان په څلورو طبقو کې همدا دي.

د دغو روایاتو په مفهوم د پوهېدو لپاره همدا د بخاري وروستی روایت ترجمه کوم:

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: "تېره شپه د پېریانو یوه پیاوړي او خبیث راباندي برید وکړ او یا دې ته ورته لفظ ئې کارولی؛ چې لمونځ راباندي قطع کړي، الله تعالی پرې مسلط کړم؛ او ومي غوښتل چې د جومات له کومي ستني سره ئې وتړم؛ تر هغه چې تاسو ټول سبا هغه ته ګورئ؛ نو د خپل ورور سلیمان دا وینا مي راپه یاد شوه چې ویلي ئې وو "اې زما ربه! ما ته داسي واکمني راکړه چې له ما وروسته له هیڅا سره نه ښایي". رَوح وویل: نو هغه ئې نامراده رد کړ.

د دې روایت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم د شیطان د ټرلو اراده او هڅه ځکه نه ده کړې چې دا کار ئې د خپل ورور سلیمان علیه السلام مختص کار او معجزه ګڼلې؛ او له دې دوه خبرې معلومېږي: ۱- یعني چې دا کار نه دئ شوی. ۲-

يعني چې دا کار له سليمان عليه السلام پرته هيڅوک نشي کولی. د يوه پيغمبر مختص معجزه همدې ته وايي چې له ده پرته ئې بل څوک نشي کولی.

- آيا په دې روايت کې داسي الفاظ شته چې وښيي رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه په منځ کې شيطان په خپلو سترګو داسي ليدلی چې ده ته مزاحمت کوي؟ نه؛ داسي الفاظ نه مومو چې په صراحت سره همدا خبره ترې معلومه شي؛ الفاظ دا دي: تَفَلَّتَ عَلَيَّ (برید ئې راباندي وکړ)- په بل روايت کې (فشَدَّ عَلَيَّ: سختی ئې راسره وکړه) راغلي، په بل کې (يَفتِكُ بِي: غدر ئې راسره کولو) د تفلت، شدَّ و فتك لفظونه راغلي چې د يوه معنی برید (قولي يا عملي هجوم) او د بل تشدد دئ؛ او د بل غدر کول دي؛ يا ئې دې ته ورته کوم بل لفظ کارولی؛ خو همدغه روايت په پنځمه طبقه کې د شبابه په څېر نور راويان لري؛ ابو حاتم د شبابه په اړه وايي: د ده په وينا استدلال نشي کېدی: يعني چې قول ئې معتبر نه دئ. قال أبو حاتم : لا يُحتَج به؛ ده او د همدې پنځمي طبقې ځينو نورو په دغه روايت کې دا لفظ اضافه راوړی: (فَدَعَتُّهُ) يا (فَذَعَتُّهُ: دواړه ورته معنی لري يعني تر ستوني مي ونيولو. دا لفظ نه د بخاري په روایاتو کې شته او نه په ټولو هغو کتابونو کې چې په څلورو طبقو کې ئې راويان همدا د بخاري راويان دي. يعني چې دا ستونزه له څلورمي طبقې وروسته رامنځته شوې او له روايت ئې داسي څه جوړ کړي چې گواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه په منځ کې دا پياوړی شيطان ليدلی، تر ستوني ئې نيولی او گواکې دومره ئې کلك کړی چې ساه ئې ختلې، ژبه ئې سره شوې او پيغمبر عليه السلام د ده د ژبې سوړوالی هم د خپل لاس پر شا حس کړی!!

له دې ډول روایاتو ځيني دا دي:

٧٩٦٩ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلَاةَ، فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ فَدَعَتُّهُ، وَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى

جَنْبِ سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى الْمَسْجِدِ، حَتَّى تُصْبِحُوا فَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ أَجْمَعُونَ، قَالَ: فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِى سُلَيْمَانَ: رَبِّ هَبْ لِى مُلْكًا لَا يَنْبَغِى لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى. قَالَ: فَرَدَّهُ خَاسِئًا " مسند احمد

۸۸ - أَخْبَرَنَا النَّضْرُ، نا شُعْبَةُ، نا مُحَمَّدٌ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ جَعَلَ يَفْتِكَ بِى الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِى، فَأَمْكَنَنِى اللَّهُ مِنْهُ فَذَعَتُّهُ وَأَرَدْتُ أَنْ آخُذَهُ فَأَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى الْمَسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا فَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، قَالَ: فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِى سُلَيْمَانَ: رَبِّ اغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَا يَنْبَغِى لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى "، قَالَ: فَرَدَّهُ اللَّهُ خَاسِئًا مسند اسحاق بن راهويه

۷۹۶۹ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلَاةَ، فَأَمْكَنَنِى اللهُ مِنْهُ فَدَعَتُّهُ، وَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى جَنْبِ سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى الْمَسْجِدِ، حَتَّى تُصْبِحُوا فَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ أَجْمَعُونَ، قَالَ: فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِى سُلَيْمَانَ: رَبِّ هَبْ لِى مُلْكًا لَا يَنْبَغِى لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى". قَالَ: فَرَدَّهُ خَاسِئًا " مسند احمد

په نورو روایاتو کې دا لفظ (فَدَعَتُّهُ: تر ستوني مي ونيولو) نشته.

که د يوې قضيې په اړه څو روايات زمونږ مخي ته راشي او يا په يوه روايت کې څو مترادف الفاظ وومو؛ يا د يوه لفظ څو محتملي معاني نو بايد هغه تريې غوره کړو چې نه له کوم آيت سره تعارض رامنځته کوي او نه له بل روايت سره؛ د روايت له داسي ترجمې او تشريح به ډډه کوو چې د قرآن له

څرګندو آيتونو سره اړخ نه لګوي او په قرآن کي ورته شاهد نه موو. که د مخکيني روايت داسي تعبير ومنو چي ګواکي شيطان مجسم شوی نو د قرآن د دې صريح آيت په اړه به څه وايو؟ : (... فِطْرَتَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ ...) په کوم فطرت چي الله تعالى خلك پيدا کړي؛ په دې پيدايښت کي تبديلي نشته؛ يعنى چي د خلقت په اړه د الله تعالى سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي؛ نه پېرى خپل جوړښت او خلقت بدلولى شي او نه بل مخلوق.

همدا راز د هغو آيتونو په اړه به څه وايو چي په تأكيد او تكرار سره وايي: پېريان نه ليدل کېږي؟

پوښتنه دا ده چي آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دا كار كولى شو خو وئې نه کړ؟ او که دا چي اراده ئې وه دا كار وکړي خو كله چي د خپل ورور سليمان عليه السلام دعاء او معجزه ورپه ياد شوې؛ خپله اراده ئې له دې کبله بدله کړې چي دا فقط سليمان عليه السلام ته مختص كار وو؛ بل چا ته مقدور او ممكن نه دئ؟ دا دوهمه توجيه غوره او د قرآن د وينا مطابق ده.

راشئ د عفريت من الجن اړوند هغه آيت هم له نظره تېر کړو چي ډېرو ئې په فهم او تفسير کي اشتباه کړې؛ آيت دا دئ:

قَالَ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَنْ شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ النمل: ٣٨-٤٠

وئې ویل: اې درباریانو! ستاسو کوم یو به د هغې تخت تر هغه وړاندې ما ته راوړي چې دوی تسلیم شوي راشي؟ یوه پیاوړي پېرې وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم چې ته له خپل ځای پورته شې؛ او زه پرې توانمن او امین یم، هغه چا چې د کتاب څه علم ورسره وو؛ وویل: زه به ئې تر هغه وړاندې راوړم چې د سترګې آخري لید دي درته راشي، نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای پر ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومي آزموي؛ آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم؛ او څوک چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او څوک چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن غني (بې نیاز) دئ.

د دې مبارکو آیتونو لاړښووني دا دي:

- سلیمان علیه السلام خپلو درباریانو ته وویل: ستاسو کوم یو به د دې ملکې تخت تر هغه وړاندې ما ته راوړي چې دوی تسلیم شوي راشي؟
- یوه پیاوړي پېرې وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم چې ته له خپل ځای پورته شې، لا به دا غونډه پای ته نه وي رسېدلې او تا به خپل ورځنی کار نه وي تمام کړی چې زه به ئې راورسوم، زه ئې پر راوړو توانمن یم او د خوندي رارسولو ئې امین، په امانت سره به ئې تر تا رارسوم.
- یوه بل پېرې چې د کتاب څه علم ورسره وو، یعني مؤمن وو او د الهي کتاب له علومو څه ناڅه برخمن وو؛ وویل: زه به ئې تر هغه وړاندې راوړم چې د سترګې آخري لید دي درته راوګرځي، یعني د سترګو په یوه رپ کې.
- نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای پر ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومي آزموي، آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم؛ او څوک چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او څوک چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن بې نیاز دئ.

که څه هم ځینو مفسرینو په دې اړه بېل بېل، متعارض او حتىٰ

حیرانوونکي آراء وړاندي کړي، ځینو ویلي چي دا کس مستجاب الدعوات وو، ځینو ویلي چي د الله تعالی په هغه اسم اعظم پوهېدو چي هر څوك پرې دعاء وکړي الله تعالی ئې دعاء قبلوي، د هغه په دعاء سره دا تخت حاضر کړی شوی، خو دې ته ئې پام نه دئ کړی چي دعاء کوونکی هیڅکله دا ادعاء نشي کولی چي زه دا کار کوم، هغه هم د سترګو په رپ کي، هغه وایي: زه به دعاء وکړم هیله کوم چي الله تعالی به ئې قبوله کړي، ځینو ویلي چي یوه فرشته وه، یا جبرائیل وو، ځینو ویلي چي خضر علیه السلام وو او ځینو ویلي چي دا په خپله سلیمان علیه السلام وو... د دغو آراءو لپاره نه په قرآن کي کوم شاهد مومو او نه په صحیح الاسناد روایاتو کي، خضر علیه السلام تر سلیمان علیه السلام څو پېړۍ وړاندي او د موسی علیه السلام په زمانه کي تېر شوی، څوك چي خضر علیه السلام ته د قرآن په هینداري کي وګوري نو پوهېږي چي هغه یو عادي انسان خو عالم او مجاهد وو، نه په غیب پوهېدو، نه ئې خارق العاده کارونه کولی شو او نه ئې معجزه درلوده، حتیٰ قرآن هغه د رسول او نبي په نامه هم نه دئ یاد کړی، هغه څوك به داسي خبري خضر علیه السلام ته منسوبوي چي پر قرآن نه بلکي پر عامیانه قصو او افسانو باور لري، هغه چي اوس هم چا ته لاس ورکوي نو د بټي ګوټي بند ئې کښېکاږي چي پوه شي هډوکی لري که نه، ځکه هغه اورېدلي چي د خضر علیه السلام یوه نښه دا ده چي دا ګوته ئې هډوکی نه لري!!!

متأسفانه ډېرو مفسرینو د ٤٠ آیت دغه الفاظ (قال الذي عنده علم من الکتاب) په اړه ویلي چي له دې کوم سړی مراد وو، نه کوم بل پېړی، خو که د آیت الفاظو او سیاق و سباق ته ځیر شو نو په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چي دا هم یو پېړی وو نه یو سړی، دا ځکه چي تر دې مخکي ویل شوي: قال عفریت من الجن او ورپسې ویل شوي: قال الذي عنده علم من الکتاب، یعني دا هم پېړی وو خو له مخکیني سره ئې توپیر په دې کي وو چي ده څه ناڅه د الهي کتاب علم هم درلود. که دا خبره کوم انسان کړې وی نو بیا خو

مناسبه دا وه چې ویل شوي وی: و قال رجل عنده علم من الکتاب، دقیقه رأیه دا ده چې دا هم پېرۍ وو، دا ځکه چې (الذي) اسم موصول دئ او باید له کوم مخکینې نوم سره وصل شي، دلته تر (الذي) مخکې د (جن) یادونه شوې نه د (انس)، دا صحیح نه ده چې له جن پرته ئې بل څه ته راجع کړو. دا تفسیر نه یوازې دقیق دئ بلکې دې پوښتنې ته هم مجال نه پرېږدي چې یو انسان څنګه وتوانېدو د سترګو په رپ کې له یمن د ملکې تخت راحاضر کړي؟ سلیمان علیه السلام پیغمبر وو دا کار ئې نشو کولی نو د ده یوه امتي؛ څنګه وکړ؟

دې ته مو پام وي چې د شرکي افکارو خاوندان او په خرافاتو کې غرق کسان له داسې مواردو غلطه استفاده کوي، ځینې ئې وایي: دا کس په غیب پوهېدو، ځینې ئې وایي چې هغه (متصرف الامور) وو، ګواکې همدا پر غیب د انسان د پوهېدا او په عالم کې د اولیاء الله د تصرف شواهد دي!! که څه هم په مفسرینو کې هیڅا داسې غلطه او د قرآن د صریح آیتونو خلاف خبره نه ده کړې، هیڅا نه دي ویلي چې دا کس (عالم الغیب) یا (متصرف الامور) وو، ځکه په قرآن پوه انسان داسې غلطه ادعاء نشي کولی. دا کمزورې تعبیر چې دا کس یو انسان وو؛ دغو کړیو ته د غلطې استفادې مجال برابروي.

دا هم باید واضح کړو چې د نور سرعت ۳۰۰۰۰۰ درې سوه زره کیلومتر په ثانیه کې دئ او د لمر فاصله له زمکې ۱٤۸,٦ ملیون کیلومتره ده؛ نور دا فاصله په ۸ دقیقو او نږدې ۱۷ ثانیو کې وهي او زمکې ته رسي. فرشتې له نور پیدا شوې سرعت به ئې تر نور زیات وي نه کم، پېرۍ د اور له شعلې پیدا شوی؛ سرعت به ئې د حرارتي انرژي په څېر وي؛ خو روح تر نور او انرژي هم ډېره لطیفه ده؛ نو ځکه د انسان روح وکولی شو په یوه شپه کې تر سدرة المنتهی پورې ورسېږي. د رسول الله صلی الله علیه و سلم د معراج رؤیا او روحي سفر ئې واضح بېلګه ده.

له خضر سره د موسی علیه السلام لیدنه

یوه له جدي اختلافي مسائلو له خضر علیه السلام سره د موسی علیه السلام د ملګرتیا قصه ده چې ځینو په ځانګړې توګه په خرافاتو کې غرقو کړیو؛ خپل ټول عقائد د همدغي قصې له ځینو برخو اخیستي دي، لکه دین په شریعت او طریقت وېشل، علم په اکتسابي او لدني- ظاهري او باطني وېشل، اولیاء الله ته علم غیب او تصرف في الکون ثابتول؛ او ځیني نور عقائد ئې له همدغي قصې او اړوند ضعیفو روایاتو مستنبط کړي!! دوی وایي:

- موسی علیه السلام پیغمبر وو او خضر یو ولي، پیغمبر ته شریعت ورکړی شوی او ولي ته طریقت؛ د شریعت علم پر ظواهرو ولاړ دئ او د طریقت علم پر باطن، ولي ته د باطن علم ورکړی شوی او پیغمبر ته د ظاهر علم!!
- د طریقت لاروي د شریعت په احکامو ملزم نه وي، کولی شي د شریعت خلاف عمل وکړي!! کله چې مرشد د وصل او یقین مقام او پراو ته ورسېږي نور له مکلفیتونو معاف دئ؛ په شریعت کې له حق او قصاص پرته د یوه انسان وژل حرام دي خو خضر یو ځوانکی له کوم جرم پرته ووژلو؛ نو پر اولیاء الله به دا اعتراض نه کوئ چې ولي ئې د شریعت خلاف عمل وکړ!!
- خضر په غیب پوهېدو؛ د غاصب پاچا، وژل شوي ځوانکي او تر دېوال لاندي خزانې په اړه د ده علم د غیب علم څو ښلګي ګڼي!!

راشئ وګورو چې دا خبري څومره وزن لري او څومره د حقیقت مطابق یا خلاف دي؟ آیا له دې قصې دا مطالب راایستل او د خپلو عقائدو بنسټ ئې ګرځول صحیح دي که نه؟ آیا له دې قصې داسي څه راایستلی شو؟ آیا د موسی

علیه السلام دا سفر له بعثت مخکې وو که وروسته؛ هغه مهال ئې له خضر زده کړه کړې چې لا پیغمبر شوی نه وو او که وروسته تر پیغمبر کېدو؟ آیا موسی علیه السلام له خپل دغه استاد داسې کوم کار لیدلی چې د شریعت خلاف وو؟ او استاد ئې داسې څه ویلي یا کړي چې ښیي دی په غیب پوهېدو؟ آیا د دې قصې له کومې برخې دا معلومېږي چې شریعت ښه دئ او طریقت ښه؛ آیا په اسلام کې د طریقت په نامه ښه څه شته؟ آیا یو مؤمن انسان دا خبره کولی شي چې اولیاء الله شریعت ته په التزام او تمکین مکلف نه دي؟ آیا د لدني علم په نامه کوم علم شته؟ د موسی علیه السلام استاد یو پیر او صوفي وو که یو مجاهد؟ موسی علیه السلام ته ئې لدني علم ښودلی که جهاد؟ آیا خضر نبي وو که ولي او که یو عابد او مجاهد بنده؟ آیا هغه تر ننه ژوندی دئ؛ لکه چې ځینې همدا وایي او ګمان کوي؟ که ژوندی وي نو چېرې دئ؟ او ولي ځان خلکو ته نه ښیي؟ په پټ پاته کېدو ئې کوم مصلحت مرتب کېږي؟ مور د الله تعالی په هیڅ کتاب او دین کې داسې څه نه ګورو چې د یوه زعیم او داعي پټ پاته کېدا مفید وګڼي.

د دې پوښتنو خلاصه ځواب دا دئ؛ تفصیل به ئې وروسته وګورئ:

- قرآن نه خضر د یوه نبي په نامه معرفي کړی، نه د ولي په نامه، نه دا چې اوږد عمر ورکړی شوی، نه دا چې په غیب پوهېدو، نه دا چې خارق العاده کارونه ئې کړي، نه دا چې مقام ئې تر نبي لوړ وو، نه دا چې د الهي شریعت خلاف کار ئې کړی او د داسې کار کولو حق او جواز ورکړی شوی وو او نه دا چې د ده علم کوم داسې خاص او ځانګړی علم وو چې نه کوم پیغمبر ته ورکړی شوی او نه بل انسان ته. موسی علیه السلام هغه مهال د ده ملګرتیا کړې چې په مصر کې او د فرعون په کور کې اوسېدو او په رسالت نه وو مبعوث شوی. د غاصب پاچا، وژل شوي ځوانکي او تر دېوال لاندي خزانې په اړه د ده علم؛ یو هم په غیب پوهېدا نه افاده کوي او نه ئې ثابتوي؛ ځوانکی ئې د ده د پلار او مور په غوښتنه او موافقه وژلې؛ تر دېوال لاندي پټه خزانه؛ د یتیمانو

پلار ورته ښودلې وه او ورته ویلي ئې وو چې کله دوی ستر شي؛ ترې خبر ئې کړه؛ د کشتیو غصبوونکی پاچا او د ده دا غصب ئې په خپلو سترګو لیدلی وو. دا یو هم د علم غیب ښلګي نه دي؛ بلکې عام انساني علم دئ!!

هغه چې وایي: خضر د موسی علیه السلام له زمانې بیا تر عیسی علیه السلام او محمد علیه السلام او حتیٰ تر قیامته به ژوندی وي؛ دا داسي بې بنسټه ادعاء ده چې په څرګنده توګه له قرآن سره تعارض لري؛ نه قرآن کې کوم شاهد ورته مومو او نه په صحیح احادیثو کې؛ په دې اړه د محققینو اجماع دا ده چې هغه ژوندی نه دئ.

ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب "المنار المنیف في الحدیث الصحیح والضعیف" کې ئې د هغو ضعیفو روایاتو په اړه اصول او ضوابط بیان کړي چې دین ئې هیڅکله نه مني؛ د همدغو روایاتو په ضمن کې هغه هم راوړي چې د خضر د حیات خبره کوي او وایي: ټول ئې دروغ دي او د ژوند په اړه ئې یو روایت هم صحیح نه دئ. او بیا دا غلط روایات د لوستونکو مخي ته ږدي؛ ما ونه غوښتل ستاسو وخت پرې ضائع کړم.

له امام بخاري چا وپوښتل: آیا خضر او الیاس ژوندي دي؟ هغه وویل: څنګه به ژوندي وي؛ حال دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: "لَا يَبْقَى رَأْسَ مِائَةِ سَنَةٍ مِمَّنْ هُوَ الْيَوْمَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَحَدٌ» (رواه الشیخان)؛

د سلو کلونو سر کې به له هغو هیڅوك ژوندی نه وي چې اوس د زمکې پر سر ژوندي دي. یعني چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د زمانې د هر نسل عمر تر سل کاله زیات نه وو.

له ډېرو نورو علماءو دا پوښتنه شوې او هغوی منفي ځواب ورکړی او د قرآن دغه آیت ئې د دلیل په توګه وړاندي کړی:

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ﴿٣٤﴾ الأنبياء:٣٤

او هيڅ انسان ته مو تر تا وړاندي تلپاتېدا نه ده ګرځولې؛ نو که ته ومرې آيا دوی به تلپاته وي؟

يعني چې هيڅ تلپاتې انسان نشته. يعني د خضر د تلپاته ژوند غلطه ادعاء؛ هم د قرآن خلاف ده، هم د صحيح رواياتو او هم د علماءو د وينا خلاف.

د قرآن دې آيت ته هم ځير شئ:

وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي ٱلْخَلْقِ ۚ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾ يس: ٦٨

چا ته چې عمر ورکوو ښېرته ئې په خلقت کې رانسکوروو؛ نو آيا تعقل نه کوي؟!

مور په خپلو سترګو ګورو چې هر عمر لرونکی په زوال او زړښت محکومېږي، له يوې نېټې ئې ژوند پيل شي، د کمال خاص پړاو ته ورسېږي، د عمر په تېرېدو سره د زوال په لور دروميږي او په پای کې مري.

همدا راز قرآن فرمايي:

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٥٧﴾ العنكبوت: ٥٧

هر نفس (ژوی او ساکښ)؛ د مړيني د خوند څکونکی دئ او بيا به زما لوري ته راستنول کېږئ.

لکه څنګه چې قرآن وايي د دې عالم هر مخلوق خاص عمر لري او د عمر په پای کې زوال مومي؛ نن ساينس او علم او ساينس پوهان همدا خبره کوي، وايي: د عالم هر څه زړېږي او زوال مومي، د کهولت عامه قاعده چې وايي: هر څه په زوړوالي او فنا باندي محکوم دئ؛ نن دا د ساينسي علومو يو عام او اساسي بنسټ دئ، خلقو ډېر شيان ابدي او تلپاتې ګڼل، خو نن علم په دې پوهېږي چې د کهولت قاعده يوه عامه حاکمه قاعده ده، د عالم هر څه د دې عامي الهي قاعدې په وړاندي محکوم دي، هر څه د کهولت او زوړوالي په لور

درومي.

همدا راز قرآن فرمايي: لکه څنګه چې د فرد لپاره اجل ټاکل شوی او د قومونو لپاره اجل ټاکل شوی؛ همدا راز د عالم د هر توکي لپاره اجل ټاکل شوی. نو خضر هم اجل درلود او د خپل اجل مطابق له نړۍ تللی. موسی علیه السلام او خضر نږدې درې نیم زره کاله وړاندې تېر شوي.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾ الأعراف ٣٤

مَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُسَمًّى وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنْذِرُوا مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ الأحقاف ٣

د دې قصې په حقیقت د ښه پوهېدو لپاره به لومړی د قرآن آیتونه خپلې مخې ته ږدو او بیا به ګورو چې په روایاتو کې په دې اړه څه راغلي. که په آیتونو کې لږ دقت وکړو او په مطلب ئې پوه شو نو په رڼا کې ئې مورږ د ضعیفو او صحیحو روایاتو توپیر ډېر په اسانۍ سره کولی شو. دا یوه دقیقه قاعده ده، تاسو ته به ټول روایات وښیي چې کوم ئې صحیح دئ او وینا ئې سمه ده؛ ضعیف ئې هم تاسو ته ښیي، دا یوه صفا آینه ده او دقیق میزان او تله.

په قرآن کې د موسی علیه السلام او د ده د استاد قصه په تفصیل سره راغلې؛ ځینو مفسرینو د ده استاد د خضر په نامه یاد کړی او پیغمبر ئې ګڼي؛ او ځیني ئې یو صالح او عالم بنده بولي او وایي: که دا خضر وی او یو پیغمبر؛ نو په قرآن کې به حتماً په صراحت سره د ده نوم اخیستل شوی وو. قرآن د ٢٥ پېغمبرانو علیهم السلام نومونه یاد کړي، په دوی کې د خضر نوم نه مومو. د پیغمبرانو د نومونو په ارتباط تر ټولو دقیقه مرجع هم خپله قران دئ. د بني اسرائیلو په کتابونو او روایاتو کې د نورو پیغمبرانو نومونه هم اخیستل شوي

دي، ښه به دا وي چې کله د هغوی نومونه اخلو نو ووايو چې بني اسرائيل ئې د نبي په توګه پېژني، د دي لپاره چې د قرآن خلاف خبره مو نه وي کړې؛ د احتياط تقاضاء همدا ده.

قرآن د دې قصې پيل په دغو آيتونو سره کوي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾ الكهف: ٦٠- ٦٥

او کله چې موسی خپل زلمي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چې مجمع البحرين (د دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کلونه کلونه) درومم. نو کله چې د دواړو (سيندونو) يوځای کېدو سيمي ته ورسېدل نو دواړو خپل کب هېر کړ، چې په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله او ولاړ. نو کله چې تېر شول خپل زلمي ته ئې وويل: غرمنی (خوراك) مو راته راوړه؛ په رښتيا چې له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه کړو)، وئې ويل: په ياد دي دي کله چې هغي لويي ډبري ته مو پناه يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسي شيطان رانه هېر کړ چې يادونه ئې (درته) وکړم او په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله. وئې ويل: همدا هغه څه دئ چې مور ئې غواړو؛ پر خپلو پلونو ګام په ګام په شا وګرځېدل، نو زما له بندګانو ئې داسي يو بنده وموند چې له خپل لوري مو

پېرزوينه ورپه برخه کړي وه او له خپل لوري مو ځانګړی علم ورزده کړی وو.

له دې آيتونو څو خبرې معلومېږي:

- موسی علیه السلام ته د يوه پوه او عالم شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چې دا کس حتماً وګوري، څه وخت ورسره پاته شي او څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوځېدلی، يو کس ئې د خادم او ساتونکي په توګه له ځان سره کړی.
- دا سفر اوږد او ستونزمن وو، د ده دا وينا چې يا به مجمع البحرين ته رسم او يا خو به همداسي تر اوږدې مودې درومم؛ همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحيح نه ده چې وايي: موسی علیه السلام ګهيځ خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، هملته ماهي ترې ورک شوی او خضر ئې هملته موندلی!! دا انګېرنه د قرآن له وينا سره هيڅ اړخ نه لګوي.
- دا سفر د دوې په ګرميو کې ترسره شوی، د غرمې مهال ئې د تودوخي له امله؛ د يوې لويې ډبرې سيوري ته پناه وړې وه.
- د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: ځوانکی، غلام او خادم) په نامه ياد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، دا ځکه چې قرآن د يوسف علیه السلام ساتونکي او خدمتګاران هم په دغه نامه ياد کړي.

وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾ يوسف ٦٢

خپلو (مؤظفو) زلميانو ته ئې وويل: د دوی هغه مال چې (د غلې په بدل کې

ئې ورکړی)، (په پټه) د دوی په پټو کې کښېږدئ، داسې چې کور ته د ستنېدو پر مهال پرې پوه شي، د دې لپاره چې ېږته راوګرځي.

لکه چې ګورئ دلته د یوسف علیه السلام مؤظفین د فتیان (د فتی جمع) په نامه یاد شوي. د موسی علیه السلام د سفر ملګري ته هم د فتی نوم کارول شوی؛ له دې معلومېږي چې هغه مهال دا نوم د مشرانو د محافظینو لپاره کارول کېدو.


- موسی علیه السلام ته کب د نښې په توګه ټاکل شوی، د قرآن له وینا معلومېږي چې په سیند کې روان کب د ده لپاره د داسې نښې په توګه ټاکل شوی وو چې هر ځای ترې ورک شي او خپله لاره بدله کړي نو هملته به مجمع البحرین وي او هملته به هغه نېك سړی مومي.
- موسی علیه السلام خپل ملګری په دې ګمارلی وو چې په سیند کې روان کب به تر نظر لاندي نیسي، که ترې ورک شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، خو کله چې دې کب خپل مسیر بدل کړی او په بل لوري تللی نو له ملګري ئې دا خبره هېره شوې او هغه مهال ئې موسی علیه السلام ته کړې چې هغه د خوراك غوښتنه ئې ترې کړې.


که د مصر جغرافیې ته ځیر شو نو په ټول مصر کې مجمع البحرین نشو موندلی، بحر احمر او د مدیترانیې بحیره په سر کې سره وصل نه وو؛ نږدې ۲۰۰ کیلومتر سره لري دي؛ د سویس مصنوعي کانال سره وصل کړل؛ موسی علیه السلام او بني اسرائیلو د هجرت په وخت کې غوښتل د دواړو سمندرونو تر منځ د وچي له لاري د سینا دشتي ته او د فرعون له سلطې بهر سیمي ته ووځي؛ خو د فرعون لښکري ورنږدې شوې او بیا د الله تعالی په فضل په بحر کې لار ورته پرانیستل شوې. نو هغه مهال د مصر شا و خوا هیڅ سیمه کې داسې ځای نه وو چې دوه بحرونه سره وصل وو. نیل له دوو سترو سیندونو (نیل الابیض او نیل الازرق) جوړ شوی، دا دواړه د سودان مرکز خرطوم په شمال

کې سره یو ځای شوي، له مصر تر خرطوم پورې بل مجمع البحرین نه تر سترګو کېږي او دا تر دوو میاشتو زیات پلی مزل غواړي؛ د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وینا چې یا به مجمع البحرین (د دوو سیندونو یو ځای کېدو سیمې ته رسېږم او یا خو به تر اوږدې مودې همداسې درومم؛ په څرګنده توګه معلومېږي چې موسی علیه السلام په اوږده سفر وتلی وو، په لنډ سفر کې هیڅوک دا خبره نه کوي. د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چې مجمع البحرین د نیل د دوو څانګو د یوځای کېدا محل ګڼي، دلته له بحرین مراد دوه روان سیندونه اخلي نه دوه ولاړې اوبه، البحر هم ستر نهر ته وایي او هم سترو ولاړو اوبو ته. هغه رأیه کمزورې ده چې وایي له بحرونو مراد عقبه او سویس یا بحرالروم او بحر القلزم دي، دا ځکه چې د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بینهما) الفاظ نشي کارېدلی؛ دا ځکه چې بحرونه سره وصل وي او نهرونه سره جمع کېږي؛ دلته د (مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ: د سیندونو د جمع کېدو ځای) الفاظ راغلي چې ښیي دا سیندونه ول. همدا راز که له دې هغه بحرونه او د دوی د وصلت ځای سیمه مراد وی نو دا ځایونه نه کومې نښې ته ضرورت لري او نه ئې له موسی علیه السلام دومره اوږد سفر غوښتو چې ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم. لومړی خو هغه مهال دلته مجمع البحرین نه وو، د دواړو سمندرونو تر منځ نرۍ وچه ټرانګه وه، له بله پلوه دا سیمه نږدې ۱۰۰ کیلومتره د مصر له مرکزي ښار فاصله درلوده؛ د پلي مسافر لپاره ئې نږدې درې ورځنی سفر ایجابوي. دلته یو بل ظریف مطلب هم باید په پام کې ولرو: قرآن د موسی علیه السلام د مدین د سفر په اړه وایي: کله چې موسی علیه السلام د مدین په لوري مخه کړه نو وئې ویل: هیله ده الله تعالی مي په سمې لاري برابر کړي؛ یعني چې په دې لار بلد نه وو؛ مخکې ئې کله پرې سفر نه وو کړی او دا د ده لومړی سفر وو. که هغه د ځوانۍ سفر ئې هم په دې لار شوی وی نو دا خبره به ئې نه کوله.


همدا راز د خضر له وينا معلومېږي چې دا سيمه د فرعون له واکمنۍ بهر وه او ېبل پاچا ئې درلود، ځکه هغه وايي: وړاندي ئې داسي پاچا دئ چې هره کښتۍ غصبوي؛ يعني چې دا سيمه د فرعون له واکمنۍ (مصر) بهر وه.

راشئ دا سيمه او د نيل سيند او څانګي ئې په نقشې کې وګورو.









همدا راز د قرآن له نورو آیتونو معلومېږي چې موسی علیه السلام له

بعثت وروسته يوازي څلوېښت ورځي له بني اسرائيلو بېل شوی چي په همدې لنډي مودې کي سامري وغولول او د الله تعالی په ځای ئې د سخوندر عبادت ته تيار کړل.

په خپله مخه د کب تلل ښيي چي مجمع البحرين همدلته وو، کب خپله لاره بدله کړې او په هغه لوري تللی چي له بل اړخ بل سيند له نيل سره يوځای شوی، نو ځکه موسی عليه السلام خپل ملګري ته وويل: موږ د همدغه ځای (مجمع البحرين) په لټه کي وو. دې ته مو هم بايد پام وي چي هغه پلي نابلد مسافر ته چي د لوی سيند په ژېړ بري خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چي د دوو سيندونو د يو ځای کېدو ځای په دقيقه توګه تشخيص کړي، دا ځکه چي ډېر ځلي لوی سيندونه په يوه ځای کي ووېشل شي او په بل ځای کي ئې وېشل شوې ځانګي بېرته سره يوځای شي.

دا هم بايد په پام کي ولرو چي موسی عليه السلام ته يو ماهي نه؛ بلکي د ماهيانو يوه نوع؛ د نښي په توګه ټاکل شوې وه؛ حتماً پوهېږئ چي د کبانو هره نوع ځان ته بېله بېله معتدله سيمه غوره کوي؛ توالد او تکاثر ئې هملته وي؛ مرغان هم دوی ته ورته دي؛ په ژمي کي ترې درومي او هغه مهال بېرته ورستنېږي چي د سيمي هواء معتدله شوې وي.

الله تعالی کبان داسي پيدا کړي چي په ژمي کي تودو سيمو ته کوزېږي او په دوبي کي بېرته خپلو اصلي سړو سيمو ته درومي، کله کله د دوی دا ژمنی او دوښی سفر سلګونه کيلومتره اوږد وي، د نيل د دوو څانګو کبان په ژمي کي له خپلي اصلي سيمي د مصر خوا کي بحر ته راځي او د دوبي (اوړي) په موسم کي له مصر د سودان او بيا په يوګندا او ايتوپيا کي د نيل د سرچينو په لوري درومي. داسي معلومېږي چي موسی عليه السلام ته د نيل ازرق کبان د نښي په توګه ټاکل شوي، دا نيل د خرطوم په شمال کي له نيل ابيض سره يو ځای کېږي؛ کله چي دا ماهيان همدغه مجمع البحرين سيمي ته ورسېږي نو خپل مسير بدلوي او د جنوب شرق په لوري د ايتوپيا درو ته او نور کبان

مخامخ د يوګندا درو ته ځي. موسی علیه السلام د نیل په غربي ژۍ روان وو؛ د نیل ازرق کبانو په مجمع البحرین کې خپل مسیر بدل کړی او له همدې پوه شوي چې ښودل شوي ځای ته رسېدلي.

د قصې دوهمه برخه د موسی علیه السلام او خضر تر منځ د ملاقات څرنګوالی زمونږ مخي ته ږدي او فرمايي:

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ٦٦ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٦٧ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ٦٨ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ٧٠ الكهف: ٦٦-٧٠

موسی ورته وویل: آیا کېدی شي د دې لپاره ستا متابعت او ملګرتیا وکړم چې د هغه رشد او پوهي څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړی شوی؟ هغه ورته وویل: ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی، څنګه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه یې؟ وئې ویل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هیڅ کار کې به له تا سرغړاوی ونه کړم. وئې ویل: نو که زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې یادونه درته وکړم.

له دې آیتونو څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- موسی علیه السلام د دې لپاره د خضر خوا ته ورغلی وو چې څه ترې زده کړي؛ او دا ښیي چې دا ملاقات هغه مهال ترسره شوی چې لا موسی علیه السلام په پیغمبرۍ نه وو مبعوث شوی، ځکه له بعثت وروسته دی په خپله د نورو معلم او مرشد شو، دا ضرورت ئې نه وو چې له خضر یا له بل چا څه زده کړي. له دې وروسته نه په ټولې نړۍ کې تر ده ستر عالم وو او نه ستر مرشد، هیڅ عقلمن انسان دا خبره نشي منلی چې د موسی علیه السلام په څېر ستر او اولوالعزم پیغمبر به له بعثت وروسته له داسې چا د څه زده کولو لپاره

دومره اوږد سفر کړی وي چې نه ئې تر ده مقام لوړ وو، نه دا معلومه ده چې هغه پیغمبر وو او حتیٰ قرآن د ده نوم نه د ټولې قصې په دوران کې یاد کړی او نه په بل ځای کې!! دې خبرې ته په پام سره په بشپړ یقین او اطمئنان سره ویلی شو چې دا سفر د موسی علیه السلام په ځوانۍ کې او له بعثت ډېر مخکې شوی!

- کله چې موسی علیه السلام له خضر سره مخامخ شوی له هغه ئې غوښتي چې څه موده ئې له ځان سره د ملګري په توګه ومني او هغه څه وروښيي چې الله تعالی ده ته ورښودلي. هغه په ځواب کې دوه خبرې ورته وکړې: ۱- ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی، ښایي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته کړې، هغه ئې په سوکالۍ او رفاه کې ستر شوی زلمی موندلی او د ځان د ستونزمنو او خطرناکو سفرونو د ملګرتیا جوګه ئې نه دی ګڼلی؛ نو ځکه ئې دا خبره ورته کړې. او بیا ئې ورته ویلي: څنګه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه یې؟ ۲- او که سره له دې زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې یادونه درته وکړم. له دې معلومېږي چې خضر علیه السلام ډېر محتاط شخصیت وو، خپل نږدې د سفر ملګری ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسی علیه السلام ئې دا شرط ومنلو چې د اسرارو پوښتنه به نه ترې کوي؛ مګر هغه مهال چې دی ئې په خپله یادونه وکړي. له دې دا هم معلومېږي چې خضر علیه السلام په سري مبارزې بوخت وو، د دې خبرې حقیقت هغه مهال مومږ ته لا ښه جوت کېږي چې د دوی دواړو د ملګرتیا درې پېښې په دقت سره له نظره تېرې کړو. د موسی علیه السلام مخکینی د سفر ملګری له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته کوي. موسی علیه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه کوي.

د قصې درېیمه برخه داسي ده:

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَاۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ

جِئْتَ شَيْـًٔا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمًا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَىْءٍۭ بَعْدَهَا فَلَا تُصَٰحِبْنِي ۖ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهْلَ قَرْيَةٍ ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا فَأَبَوْا۟ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥ ۖ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَٰكِينَ يَعْمَلُونَ فِى ٱلْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾ الكهف: ٧١-٨٢

نو دواړه وخوځېدل، حتىٰ چې په هغې کښتۍ کې سپاره شول چې سورې ئې کړه، وئې ویل: آیا د دې لپاره دي سورې کړه چې سپرلي ئې غرق کړې، یقیناً چې په ستر (ناآشنا) کار دي لاس پوري کړ، وئې ویل: آیا نه مي وو ویلي چې ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی؟ وئې ویل: ما پر خپلې هېرېدا مه نیسه؛

او زما په کار کې سختي مه راسره کوه، نو وخوځېدل، تر هغه چې له يوه ځوانکي سره مخامخ شول، نو هغه ئې ووژلو، وئې ويل: آيا يو بې ګناه کس دي ووژلو، پرته له دې چې د کوم کس په بدل کې وژل شوی وي، يقيناً چې ډېر ناآشنا کار دي وکړ، وئې ويل: آيا نه مي وو درته ويلي چې ته زما په ملګرتيا کې صبر نشې کولی؟ وئې ويل: که مي له دې وروسته د کوم څه پوښتنه درنه وکړه نو بيا مي په ملګرتيا او مصاحبت کې مه درسره نيسه، يقيناً چې (په دې صورت کې به) زما له لوري د معذورتيا پراو ته رسېدلی يې، نو وخوځېدل، تر هغه چې د يوه کلي اوسېدونکو ته ورغلل، له کليوالو ئې د خوراك غوښتنه وکړه، هغوی له دې ډډه وکړه چې مېلمانه ئې کړي، بيا دواړو هلته يو داسي دېوال وموند چې غوښتل ئې نسکور شي، نو هغه ئې ټينګ ودراوو، وئې ويل: که دي غوښتي وی نو پر دې کار به دي اجوره تر لاسه کړې وه، وئې ويل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، ژر به د هغو کارونو په حقيقت تا پوه کړم چې صبر دي پرې ونه کړی شو. اما هغه کښتۍ چې وه نو هغه د ځينو مسکينانو وه چې په سيند کې به ئې کار کولو، نو ما وغوښتل چې عيبجنه ئې کړم او (دا ځکه چې) ترې وړاندې داسي پاچا وو چې هره کښتۍ ئې غصبوله؛ او هغه ځوانکی داسي وو چې پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ (خضر او د هلك پلار او مور) ووېرېدو چې داسي نه چې په خپل کفر او طغيان سره دوی دواړه تنګ کړي، نو اراده مو وکړه چې د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزويني له پلوه نږدې په عوض کې ورکړي. او هغه دېوال چې وو نو هغه په ښار کې د دوو يتيمو هلکانو وو او ترې لاندې د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چې دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقيقت وو چې تا پرې صبر ونشو کړی.

که په قرآن کې د موسی عليه السلام او د ده د استاد قصې ته په لږ دقت سره ځير شو نو په آسانۍ سره پوهېدی شو چې الله تعالی د ده استاد ته کوم

علم ورکړی وو او ده موسی علیه السلام ته د ملګرتیا په دوران کې څه ورزده کړل؛ قرآن فرمایي چې هغه موسی علیه السلام ته پنځه لارښوونې وکړې:

- د یوه ظالم پاچا له منګولو د مسکینانو او بې وزلو جاله والو ژغورل؛ هغه هم په داسي بڼې کې چې جاله وال تړې خبر نشول، د لږ ضرر په مقابل کې ئې دوی له ستر تاوان وژغورل. یعني د لږ تاوان په مقابل کې چا ته ډېره ګټه رسول غوره کار دئ.
- د یوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل. دا نه یوازي د اعتراض وړ عمل نه دئ بلکې نېك کار دئ.
- تر نړېدونکي دېوال لاندي د دوو یتیمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول.
- په ملګري دا شرط وضع کول چې په اسرارو د پوهېدو هڅه به نه کوي؛ باید تر هغه صبر وکړي چې دئ ئې په خپله پر اسرارو پوه کړي.
- د احتیاط په موخه د موسی ملګری له ځان سره نه بېول.

موسی علیه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد همدا لارښوونې زده کړې وې، د همدې لارښوونو په رڼا کې ده د خپل استاد دغو کارونو ته ورته پنځه کارونه وکړل: ۱- د مصر ښار ته هغه مهال چې ښار خالي وو؛ له محافظ پرته داخل شوی. ۲- له یوه مظلوم بني اسرائیلي د دفاع په موخه ئې یوه ظالم قبطي ته داسي ګوزار ورکړ چې پرې مړ شو، ۳- له مصر د فرار په وخت کې یوازي ووت؛ پرته له دې چې بل څوك له ځان سره ملګری کړي. ٤- د مدین د کوهي غاړې کې ئې په داسي حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چې د اوږده سفر له امله ډېر ستړی او ستومانه شوی وو، ٥- د بني اسرائیلو د نجات لپاره له مدین مصر ته لاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله.

یعني چې له استاد ئې دا درسونه تر نبوت وړاندي زده کړي وو او تر نبوت او بني اسرائیلو ته تر ستنېدو وړاندي ئې همدا کارونه وکړل؛ یعني چې

سفر ئې تر نبوت او مدین ته تر تلو ډېر وړاندي وو.

دا هم باید وویل شي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه مهال چې د مکې پرېښودو ته اړ شو، د شپې له لورې ئې قریشو کور محاصره کړی او غوښتل ئې د خوب حالت کې پرې برید وکړي؛ پیغمبر علیه السلام پرته له دې چې د کورنۍ غړي خبر کړي؛ علي رضي الله عنه ته ئې چې له ده سره په کور کې اوسېدو؛ وویل: نن شپه ته زما بستر کې پرېوځه؛ له داسي لاري ووت چې څوك ئې ونه ویني؛ د ابوبکر رضي الله عنه کور ته ورغی؛ او له هغه سره یو ځای ووت؛ د حرکت سمت ئې هم بدل کړ؛ د مدینې استقامت پر ځای جنوب ته وخوځېدل؛ که څه هم ابوبکر رضي الله عنه لا له وړاندي له پیغمبر علیه السلام اجازه غوښتې وه چې هجرت وکړي؛ خو هغه ته ئې د انتظار کولو وینا وکړه؛ ابوبکر هغه مهال پوه شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې سفر لپاره ده ته د انتظار سپارښتنه کړې وه. ښایي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا احتیاطي تدبیرونه د موسی علیه السلام او خضر له دغي قصې زده کړي وو. نه د کورنۍ غړي خبرول او نه د سفر ملګری؛ د دوی دواړو کارونو ته ورته ول.

دا خبره ځکه کوو چې قرآن د قریشو د دغي توطئې شنډېدل د هغه بصیرت نتیجه ګڼي چې الله تعالی د تقوی په نتیجه کې خپل پیغمبر ته ورکړی وو او هر مؤمن ته ئې ورکوي. قرآن فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ الأنفال: ۲۹

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له منځه یوسي او بخښنه به درته وکړي او الله د لوی فضل خاوند دئ.

یعني الله تعالی به د تقوی په نتیجه کې داسي فرقان، فراست او بصیرت ستاسو په برخه کړي چې په هغه سره د حق او باطل تر منځ ژر او په آسانۍ

سره توپير کولی شئ، يعنی تقوی تاسو ته داسي رون څراغ، دقيق محك او معيار، ژور بصيرت او فراست درکوي چي کولی شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن ترمنځ توپير وکړئ او په هر وخت او هر حالت کي مناسبه فيصله وکړئ او ګټور تصميم ونيسئ

او ورپسې د همدې فرقان او فراست يو عملي مثال وړاندي کوي او فرمايي:

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٣٠﴾ الأنفال: ۳۰

او کله چي کافرانو ستا خلاف پټ تدبيرونه نيول چي بندي دي کړي يا دي ووژني يا دي وباسي، دوی هم پټ تدبيرونه کول او الله هم پټ تدبير کولو؛ او الله تر ټولو غوره تدبير کوونکی دئ.

په دې مبارك آيت کي هغي قضيې ته اشاره شوې چي د قريشو مشران په دارالندوه (د جرګو کور) کي راغونډ شول، غوښتل ئې د پيغمبر عليه السلام په اړه وروستۍ پربکړه وکړي، ځينو ويل چي غوره ده بندي ئې کړو، ځيني په دې نظر ول چي له مکې ئې تبعيد کړي او ځينو د ده په وژلو ټينګار کولو، د جرګې په پای کي ټول په دې سلا شول چي وئې وژني، خو داسي چي د قريشو د ټولو قبيلو يو يو زړه ور زلمی راغونډ شي او د شپې له لوري هغه مهال برید وکړي چي دی او نور خلك په خوب ويده وي، په دې توګه به د پيغمبر عليه السلام قبيلې بنو هاشمو ته دا ګرانه شي چي د انتقام لپاره له ټولو قبيلو سره وجنګېږي. همداسي وشول، برید کوونکي په ټاکلې شپې راغونډ شول، منتظر ول چي شپه پخه او خلك ويده شي، پيغمبر عليه السلام ته د دوی د تصميم اطلاع ورسېده، د شپې له کوره ووت، علي رضی الله عنه ته ئې وويل چي د ده په بستر کي ځملي، دی له ابوبکر رضي الله عنه سره يو ځای له مکې ووتل، د سفر لوری ئې بدل کړ، د مدينې په ځای په بل لوري وخوځېدل، کله چي د

قريشو بريد کوونکي د شپې ناوخته د پيغمبر عليه السلام د خوب خوني ته ننوتل او د هغه پر بستر ئې علي رضي الله عنه وموندو، په خپلي غلطۍ پوه شول، د مدينې په لوري د تعقيب لپاره وخوځېدل، تر لري لري ولاړل خو څه په لاس نه ورغلل، الله تعالى د دوى مکر شنډ کړ، خپل متقي پيغمبر ته ئې دا فراست ورپه برخه کړ چې په مناسب وخت کې مناسب تصميم ونيسي.

که د القصص سورې له ١٤ آيت وروسته آيت ته ځير شو ګورو چې په هغه کې د يوه قبطي او بني اسرائيلي تر منځ نښتي او له مظلوم بني اسرائيلي د موسى عليه السلام دفاع ته اشاره شوې او ورپسې د موسى عليه السلام هغه تاريخي او انقلابي پرېکړه په ګوته شوې چې د ظالمانو له ملګرتيا او ملاتړ ئې خپل قطعي او دائمي برائت اعلان کړ:

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧ القصص: ١٧

وئې ويل: اې زما ربه! د هغې پېرزويني له کبله چې پر ما دي وکړه هيڅکله به (له دې وروسته) د مجرمينو ملاتړی نشم.

دا په حقيقت کې له فرعوني نظام سره د موسى عليه السلام د بشپړې مقاطعې پرېکړه او اعلان وو.

همدا راز قرآن د فرعون په کور کې د موسى عليه السلام د اوسېدو د قصې په ضمن کې لومړی دا وايي چې موسى عليه السلام ته مو علم او حکمت ورکړ؛

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسۡتَوَىٰٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤

او کله چې پوخوالي ته ورسېد او تکړه شو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو.

وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ

هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ القصص: ١٤-١٥

او ښار ته هغه مهال ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل وو (د شپې او یا د غرمې په مهال په خوب ویده ول)، نو دوه سړي ئې داسي په کې وموندل چې په جګړې سره بوخت دي، دا یو ئې د ده له خپلې قبیلې او هغه بل ئې د ده د دښمن (له خپلې)، نو هغه چا چې د ده له قبیلې وو د ده د دښمن په خلاف مرستې ته ورناړې کړې، نو موسی په څېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ویل: دا د شیطان کار وو، یقیناً چې هغه څرګند بې لارې کوونکی دښمن دئ.

او د همدې پېرزویني له یادولو وروسته د دغو پېښو یادونه کوي؛ چې همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتائج ګڼل شوي. یعني دا علم او حکمت هم په دغې مرحلې کې ده ته ورکړی شوي. یو داسي کس چې د فرعون په کور کې په ناز او نعمت کې ستر شوی وي، د فرعون مېرمني د خپل نازولي او ګران زوی په توګه روزلی وي؛ ډېره بعیده ده چې هغه دي یوازي او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او بیا دي د دوو عادي سړیو تر منځ نښتي کې مداخله وکړي او هغه هم داسي مداخله چې په ترڅ کې ئې تېری کوونکی ووژل شي؛ خو الله تعالی د ده د روزنې بېل انتظام کړی وو، له خضر سره ملګرتیا هغه ته ښودلې وو چې د مظلوم ملګرتیا به کوې. خضر د ملګرتیا په دوران کې د دریو پېښو په ترڅ کې هغه ته دا درس ورکړی وو چې تل به د مظلوم ملګرتیا کوي او د ظالم له منګولو د هغه د ژغورنې لپاره به ملا تړي.

دا خبرې په ډېر وضاحت سره ښیي چې: خضر نه کوم لاهوتي او ناسوتي علم موسی علیه السلام ته ورښودلی، نه کوم لدني او باطني علم او نه د طریقت مسلك، پنځه جهادي لارښوونې ئې ورته کړې او په عملي توګه ئې ورښودلې: د

ظالمانو په ضد د مظلومانو ملګرتیا، د بې رحم مفسد وژل؛ د یتیمانو مرسته؛ خپل اسرار پټ ساتل؛ که ملګری غوره کوې نو دا شرط پرې منه چې په اسرارو د پوهېدو هڅه به نه کوي.

دا باید په پام کې ولرو چې قرآن دا نه دي ویلي چې چا موسی علیه السلام ته له دې عالم شخص سره د لیدو خبره کړې، چا ورته ویلي چې دا شخص په مجمع البحرین کې اوسي او د ځای پیدا کولو نښه به ئې دا وي چې ماهي به خپله لار بدله کړي او له دوی به ورک شي. که دا خبري د الله تعالی له لوري ده ته شوې وی نو حتماً به په قرآن کې په صراحت سره د دې یادونه شوې وه؛ خو دې ته په پام سره چې موسی علیه السلام په ماشومتوب کې د خپلې مور له غېږې د سیند څپو ته له دې کبله سپارل شوی وو چې فرعون د ده او د ټولو بني اسرائیلو د زامنو د وژلو پرېکړه کړې وه؛ الله تعالی دی بېرته د خپلې مور غېږې ته راستون کړ؛ د فرعون په کور کې پوهېدو چې له ده او د ده له مظلوم قوم سره؛ فرعون او فرعونیانو څومره ظلمونه کړي او کوي ئې؛ د موسی په څېر یو جلالي شخصیت به حتماً تل په دې فکر کې وو چې څنګه دا ظلم پای ته ورسوي او مظلومان وژغوري؛ کله چې ئې د یوه عالم او مجاهد نوم اورېدلی نو تصمیم ئې نیولی چې حتماً د هغه لیدو ته ورشي او څه تري زده کړي؛ له همغه چا به ئې معلومات تر لاسه کړي وي چې د ده د اوسېدو ځای مجمع البحرین او دئ او دا چې څنګه به په سیند کې د روانو ماهیانو د مسیر له مخې دا ځای پیدا کړي؛ همدې شخص به ده ته ویلي وي چې دا عالم او مجاهد شخص له مظلومانو د دفاع په مبارزه بوخت دئ. قرآن له دې ځای دا قصه پیل کړې:

وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ لا أَبْرَحُ حَتَّى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾، فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

الکهف: ٦٠- ٦١

او کله چې موسی خپل زلمکي ته وویل: تر هغه به له تلو تم نشم چې مجمع البحرین (د دوو سیندونو یو ځای کېدو سیمي) ته ورسېږم یا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) دروممم. نو کله چې د دواړو یوځای کېدو سیمي ته ورسېدل؛ نو دواړو خپل کب هېر کړ؛ چې په سیند کې ئې خپله لار ونیوله او ولاړ.

له دې آیتونو معلومېږي چې: ۱- موسی علیه السلام د اوږده سفر په نیت وتلی، ۲- غوښتل ئې مجمع البحرین نومي سیمي ته ورسېږي، ۳- یو ځوانکی ئې د سفر ملګری وو، ٤- ماهي د نښې په توګه ورته ښودل شوی وو. د دې خبرو له فحوی معلومېږي چې موسی علیه السلام دا معلومات له کوم بلد کس تر لاسه کړي.

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسی علیه السلام د ملګرتیا په قصه کې څو په زړه پوري او د توجه وړ ټکي زموږ مخي ته ایښودل شوي:

٤٧٢٧ - حَدَّثَنِي قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: إِنَّ نَوْفًا البَكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ لَيْسَ بِمُوسَى الخَضِرِ، فَقَالَ: كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ، حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَامَ مُوسَى خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَقِيلَ لَهُ: [ص:٩٣] أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ؟ قَالَ: أَنَا، فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ إِذْ لَمْ يَرُدَّ العِلْمَ إِلَيْهِ، وَأَوْحَى إِلَيْهِ: بَلَى عَبْدٌ مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ البَحْرَيْنِ، هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ، قَالَ: أَيْ رَبِّ، كَيْفَ السَّبِيلُ إِلَيْهِ؟ قَالَ: تَأْخُذُ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، فَحَيْثُمَا فَقَدْتَ الحُوتَ فَاتَّبِعْهُ، قَالَ: فَخَرَجَ مُوسَى وَمَعَهُ فَتَاهُ يُوشَعُ بْنُ نُونٍ، وَمَعَهُمَا الحُوتُ حَتَّى انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ، فَنَزَلاَ عِنْدَهَا، قَالَ: فَوَضَعَ مُوسَى رَأْسَهُ

فَنَامَ، - قَالَ سُفْيَانُ: وَفِي حَدِيثِ غَيْرِ عَمْرٍو، قَالَ: وَفِي أَصْلِ الصَّخْرَةِ عَيْنٌ يُقَالُ لَهَا: الحَيَاةُ لاَ يُصِيبُ مِنْ مَايِهَا شَيْءٌ إِلَّا حَيِيَ، فَأَصَابَ الحُوتَ مِنْ مَاءِ تِلْكَ العَيْنِ - قَالَ: فَتَحَرَّكَ وَانْسَلَّ مِنَ المِكْتَلِ، فَدَخَلَ البَحْرَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ مُوسَى قَالَ لِفَتَاهُ: {آتِنَا غَدَاءَنَا} [الكهف: ٦٢] الآيَةَ، قَالَ: وَلَمْ يَجِدِ النَّصَبَ حَتَّى جَاوَزَ مَا أُمِرَ بِهِ، قَالَ لَهُ فَتَاهُ يُوشَعُ بْنُ نُونٍ: {أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الحُوتَ} [الكهف: ٦٣] الآيَةَ، قَالَ: فَرَجَعَا يَقُصَّانِ فِي آثَارِهِمَا، فَوَجَدَا فِي البَحْرِ كَالطَّاقِ مَمَرَّ الحُوتِ، فَكَانَ لِفَتَاهُ عَجَبًا، وَلِلْحُوتِ سَرَبًا، قَالَ: فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ، إِذْ هُمَا بِرَجُلٍ مُسَجًّى بِثَوْبٍ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ مُوسَى، قَالَ: وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ، فَقَالَ: أَنَا مُوسَى، قَالَ: مُوسَى بَنِي إِسْرَايِيلَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا؟ قَالَ لَهُ الخَضِرُ: يَا مُوسَى، إِنَّكَ عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَكَهُ اللَّهُ لاَ أَعْلَمُهُ، وَأَنَا عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ اللَّهُ لاَ تَعْلَمُهُ، قَالَ: بَلْ أَتَّبِعُكَ، قَالَ: فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلاَ تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ فَمَرَّتْ بِهِمْ سَفِينَةٌ فَعُرِفَ الخَضِرُ فَحَمَلُوهُمْ فِي سَفِينَتِهِمْ بِغَيْرِ نَوْلٍ - يَقُولُ بِغَيْرِ أَجْرٍ - فَرَكِبَا السَّفِينَةَ، قَالَ: وَوَقَعَ عُصْفُورٌ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ فَغَمَسَ مِنْقَارَهُ فِي البَحْرِ، فَقَالَ الخَضِرُ لِمُوسَى: مَا عِلْمُكَ وَعِلْمِي وَعِلْمُ الخَلاَيِقِ فِي عِلْمِ اللهِ إِلَّا مِقْدَارُ مَا غَمَسَ هَذَا العُصْفُورُ مِنْقَارَهُ، قَالَ: فَلَمْ يَفْجَأْ مُوسَى إِذْ عَمَدَ الخَضِرُ إِلَى قَدُومٍ فَخَرَقَ السَّفِينَةَ، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا {لَقَدْ جِئْتَ} [الكهف: ٧١] الآيَةَ، فَانْطَلَقَا

إِذَا هُمَا بِغُلَامٍ يَلْعَبُ مَعَ الغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الخَضِرُ بِرَأْسِهِ فَقَطَعَهُ، قَالَ لَهُ مُوسَى: {أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ، لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِي صَبْرًا} [الكهف: ۷۵] إِلَى قَوْلِهِ {فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ} [الكهف: ۷۷]- فَقَالَ بِيَدِهِ: هَكَذَا - فَأَقَامَهُ، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: إِنَّا دَخَلْنَا هَذِهِ القَرْيَةَ فَلَمْ يُضَيِّفُونَا وَلَمْ يُطْعِمُونَا، {لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا، قَالَ: هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ، سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا} [الكهف: ۷۸]، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَدِدْنَا أَنَّ مُوسَى صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا " قَالَ: وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ: «وَكَانَ أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ صَالِحَةٍ [ص:۹۳] غَصْبًا، وَأَمَّا الغُلاَمُ فَكَانَ كَافِرًا» بخاری

دا دئ گورئ چي د بخاري په پنځو رواياتو کي د وريت شوي ماهي او په مکتل (توکرې) کي له ځان سره اخيستل راغلي؛ او راويان ئې دا دي: عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَمْرُو بْنِ دِينَارٍ، سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ او عبد الله بن عَبَّاسٍ: او په شپږ روايتونو کي په سيند کي ژوندي ماهي پسي د تگ يادونه شوې چي راويان ئې دا دي: مُحَمَّدُ بْنُ غُرَيْرٍ الزُّهْرِيُّ، يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، پلار ئې ابراهيم، صَالِحٍ، ابْنِ شِهَابٍ، عُبَيْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ اللهِ او عبد الله بن عباس رضي الله عنهمام.

د دواړو هممهاله راوړل او دواړو ته صحيح ويل؛ د حيرانتيا وړ ده؛ سره له جدي تضاد چي په متن او مدعى کي ئې ليدل کېږي.

په مخکيني درس کي مو وليدل چي بخاري د موسى عليه السلام او د ده د استاد خضر په ارتباط ديارلس روايتونه راوړي؛ شپږ ئې وايي چي موسى عليه السلام ته ژوندى ماهي د نښې په توګه ټاکل شوى وو؛ د ماهيانو دا خاصه

نوع په دريا کې روان وو او دی او محافظ ئې ورپسې په وچې کې تلل؛ خو پنځه روايات ئې د دې عکس او خلاف خبره کوي او وايي: دوی ته وريت شوی ماهي د نښې په توګه ټاکل شوی او ورته ويل شوي وو: کله چې دا ماهي درنه ورک شو؛ نو هملته به خپل استاد پيدا کړئ.

راشئ د وريت شوي کب اړوند د بخاري يوه روايت ته ځير شو:

۱۲۲ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَمْرٌو، قَالَ: أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: إِنَّ نَوْفًا البَكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ؟ فَقَالَ: كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ؟ فَقَالَ: أَنَا أَعْلَمُ، فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ العِلْمَ إِلَيْهِ، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ: أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ البَحْرَيْنِ، هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ: يَا رَبِّ، وَكَيْفَ بِهِ؟ فَقِيلَ لَهُ: احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهُوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا، (و فی روایة: قَالَ سُفْيَانُ: وَفِي حَدِيثِ غَيْرِ عَمْرٍو، قَالَ: وَفِي أَصْلِ الصَّخْرَةِ عَيْنٌ يُقَالُ لَهَا: الحَيَاةُ لاَ يُصِيبُ مِنْ مَائِهَا شَيْءٌ إِلَّا حَيِيَ، فَأَصَابَ الحُوتَ مِنْ مَاءِ تِلْكَ العَيْنِ -) فَانْسَلَّ الحُوتُ مِنَ المِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي البَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمَهُمَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ: آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ المَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ، فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ: (أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي

نَسِيتُ الحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلَّا الشَّيْطَانُ)

د روايت لومړۍ برخه داسي ده:

- سعيد بن جبير وايي: ابن عباس ته مي وويل: نوف ګمان کوي چې دا موسی د بني اسرائيلو موسی نه دئ؛ بل موسی دئ؛ هغه وويل: دا د خدای دښمن دروغ وايي؛ ابي بن کعب مورِ ته وويل چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: موسی عليه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډې کې وينا ته پاځېدو؛ نو ترې وپوښتل شو: په خلکو کې څوک ډېر پوه دئ؟ وئې ويل: زه ډېر پوه يم؛ نو الله تعالی له دې کبله پرې غصه شو چې علم ئې الله تعالی ته راجع نه کړ؛ نو الله تعالی ورته وحی وکړه چې زما له بندګانو يو بنده په مجمع البحرين کې اوسي؛ هغه تر تا زيات پوه دئ؛ وئې ويل: اې زما ربه! څنګه به هغه ته رسم؛ نو ده ته وويل شول: يو ماهي په ټوکرۍ کې واخله؛ کله چې دي ورک کړ نو دی به هملته وي؛ نو وخوځېدو او خپل ځوانکی؛ يوشع بن نون ئې له ځان سره روان کړ؛ دواړو يو کب په ټوکرۍ کې وړلو؛ تر هغه چې د يوه کمره خوا ته ورسېدل؛ دواړو خپل سرونه ولګول او ويده شول؛ او په بل روايت کې (سفيان وويل: د عمرو له حديث پرته په نورو کې داسي راغلي: د کمر لاندي يوه داسي چينه وه چې د حيات په نامه به يادېدله؛ هيڅ څه ته به ئې اوبه نه رسېدلې مګر دا چې هغه شیء به ژوندی کېدو؛ نو دغه ماهي ته ئې اوبه ورسېدې) نو کب له ټوکرۍ ووت او په سيند کې پر خپله مخه ولاړ؛ او دا موسی او د ده ځوانکي ته عجب کار وو؛ نو پاته شپه او ورځ ئې ولاړل؛ کله چې سبا پرې راغی نو موسی خپل ځوانکي ته وويل: غرمنی خوراك مو راوړه؛ يقيناً له دې سفر مو دا ستومانتيا په برخه شوې؛ او موسی تر هغه هيڅ ستړيا احساس نه کړه چې له هغه ټاکلي مکان تېر شو چې پرې ګمارل شوی وو. نو ځوانکي ئې ورته وويل: آيا پام دي دئ؛ هغه مهال چې مورِ کمر ته پناه يووړه؛ نو ما کب هېر کړ؛ او فقط شيطان رانه هېر کړ؛

په دې برخي کې څو مسائل توجه ایجابوي:

- ١- که دا کار هغه مهال شوی وي چې موسی علیه السلام په پیغمبرۍ مبعوث شوی وو؛ نو ولې به الله تعالی له دې کبله پرې غصه کېدو چې د چا په ځواب کې ئې ویلي: زه اوس تر ټولو انسانانو زیات پوه یم؟ یقیناً چې هغه حقیقت ویلی وو؛ هغه مهال په ټوله نړۍ کې تر ده زیات پوه انسان نه وو. د قرآن د وینا له مخې د ده قوم تر ټولو قومونو افضل وو او دی تر ټولو انسانانو افضل او اعلم.

- ٢- دلته د بخاري د شپږو روایتونو خلاف خبره شوې او وایي: موسی علیه السلام مړ ماهي په ټوکرۍ کې د نښې په توګه له ځان سره وړی؛

- ٣- وایي: دواړه د کمره خوا ته ویده شول؛ او همدا مهال ماهي ژوندی شو او سیند ته ننوت؛ او دا کار دواړو ته د حیرانتیا سبب وو؛ پوښتنه دا ده چې مخکې ویل شوي چې دواړه ویده شول او دلته وایي: دواړو ته له ټوکرۍ د ماهي وتل او سیند ته غورځېدا ئې حیرانوونکې پېښه وه!! دا پېښه خو ئې هغه مهال لیدی شوی چې دواړ ویښ وی.

٤- بیا وایي: دواړو پاته شپه او ورپسې ورځ ئې مزل کړی؛ ورپسې وایي: موسی علیه السلام له ځوانکي غرمنی خوراك وغوښت؛ هغه ورته وویل: آیا پام دي دئ؛ هغه مهال چې موږ کمر ته پناه یووړه؛ نو ما کب هېر کړ؛ او فقط شیطان رانه هېر کړ!! پوښتنه دا ده: که دواړو له ټوکرۍ د ماهي وتل او سیند ته غورځېدا لیدلې وه؛ نو همغه مهال به پوه شوي وو چې موږ ټاکل شوي ځای ته رسېدلي یو؛ ولې ئې یوه شپه او ورځ مزل کړی؟ او ولې وروسته ویل شوي چې دا صحنه یوازي ځوانکي لیدلې وه او دا ترې هېر شوي وو چې موسی علیه السلام ته ئې یادونه وکړي؟ وروستۍ خبره ئې د مخکیني خلاف ده.

- ٥- وایي د کمر خوا ته د حیات په نامه چینه وه چې اوبه به ئې له هر څه ولګېدې نو هغه به ژوندی شو؛ په هر څه کې خو ډېري هم راځي او موسی

علیه السلام او ملګری ئې هم راځي؛ ولې یوازي مړ ماهي! پرې ژوندی شوی؛ نه ډبري ژوندی شوې او نه موسی علیه السلام و ملګري ته دائمي ژوند ورپه برخه شوی؛ شك نشته چې دوی به دا اوبه څښلي وي؟!!

د روایت دوهمه برخه:

قَالَ مُوسَى: (ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا) فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ، (فَوَجَدَا فِي البَحْرِ كَالطَّاقِ مَمَرَّ الحُوتِ، فَكَانَ لِفَتَاهُ عَجَبًا، وَلِلْحُوتِ سَرَبًا) إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ، أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ، فَسَلَّمَ مُوسَى، فَقَالَ الخَضِرُ: وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ؟ فَقَالَ: أَنَا مُوسَى، فَقَالَ: مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ؟ قَالَ: نَعَمْ،

موسی وویل: دا همغه څه دئ چې مور غوښتلو؛ نو دواړه پر خپلو پلونو په شا شول؛ نو کله چې هغه کمر ته ورسېدل؛ په سند کې ئې د ماهي د تلو لار داسي ومونده لکه یو طاق؛ نو دا ځوانکي ته حیرتناك وو او ماهي ته یو سوری او تونل!! ناڅاپه په څادر کې نغښتی یو سړی دئ او یا دا چې وئې ویل: په خپل څادر کې ئې ځان نغښتی؛ نو موسی سلام واچاوو؛ او خضر وویل: ستا په سیمي کې سلام له کومه شو؟ نو وئې ویل: زه موسی یم؛ نو هغه وویل: د بني اسرائیلو موسی؟ وئې ویل: هو؛

په دې برخي کې څو اضطرابات او ناآشنا خبري مومو:

- ۱- دلته بیا داسي څه ویل شوي چې ښیي په سیند کې د ماهي طاق ته ورته ممر یوازي ځوانکي لیدلی او ده تعجب کړی؛ حال دا چې دلته موسی علیه السلام او د سفر ملګری ئې په ګډه او د ورځې له لوري راغلي او که دلته کوم ممر وو نو حتماً به دواړو لیدلی وي؛ ولې یوازي ځوانکي؟!
- ۲- خضر د موسی علیه السلام د سلام له اورېدو سره سم پوښتنه کوي: ستا په سیمي کې سلام له کومه شو؟ او چې هغه ورته وایي: زه موسی یم؛ بیا پوښتنه کوي: د بني اسرائیلو موسی؟ یعني چې خضر له غیب دومره بې خبره

وو چې مخي ته ئې ولاړ انسان نه پېژندو؛ او کله چې هغه خپل نوم ښيي؛ نو په دې هم نه پوهېږي چې دا به کوم موسی وي.

د روايت درېيمه برخه:

قَالَ: هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ: إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ، قَالَ: سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ البَحْرِ، لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الخَضِرُ فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ، فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي البَحْرِ، فَقَالَ الخَضِرُ: يَا مُوسَى مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللهِ إِلَّا كَنَقْرَةِ هَذَا العُصْفُورِ فِي البَحْرِ، فَعَمَدَ الخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ، فَنَزَعَهُ، فَقَالَ مُوسَى: قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا؟ قَالَ: أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا؟ قَالَ: لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلاَ تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا - فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا -، فَانْطَلَقَا، فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ، فَقَالَ مُوسَى: أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ؟ قَالَ: أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا؟ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: "وَهَذَا أَوْكَدُ" فَانْطَلَقَا، حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ، قَالَ الخَضِرُ: بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا، قَالَ: هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ"قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَرْحَمُ

اللَّهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا» بخاري: ۱۲۲

دا روايت څلور ځلي په بخاري کې راغلی؛ له ډېرو توپيرونو سره؛ په اړه ئې ډېري داسي پوښتني راولاړېږي چې ځواب ئې نشي ويل کېدی، له مخکينيو پوښتنو علاوه؛ نوري پوښتني او ملاحظات دا دي:

- دا روايت د بخاري له شپږو رواياتو سره بشپړ تعارض لري؛ هغه روايات په ژوندي ماهي پسي د تگ خبره کوي؛ او دا د وريت شوي ماهي د ژوندي کېدو خبره او هغه هم داسي چې گواکې د حيات اوبه پرې لگېدلې دي او په همدې سره وريت شوی ماهي راژوندی شوی او سيند ته داسي غورځېدلی چې له ممر ئې طاق جوړ شوی (فَوَجَدَا فِي البَحْرِ كَالطَّاقِ مَمَرَّ الحُوتِ)!! دې ته مو پام وي چې د پيغمبرانو له معجزو پرته د عالم نور ټول کارونه د عام الهي سننو مطابق تر سره کېږي؛ دا سنن ثابت او تغيير نه منونکي دي؛ خارق العاده کارونه يوازي په افسانو کې موندلی شو نه د الله تعالی په دې خور عالم کې. د حيات اوبه، د حيات مېوه، د معرفت مېوه؛ دا د بايبل خرافي خبرې دي چې متأسفانه مسلمانانو هم ترې اقتباس کړې. که غواړئ په تفصيل ئې پوه شئ نو (بايبل د قرآن په رڼا کې کتاب ته مراجعه وکړئ؛ هلته به وگورئ چې بايبل وايي: خدای؛ آدم او حواء په جنت کې د دوو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي وو: ۱- د حيات ونه او ۲- د معرفت ونه؛ گواکې دوی د معرفت وني مېوه وخوړله نو ځکه پوه شول چې بربنډ دي!! تر دې وړاندي ئې خپل بربنډتوب نه ليدلو؛ دا ځکه چې بې معرفت ول؛ بيا ليکي: "په دې توگه ده (خدای) آدم د عدن له باغ وباسلو او د عدن د باغ په شرقي برخي کې ئې د اور په داسي سرو تورو سمبال فرشتې وگمارلې چې هري خوا ته څرخي، د دې لپاره چې د حيات د وني لاره خوندي وساتي" يعني چې آدم ونه توانېږي د حيات مېوه وخوري او خدای ته په معرفت او دائمي ژوند کې رقيب او سيال جوړ نشي!! خو د قرآن لارښوونه دا ده چې هر مخلوق ژوی مري. دا د حيات او معرفت

مېوه او د حیات اوبه؛ له محرف بایبل اخیستل شوي، نه په قرآن کې بنسټ ورته مومو او نه په نورو واقعي ديني ارزښتونو او لارښوونو کې؛ د قرآن د صریح او پرېکنده ویناوو او اصولو خلاف دئ؛ هلته چې وایي: (كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ) العنکبوت ۵۷: هر ساکښ حتماً د مرګ خوند څکي؛ بیا زما لوري ته راګرځول کېږئ)؛ یعني دا ثابت الهي سنت دئ چې هر ژوندی مخلوق؛ د ساه خاوند؛ که انسان دئ، که حیوان دئ، که مرغان او که نباتات دي؛ ټول د مرګ ثابته نښته لري او حتماً به د مرګ خوند څکي.

- د روایت په سر کې راغلي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وویل: كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ: د خدای دې دښمن دروغ ویلي! د عبدالله بن عباس غوندي له شخصیت دا خبره ډېره لري ده چې د یوه کس د ادعاء له مخي د بل چا په اړه داسي وینا وکړي. شریعت داسي قضاوت جائز نه ګڼي چې د یوې لانجې د دواړو خواوو د ویناوو له اورېدو مخکې وي او هغه هم داسي قضاوت چې یوه غائب کس ته په کې د خدای دښمن وویل شي.

- د روایت په یوه ځای کې راغلي چې دواړه ویده شول او ماهي له ټوکرۍ ووت او په سیند کې ولاړ؛ خو ورپسې ویل شوي: دا کار دواړو ته د حیرت وړ وو!! پوښتنه دا ده: که دواړه ویده وو نو څنګه ئې د ماهي ژوندي کېدا لیدلې؟ وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا، فَانْسَلَّ الحُوتُ مِنَ المِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي البَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا؛ ورپسې وایي: سبا او د دې صحنې له لیدو وروسته دواړه پاته شپه او ورځ ولاړل: فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمَهُمَا!! نو کله چې سبا شو؛ موسی علیه السلام خپل ځوانکي ته وویل: خواړه مو راوړه چې له سفر ډېر ستومانه شوي یو؛ هغه ورته وویل: آیا پوهېږې! هغه مهال چې مورِ لوی کمر ته پناه یووړه؛ کب مي هېر کړ؛ او شیطان رانه هېر کړل چې یادونه ئې درته وکړم!! یعني مخکې وایي: دواړه ویده شول او له دې خبر نه شول چې کب سیند ته

غورځېدلی؛ خو دلته وايي: دا صحنه ځوانکي ليدلې؛ خو ترې هېر شوي چې موسی عليه السلام ته ئې ووايي!!

- دا روايت وايي چې وريت شوی کب ژوندی شو او سيند ته ئې ټوپ کړل او دا موسی عليه السلام او ملګري ته ئې د حيرانتيا سبب شو، حال دا چې قرآن وايي چې په سيند کې د کب ورکېدا يوازې د موسی عليه السلام ملګري ليدلې او موسی عليه السلام دا صحنه نه وه ليدلې نو ځکه ئې له خپل ملګري د دغې خبرې په اورېدو سره وويل: مورږ د همدې ځای په لټه کې وو چې کب به په خپله مخه درومي او له مورږ به غائب کېږي. د روايت الفاظ دا دي: فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا او دا د قرآن له وينا سره په بشپړه توګه تعارض لري، ځکه قرآن د موسی عليه السلام د ملګري له خولې وايي:... وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ عَجَبًا ٦٣

- که وريت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی عليه السلام به څنګه خپل خادم ته ويل چې هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت کې خو به ئې تل له ځان سره ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله.

- همدا راز دا روايت وايي چې موسی عليه السلام او ملګري ئې د کمر خوا ته سرونه کېښودل او ويده شول، که داسي وو نو د کب ژوندي کېدا او سيند ته لوېدا ئې څنګه وليده؟! قرآن د ډېرې خوا ته د ويده کېدو خبره نه کوي بلکې د پناه وړلو خبره کوي او ښيي چې د تودوخي له امله ئې د کمر سيوري ته پناه وړې او څو شېبې ئې هلته دمه کړې ده؛ خو دا روايت وايي چې هلته دواړه ويده شوي!!

- قرآن وايي چې موسی عليه السلام تر بعثت وروسته يوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم لرې شوی چې د ده په غياب کې سامري وغولول، که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو.

- دا روايت وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته دا سفر کړی، حال دا چې د قرآن له آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې دا سفر هغه مهال شوی چې موسی عليه السلام په مصر کې او د فرعون په کور کې اوسېدو؛ له بعثت وروسته هغه د ټول عالم لپاره لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کې نه وو، ولې به الله تعالی د دې خبرې په کولو تر عتاب لاندې نيولو چې د يو چا په ځواب کې ئې ويلي وو: تر ما بل پوه کس نشته؟! د پيغمبر عليه السلام په اړه صحابه وو تل او په وار وار ويلي چې الله او د هغه رسول تر ټولو زيات پوه دي.

- د قرآن له وينا معلومېږي چې دا سفر هغه مهال شوی چې موسی عليه السلام لا مدين ته هجرت نه وو کړی او د فرعون په کور کې اوسېدو، ځکه قرآن وايي چې په همدغي مودې کې الله تعالی هغه ته علم او حکمت ورپه برخه کړ، ((وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَى آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ...)؛ د علم او حکمت تر لاسه کولو يوه مرجع ئې همدا له خضر سره څو ورځنی سفر وو، په همدې آيت پسې متصل آيت وايي ((وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَى حِينِ غَفْلَةٍ مِنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلانِ هَذَا مِنْ شِيعَتِهِ وَهَذَا مِنْ عَدُوِّهِ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ قَالَ هَذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُضِلٌّ مُبِينٌ): موسی په داسي حال کې ښار ته ننوت چې خلك د غفلت په خوب ويده ول؛ دوه کسان ئې د نښتي په حال کې وموندل؛ يو ئې د ده له قبيلې او بل ئې د دښمن له قبيلې؛ د ده د قبيلې وال ترې مرسته وغوښته؛ د ده مرسته ئې وکړه او بل ته ئې داسي څپېړه ورکړه چې پرې مړ شو؛ ... او دا هغه څه وو چې په همدې سفر کې ئې له خپل استاد زده کړي وو: د يوه کافر، مفسد او بې رحم زلمي وژل او با ايمانه مور پلار ئې د ده له شر ژغورل؛ موسی عليه السلام له خپل استاد پنځه مهم درسونه عملاً زده کړي وو او همدغو پنځو کارونو ته ورته کارونه ئې وکړل: له محافظ پرته او د خلکو د غفلت په وخت کې ښار ته ننوتل، د يوه ظالم قبطي په وړاندې د يوه مظلوم بني اسرائيلي

داسي مرسته چي ظالم قبطي ته ئې کلکه څپېړه ورکړه او په همدې سره هغه ومړ، له مصر د وتلو او مدین ته د تګ په دوران له ملګري پرته سفر، د مدین د کوهي په غاړه ئې د دوو مېرمنو مرسته وکړه او په داسي حال کې ئې په یوازي تن له کوهي اوبه راویستې او د دوی رمه ئې خړوبه کړه چې د اوږده سفر له امله سخت ستړی او ستومانه وو او د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره مصر ته ولاړ او د فرعون مقابله ئې پیل کړه. د خضر له هغو پنځو کارونو سره د موسی علیه السلام د دغو پنځو کارونو شباهت په ډېر وضاحت سره ښیي چې دا سفر له بعثت مخکې تر سره شوی. له بعثت وروسته هغه د سینا په صحرا کې وو، هلته نه سیندونه وو او نه مجمع البحرین، که احیاناً څوک دا دوه بحرونه ګڼي او وایي چې له مجمع البحرین مراد د عقبه او سویس یا د بحرالروم (مدیترانه) او بحر القلزم (بحرالاحمر) یوځای کېدا ده هغوی ته وایو: عقبه او سویس دواړه د بحر احمر دوې برخې دي؛ له یو بل لرې بحر احمر سره وصل دي؛ مدیترانه او سره بحیره ۱۹۲ کیلومتره سره لرې دي؛ تر منځ ئې مصنوعي کانال (د سویس کانال) ایستل شوی؛ یعني په دې ټولې سیمې کې هیڅ مجمع البحرین نشته؛ که څوک ادعاء وکړي چې د موسی علیه السلام دا سفر هغه مهال شوی چې دی له بني اسرائیلو سره د سیناء په صحراء کې اوسېدو؛ ادعاء ئې هم له دې پلوه ناسمه ده چې دلته هیڅ مجمع البحرین نشته او هم له دې پلوه چې د سیناء شرقي او غربي خواوو ته د بحر احمر دوه څانګې عقبه او سویس پراته دي؛ او هم له دې پلوه چې دا ځایونه نه نښي ته ضرورت لري او نه له موسی علیه السلام دومره اوږد سفر ته چې ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم. په دې کې هیڅ شك نشته چې معقوله او ارجح رأیه دا ده چې له مجمع البحرین د نیل د دوو څانګو؛ نیل الابیض او نیل الازرق د یوځای کېدا محل مراد دئ.

- نه قرآن ویلي چې د موسی علیه السلام د سفر ملګری یُوشَعَ بْنِ نُون وو او نه نورو روایاتو دا خبره کړې او نه دا ضروري ده چې نوم ئې په ګوته شي،

که ضروري وی قرآن به حتماً د ده نوم اخیستی وو! یوشع بن نون په سیناء کې د موسی علیه السلام ملګری شوی نه په مصر کې د هغه بل سفر په دوران کې.

- دا روایت وایي چې خضر د سلام لفظ په اورېدو سره حیران شو او وئې پوښتل چې ستا په سیمې کې سلام له کومه شو؟ هغه ورته وویل: زه موسی یم؛ پوښتنه ئې ترې وکړه چې د بني اسرائیلو موسی؟ وئې ویل: هو؛ د دې معنی دا ده چې هغه په غیب نه پوهېدو او موسی ئې ونه پېژندو، خو ځینې له همداسې روایاتو په ډېر تکلف سره دا راباسي چې ګواکې هغه په غیب پوهېدو، حال دا چې قرآن وایي له الله تعالی پرته هیڅوک په غیب نه پوهېږي.
- پوښتنه دا ده چې خضر څنګه د موسی علیه السلام په څېر یوه پیغمبر ته وایي: ما ته داسې علم راکړی شوی چې تا ته نه دئ درکړی شوی یا په بل روایت له تا سره نه ښایي؛ او تا ته داسې علم درکړی شوی چې ما ته نه دئ راکړی شوی او په بل روایت کې له ما سره نه ښایي؟! کوم علم ده ته ورکړی شوی وو؟ علم غیب خو نشي کېدی!! ځکه چې هغه د ملاقات پر مهال موسی علیه السلام ونه پېژندو، پوښتنه ئې ترې وکړه چې څوک یې؟ چې ورته وئې ویل موسی، نو پوښتنه ئې وکړه چې د بني اسرائیلو موسی؟! له دې خو معلومېږي چې هغه په غیب نه پوهېدو، نو ده کوم علم درلودو چې موسی علیه السلام له بعثت وروسته نه درلودو؟ که له ده سره داسې علم وو چې له موسی علیه السلام سره مناسب نه وو؛ نو بیا ئې څنګه د همدې ورښودلو لپاره له ځان سره ملګری کړ؟ په دې صورت کې خو به ئې په لومړي ملاقات کې ورته ویلي وو: خدای په امان زما د ملګرتیا او زما په خاص علم د پوهېدا جوګه نه یې!!
- څوک چې دا روایت صحیح ګڼي څنګه خضر ته علم غیب هم منسوبوي؛ په داسې حال کې چې هغه د موسی له پېژندو عاجز وو؟!! له دې روایت خو

معلومېږي چې په هغو دريو مواردو کې هم د ده علم؛ خاص علم او په غيب پوهېدا نشو ګڼلی. دې ته مو بايد پام وي چې د قرآن له وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې خضر هغه مفسد ځوانکی د ده د مور او پلار په مشوره وژلی.

- همدا راز د قرآن له وينا معلومېږي چې خضر د هغو يتيمانو دېوال د هغې ژمنې له مخې رغولی چې د دوی له پلار سره ئې کړې وه، دا ځکه چې هيڅوک د اولاد لپاره په داسي حال کې خزانه نه ښخوي چې هيڅوک پرې خبر نه کړي، له داسي کار به د ده اولاد ته څه ګټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ږنګ شي او خزانه د بل چا په لاس کې پرېوزي.

- په دې روايت کې د خضر په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چې منل ئې ګران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلَاهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ: نو خضر د سر له لورې ونيو او په خپل لاس سره ئې سر ترې وايست!! داسي قلع کول لکه چې څوک يوه ونه له ځانګو ونيسي او له زمکې ئې وباسي؛ دا هغه څه دي چې منل ئې له مغز تش سر غواړي.

- پر دې ټولو سربېره؛ د بخاري کوم روايت به منو؛ هغه چې وايي: په سيند کې روان کب د دوی لپاره د نښې په توګه ټاکل شوی وو؛ او که دا روايت چې وايي: وريت کب د دوی لپاره نښه وو او ګواکې ورته ويل شوي وو: کله چې دا وريت شوی ماهي ژوندی شي او سيند ته ودانګي نو په همدې ځای کې به خضر وموميء؟

- دا هم يوه پوښتنه ده چې امام بخاري رحمه الله ولې متضاد روايات راوړي؟؛ هغه هم ديارلس ځلي؛ او په ټولو کې يا بشپړ تضاد او يا کافي توپيرونه؛ په داسي حال کې چې د ټولو لومړی راوي عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دئ؛ ولې ئې په يوه روايت اکتفاء نه ده کړې او ولې ئې تر ټولو ارجح او اصح نه دئ په ګوته کړی او ولې ئې دا کار د بخاري لوستونکو ته پرېښی؟!

ځيني خلك د خضر دا وينا چې وئې ويل: (.... وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ....) (... او ما دا کار (د خپل زړه) په حکم نه دئ کړی...)؛ دا فقره داسې تعبيروي چې ګواکې ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه د دغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو!! خو په آيتونو کې په لږ دقت سره پوهېدی شو چې دا غلط تعبير دئ، د دې وينا معنی دا ده: ما دا کار د نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مي په کې نه وو، د الله دين د داسې څه کولو اجازه راکړې، په الهي دين کې د هغه چا وژل مانع نه لري چې صالح ټولنه په کفر او طغيان ګواښي؛ او دا کار مي د همدې ځوانکي د مور او پلار په غوښتنه او موافقه کړی. يوازې دغسې تعبير موسی عليه السلام ته يو مهم درس ګڼل کېدی شي، نه دا چې ګواکې د الله تعالی له لوري خضر ته په مشخصه توګه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی وو!!

دغو خبرو ته په پام سره په يقيني توګه ويلی شو چې دا روايت ډېر اشکالات لري او قطعاً د منلو وړ نه دئ، هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او د قرآن له وينا سره اړخ لګوي.

د دې قصې په اړه مزيد تفصيلات د القصص او الکهف د سورو په تفسير (د قرآن پلوشې) کې ولولئ.

څوك چې د الکهف سورې د ٦٥ آيت له دې فقرې وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا؛ د لدني علم اصطلاح راباسي او هغه د داسې علم په توګه معرفي کوي چې له تعليم او تدريس پرته تر لاسه کېږي او مرشد ئې په يوه نظر مريد ته القاء کوي؛ هغـه ته وايو:

- لومړی بايد د همدغې قصې اړوند آيتونو په معنی ځان پوه کړو او وګورو چې الله تعالی هغه عالم بنده ته کوم علم ورکړی وو، هغه علم چې ته ئې ادعاء کوې که بل علم؟! قرآن په خپله د دې پوښتنې ځواب موږ ته راکوي او په همدې قصې کې ئې موږ ته راښيي چې له موسی عليه السلام سره د سفر

په دوران کې ئې هغه ته ورښودلې؛ قرآن مور ته وايي چې موسی علیه السلام له خپل استاد پنځه جهادي درسونه زده کړي نه (لدني علم). که دا ستا د زعم مطابق لدني علم وی نو همغه لحظه به ئې په یوې مراقبې او دعاء سره دا علم درته ورکړی وو؛ سفر ته ئې څه ضرورت وو؟

- د قرآن له آیتونو خو دا حقیقت جوتېږي چې خضر یو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملګرتیا ئې کوله، موسی علیه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ، اوس ته ووایه چې د دغو څرګندو او واضحو آیتونو له کومې برخې او له کوم لفظ دي د (لدني علم) اصطلاح راایستلې؟!! او غواړې له قرآن بې خبرو ته ووایې: که ستاسو پیر او مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پیغمبر علیه السلام له احادیثو خبر دئ، نه په لیك پوهېږي او نه لوست کولی شي، حتیٰ د فرائضو په اداء کولو کې هم تر خپلو مریدانو ډېر لټ دئ؛ د هغه په اړه شك مه کوه او لمن ئې کلکه ونیسه، دا خبرې باید ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکینې مرشد له لورې (لدني علم) ورکړی شوی او د دین په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د یوې دعاء له امله پوه شوی!! هغه تر څادر لاندې په یوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانیزي او په پټو حقائقو پوه شي!!

ډېره عجیبه ده، د قرآن له داسي قصې او مضمون چې هر مخاطب ته د سړي مبارزې درس ورکوي؛ غرضي او مرضي کړیو داسي افسانه جوړه کړې چې د مخاطب ذهن تخدیروي او له سر تر پای غلط افکار القاء کوي، چېرې د خضر علیه السلام هغه پنځه جهادي کارونه او چېرې دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چې هغه په غیب پوهېدو او کارونه ئې غیر عادي ول!!

دوی دې ته هم متوجه نه دي چې د همدغې (وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا) فقرې ته ورته الفاظ د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلي او په ترڅ کې ئې قرآن مور ته لارښوونه کوي چې د انسان هر څه د الله تعالی ېهرزوینه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی

ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوینه ئې ګڼي، په ټولو هغو آیتونو کې چې دا حقیقت په کې بیان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ لکه دا آیتونه:

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾ النمل: ٦

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَآ ۚ أَوَ لَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ القصص:٥٧

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ آل عمران:٣٨

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء: ٧٥

وَإِنِّى خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِىَ مِن وَرَآءِى وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا فَهَبْ لِى مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ مريم: ٥

د دغو آیتونو الفاظو ته لږ ځیر شئ او له هغه آیت سره ئې مقایسه کړئ چې تاسو او ستاسو ملګرو د (لدني علم) اصطلاح ترې راایستلې، تاسو د خپل اسلوب مطابق باید له دغو آیتونو هم (لدني رزق)، (لدني ولي او نصیر)، (لدني اولاد) (لدني قرآن) راوباسئ، خو هر عاقل انسان پوهیږي چې دا بې بنسټه او غلط اسلوب او کرکجن استنباط دئ.

مور ته ووایه چې له (لدني علم) ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعلیم او لیك لوست پرته تر لاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هیڅوك نه

لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعليم، تدريس، ليك او لوست له لاري علم تر لاسه کوي، قرآن او ټول علم ئې پيغمبر عليه السلام ته په ٢٣ کلونو کې ورکړی شوی؛ او د قرآن تر نزول وړاندي د ده په اړه داسي فرمايي:

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ۝٧ الضحى: ٦-٧

مگر نه ئې ومونديې يو يتيم او د ټېکي ځای ئې درکړ؟ مگر نه ئې ومونديې يو لارورکی او لار ئې وښودله؟

همدا راز فرمايي چې تر بعثت مخکې نه په کتاب پوهېدو او نه د ايمان په حقيقت او معنی:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ۝٥٢ الشورى:٥٢

همداسي مو تا ته له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنی او حقيقت) پوهېدې، خو مور داسي نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې؛ او بې شکه چې ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن مور ته لارښوونه کوي چې د هر انسان علم په حقيقت کې د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهي او معرفت وسائل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په يوه څه د پوهېدو مجال او شرائط هم الله تعالی ورته برابروي. قرآن په دې اړه فرمايي:

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ ۝٢٥٥ البقرة:٢٥٥

- په داسي حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شاته دي او دوی د ده له علم یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي،

یعني دا الله تعالی دئ چې هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګې، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښیي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي. د انسان په وړاندي چې د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هري نوې خبرې چې د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي، د ده هر (کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کې د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانیستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، چې حقیقت همداسي دئ نو ته ما ته ووایه چې ولې د خضر علیه السلام علم استثنائي علم ګڼې او د (لدني علم) نوم ورکوې؟!!

د قرآن له لارښوونو معلومېږي چې له عیسی او یحیی علیهما السلام پرته نه الله تعالی چا ته په وړوکتوب کې فوق العاده علم ورکړی او نه ئې په پیغمبرۍ مبعوث کړی، عیسی علیه السلام ته په ماشومتوب کې یوازې څو خبرې ښودل شوې، جامع علم ئې هغه مهال په برخه شو چې انجیل پرې نازل شو.

پیغمبرانو علیهم السلام ته چې د وحي له لارې کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدریجي توګه او د کتاب او صحیفې په بڼه کې ورکړی شوی، نه دا چې په یو ځل او په بشپړه توګه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پیغمبر علیه السلام په تدریجي توګه نازل شوی، دا د ټولو مفسرینو، فقهاءو او علماءو متفقه قول او د قرآن د صریحو آیتونو مطابق نظر دئ، یوازې شیعه او سني افراطیون ورسره مخالفت لري، پیغمبر علیه السلام د هرې قضیې او پېښې په اړه د وحي نزول ته انتظار کړی، د وحي له راتلو مخکې نه

پوهېدو چې څه حکم وکړي.

اوس مور ته ووايئ چې تاسو د کوم منطق له مخې د (لدن) له لفظ (لدني علم) اخلئ او ادعاء کوئ چې دا علم له تعليم او تدريس، ليك او لوست پرته تر لاسه کېږي؟ آيا له دې حقيقت خبر نه يئ چې دا د محرف بايبل غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چې قرآن ئې په کلکه ردوي او د قرآن لومړی نازل شوی آيت د بايبل د دغې ادعاء خلاف وايي چې د انسان علم اکتسابي دئ، د قرائت او ليك لوست له لارې تر لاسه کېدی شي او الله تعالی د قلم له لارې انسان ته هغه څه ښيي چې نه پرې پوهېږي: قرآن فرمايي:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥ العلق: ١-٥

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پيدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ولوله چې رب دې ډېر کريم دئ. آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې هغه څه ورزده کړل چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آيتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لېږل پيل کړي.
- دا د الله تعالی د کرم او پېرزويني څرګنده نښه ښودل شوې چې انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضائع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي

نسل ته ئې انتقال کړي، دا وړتيا او امتياز؛ له انسان پرته په هيڅ ذيروح کې نه ګورو، الله تعالى په انسان کې دا استعداد او وړتيا ايښې ده چې له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی.

- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.
- (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.
- په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدريج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دی چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په فطرت او دماغ کې ايښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهيم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفيد او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زيات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمير کې ئې ايښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (ليکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفيت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلې او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په ليك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته او دفن کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

- انسان یوازینی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پیغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضائع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسان پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتیا ایښې ده چې له (قلم) د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.

سره له دې چې قرآن؛ (قلم)، (لیك) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چې پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کې لومړۍ لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ویل شوي چې قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه دا منحرفه ډله دا ستر او څرګند حقیقت له پامه غورځوي او ادعاء کوي چې له قرائت، تعلیم، تدریس، لیك او لوست پرته هم (علم) تر لاسه کېدی شي، نو د علم د زده کړې لپاره مدرسې ته مه ځه، د عالم مخي ته مه کښېنه، کتاب او قلم پرېږده، خانقاه ته ولاړ شه، د مرشد لمن ونیسه، د کوم قبر خوا ته دېره شه، (لدني علم) به دي په برخه شي، سترګي به دي پرانیستل شي او په غیبي حقائقو به پوه شې!! دا همغه خبره ده چې محرف بایبل ئې کوي!!

او د موسی علیه السلام او خضر قصه مورِ ته ښیي چې نه موسی علیه السلام په غیب پوهېدو او نه خضر؟! موسی علیه السلام د خپل استاد د کارونو له هدف او سبب خبر نه وو او استاد ئې د ده له پېژندو عاجز وو؛ هیڅوك دا ادعاء نشي کولی چې د دې کس مقام تر موسی علیه السلام لوړ وو؟ قرآن خو موسی علیه السلام د هغو پنځو پیغمبرانو له ډلې ګڼي چې هیڅ انسان او هیڅ پیغمبر د هغوی مقام ته نشي رسېدی. قرآن خو د ابراهیم، موسی، زکریا، لوط، نوح، یعقوب، محمد،... علیهم السلام قصې زمورِ مخي ته ږدي چې ښیي دوی په غیب نه پوهېدل، فرشتې ئې په خوا کې ولاړي وې خو دوی د زلمو او

مېلمنو ګمان پرې کاوو، د اولاد زېرى ورکړى شوى، پوښتنه ئې کوله چې دا زوى به څنګه او څه وخت ورکول کېږي، څو مټره آخوا ئې زوى په څاه کې لوېدلى خو له حاله ئې خبر نه دئ او له غمه ئې سترګې ړندې شوې، د خپل ملګري د کارونو په کنه او حقيقت خبر نه وو؛ خضر خپلې مخې ته ولاړ موسى ونه پېژندو... خضر عليه السلام خو معلوم نه دئ پېغمبر دئ که نه، ځکه په قرآن کې ئې نوم د پېغمبر په توګه نه دئ راغلى، په يوه روايت کې د موسى عليه السلام دا ملګرى د خضر په نامه ياد شوى، تاسو څنګه هغه تر موسى عليه السلام لوړ ګڼئ او علم غيب ورته ثابتوئ؟!!

عجيبه ده؛ هغه کسان چې زړونه ئې بيمار دي، لدې ښوونکې او له پندونو ډکې قصې سرچپه او غلطه انتباه اخلي او د داسې يوه غلط باور او تصور د اثبات لپاره پرې استدلال کوي چې په حقيقت کې دا قصه د هغه د ترديد او نفي لپاره راغلې. دوى هڅه کوي لدې قصې د اولياء الله او پېغمبرانو عليهم السلام لپاره د علم غيب ثابتولو په ارتباط د دليل په توګه کار واخلي، پداسې حال کې چې د دې قصې په هيڅ برخې کې د دې کوږ باور لپاره کوم مدرك نه مومو.

سحر او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اغېز

دا هم يوه بله اختلافي مسئله ده چې آيا پر رسول الله صلى الله عليه و سلم سحر او کوډې شوې وې که نه؟ آيا دې کوډو پر هغه اغېز کړى وو که نه؟ اغېز ئې څومره وو؟ آيا صحيح ده چې کوډګر کولى شي يو څوك په کوډو سره بيمار کړي يا ځان ته ګټه او بل ته ګټه يا تاوان ورسوي؟ آيا يو کوډګر کولى شي چې په خپلو کوډو سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر شخصيت ته تاوان ورسوي، بيمار ئې کړي او حافظه ئې مختل کړي؟ که دښمن

ته دا کار ممکن وو نو ولې ئې په وار وار دا کار نه دئ کړی؟

په دې اړه نه یوازې په ټول قرآن کې نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې څه مومو چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم یا بل پیغمبر یا بل انسان کوډې شوې او د کوډو د اغېز له کبله بیمار شوی؛ بلکې د موسی علیه السلام په ارتباط موږ ته وایي: د مصر ټول ماهر جادوګران؛ د فرعون په امر راغونډ شول؛ خو ونه توانېدل موسی علیه السلام ته هیڅ ضرر ورسوي؛ د مقابلې په دوران کې ئې لومړی جادوګرانو ته وویل چې خپل کمال وښیئ؛ د هغوی ټول کمال دومره وو چې پرې او لکړي ئې وغورځولې او داسې لوبه ئې جوړه کړې وه چې خلکو ته دا پرې او لکړي خوځنده وبرېښي؛ دومره چې پر موسی علیه السلام ئې هم وېره راوستې؛ او الله تعالی هغه ته فرمایلي: عصا دي وغورځوه؛ او هغې د جادوګرانو ټول پرې او لکړي ښوی تېر کړي.

خو بل لوري ته د روایاتو په ټولو کتابونو کې یوازې یو روایت داسې مومو چې وایي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم په مدینه کې د یوه یهودي له لوري کوډې شوې وې، دومره اغېز ئې پرې کړی وو چې دروندوالی او کسالت به ئې احساساوو او کله کله به ئې ګمان کولو چې فلان کار مي کړی خو حقیقتاً به ئې هغه کار نه وو کړی!! روایت دا دئ:

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم سُحِرَ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ. بخاري ۳۱۷۵

دا روایت چې په بخاري کې شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۲٦۸، ۵۷٦۳، ۵۷٦۵، ۵۷٦٦، ٦۰٦۳، ٦۳۹۱، د سند له مخې داسې دئ چې په صحابه وو او تابعینو کې یوازې یو یو راوي لري؛ عروه رضي الله عنه او عائشه رضي الله عنها، دوی ته چې کومو ورپسې راویانو دا روایت منسوب کړی د هغوی په روایاتو کې دا جدي توپیرونه تر سترګو کېږي: په یوه کې راغلي: حَتَّى كَانَ

يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ او په بل کي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ، په بل کي حَتَّى كَانَ يَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ وَلاَ يَأْتِيهِنَّ په بل کي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَأْتِي أَهْلَهُ وَلاَ يَأْتِي په بل کي حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ قَدْ صَنَعَ الشَّيْءَ وَمَا صَنَعَهُ په يوه کي حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ (دلته د شك څرګندونه شوې او ويل شوي کومه ورځ يا کومه شپه!!) وَهْوَ عِنْدِى لَكِنَّهُ دَعَا وَدَعَا په بل کي حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهْوَ عِنْدِى دَعَا اللهَ وَدَعَاهُ په بل کي فَقَالَ لِى ذَاتَ يَوْمٍ په بل کي وَإِنَّهُ دَعَا رَبَّهُ ثُمَّ قَالَ په يوه کي « يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللهَ أَفْتَانِى فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ أَعَلِمْتِ أَنَّ اللهَ قَدْ أَفْتَانِى فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللهَ قَدْ أَفْتَانِى فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللهَ أَفْتَانِى فِى أَمْرٍ اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، په يوه کي فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ په بل کي أَتَانِى رَجُلاَنِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِى، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَىَّ په بل کي جَاءَنِى رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِى وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَىَّ په بل کي أَتَانِى رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رِجْلَىَّ وَالآخَرُ عِنْدَ رَأْسِى په يوه کي فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ فَقَالَ مَطْبُوبٌ. قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ په بل کي فَقَالَ الَّذِى عِنْدَ رَأْسِى لِلآخَرِ مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ. قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ، رَجُلٌ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ، كَانَ مُنَافِقًا. په بل کي ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ. قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، الْيَهُودِيُّ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ په بل کي فَقَالَ الَّذِى عِنْدَ رِجْلَىَّ لِلَّذِى عِنْدَ رَأْسِى مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ. په يوه کي يَعْنِى مَسْحُورًا. قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ په يوه کي قَالَ فِى أَىِّ شَىْءٍ قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ (په رمنځي سره لوبدلی وښته)، وَجُفِّ طَلْعِ نَخْلَةٍ ذَكَرٍ. قَالَ وَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ په بل کي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ. قَالَ وَأَيْنَ قَالَ فِى جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ، فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل کي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ. قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِى بِئْرِ ذِى أَرْوَانَ » په بل کي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِى جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ فِى مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل کي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِى

مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ. قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي ذَرْوَانَ، وَذَرْوَانُ بِئْرٌ فِي بَنِي زُرَيْقٍ » په يوه کي فَأَتَاهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ فَقَالَ « يَا عَائِشَةُ كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، أَوْ كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل کي فَأَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْبِئْرَ حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ فَقَالَ « هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ». په بل کي قَالَ فَذَهَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « وَاللهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل کي فَجَاءَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ «هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ (له دې داسي معلومېږي لکه چې دا څاه ئې په خوب او رؤيا کي ليدلی وي)؛ په بل کي قَالَتْ فَأَتَاهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « وَاللهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ». په يوه کي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلاَ أَسْتَخْرِجُهُ قَالَ « قَدْ عَافَانِي اللهُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ فِيهِ شَرًّا ». فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ. په بل کي قَالَ فَاسْتُخْرِجَ، قَالَتْ فَقُلْتُ أَفَلاَ أَىْ تَنَشَّرْتَ. فَقَالَ « أَمَا وَاللهِ فَقَدْ شَفَانِي، وَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ شَرًّا » په بل کي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَأَخْرَجْتَهُ قَالَ « لاَ، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللهُ وَشَفَانِي، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا ». وَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ په بل کي فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَأُخْرِجَ. قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فَهَلاَّ - تَعْنِى - تَنَشَّرْتَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم« أَمَّا اللهُ فَقَدْ شَفَانِي، وَأَمَّا أَنَا فَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا په بل کي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فَهَلاَّ أَخْرَجْتَهُ قَالَ « أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي اللهُ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا »

په دې رواياتو کي ژور توپيرونه، تعارضات او تناقضات تر سترګو کېږي، ځيني ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دا د کوډو توکي په خپل لاس راويستل، ځيني وايي چې عائشې رضي الله عنها وويل: آيا زه ئې راونه

باسم؟ ځيني وايي: علي رضي الله عنه ئې ولېږو چې راوئې باسي، ځيني وايي نورو ته ئې امر وکړ چې راوئې باسي؛ او دفن ئې کړي، ځيني وايي همداسي ئې پرېښودل او وئې ويل چې الله تعالى ما ته له دې پرته شفاء راکړه، همدا راز ګورئ چې په دې رواياتو کې د شك موارد هم تر سترګو کېږي، راوي يو ځای وايي: کومه ورځ يا کومه شپه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم زما خوا ته وو؛ په روايت کې د شك وينا د روايت اعتبار کموي، د ځينو له الفاظو داسي معلومېږي چې هغه ځاه، د هغه اوبه او پر سر ئې د کجوري ونه په خوب کې ليدلې وو، حال دا چې نور ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په خوب کې يوازي دوه سړي ليدلې وو، ځيني وايي چې جبرئيل عليه السلام ورته راغلى او د کوډو په اړه ئې معلومات ورکړي، ځيني بيا وايي چې دوه فرشتې د سړيو په بڼې کې ورته راغلې او هغوى په خپلو منځونو کې ويلي: په دې سړي څه شوي؟ ځيني ئې وايي: دا دوه سړي ئې په خوب کې ليدلې؛ په دې کې هم اختلاف دئ چې له دې دواړو کوم يوه پوښتنه کړې او کوم يوه ځواب ورکړى؛ هغه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سر لوري ته ولاړ وو او که د پښو لوري ته؛ همدا راز دلته ويل شوي چې د دې ځاه پر سر د ولاړي وني ځانګې داسي وې لکه د شيطانانو سرونه!! دا وينا له حقيقت سره اړخ نه لګوي، د هغه ځاه د کجوري ونه به يقيناً د مدينې د نورو ونو په څېر وه، که نه نو په ډېرو رواياتو کې به دا راغلې وه چې که څوك غواړي د شيطان د سر څرنګوالى ورته معلوم شي نو د ذَرْوَانَ د کوهي پر سر د ولاړي وني ځانګې دي وګوري!! په ځينو رواياتو کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دا ځاه او اوبه ئې هم په خوب کې ليدلې وو؛ خو نور بيا دا خبره نه کوي.

دلته څو پوښتني راولاړېږي:

- له دغو رواياتو به کوم يو صحيح ګڼو او د کوم دليل او حجت له مخي؟! د يوې موضوع په اړه يو روايت راغلى؛ لومړى راوي ئې هم يو؛ دوهم ئې هم

یو؛ اما تر منځ ئې دومره توپیرونه، تعارضات او تناقضات چې محدثین او شارحین ئې هم له تلفیق او تطبیق عاجز دي!!

- آیا داسي غریب روایت عقلاً او ایماناً منلی شو چې نه ئې راوي شاهد لري او نه په ټول قرآن کې داسي آیت مومو چې اشارتاً د دې روایت ادعاء ترې ثابته شي؟!
- که واقعاً پر رسول الله صلی الله علیه و سلم کوډي شوې وې نو دا خو ډېره لویه حادثه وه، ولې په ټولو صحابه وو کې یوازي یوه کس دا خبره کړې ده، دا خبره خو باید ګڼ شمېر صحابه وو روایت کړې وی!! لږ تر لږه د رسول الله صلی الله علیه و سلم نورو بیبیانو هم باید دا خبره کړې وی، له صحابه وو باید ډېرو تابعینو ته هم رسېدلې وی؛ ولې په تابعینو کې هم له هشام او د ده له پلار پرته بل راوي نه لري؟!!
- قرآن مورِ ته وایي: د مصر ټول ماهر جادوګران په ګډه ونه توانېدل موسی علیه السلام ته ضرر ورسوي؛ یو یهودي ساحر څنګه وتوانېدو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خپل سحر سره صدمه ورسوي؟!
- قرآن خو وایي چې سحر د اشیاءو ماهیت نشي بدلولی، هسي د خلکو د غولولو یوه نندارہ او لوبه وي چې یو شی په بلي بڼې کې ګوري، آرام پراته شیان د خوځېدونکو په څېر ورته برېښي!! په ټول قرآن کې داسي آیت نه مومو چې د سحر داسي اغېز ترې ثابت شي چې یو انسان بیمار کړي، د هاروت او ماروت په قصې کې د سحر داسي اغېز په بشپړه توګه ردوي او وایي: دوی په کوډو سره چا ته ضرر نشو رسولی، ضرر یوازي د الله تعالی په إذن سره انسان ته رسېدی شي نه د جادوګر په کوډو سره.

قرآن وایي:

قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟

فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى ﴿٦٦﴾ طه: ٦٥- ٦٦

وئې ويل: اې موسی! يا ئې ته وغورځوه او يا به مونږ هغه شو چې لومړی ئې غورځوي؛ وئې ويل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ؛ نو هغه مهال د دوی د سحر له کبله د دوی پړي او عصاګاني داسي ورته وبرېښېدې چې ګواکې ځغلي.

د دې مبارکو آيتونو خلاصه دا ده: جادوګران مقابلې ته چمتو شول، موسی عليه السلام ته ئې وويل: اې موسی! يا ته خپله عصا وغورځوه او يا به مونږ هغه ډله شو چې لومړی خپل پړي او لکړي غورځوي. موسی عليه السلام په ځواب کې ورته وويل: نه؛ تاسو ئې وغورځوئ. نو هغوی د خپل جادو ننداره وړاندي کړه، پړي او عصاګاني ئې پر زمکې وغورځول، دغه مهال د دوی د سحر له امله دا پړي او عصاګاني داسي برېښېدل چې ګواکې ځغلي؛ موسی عليه السلام ته هم او نورو خلکو ته هم.

د قرآن د وينا له مخې جادوګرانو په خپل جادو سره د خلکو په ذهن او سترګو داسي اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې بلکې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. يعني جادوګرانو په خپل جادو سره يوازي دومره څه کړي چې پر زمکې پراته پړي او عصاګاني موسی عليه السلام او نورو ته داسي برېښېدلي چې ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شيانو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې، حقيقتاً له ځای نه خوځېدل بلکې د خلکو ذهن ته داسي ورغلي چې دا پړي او عصاګاني د مارانو په څېر ځغلي.

دقيقاً دغسي لکه نن چې کوم مداري داسي هيبتاکي صحنې ټمثيلوي چې له وېرې او هيبت ئې د ماشومانو او بې خبره خلکو وېښتان ورته زيږ شي او زړه ئې دربېږي؛ داسي شيي چې له خولې لويه ډبره راوباسي؛ لومړی ډبره وروښيي؛ بيا د خپل لاس په هنر داسي وښيي چې دا لويه تيږه ئې له کومي شوی تېره کړه او بيا ئې بېرته راوباسي؛ په حقيقت کې ئې فقط خلك دوكه كړي

وي. تش ډبی به خلکو ته وښيي؛ سپين دسمال به په کې کښېږدي او ناڅاپي به ټماشاچيانو ته وښيي چې سپينه کوتره ترې راوتله.

د سحر د اغېز په اړه په ټول قرآن کې درې ځايه څه ويل شوي؛ چې يو ئې همدغه آيت دئ، بل ئې د الاعراف د سورې پورتني ته ورته او په همدې مناسبت راغلی. آيت دا دئ:

قَالَ أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾ الاعراف: ١١٦

وئې ويل: وئې غورځوئ؛ نو کله چې دوی وغورځول د خلکو سترګې ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندي کړ.

دا آيت ښيي چې د جادوګرانو ټول هنر او کمال دومره وو چې خلکو ته ثابت شيان خوځنده وبرېښي!! که له دې پرته دوی بل څه کولی شو؛ نو د مدينې د يهودي کوډګر په څېر به ئې پر موسی عليه السلام جادو کړی وو!! نه مخامخ مقابلې ته ضرورت وو او نه د پرو او لکړو غورځولو ته؛ څو وښتان به ئې دم کړي وو!!

د جادو ماهيت بايد د قرآن د آيتونو په رڼا کې درک کړو؛ بايد کلك باور ولرو چې جادوګر هيڅا ته ضرر نشي رسولی.

او بل ئې د البقره سورې ۱۰۲ آيت دئ چې وايي:

وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ

وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ١٠٢ البقره: ١٠٢

او د هغه څه متابعت ئې پيل کړ چې شيطانانو به د سليمان عليه السلام د پاچاهۍ (په اړه) لوستل؛ دا په داسي حال کې چې سليمان د کفر لار نه وه غوره کړې؛ بلکې په خپله دا شيطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو. (دې دواړو ملائکو) به هيڅا ته څه تعليم نه ورکاوو مگر دا چې ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلې) يو؛ نو ته مه کافر کېږه. خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي؛ دا په داسي حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هيڅا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه ورکوله او يقيناً په دې پوه شوي وو چې هر څوك دا وپېري نو په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي او يقيناً چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو؛ کاش پوهېدلی.

دلته په اصل کې د بني اسرائيلو په خبره کې د يوه بې لاري دیندار ولس څو سترو سترو انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسي شا ته غورځول لکه چې په هيڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب پر ځای کوډو، جادو او تعويذونو ته مخه کول. دا حرام کارونه ئې نه يوازي حلال ګڼل بلکې د سليمان عليه السلام هغه ستره واکمني، چې بېلګه ئې په تاريخ کې نه وه ليدل شوې؛ د يوې جادويي ګوتې او د څه کوډو او منتر نتيجه ګڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد عليه السلام د جهادونو نتيجه. د دوی لويه مشغله دا وه چې په کوډو سره د مېړه او مېرمني تر منځ ئې بېلتون راولي. بني اسرائيل هم ورو ورو له الهي دين لرې شول، په دوی کې فکري او اخلاقي انحرافات راپيدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چې يو د بل ناموس

ته په کمين کې کښېناستل، يو به په دې لټه کې وو چې څنګه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعويذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالى د اتمام حجت لپاره دوى ته دوې ملائکې د انسانانو په څېره کې ولېږلې، د دې لپاره چې دوى له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوى ته ووايي چې کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ. خو دوى له ملائکو هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چې ښځه له خپل خاوند پرې بېله کړى شي.

په دې آيت کې نه يوازې دا نه دي ويل شوي چې په کوډو او جادو سره توانېدل چې مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړي بلکې د دې خلاف ويل شوي چې کوډو هيڅ ګټه نه ورسوله، د ګټې پر ځاى ئې تاوان ورساوو.

څوك چې د قرآن دا درې څرګند آيتونه ګوري او سره له دې يا جادو او کوډو ته پناه وړي يا ګمان کوي چې سحر او جادو کولى شي د شيانو ماهيت بدل کړي او مېرمن له خپل مېړه بېله کړي، د چا مينه ئې په زړه کې راپيدا کړي، په بيماري ئې اخته کړي او دې ته ورته نور اغېز او تأثير ورته ثابتوي؛ نو هغه يا پر قرآن ايمان نه لري، يا قرآن د هري خبرې لپاره وروستى ملاك او معيار نه ګڼي او يا ناپوه او له قرآني لارښوونو بې خبر دئ.

که تاسو د سحر او جادو د اغېز په اړه د قرآن لارښوونو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې د سحر او جادو د اغېز خبرې کافرانو ته منسوبوي او دا د دوى غلطه انګېرنه او عقيده ګڼي.

که د موسى عليه السلام عصا د فرعون د ډېرو ماهرو کوډګرو ټول سحر شنډولى شو او دوى ټولو په ګډه موسى عليه السلام ته هيڅ ضرر نشو رسولى نو يو يهودي کوډګر به څنګه توانېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ضرر ورسوي؟!! رسول الله صلى الله عليه و سلم خو مور ته داسې دعاءګاني راښودلې چې په ويلو سره ئې هم د شيطان له شره خوندي پاته کېږو او هم د کوډګرو او د هر مضر شي له شره؛ او څرګنده ده چې رسول الله صلى الله

علیه و سلم به حتماً دا دعاءګاني ویلې نو له دې سره سره څنګه ومنو چې دغو کوډو پر هغه اغېز کړی وو؟!!

پوښتنه دا ده چې یهودو او مشرکینو ولې یوازې دا یو ځل پر ده کوډې وکړې؟!! ولې ئې تر دې وړاندې او وروسته دا کار نه دئ کړی؟!!

دا خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم عصمت تر پوښتني لاندې راولي او ډېرو ته دا شك راپیدا کوي چې ښایي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم به ډېر ځلي نور هم کوډې شوې وي او د کوډو تر اغېز لاندې به ئې داسې خبرې کړې وي چې د ده اصلي خبرې نه دي!! آیا په داسې مهمې اعتقادي مسئلې کې داسې غریب روایت منلی شو چې په صحابه وو او تابعینو کې یو یو راوي لري، په ټول قرآن کې نه یوازې کوم شاهد ورته نه مومو بلکې له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري، په متن کې ئې هم کافي ستونزې، رکاکتونه او تناقضات شته، ځینې ئې یو څه وایي او ځینې بل څه؟!!

څوك چې وایي سحر حق دئ او انکار تري کفر؛ معنی ئې دا ده چې په قرآن کې د سحر او ساحرانو (جادو او جادوګرانو) یادونه شوې، د فرعون کوډګرو د موسی علیه السلام مقابله کړې، خپل پرې او عصاګاني ئې اچولې ول او خلکو ته داسې برېښېدلې وو چې خوځېږي، همدا او بس، اما هغه چې سحر ئې دکان دئ او همدا ئې د روزې وسیله ده!! هغوی له دې وینا چې سحر حق دئ؛ غلط تعبیر لري او خپلې حرامې کړنې پرې توجیه کوي؛ معنی ئې دا نه ده چې جادو کول یا سم او جائز کار دئ او یا په جادو سره څوك کولی شي بل ته ګټه یا ضرر ورسوي، قرآن دا دواړه خبرې ردوي، وایي: نه جادو جادوګر ته ګټه رسولی شي او نه جادوګر په خپل جادو سره بل ته تاوان رسولی شي، جادوګر به هیڅکله او په هیڅ ځای کې بریالی نشي، قرآن په دې اړه فرمایي:

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓاْ ۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيْدُ سَٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ

ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ طه: ٦٧-٦٩

نو موسی په خپل زړه کې وېره احساس کړه، ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې؛ او هغه شی وغورځوه چې ستا په لاس کې دئ، چې هغه څه ښوی تېر کړي چې دوی جوړ کړي، یقیناً هغه څه چې دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ او جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی.

له دې مبارکو آیتونو څو خبرې معلومېږي:

- د کوډګرو له لورې ښودل شوې نندارہ دومره هیبتناکه وه چې موسی علیه السلام په خپل زړه کې وېره احساس کړه، دلته دا نه دي ویل شوي چې آیا پر ځان وېرېدلی، که له دې چې په مسابقې کې به برلاسی نشي او که په دې چې خلك به دوکه شي او د جادوګرانو تر اغېز لاندې به راشي؟! خو له وروستۍ فقرې معلومېږي چې وېره ئې په مسابقې کې د خپلې بریا په اړه وه، ځکه الله تعالی فرمایي: ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې.
- د الله تعالی له لورې موسی علیه السلام ته ویل شوي چې د خپل لاس عصا وغورځوي، چې دا به ټول هغه پېړي او عصاګاني ښوی تېرې کړي چې دوی د خوځنده مارانو په څېر ښودلي.
- دلته ویل شوي چې جادو هسې یوه دوکه او غولونه وه، د فرعون د ماهرو جادوګرانو دا لوبه د لاس هنر وو نه د جادو اغېز، دا په حقیقت کې یو مکر او کید وو نه بل څه، د پېړو او عصاګانو حقیقت نه دئ بدل شوی بلکې خلك غولول شوي او د خوځنده مارانو ګمان ئې پرې کړی!! دا اوس چې مداریان څه ښیي؛ د لاس کمال دئ، د الفاظو او د څه ویلو اغېز نه دئ، نن چې د تلویزیون پر صفحه د مداریانو عجیبې لوبې ګورئ، دا د مداري هنر دئ نه د الفاظو او کلماتو تأثیر او په مرسته ئې حیرانوونکي کړنې؛ هغه پوهېږي چې رنګ رنګ پردې څنګه تنظیم او وکاروي چې له کبله ئې د تماشاچي انسان سترګې وغولېږي؛ د صحنې ځینې برخې وګوري او ځینې نه؛ یوازې هغه وګوري

چې مداري ئې ليدل غواړي خو هغه برخي نه چې له ليدونکو او تماشاچيانو ئې پټول غواړي؛ مثلاً: مداري تاسو ته داسې صحنه ښيي چې يوه مېرمن ئې په منځ دوه ځايه کړله، يوه برخه ئې يوې خوا ته پرېوتله او بله ئې بلې خوا ته، ټول ليدونکي وارخطا شوي، ګمان ئې کړی چې همدا کار شوی؛ خو وروسته ګوري چې مداري داسې صحنه ښيي دا مېرمن بېرته جوړه شوې او روغه رمټه ودرېدلې؛ دا فقط د لاس هنر او په رنګ رنګ پردو سره د سترګو غولولو هنر دئ؛ نه بل څه؛ مداري پوهېږي چې يو تور شيء چې تر شا ئې ورته توره پرده وي؛ د انسان سترګې د هغه خوځېدا او حرکت نشي ليدلی؛ مداري فقط د صحنو جوړولو هنر زده کړی؛ نه دا چې په خپل سحر سره د يوه شي ماهيت بدلولی شي.

- د آيت دا برخه چې وايي: جادوګر چې هر چېرې ورشي بريا نشي موندلی، دا حقيقت مزيد واضح کوي او ښيي چې د جادوګر مکر او کيد د څو شېبو داسې غولوونکې نندارە ده چې نه ده ته کومه ګټه رسوي او نه بل ته. د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لورې کېږي.

قرآن سحر د دوکې او خدعې په معنی کارولی او فرمايي:

قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾ المؤمنون: ٨٨- ٨٩

ووايه: هغه څوك دئ چې د هر څه واکمني ئې په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده خلاف پناه نشي ورکول کېدی؛ که پوهېږئ؟ حتماً به ووايي: دا کارونه ټول الله ته مختص دي، ووايه: نو له کومه کوډي دربانديږي (دوکه کېږئ)؟

په دې مبارکو آيتونو کې د توحيد په اړه څو سترې لارښوونې د پوښتنې او ځواب په بڼې کې انځور شوې، په دې توګه؛ وئې پوښته:

هغه څوك دئ چې د هر څه واکمني ئې په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي

او د ده په وړاندي هيڅوك چا ته پناه نشي ورکولی؛ که پوهېږئ؟ حتماً به ووايي: دا د الله تعالی دي. يعني واکمني هم د ده په لاس کې ده او پناه ورکول هم د ده کار دئ، نو ورته ووايه: (أنى تسحرون: نو له کومه کوډي درباندي کېږي؟ دا وروستۍ فقره ځينو درنو مفسرينو داسي تعبير کړې چي دلته سحر د دوکه کولو او غولولو په معنی راغلی او مراد ئې دا دئ چي تاسو چا غولولي يئ چي پر آخرت ايمان نه راوړئ؟ په داسي حال کې چي تاسو ټولو پورتنيو پوښتنو ته همغه ځواب ورکوئ چي پيغمبر ئې درته وايي، تاسو دا منئ چي زمکه او د هغې هر څه د الله دي، د اوو آسمانونو خاوند او د ستر عرش خاوند الله دئ، د هر څه واکمني د الله په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده په وړاندي هيڅوك چا ته پناه نشي ورکولی، نو ولي او څه د دې باعث شوی چي دوکه شئ؟!

همدا راز قرآن د هاروت او ماروت د قصې په ترڅ کې فرمايي چي بني اسرائيلو به له دوی د داسي څه زده کولو هڅه کوله چي په هغه سره سړی او د هغه مېرمن سره بېل کړي خو دوی په خپل سحر سره نه ځان ته کومه ګټه رسولی شوه او نه بل ته کوم تاوان:

وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ ... البقره: ١٠٢

(دې ملائکو) به هيڅا ته څه تعليم نه ورکاوو مګر دا چي ورته ويل به ئې: مور (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلې) يو، نو ته مه کافر کېږه، خو دوی غوښتل له دې دواړو هغه څه زده کړي چي په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسي حال کې چي په دې سره دوی د الله له اذن پرته هيڅا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کې چي غوښتل ئې هغه څه زده کړي چي تاوان ئې ورساوو او ګټه ئې نه ورسوله.

دا آيتونه په واضح الفاظو د سحر دا ډول اغېز ردوي او وايي چې د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي نه د جادوګرانو په جادو سره!!! دې ته مو پام وي چې دغو دوو فرشتو خلکو ته داسې جادو نه ورښودو چې په هغه سره مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړی شي، حاشا و کلا چې الله تعالی به فرشتې په دې ګمارلې وي چې خلکو ته داسې کوډي ورزده کړي، دا هم د الله تعالی په اړه تور دئ او هم د فرشتو په اړه، دا خو ستره ګناه ده، فرشتې په خپله دوی ته وايي چې مه کافران کېږئ، نو څنګه به هغوی ته داسې کوډي ورښيي؟!! د آيت معنی دا ده چې دغو مفسدينو به حتیٰ له فرشتو هم د داسې څه زده کولو هڅه کوله چې سړی او د ده مېرمن سره بېل کړی شي.

د جادو د دا ډول اغېز خبرې هغه ټګمارانو تکراروي چې خلك غولوي او ورته وايي: جنابه! جادو حق دئ، انکار تړې کفر، پر رسول الله صلی الله علیه و سلم جادو شوی وو، ما ته راشه چې په يوه جادو سره ستا مرادونه ترسره کړم، سرکښ محبوب درته تسليم کړم، که د بل د کوډو له کبله بيمار شوی يې کوډي راوباسم او د جادو اغېز شنډ کړم، خو دا ډېر ګران کار دئ او شکرانه ئې لويه ده، له ما ډېر وخت، ډېر زحمت او ډېر مصرف غواړي، د سور سېرلي او سپين چرګ ويني، د زعفرانو زېړ رنګ، د ورېښمو ټوټه او دا او دا غواړي!!! زعفران به زه راپيدا کړم، د سېرلي او سپين چرګ بندوبست به ته وکړې، د محبوبې د وېښتانو څو تارونه، د زړې ږمنځي څو ښاخونه او.... به هم ته راپيدا کړې، نور هر څه پر ما!!!

د ځينو خلکو په ذهن کې به ښايي دا اندېښنه راولاړه شي چې په قرآن کې ويل شوي چې د نفاثات في العقد له شره الله ته پناه يوسو؛ او ځينو مفسرينو د نفاثات في العقد په اړه ويلي چې له دې مراد هغه کوډګري ښځي دي چې تارونه به ئې غوټه کول او په هري غوټې کې به ئې پو کول او په دې توګه به ئې پر خلکو کوډي کولې!! د دوی د اندېښنې رفع کولو لپاره بايد ووايو: دا د الفلق د سورې په څلورم آيت کې راغلې فقره ده، د دې فقرې شرح او تفسير

د الناس سورې په څلورم آیت کې زمونږ په وړاندې ایښودل شوی، کوم څه ته چې په یوې سورې کې د نفاثات في العقد نوم ورکړی شوی په ورپسې سوره کې او همغسې په څلورم او پنځم آیتونو کې د الوسواس الخناس الذي یوسوس في صدور الناس په الفاظو ورته اشاره شوې، دا دواړه سورې د محتوی له پلوه په بشپړه توګه سره ورته دي؛ او دواړه په یوه نامه؛ مُعَوِّذَتَين یادي شوې. د دې تفصیل د الفلق د سورې په تفسیر کې وګورئ.

(نفاثات) له نفث د پو کولو په معنی او د نفاثه جمع ده، چې یا د (علامه) په څېر د زیات پو کوونکو نارینه وو په معنی ده، یا جمع مؤنث یعنی پو کوونکې ښځې او یا د پو کوونکو ډلو په معنی ده. او (عُقَد) د عقده جمع او معنی ئې غوټه ده. دې معانیو ته په پام سره د مفسرینو تر منځ درې رأیې زمونږ مخې ته راځي: ۱- مراد ئې هغه جادوګرې ښځې دي چې د جادو او کوډو لپاره تار غوټه غوټه کړي او په هرې غوټې کې پو کړي، ۲- د زمخشري او ابو مسلم اصفهاني له نظره په (النفاثات في العقد) سره هغو ښځو ته اشاره شوې چې په خپلو کرشمو، عشوه او ناز نخرو سره نارینه داسې تر اغېز لاندې نیسي او په خپل دام کې ئې اچوي لکه چې جادو پرې شوی وي. درېیمه رأیه دا ده چې له (النفاثات في العقد) هغه ډلې مراد دي چې عقده من افراد پاروي، د دوی په عقدو کې پو کوي، د ناراضیانو په لټه کې وي چې تحریك ئې کړي، احساسات ئې راوپاروي، عقدې ئې ور وپرسوي، په هغو غرضې او مرضې وګړو پسې ګرځي چې خپلو ناروا غرضونو ته نه دي رسېدلې، په زړه کې عقدې او کینې لري، دوی ئې په شا وټپوي او د مسلمانانو په لیکو کې د فتنو راولاړولو لپاره ترې استفاده وکړي. که د الفلق سورې د آیتونو تسلسل ته پام وکړو نو له ورایه برېښي چې دا (النفاثات في العقد) له هغه وروسته خپل فعالیت پیلوي چې تیاره خوره شي او هغه وخت عقدې پرسوي چې ځینې په ړندوونکې فتنې اخته شي، کله چې مغشوش شرائط راشي او ځینو خلکو ته د حق او باطل تر منځ تفکیك ګران شي نو دغو پو کوونکو ته مناسب شرائط

برابر شي، متې رابډ وهي او د عقده منو خلکو په راپارولو بوخت شي. حقیقت دا دئ چې د (نفاثات في العقد) اطلاق نه په عشوه ګرو ښځو صحیح دئ او نه په هغو کوډګرو ښځو چې په تعویذ او د تار په غوټو کې پو کوي.

چا چې دا آیت د پورتني روایت له مخې تفسیر کړی؛ دې ته ئې پام نه دئ کړی چې په روایت کې یاد شوی جادوګر نارینه دئ نه کومه ښځینه جادوګره!! دې ته ئې هم توجه نه ده کړې چې د دې سورې په هیڅ برخې کې د جادو او جادوګر یادونه نه ده شوې، دلته د همدې سورې له دغه آیت وروسته په ورپسې آیت کې د حاسد یادونه شوې او دا په واضح توګه ښیي چې نفاثات في العقد هم د حاسد په څېر کینه کښ او کینه پاروونکي وګړي دي؛ نه جادوګري ښځي.

د الناس د سورې په څلورم او پنځم آیتونو کې ویل شوي (مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ: د هغه وسوسه اچوونکي له شر چې په وار وار راځي، هغه چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي) او دا دقیقاً د (النفاثات في العقد) معنی او شرح ده. د قرآن په ډېرو نورو آیتونو کې هم ګورو چې د (نفاثات في العقد) او (الذي یوسوس في صدور الناس) مفهوم افاده کوي، دا ټول هغې ډلې ته اشاره کوي چې د صف دننه د فتنو راولاړولو لپاره هڅې کوي، د توبې په سوره کې په دې اړه داسې راغلي:

لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٤٧ التوبة: ٤٧

که ستاسو په لیکو کې وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزیات کړي، خامخا به ئې د فتنو په لټه کې په تاسو کې ځغلول کول او په تاسو کې د دوی لپاره اورېدونکي شته؛ او الله د ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

دا آیت د دې ډلې او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بیانوي:

الف: د دوی شته والی ستاسو قوت او ځواکمني نه زياتوي، بلکي د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي.
ب: د دوی هڅه دا وي چي په تاسو کي فتنې راولاړي کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي.
ج: ستاسو په ليکو کي داسي کسان شته چي د دوی د تبليغاتو تر اغېز لاندي راځي، ځيني د سفاهت او سادګۍ په وجه، ځيني د خپلو عقدو او حسادتونو په وجه او ځيني په دې خاطر چي په يوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحريك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کي تري کار واخلي.
د: دوی ظالمان دي.
هـ: الله تعالی چي د دې ظالمي ډلي په اړه څه ويلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دئ، دا د هغه عليم خدای وينا ده چي هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړو وړو ښه پوه دئ.

د (سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ) په تفسير کي ځيني مفسرين وايي: دا منافقين د دښمن لپاره جاسوسي کوي او اطلاعات راغونډوي او د هغوی په امر ستاسو په منځ کي فتنې راولاړوي. خو غوره تفسير ئې هغه دئ چي مونږ تر دې د مخه ذکر کړی، دا ځکه چي دلته نه په دې آيت کي او نه تر دې مخکي او وروسته د دښمن يادونه شوې، نو په (لهم) کي اشاره په خپله دغو منافقينو ته ده نه دښمن ته، له منافقينو پرته بل داسي اسم نه مومو چي د (هم) ضمير ورته راجع شي. سماعون د جاسوس او اطلاعاتو راغونډوونکي په معنی رااخيستل او داسي ويل چي ستاسو په ليکو کي د منافقينو يا کافرانو لپاره جاسوسان شته، صحيح تعبير نه دئ؛ دا ځکه چي دلته خبره د فتنو راولاړولو ده او منافقين هغه مهال کولی شي چي فتنې راولاړي کړي چي په مسمانانو کي کمعقله خلك د دوی د زهرجنو تبليغاتو تر اغېز لاندي راشي او د دوی دروغجني خبري ومني او د فتنو باعث شي. دلته د (سماع) صيغه د ښه غوږ نيوونکي او د خبري اورېدونکي او منونکي په معنی ده.

د دغو دلائلو په رڼا کې په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې نه پر رسول الله صلی الله علیه و سلم جادو شوی او نه د جادو له کبله بیمار شوی او نه جادوګر کولی شي په خپل جادو سره چا ته ګټه یا تاوان ورسوي. جادو یوه دوکه ده او جادوګر یو ټګمار او دوکه مار انسان. او دا همغه څه دي چې قرآن ئې مورِ ته لارښوونه کوي.

دې ته مو هم پام وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د سحر کوونکو په اړه فرمایي:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رضى الله عنه - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: " لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ أَوْ تُطِيَّرَ لَهُ، أَوْ تَكَهَّنَ أَوْ تُكُهِّنَ لَهُ، أَوْ سَحَرَ أَوْ سُحِرَ لَهُ " مسند احمد و الجامع الصحيح للسنن والمسانيد

له عمران بن حصین روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هغه زمورِ له ډلې نه دئ چې په خپله ئې بد فالي وکړه یا بل ورته وکړه، په خپله ئې کهانت وکړ یا بل ورته وکړ، په خپله ئې سحر وکړ یا بل ورته وکړ.

یعني په فال، کهانت او سحر په خپله عمل کول او باور ساتل او د بل په لاس ئې کول؛ د هغه چا کار دئ چې له اسلامي امت وتلی.

راشئ هغه روایات هم ستاسو مخي ته کښېږدم چې ما ئې خلاصه بیان کړه؛ د سحر اړوند روایات دا دي:

٣١٧٥ - حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَائِشَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُحِرَ، حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ» بخاری [٣٠٩٥، ٥٤٣٠، ٥٤٣٢، ٥٤٣٣، ٥٧١٦، ٦٠٢٨]

٣٠٠٤ - حدثنى محمد بن المثنى حدثنا يحيى حدثنا هشام قال حدثنى أبى

عن عائشة : أن النبى صلى الله عليه و سلم سحر حتى كان يخيل إليه أنه صنع شيئا ولم يصنعه بخارى

[١١٩٣/ ٣١٧٥]- حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - سُحِرَ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ * (رواه البخارى)

١٣٤٢ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - سُحِرَ، حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شيئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ. رواه البخارى

٣٢٦٨ - حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: سُحِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ اللَّيْثُ: كَتَبَ إِلَيَّ هِشَامٌ أَنَّهُ سَمِعَهُ وَوَعَاهُ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سُحِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا يَفْعَلُهُ، حَتَّى كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ دَعَا وَدَعَا، ثُمَّ قَالَ: " أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا فِيهِ شِفَايِي، أَتَانِي رَجُلاَنِ: فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِلْآخَرِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، قَالَ: فِيمَا ذَا، قَالَ: فِي مُشُطٍ وَمُشَاقَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، قَالَ فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ " فَخَرَجَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لِعَائِشَةَ حِينَ رَجَعَ: «نَخْلُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» فَقُلْتُ اسْتَخْرَجْتَهُ؟ فَقَالَ: «لاَ، أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي اللَّهُ، وَخَشِيتُ أَنْ يُثِيرَ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا» ثُمَّ دُفِنَتِ البِئْرُ بخارى

٥٧٦٣ - حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَحَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ، يُقَالُ لَهُ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، حَتَّى كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ كَانَ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ، حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ وَهُوَ عِنْدِي، لَكِنَّهُ دَعَا وَدَعَا، ثُمَّ قَالَ: " يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، أَتَانِي رَجُلاَنِ، فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ فَقَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: مَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعِ نَخْلَةٍ ذَكَرٍ. قَالَ: وَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ " فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ص:٣٣] فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَجَاءَ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ، كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الحِنَّاءِ، أَوْ كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: أَفَلاَ اسْتَخْرَجْتَهُ؟ قَالَ: «قَدْ عَافَانِي اللَّهُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ فِيهِ شَرًّا» فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ، وَأَبُو ضَمْرَةَ، وَابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامٍ، وَقَالَ: اللَّيْثُ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامٍ: «فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ» يُقَالُ: المُشَاطَةُ: مَا يَخْرُجُ مِنَ الشَّعَرِ إِذَا مُشِطَ، وَالمُشَاقَةُ: مِنْ مُشَاقَةِ الكَتَّانِ بخارى

٥٧٦٥ - حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ، يَقُولُ: أَوَّلُ مَنْ حَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ جُرَيْجٍ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي آلُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، فَسَأَلْتُ هِشَامًا، عَنْهُ، فَحَدَّثَنَا عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُحِرَ، حَتَّى كَانَ يَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ وَلاَ يَأْتِيهِنَّ، قَالَ سُفْيَانُ: وَهَذَا أَشَدُّ مَا يَكُونُ مِنَ السِّحْرِ، إِذَا كَانَ كَذَا، فَقَالَ: " يَا عَائِشَةُ، أَعَلِمْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، أَتَانِي رَجُلاَنِ، فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رَأْسِي لِلْآخَرِ: مَا بَالُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ - رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ كَانَ مُنَافِقًا - قَالَ: وَفِيمَ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ، قَالَ: وَأَيْنَ؟ قَالَ: فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، تَحْتَ رَاعُوفَةٍ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ " قَالَتْ: فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ البِئْرَ حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ، فَقَالَ: «هَذِهِ البِئْرُ الَّتِي أُرِيتُهَا، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الحِنَّاءِ، وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» قَالَ: فَاسْتُخْرِجَ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: أَفَلاَ؟ - أَيْ تَنَشَّرْتَ - فَقَالَ: «أَمَّا اللَّهُ فَقَدْ شَفَانِي، وَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ شَرًّا» بخارى

٥٧٦٦ - حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سُحِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ، حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ عِنْدِي، دَعَا اللَّهَ وَدَعَاهُ، ثُمَّ قَالَ: «أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا [ص:﴿١٣٨﴾] اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ» قُلْتُ: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " جَاءَنِي رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ اليَهُودِيُّ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ، قَالَ: فِيمَا ذَا؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي

بِبْئِرِ ذِى أَرْوَانَ " قَالَ: فَذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى البِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ: «وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَأَخْرَجْتَهُ؟ قَالَ: «لاَ، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِيَ اللَّهُ وَشَفَانِي، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا» وَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ. بخارى

وَعَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ: (" سُحِرَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا، وَلَمْ يَصْنَعْهُ) (فَيَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ، وَلَا يَأْتِيهِنَّ (حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ عِنْدِى، دَعَا وَدَعَا، ثُمَّ قَالَ: يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ؟، أَتَانِي رَجُلَانِ، فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِى، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِلْآخَرِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟، قَالَ: مَطْبُوبٌ قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟) (قَالَ: يَهُودِيٌّ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ، يُقَالُ لَهُ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ) (قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟، قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟، قَالَ: فِي جُفِّ طَلْعَةٍ (د خرما د و◉ى ◉و◉كى) ذَكَرٍ تَحْتَ رَاعُوفَةٍ (هغه لويه تيه◉ ◉ى د كوهى ◉ه تل كى ايه◉ودل كه◉◉ى) فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ وفى رواية: (فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ، وَقَالَ: إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ سَحَرَكَ، وَالسِّحْرُ فِي بِئْرِ فُلَانٍ) (قَالَتْ: فَأَتَاهَا رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ) (حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ) (فَأَمَرَهُ جِبْرِيلُ أَنْ يَحُلَّ الْعُقَدَ، وَيَقْرَأَ آيَةً، فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَيَحُلُّ، حَتَّى قَامَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - كَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ) (ثُمَّ رَجَعَ، قَالَتْ: فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه

وسلم - حِينَ رَجَعَ) (يَا عَايِشَةُ، كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ (د نكريﷺو سره بخونى اوبه) وَكَأَنَّ نَخْلُهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ؟) وفى رواية: (أَفَلَا اسْتَخْرَجْتَهُ؟) وفى رواية: (أَفَلَا تَنَشَّرْتَ فَقَالَ: " لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي اللهُ، وَخَشِيتُ أَنْ يُثِيرَ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - بِالْبِئْرِ فَدُفِنَتْ قَالَتْ: فَكَانَ الرَّجُلُ بَعْدُ يَدْخُلُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - " فَلَمْ يَذْكُرْ لَهُ شَيْئًا مِنْهُ، وَلَمْ يُعَاتِبْهُ " الجامع الصحيح للسنن و المسانيد

٣٥٤٥ - حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَايِشَةَ قَالَتْ: سَحَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودِيٌّ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ، حَتَّى كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَلَا يَفْعَلُهُ، قَالَتْ: حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ - أَوْ كَانَ ذَاتَ لَيْلَةٍ - دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ دَعَا، ثُمَّ دَعَا، ثُمَّ قَالَ: " يَا عَايِشَةُ أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ؟ جَاءَنِي رَجُلَانِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلِي فَقَالَ: الَّذِى عِنْدَ رَأْسِى لِلَّذِى عِنْدَ رِجْلِى - أَوِ الَّذِى عِنْدَ رِجْلِى لِلَّذِى عِنْدَ رَأْسِى - مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ: مَطْبُوبٌ. قَالَ: مَنْ طَبَّهُ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ. قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ، وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ. قَالَ: وَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذِى أَرْوَانَ " قَالَتْ: فَأَتَاهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ: «وَاللَّهِ يَا عَايِشَةُ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ»

قَالَتْ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ؟ قَالَ: «لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا» فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ سنن ابن ماجه

٤٨٨٢ - حَدَّثَنَا مُجَاهِدُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سُحِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ فَعَلَ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ، حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ، وَهُوَ عِنْدِي، دَعَا اللَّهَ، وَدَعَا ثُمَّ قَالَ: «أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ؟» قُلْتُ: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " أَتَانِي مَلَكَانِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلِي، ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: مَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ الْيَهُودِيُّ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ، قَالَ: فِي مَاذَا؟ قَالَ: فِي مُشُطٍ وَمُشَاطَةٍ، قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذِي أَرْوَانَ ". قَالَ: فَذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرُوا إِلَيْهَا وَنَخْلِهَا، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ: «وَاللَّهِ كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَخْرَجْتَهُ؟ قَالَ: «لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِيَ اللَّهُ وَشَفَانِي، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا» فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ " مسند ابو يعلى الموصلى

٥١٣ - حدثنا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ حَيَّانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: سَحَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ، فَاشْتَكَى لِذَلِكَ أَيَّامًا، فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَقَالَ: «إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ سَحَرَكَ، عَقَدَ لَكَ عُقَدًا، فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَاسْتَخْرَجَهَا، فَجَاءَ بِهَا

فَجَعَلَ كُلَّمَا حَلَّ عُقْدَةً وَجَدَ لِذَلِكَ خِفَّةً، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ، فَمَا ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ الْيَهُودِيَّ وَلَا رَآهُ فِي وَجْهِهِ قَطُّ» مسند ابن ابى شيبه

٢٨٤٠ - حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مَالِكٍ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ الْأَخْنَسِ، عَنِ الوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُغِيثٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ، اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنْ سِحْرٍ، مَا زَادَ زَادَ، وَمَا زَادَ زَادَ» مسند احمد

٢٤٣٠٠ - حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَحَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودِيٌّ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ حَتَّى كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنْ يَفْعَلَ الشَّيْءَ وَمَا يَفْعَلُهُ، قَالَتْ: حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ دَعَا، ثُمَّ قَالَ: " يَا عَائِشَةُ شَعَرْتُ أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، جَاءَنِي رَجُلَانِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رَأْسِي لِلَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ، أَوِ الَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ لِلَّذِي عِنْدَ رَأْسِي،: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: مَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ، قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ، قَالَ: وَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ أَرْوَانَ " قَالَتْ: فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ [ص:٣٤٠] نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» قُلْتُ: يَا رَسُولَ

اللَّهِ، فَهَلَّا أَحْرَقْتَهُ؟ قَالَ: «لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا»، قَالَتْ: فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ مسند احمد

٢٤٣٤٨ - حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ أُسَامَةَ قَالَ: أَخْبَرَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَنَّهُ لَيُخَيَّلُ لَهُ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا يَفْعَلُهُ، حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ عِنْدَهَا دَعَا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ، وَدَعَاهُ، ثُمَّ قَالَ: «أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ» قُلْتُ: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " جَاءَنِي رَجُلَانِ فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: مَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ الْيَهُودِيُّ، قَالَ: فِيمَا ذَا؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ، قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ «، فَذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ [ص:٧٥] ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ» فَقَالَ: «وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ» . قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَحْرِقْهُ، قَالَ: «لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا» مسند احمد

٢٤٦٥٠ - حَدَّثَنَا عَفَّانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُحِرَ لَهُ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَصْنَعُ الشَّيْءَ، وَلَمْ يَصْنَعْ، حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ رَأَيْتُهُ يَدْعُو، فَقَالَ: «شَعَرْتُ أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ»، فَقَالَ: " أَتَانِي

رَجُلَانِ، فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلِي، فَقَالَ أَحَدُهُمَا: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ الْآخَرُ: مَطْبُوبٌ؟ قَالَ: مَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ، قَالَ: فِي مَاذَا؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ، وَمُشَاطَةٍ وَجُبِّ، طَلْعَةِ ذَكَرٍ، قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي ذِي أَرْوَانَ "، قَالَ: فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَخْبَرَ عَائِشَةَ، قَالَ: وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَخْرَجْتَهُ لِلنَّاسِ؟ فَقَالَ: «أَمَّا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَقَدْ شَفَانِي، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا» مسند احمد

٧٣٧ - أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، نا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سَحَرَهُ رَجُلٌ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ أَنَّهُ فَعَلَ الشَّيْءَ وَلَمْ يَفْعَلْهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، قَالَ: " يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ، أَتَانِي مَلَكَانِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ فَقَالَ الْآخَرُ: هُوَ مَطْبُوبٌ بِهَذَا، فَقَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ فَقَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ، قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ نَخْلٍ طَلْعَةِ ذَكَرٍ، قَالَ: وَأَيْنَ هُوَ؟ [ص:٣٣٠] قَالَ: فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ " قَالَ: فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ، كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَكَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا أَسْتَخْرِجُهُ، فَقَالَ: «قَدْ عَافَانِي اللَّهُ فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ

مِنْهُ شَرًّا» مسند إِسْحَاقُ بنُ رَاهْوَيْه

٢٧١ - حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، ثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ حَيَّانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: سَحَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ، قَالَ: فَاشْتَكَى فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَنَزَلَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ، وَقَالَ: " إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ سَحَرَكَ، وَالسِّحْرُ فِي بِئْرِ فُلَانٍ، قَالَ: فَأَرْسَلَ عَلِيًّا فَجَاءَ بِهِ، قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ يَحُلَّ الْعُقَدَ، وَتَقْرَأَ آيَةً، فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَيَحُلُّ حَتَّى قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ، قَالَ: فَمَا ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِذَلِكَ الْيَهُودِيِّ شَيْئًا مِمَّا صَنَعَ بِهِ، قَالَ: وَلَا أَرَاهُ فِي وَجْهِهِ " مسند عبد بن حميد

وَعَنْ عَايِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ: (" سُحِرَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا، وَلَمْ يَصْنَعْهُ فَيَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ، وَلَا يَأْتِيهِنَّ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ عِنْدِى، دَعَا وَدَعَا، ثُمَّ قَالَ: يَا عَايِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ؟، أَتَانِي رَجُلَانِ، فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِى، وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِلْآخَرِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟، قَالَ: مَطْبُوبٌ قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: يَهُودِيٌّ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ، يُقَالُ لَهُ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ قَالَ: فِي أَيِّ شَىْءٍ؟، قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟، قَالَ: فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ تَحْتَ رَاعُوفَةٍ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ وفى رواية: (فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ، وَقَالَ: إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ سَحَرَكَ، وَالسِّحْرُ فِي بِئْرِ فُلَانٍ قَالَتْ: فَأَتَاهَا رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى

اسْتَخْرَجَهُ فَأَمَرَهُ جِبْرِيلُ أَنْ يَحُلَّ الْعُقَدَ، وَيَقْرَأَ آيَةً، فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَيَحُلُّ، حَتَّى قَامَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - كَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ ثُمَّ رَجَعَ، قَالَتْ: فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ رَجَعَ يَا عَايِشَةُ، كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ؟ وفى رواية: (أَفَلَا اسْتَخْرَجْتَهُ؟) وفى رواية: فَقَالَ: " لَا، أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي اللهُ، وَخَشِيتُ أَنْ يُثِيرَ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - بِالْبِئْرِ فَدُفِنَتْ " قَالَتْ: فَكَانَ الرَّجُلُ بَعْدُ يَدْخُلُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - " فَلَمْ يَذْكُرْ لَهُ شَيْئًا مِنْهُ، وَلَمْ يُعَاتِبْهُ " الجامع الصحيح للسنن و المسانيد

٤٤ - حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَايِشَةَ، قَالَتْ: سُحِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ أَبُو كُرَيْبٍ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ، نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ، وَقَالَ فِيهِ: فَذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ، وَقَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ فَأَخْرِجْهُ، وَلَمْ يَقُلْ: أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ؟ وَلَمْ يَذْكُرْ " فَأَمَرْتُ بِهَا فَدُفِنَتْ مسلم

٦٥٨٣ - أَخْبَرَنَا الْحَسَنُ بْنُ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَايِشَةَ، قَالَتْ: سَحَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودِيٌّ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ حَتَّى كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ (ﷺ) أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ، وَمَا يَفْعَلُهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ دَعَا ثُمَّ قَالَ:

«يَا عَايِشَةُ أَشَعُرْتِ أَنَّ اللَّهَ جَلَّ وَعَلَا قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ، قَدْ جَاءَنِي رَجُلَانِ فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَجَلَسَ الْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ، فَقَالَ (١) الَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ لِلَّذِي عِنْدَ رَأْسِي: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَطْبُوبٌ، قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ، قَالَ: فِي أَيِّ شَيْءٍ؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ (٢) وَجُفِّ (٣) طَلْعَةِ ذَكَرٍ، قَالَ: وَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذِي ذَرْوَانَ» قَالَ: فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: «يَا عَايِشَةُ فَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ (٤)، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَهَلَّا أَحْرَقْتَهُ أَوْ أَخْرَجْتَهُ؟، قَالَ: «أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِيَ اللَّهُ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَيْئًا»، فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ . صحيح ابن حبان

ذو القرنين او يأجوج او مأجوج

د ذوالقرنين او يأجوج او مأجوج په اړه هم په امت کې د جدي اختلاف شاهد يو، په تفسيرونو کې هم ېېل ېېل آراء مومو او په رواياتو کې هم کافي متعارض روايات. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه ويلي او کومه رأيه او روايت د اعتبار وړ ګڼلی شو!!

د قرآن په دوو آيتونو کې د يأجوج او مأجوج يادونه شوې، يو ئې د الكهف سورې ٩٤ آيت او بل ئې د الانبياء سورې ٩٦ آيت دئ، د الكهف په سورې کې د دوی يادونه د ذوالقرنين د قصې په ضمن کې شوې او قصه داسې پيل شوې:

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾

د ذو القرنين په اړه تا پوښتي؛ ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم.

د الکهف په سورې کې پنځه قصې زموږ مخي ته راځي: يوه ئې د اصحاب کهف د مؤمنو زلميانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، بله ئې د يوه مشرك شتمن او مؤمن نيستمن د عبرتناکې مرکې او محاورې قصه، بله ئې د موسی عليه السلام او خضر د ګډ سفر قصه، بله ئې د ذوالقرنين د سترو سترو فتوحاتو قصه او پنځمه ئې د انسان د پيدايښت هغه قصه چې ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابليس سرغړاوی وکړ.

په حقيقت کې دا سوره د همدې پنځو قصو مجموعه ده، خو لنډې لنډې، ډېر ښکلې، اغېزناکې او عبرتناکې قصې، الفاظ ئې جامع، اسلوب ئې ډېر جذاب او جالب، په هري يوې کې ګڼ شمېر مهم مهم درسونه او ګټوري لارښوونې، دا قصې د دې سورې د محوري او اساسي موضوعاتو لپاره د تاريخي بېلګو په توګه وړاندې شوې.

دا د اهل کتاب اړوند قصې دي او د هغوی په مذهبي او تاريخي کتابونو کې ئې يادونه شوې؛ او قريشو د يوه شرارت په موخه له رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې اړه پوښتنې کړې او غوښتل ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغو قصو په اړه داسې څه ووايي چې د اهل کتاب له ويناوو او تاريخي څرګندونو سره توپير ولري چې بيا ئې د يوې تبليغاتي حربې په توګه وکاروي او خلکو ته ووايي: دا دئ محمد (عليه السلام) د دغو تاريخي قصو په اړه د مخکينيو الهي کتابونو خلاف خبرې کوي!! د دې سورې له ۸۳ آيت چې وايي: وَ يَسئَلُونَك عَن ذِی الْقَرْنَينِ قُلْ سأَتْلُوا عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكراً* همدا خبره معلومېږي.

د الکهف د سورې په دې آيت سره؛ هغه اغېزناکه او عبرتناکه تاريخي قصه پيل کېږي چې د يوه ځواکمن او فاتح زعيم په اړه ده؛ يو مؤمن بنده د داسې اقتدار او واکمنۍ په حالت کې ښيي چې د ملك لمن ئې د لويي وچې له ختيځ تر لوېديځ غځېدلې، د شمال او جنوب په لوري خوره شوې، هيڅوك ئې

مخي ته ودرېدی نشي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول ډول وسائل او امکانات ئې په واک کې دي، خو دې زور او ځواک؛ نه مغرور کړی، نه ئې له خپل رب عصیان او بغاوت ته هڅولی او نه ئې د نورو په حق کې ظلم او تېري ته تشویق کړی، د مظلوم مرسته کوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سیمو له هستوګنو سره نېک او عادلانه چلن کوي او یوازي ظالمانو ته سزا ورکوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چې د جاه طلبۍ شوق پوره کړي، نورو ته خپل زور او ځواک وښیي او د نورو سیمو په نیولو سره د خپلې واکمنۍ لمن پراخه کړي، بلکې د یوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلك پر الله تعالی او آخرت ایمان راوړي او د ظالمانو له منګولو وژغورل شي. د دې آیت لاندیني مطالب توجه غواړي:

- دلته ویل شوي چې: او د ذوالقرنین په اړه له تا پوښتني کوي، له دې وینا معلومېږي چې د نورو پوښتنو په ضمن کې دا هم یوه پوښتنه وه؛ او دا ښیي چې په دې سورې کې د اصحاب کهف او د موسی علیه السلام او خضر د جهادي سفر په اړه راغلي مطالب او وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب کې وړاندي شوي. د آیت له دې فقرې (قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرٗا: ووایه: ژر به ئې څه یادونه درواوروم) معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه د وحي له راتلو وروسته هغوی ته دغه وینا کړې؛ هغه رأیه صحیح نه بربښي چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړی له هغوی سره وعده کړې او بیا څه موده وروسته دا آیتونه نازل شوي؛ ځکه دا آیت په واضح توګه ښیي چې وعده د دغه آیت په لاربشوونه شوې.
- دلته د ذوالقرنین نوم راغلی چې لغوي معنی ئې د دوو ښکرونو خاوند ده، نه په قرآن کې د دې مزید وضاحت شوی چې دا څوك وو، نه په احادیثو کې او نه د تاریخ په کتابونو کې؛ ځینو ویلي چې دا یوناني سکندر اعظم وو او ځینو ویلي چې دا خورس (خسرو) د فارس ستر واکمن وو، په دې اړه په یقین سره څه ویل ګران دي. دا هم یوه بله پوښتنه ده چې ولې د ذوالقرنین په نامه یاد

شوی؟ آیا دا له دې کبله چې ده او فوځیانو به ئې داسې خولونه پر سر کول چې دوه ښکرونه به ئې ول، که د دې لپاره چې ده حقیقتاً په خپلې ککرې (کوپړې) کې د ښکرو په څېر دوه راوتلې غوټې درلودې؟ په دې اړه هم څه واضح ځواب نشو موندلی، خو د قرآن له وینا دومره معلومېږي چې قریش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنین په اړه ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتنه کړې، د قریشو د دې معرفت مرجع یهودان ول، باید د یهودانو په مذهبي او تاریخي کتابونو کې دا ولټول شي چې دوی د ذوالقرنین نوم چا ته ورکړی وو.

په بایبل کې د دانیال یوه جعلي او سر تر پایه بې بنسټه قصه مومو چې په ضمن کې ئې د دانیال داسې خوب ته اشاره شوې چې وایي: خوب مي لید چې د شوش په سیمې کې (دا سیمه اوس د ایران یوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ یم، یو مېړ ګورم چې دوه جګ جګ ښکرونه ئې دي، د نهر په ژېړ کې ولاړ دئ، ناڅاپه ګورم چې یو ښاخ ئې ستر او تر بل جګ شو، دي مېړ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښکرونه وهل، هیڅ ځناور ئې مقابله نشوی کولی او روغ نشو تړې خلاصېدی، څه چې ئې غوښتل همغسې ئې کول او سترېدو، په داسې حال کې چې لګیا وم د دې صحنې په اړه مي فکر کولو ناڅاپه له لوېدیځه یو وز راڅرګند شو، داسې تېز راروان وو چې پښې به ئې د منډې په حال کې پر زمکه نه لګېدې، دې وز چې یو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکرې مېړ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې برید وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ... ورپسې د جبرئیل له قوله چې دانیال ته په خوب کې راڅرګند شوی دا خوب داسې تعبیروي: هغه دوه ښکرې مېړ د ماد او فارس پاچایي ده، هغه وز چې د دواړو سترګو منځ کې ئې یو ښکر وو د یونان پاچایي ده، ښکر ئې د همدې ملك لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپیدا کېدا په دې معنی ده چې دا پاچایي به په څلورو برخو ووېشل شي(په خوب کې ئې راغلي دي چې یو

سکر ئې په ځلورو سکرونو بدل شو) او هره برخه به یو پاچا لري خو هیڅ یو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

که تاسو د بایبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو یقیناً چې ډېر ژر به درته جوته شي چې (دانیال) یو جعلي نوم دئ؛ او په ده پوري تړل شوې خبري جعلي، له ځانه جوړې شوې او له سر تر پایه غلطي او بې بنسټه دي، خو عجیبه ده چې دانیال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبیرونه ئې په مسلمانانو کې خورې شوې، دانیال د یوه معروف معبر په نامه پېژني او حتیٰ ځینو مفسرینو په خپلو تفسیرونو کې د ده خبري نقل کړې دي، دا په داسې حال کې چې عمر رضي الله عنه یو کس د دې لپاره سخت تنبیه کړ چې دانیال ته دغه منسوب خبري ئې تبلیغ کړې وې او ورته وئې ویل چې زه پیغمبر علیه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منع کړی وم. د دې تفصیل د (بایبل د قرآن په رڼا کې) کتاب کې وګورئ، خو یهودان د بایبل دغې جعلي برخې ته تر نورو زیات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه سکرې (ذوالقرنین) په دوی کې پېژندل شوی او معروف نوم وو او د فارس یو ستر واکمن ئې په همدې نامه یاداوو.

قرآن په راتلونکو آیتونو کې د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخې ته ږدي او هغه د یوه مؤمن او عادل واکمن او زعیم په توګه معرفي کوي.

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا

يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾ الكهف: ٨٤-٨٨

يقيناً چې موږ هغه ته په زمکي کې تمکين ورکړی وو او ډول ډول اسباب مو ورکړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو، تر هغه چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، هغه ئې داسي وموند چې په تور رنګه ځېنه چينې کې پرېوځي؛ او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند، ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب کړه يا د دوی په اړه نېك چلن غوره کړه، وئې ويل: اما هغه چې ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذيب کړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته کړي. او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلې سپارښتني آسانه وينا وکړو.

په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې مومو:

- ذوالقرنين د نړۍ يو پياوړی او مضبوط واکمن وو، الله تعالی ډول ډول اسباب او امکانات ورکړي ول، له خپلو وسائلو او امکاناتو په استفادې سره ئې لومړی د لوېديځ په لوري مخه کړه، تر هغه ځای مخکې ولاړ او سيمې ئې يوه په بلې پسې فتح کړې چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسي ځای ته چې پراخه ځېنه چينه ئې مخې ته حائل شوه، داسي ورته معلومېده چې لمر د همدې ځېنې چينې په وروستۍ (غربي) ژۍ کې پرېوځي، د قرآن له وينا معلومېږي چې د دې چينې شرقي ژۍ ځېنه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چې آخوا ته ئې هيڅ لوړه نه تر سترګو کېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسي معلومېږي لکه چې لمر په همدې چينې کې پرېوځي. د قرآن له وينا دا هم معلومېږي چې دا کوم ستر بحر او سمندر نه وو بلکې چينې ته ورته بحيره وه، دغو لارښوونو ته په پام سره ويلی شو چې دا فاتح زعيم د يونان کوم پاچا نشي کېدی، ځکه د يونان په غرب کې داسي بحيره نه تر سترګو کېږي، د کوچنۍ آسيا په غربي ساحل کې پرتې جزيرې او مديترانه داسي دي

چي د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل کېدی شي، نو د دې فاتح زعیم پلازمېنه به د دې سیمي ختیځ کې پرته وه؛ او دا د خورس په اړه تر سکندر اعظم زیات صدق کوي.



- دې فاتح زعیم د دغي چینې خوا ته یو قوم وموند، داسي چې الله تعالی ده ته هم د دې قوم د تعذیب قدرت او توان ورکړی وو او هم له دوی سره د نېك چلن توان، خو ده دا پرېکړه وکړه: چا چې ظلم کړی یا له دې وروسته ظلم وکړي مناسبه سزا ورکوم، بیا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالی به سخته سزا ورکوي او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی یا له دې وروسته ایمان راوړي او نېك عمل وکړي نو هغه ته به په دنیا او آخرت کې غوره بدله ورکول کېږي او مور به نه له هغه سره سختي کوو او نه به ئې پر سختو کارونو ګمارو.

- له دې وینا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا یو مؤمن او عادل زعیم وو، د مفتوحه سیمو له هستوګنو سره ئې عادلانه چلن کولو، ظالمانو ته ئې

سزا ورکوله، له مؤمنانو او نېکانو سره ئې نېك چلن کاوو، هدف ئې د زمکو لاندي کول او د نورو شتمني لوټل نه وو، د تاریخي شواهدو له مخي سکندر دا مواصفات نه درلودل، سکندر؛ چنګیز ته ورته فاتح وو، له تاریخي شواهدو دا معلومېږي چې خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ٨٩ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطۡلِعَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلَىٰ قَوۡمٖ لَّمۡ نَجۡعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتۡرٗا ٩٠ كَذَٰلِكَۖ وَقَدۡ أَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرٗا ٩١

الكهف: ۸۹- ۹۱

بیا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چې د لمر د ختو حد ته ورسېد، هغه ئې داسي وموند چې پر یوه داسي قوم راخېژي چې له هغه مو هیڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه کړې، همداسي وو؛ او موږ یقیناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چې له ده سره ول.

دا مبارك آیتونه د دې زعیم بل فاتحانه اقدام څېړي او وایي:

- بیا ئې د بل اقدام لپاره تیاری ونیو، د ختیځ په لور وخوځېدو، داسي سیمي ته ورسېدو چې د هستوګنو او لمر تر منځ نه چت حائل کېدو، نه کېږدې او نه جامې، نه ئې خوني او سمڅي درلودې، نه ئې کېږدې او نه جامې، د حیواناتو په څېر بربنډ ول.

- له الفاظو داسي معلومېږي چې دا سیمه هم د کوم بحر په غربي ژې کې پرته وه، لمر به له راڅرګندېدو سره سم تر سترګو کېدو او وړانګي به ئې مخامخ او له کومې مانع پرته پر سیمې او هستوګنو ئې لګېدې. داسي معلومېږي چې دا به د هند هغه شرقي سیمه وي چې له بحر سره متصل پرته ده.



- دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چي د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او کامل علم له مخي ده چي الله تعالی ئې د ده او د ده د امکاناتو او وسائلو په اړه لري.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ۝٩٢ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ۝٩٣ الكهف: ۹۲-۹۳

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چي د دوو غرونو منځ ته ورسېد، تر هغو وړاندي ئې داسي قوم وموند چي دې ته نږدې نه وو چي په کومي وينا وپوهېږي.

دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لوری ئې نه دئ په ګوته شوی، دومره ويل شوي چي د دوو غرونو منځ ته ورسېد، د دغو غرونو خوا ته ئې داسي قوم موندلی چي په خبرې د پوهېدا وړتيا ئې دومره کمزورې وه چي په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نږدې وو. په وروستيو آيتونو کې داسي اشارې مومو چي په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندی شو.



قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا ٩٤ الكهف: ٩٤

وئې ويل: اې ذوالقرنين! يقيناً چې يأجوج او مأجوج په دې زمکي کې فساد خوروونکي دي، آيا کېدی شي چې تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره درکړو چې زمونږ او دوی تر منځ کوم سد او مانع جوړ کړې.

له دې مبارك آيت څو خبري معلومېږي:

- دا سيمه د يأجوج او مأجوج قوم ته نږدې پرته وه. دوی به د دوو غرونو له منځه راتېرېدل او د سيمې پر خلکو به ئې بريدونه کول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د يأجوج او مأجوج تر بريدونو او ګواښونو لاندې خلکو له ذوالقرنين غوښتې چې دا ناو بند کړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسې سد جوړ کړي چې د دغو بريدونو مخنيوی وکړي.
- دا ئې هم ورته ويلې چې د دې په بدل کې به مونږ تا ته ماليه درکوو.

د يأجوج او مأجوج نومونه هم بايد د يهودو په مذهبي کتابونو او تاريخي

اسنادو کې ولټوو، ځکه دا نومونه د ذوالقرنین د قصې په ارتباط راغلي، د دوی په مذهبي کتابونو کې د دې یادونه شوې، دوی هغه قومونه د یأجوج او مأجوج په نامه یاد کړي چې د آسیا په شمال ختیځي برخو کې مېشت ول، بایبل وایي چې یأجوج او مأجوج د نوح علیه السلام د زوی یافث اولاد او هستوګنځی ئې د آسیا شمال ختیځه سیمه ده، (دې ته مو پام وي چې د قومونو د شجرو په اړه د بایبل وینا او ادعاء خوشې او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي؛ (خو دا د دې مانع نه ګرځي چې وګورو دوی په دې اړه څه وایي) له دې خبرې معلومېږي چې د ذوالقرنین دا سفر د شمال په لوري وو، له تاریخي اسنادو دا هم جوتېږي چې د قفقاز په جنوب کې د دربند او داریال په نامه دوه سدونه تر سترګو کېږي چې ویل کېږي د تاتاري، منګولي، هن او سیتهین قومونو د یرغلونو د مخنیوي لپاره جوړ شوي وو. د بندونو موقعیتونه دا دي:



قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُوا۟ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسْطَٰعُوٓا۟ أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا

ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا ٩٧ قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ رَبِّي حَقّٗا ٩٨ وَتَرَكۡنَا بَعۡضَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ يَمُوجُ فِي بَعۡضٖۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعۡنَٰهُمۡ جَمۡعٗا ٩٩ الكهف: ۹۵-۹۹

وئې ویل: زما رب چې څه زما په واك کې راکړي هغه (ډېر او) غوره دي، نو په افرادي قوت سره زما ملتیا وکړئ چې ستاسو او دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې راته راوړئ، تر دې چې د دواړو لوړو څوکې ئې سره (وصل او برابري کړي)؛ وئې ویل: (اور) پو کړئ، تر دې چې هغه ئې اور (ته ورته سړې) وګرځولې، وئې ویل: ما ته ویلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم، نو نه په دې توانېدل چې پرې وخېژي او نه ئې په سوري کولو توانېدل. وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده؛ نو کله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتینې ده؛ او په دې ورځ به پرېږدو چې ځینې ئې د ځینو نورو (په لیکو) کې د څپو په څېر ننوځي او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به یو ځای راغونډ کړو.

د دې مبارکو آیتونو مهمي لارښووني دا دي:

- ذوالقرنین په ځواب کې ورته وویل: ستاسو مالیه نه غواړم، تر دې مالیې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راکړي، همدا راته کافي دي. او دا ښیي چې د ذوالقرنین فتوحات د یوه سپېځلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سیمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.
- له ما سره د دې کار په بشپړولو او ترسره کولو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړئ، چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې او دړې راته راوړئ.
- دا د اوسپني ټوټې او دړې ئې د دواړو غرونو تر منځ داسې سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوکو سره برابري شوې.

- بيا ئې د اوسپني خوا ته سکاره کښودل او اور ئې پرې بل کړ، خلکو ته ئې وويل چې اوس سکروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو کړئ، تر دې چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه، نو خلکو ته ئې وويل: ما ته ويلي شوي زېر (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم، په دې توګه د اوسپني داسي مضبوط دېوال جوړ شو چې يأجوج او مأجوج نه پرې رااوښتی شو او نه ئې سوری کولی شو.

- په دې وخت کې ذوالقرنين د خپل رب شکر اداء کړ او وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړ چې دا کار ترسره کړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چې الله تعالی ئې غواړي؛ خو کله چې زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ هرومرو ترسره کېږي. دلته د الهي وعدې معنی يا د هغه سد د نسکورېدو نېټه ده او يا هغه نېټه ده چې الله تعالی د هر څه د مرګ او فنا کېدو لپاره ټاکلې.

د الانبياء په سورې کې د يأجوج او مأجوج په اړه داسي راغلي:

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ٩٥ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ٩٦ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٩٧ الانبياء: ٩٥-٩٧

او پر يوه داسي کلي چې موږ هلاك کړی حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي، تر هغه چې يأجوج او مأجوج پرانيستل شي او دوی به له هري لوړي راکوزېږي. او هغه رښتيني وعده رانږدې شوې ده، نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګي ړېدي پاته شي چې کفر ئې کړی (وايي به) افسوس زمونږ په حال؛ يقيناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکي ظالمان وو.

د دې آيتونو معنی دا ده چې هغه خلك به هم د الله تعالی په لور درومي چې په الهي عذاب اخته او هلاك شوي، دوی به هم د قيامت په ورځ بيا راژوندي کېږي، په دنيايي عذاب ئې اکتفاء نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه ګرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده، دوی به هغه مهال له نورو سره يو ځای د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چې قيامت راشي، د قيامت تر راتلو وړاندي به د يأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرګنده شي چې د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوړي راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کې پراته وي چې يأجوج او مأجوج بيا د فساد خورولو مجال تر لاسه کړي، دا لار يو ځل بيا ورته پرانيستل شي، هغه مهال به بيا پر نورو سيمو د دوی يرغل پيل شي، يرغل به ئې داسي وي چې له هري لوړي به راکوزېږي او بريدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چې قيامت به ډېر رانږدې شوی وي او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځينو له دغي فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ: تر هغه چې يأجوج او مأجوج پرانيستل شي)؛ دا انتباه اخيستې ده چې ښايي د ذوالقرنين هغه سد به د قيامت تر رانږدې کېدو پوري همداسي روغ پاته وي او د يأجوج او مأجوج د راتېرېدو مخه به نيسي، خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدو او پر نورو د يرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انګېرنه له يوې خوا د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه آيت وايي چې هغه مهال به دوی له هري لوړي راکوزېږي، يوازي د هغه يوه بند له لوړي د راکوزېدو خبره نه کوي، بلکې وايي چې هيڅ لوړه او بند به د دوی مخنيوی نشي کولی. له بلي خوا دا جوته ده چې دلته د دوی د شمېر زياتوالي ته اشاره شوې او د دومره زياتو خلکو مخنيوی په يوه واړه بند؛ هغه هم د يوې وړې سيمې په يوه ناو او خوږ کې نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني؛ له بلي خوا دا انګېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لګوي، قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د

وخت په ټېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، يو وخت په اوبو کې تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کې الوتل ورته محال وو، خو اوس په لويو لويو بحرونو کې اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو ټېرېدا څه چې له يوې وچې بلې ته د هوا له لارې درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د يوه آيت داسي تعبير چې له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي نه يوازي صحيح تعبير نه دئ بلکې د دې ستر او عظيم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځايه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول عالم ئې پيدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ، په دې کتاب کې يوه کلمه داسي نشته چې د واقعيتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نشي منلی. يأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وايو چې په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا يو مفسد قوم وو، په زمکې کې ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك ترې تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بريدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنين ته شکايت وکړ، هغه د دغو بريدونو د مخنيوي لپاره په يوه ناو کې داسي اوسپنيز بند او سد جوړ کړ چې د هغوی بريدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال يو مؤثر تدبير وو، د دې معنی دا نه ده چې همدا سد به تر قيامته پوري د دوی مخنيوی کوي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې دا سد د يوه غره په خوړ کې جوړ شوی، د دې غره يوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنين ته د دوی دا وړانديز چې د بند جوړولو په بدل کې مالیه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، يأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کې اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لارې راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بريدونه متوقف شوي، له دې وروسته برید، تالان او بېرته تښتېدا ورته ګرانه شوې، دا رأيه دقيقه نه ده چې ګواکې دوی ستر ستر بريدونه کول او دا سد د

دوی د داسي بریدونو مخنیوی کړی. داسي بند د لویو پلي بریدونو مخه نشي نیولی، لوی پلی فوځ په غرونو رااوښتی شي، که د دوی بریدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاتې کېدل او لا دمخه به نورو سیمو ته کډه شوي وو، هغو چي دا رأیه ئې وړاندي کړې ښایي د دې سورې د (۹۹) آیت په اړه ئې دا ګمان کړی وي چي دا د یأجوج او مأجوج په اړه دئ، حال دا چي دا آیت د قیامت د ورځي په اړه دئ، له (یومئذٍ) مراد د بند د ماتېدو ورځ نه ده، دا د قیامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلك د بحر د څپو په څېر د محشر په لوري درومي، دا ځکه چي په (۱۰۰) آیت کي همدغه د (یومئذٍ) کلمه بیا تکرار شوې او ویل شوي چي په دې ورځ به په صور کي پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چي د شمال له لوري د چنګیزیانو هغه ستر ستر او ورانوونکي بریدونه د همدې آیت مصداق وي چي له چین پیل او تر مدیترانې او هند پوري وغځېدل، په دې ټولې پراخي سیمي کي ئې دومره ویني توی کړې، دومره انسانان ئې ووژل او دومره ښارونه ئې وسوزول چي په بشري تاریخ کي ئې نظیر نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کي ئې دومره تباهي وکړه چي جبران ئې محال وو. ښایي د الانبیاء سورې په ۹۵-۹۶ آیتونو کي دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن یوه دقیقه وړاندوینه وي چي ترسره شوه؛ او ښایي دا وړاندوینه به تر قیامت وړاندي ترسره شي؛ هغه مهال به دا قوم یو ځل بیا په همداسي ستر شرارت لاس پوري کړي.

﴿وَحَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لا يَرْجِعُونَ﴾ ﴿حَتَّى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ﴾ الأنبياء: ۹۵- ۹۶

دا مطلب هم په یادولو ارزي چي ولي د ذوالقرنین د سفرونو په لړ کي د جنوب یادونه نه ده شوې؟ ما ته داسي معلومېږي چي د ذوالقرنین د پلازمېنې په جنوب کي بل هېواد نه وو، د ده هېواد په جنوب کي له سمندر سره نښتی

وو او له دې معلومېږي چې پلازمېنه به ئې په خراسان کې وه او هېواد به ئې په جنوب کې تر سمندر پورې غځېدلی وو.

راشئ وګورو چې په روایاتو کې د یأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:

د بخاري په دولسو روایاتو کې د دوی یادونه شوې، په یوه روایت کې دا هم راغلي چې یوه سړي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: ما د یأجوج او مأجوج سد ولید، د سد مواصفات ئې ورته بیان کړل، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هغه دي (په خپلو سترګو) ولید؟ که دا روایت صحیح وي نو څو خبرې ترې معلومېږي: ۱- د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر زمانې دا سد په مکمله توګه موجود وو یا ئې ځینې برخې موجودي وې، ۲- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسي چې ځینې ګمان کوي، ۳- له عربو ډېر لرې پروت نه دئ بلکې دومره نږدې دئ چې یو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترګو ئې وګوري.

همدا راز آثارو کې راغلي چې د عمر رضي الله عنه په خلافت کې او په ۲۲ هجري قمري کال؛ د آذربایجان له فتحي وروسته؛ عبد الرحمن بن ربیعة د سیمي امیر یو څوک د دې سد د لیدو لپاره لېږلی وو؛ هغه دا بند لیدلی وو او عمر رضي الله عنه ته ئې په اړه معلومات ورکړی وو.

همدا راز عباسي خلیفة هارون الواثق چې له ۲۲۷ تر۲۳۲هجري قمري پورې خلیفه وو؛ یو کس ئې د سلام ترجمان په نامه له ۵۰ تنو سره موظف کړ چې ولاړ شي او دا بند وګوري؛ ولاړل او بند ئې نږدې ولیدو او تفصیلي راپور ئې خلیفه ته وړاندي کړ؛ ویلي وو چې عرض ئې نږدې ۲۰۰ ذراع (تقریباً ۱۲۰ متره) وو.

د بخاري یو روایت دا دئ:

عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ رضی الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ

مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ ». وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا. قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ ».

له زينب بنت جحش رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم زمورِ ځای ته په داسي حال کي راننوت چي وېرې اخيستی وو وئې ويل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانږدې شوی، نن د يأجوج او مأجوج په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه ګوته او ورپسې ئې سره وصل کړې، زينب وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله! آيا په داسي حال کي به هم هلاك کېږو چي په مورِ کي صالحان وي؟ وئې فرمايل: هو؛ کله چي پليتي (پليتان) زيات شي.

دا روايت چي په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۵۹۸، ۷۰۵۹، ۷۱۳۵، د سند له مخي غريب دئ، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کي څو توپيرونه لري: په يوه کي راغلي: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل کي د دې خلاف راغلي اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ په يوه کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِي تَلِيهَا په بل کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا او په بل کي وَعَقَدَ تِسْعِينَ. يو روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه رويښ شو، مخ ئې سور اوښتی وو او وئې ويل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانږدې شوی، نن د يأجوج او مأجوج په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه ګوته او ورپسې ئې سره وصل کړې، بل ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي زمورِ ځای ته راننوت چي وېرې اخيستی وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پای کي د ابهام ګوتې يادونه نه کوي او وايي يوه او ورپسې ګوته ئې سره وصل کړې. په يوه بل روايت کي د دې ټولو خلاف ويل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ

هَذِهِ». وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای يفتح راغلي چي له مخکيني سره جدي تعارض لري او ښيي چي دا سد به له دې وروسته سوری شي. او په بل کي داسي راغلي « فَتَحَ اللهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا ». وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ.

که سره له دې ټولو تعارضاتو دا روايت صحيح وګڼو چي په سد کي سوری راپيدا شوی نو د دې معنی همغه ده چي ځينو درنو شارحينو کړې او دا ئې د دې فتنې د قرب او نږدېوالي په معنی اخيستې، نه په حقيقي معنی او په سد کي د سوري په معنی.

د بخاري بل روايت دا دئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله عليه و سلم قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ ». تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُحَجَّ الْبَيْتُ ». وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللهِ وَعَبْدُ اللهِ أَبَا سَعِيدٍ.

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء کېږي. په بل روايت کي دا پرې اضافه شوي چي قيامت تر هغه نه راځي چي د بيت الله حج کول بند شي.

د بخاري څلور نور روايات داسي دي چي د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لکه يو په زرو کي، دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي دوه.

- د ذوالقرنين د قصې په پای کي د ده داسي خبري راوړل شوې چي د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوی پر محور څرخي؛ او په دې سره قريشو ته ويل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرۍ او زور ځواك مغرور شوي

چي د ذوالقرنين د پراخ ملك په پرتله د يوه واړه کلي ملکانو ته ورته دي، هغه پر خداى او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې کوله، د نېکانو مل او ملاتړى وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چي هيڅوك ئې مخي ته نشو تم کېدى، پردېو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوى لوى کارونه کول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان ځانځي، آخرت نه مني، د الله تعالى پر آيتونو ملنډې وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء کوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه کوي، عملونه ئې ګنده، په فساد کې تر ستونې غرق، ټول هم او غم ئې دا چي بې وزلې او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چي دې ذليل او قليل اقتدار ته ئې ګواښ متوجه نشي!!

- د دې بحث په ترڅ کې به تاسو ته واضح شوې وي چي يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو کې اوسېدل، کوم ښار او مرکزي حکومت ئې نه درلود، که نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح کړى وو، پر نورو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول، د يوه سد له امله ئې دا غلچکي بريدونه متوقف شول، اوس که تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چي وايي: دا کوم ځانګړى مخلوق وو، له نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپېرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چي يو به توشك او نيالۍ شو او بل بړستن، نو ستا قضاوت به د دې وينا په وړاندي يا دا وي چي دا خبره په بشپړه توګه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چي ووايې: د يوه غوږ توشك او بل غوږ بړستن معنى دا نه ده چي پلن پلن غوږونه ئې ول بلکي معنى ئې دا ده چي نه ئې توشك وو او نه بړستن، پر زمکه به داسي پرېوتل چي نه به ترې لاندي له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته کوم ځادر او بړستن.

- د دې قصې په پاى کې د يوې داسي ښکلې او جامع تتمې شاهد يو چي دغه مطالب په کې ځلېږي؛ الله تعالى فرمايي: هغه ورځ راتلونکې ده چي خلك به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسي روان وي چي ځيني به

د ځينو نورو په ليکو کې د څپو په څېر ننوځي، په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونکې او لارښوونکې ښکلې قصه پای ته رسوي او ورپسې د قيامت په ورځ د کافرانو حال بيانوي.

مرض له يوه بل ته سرايت کوي که نه؟

دا هم يوه بله لانجمنه اختلافي مسئله ده چې عامل ئې متعارض روايات دي؛ ځينې باور لري چې مرض له يوه بل ته سرايت نه کوي؛ په مقابل کې ئې ځينې نور په دې باور دي چې ساري امراض شته او ځان ترې ساتل واجب دي؛ دواړه لوري په ځانګړو رواياتو استناد کوي. راشئ وګورو چې د کومې ډلې رأی سمه او روايات ئې موثق او د اعتبار وړ دي.

سلفيان هم له هغې ډلې دي چې د ساري مرضونو په عدم سرايت باور لري؛ مُستَمسَك ئې د بخاري ځينې روايات دي؛ که څه هم د بخاري روايات متعارض دي؛ له ځينو ئې د امراضو عدم سرايت او له ځينو له ساري امراضو ځان ساتنه معلومېږي؛ خو سلفيانو يوازې هغه روايات منلي چې د امراضو عدم سرايت ترې معلومېږي؛ روايات دا دي:

عن أَبِي سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ عَدْوَى وَلاَ صَفَرَ وَلاَ هَامَةَ» فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا بَالُ إِبِلِي، تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ، فَيَأْتِي البَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا فَيُجْرِبُهَا؟ فَقَالَ: «فَمَنْ أَعْدَى الأَوَّلَ؟» رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ صحيح البخارى

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم

وفرمايل: نه عدوی (له يوه بل ته د مرض سرايت) شته، نه هامة (د شپې مرغه يا کونګ سپېره ګڼل) شته او نه صفر (د نس ناڅاپي درد سپېره او سبب ئې کوم وهمي چنجی يا مار ګڼل) شته؛ يو صحرائي عرب پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! نو زما د اوښانو ولي دا حال وي چي په شګلني صحراء کي به داسي ځغلي لکه غرغه؛ خو ناڅاپي به اجرب (پمن) اوښ ورته راشي (اجرب د اوښانو په يو ډول بېمارۍ اخته)؛ او په دوی کي به داخل شي او ټول به بېمار کړي. رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: نو دا لومړی چا بېمار کړ؟

عن أَبِی هُرِيرَةَ قالَ: قالَ رسولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم: "لاَ عَدْوَى، وَلاَ طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ". بخاری

له أبو هريره روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوی شته، نه هامه او نه صفر؛ او له مجذوم داسي تښته لکه چي له زمري تښتې.

او په بل روايت کي داسي راغلي:

عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا عَدْوَى، وَلَا هَامَةَ، وَلَا صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ فِرَارَكَ مِنَ الْأَسَدِ "، أَوْ قَالَ: " مِنَ الْأُسُودِ " أَخْرَجَهُ الْبُخَارِیُّ فِی الصَّحِيحِ السنن الكبرى للبيهقی

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوی شته، نه هامه او نه صفر؛ او له مجذوم داسي تښته لکه له زمري ستا تښته او يا ئې وويل: "له زمريو"

دا روايت داسي دئ چي لومړۍ برخه ئې له وروستۍ برخي سره تناقض لري؛ لومړۍ ئې وايي: له يوه بل ته د مرضونو سرايت او انتقال نشته؛ اما وروستۍ برخه ئې وايي: له مجذوم (په جذام اخته بېمار) داسي تښته لکه چي له زمري تښتې. دا تښته ښيي چي د مرضونو انتقال شته.

د دې روایاتو په مقابل کې د بخاري لاندې دوه روایات چې له مخکینیو سره تعارض لري؛ تأکید کوي چې په بیماریې اخته دي په روغو کې نه ننیستل کېږي.

وعَن أَبِی سَلَمَةَ سَمِعَ أَبا هُرَيْرَةَ بَعْدُ يقُولُ: قالَ النبیُّ صلى الله عليه وسلم: "لا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ على مُصِحّ". (وفی روايةٍ: "لا توردوا الممرضَ على المُصِحّ"). وَأَنْكَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَدِيثَ الأَوَّلِ، قُلْنَا: أَلَمْ تُحَدِّثْ أَنَّهُ لَا عَدْوَى؟ فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ. قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ. بخاری

له أَبِي سَلَمة روایت دئ چې له ابو هریره ئې اورېدلي چې وروسته ئې ویل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: د بیمارو پالونکی دي خپل بېماران د روغو منځ ته نه ننباسي؛ په بل روایت کې داسي راغلي: د بیمارو پالونکی د روغو پالونکي خوا ته مه ننباسئ؛ او ابو هریره له لومړي حدیث انکار وکړ؛ ومو ویل: آیا تا نه وو ویلي چې له یوه بل ته د مرض سرایت نشته؟ په غیر واضح خیرو سر شو؛ (له ډېري غوصي ئې داسي څه وویل چې څوك نه پرې پوهېدو)؛ أبو سلمه وویل: ابو هریره مي تر دې وړاندي نه دئ لیدلی چې له دې پرته ئې بل حدیث هېر کړی وي.

عن أَبِی هريرةَ رضى الله عنه قال: سَمِعتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يقولُ: "لا يُورِدُ مُمرِضٌ على مُصِحّ". قال: فراجَعَه الرَّجُلُ فقالَ: أَلَيسَ قَد حَدَّثتَنا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قال: "لا عَدوَى ولا صَفَرَ ولا هامَةَ"؟ قال: لَم أُحَدِّثْكُموه. قال الزُّهرِيُّ: قال لِي أبو سلمةَ: قَد حَدَّثَ به، وما سَمِعتُ أبا هريرةَ رضى الله عنه نَسِيَ حَديثًا غَيرَه. أخرَجَه البخارىُّ فى "الصحيح" مِن وجهٍ آخَرَ عن مَعمَرٍ بمَعناه.

له أبو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم

مي واورېدل چې وئې فرمايل: د بېمارو (اوښانو) خاوند دي خپل اوښان د روغو اوښانو منځ ته نه دننه کوئ، وايي يوه سړي خبره وروګرځوله او وئې ويل: آيا تا مور ته نه وو ويلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: نه عدوى شته، نه صفر او نه هامة؟ ابو هريره وويل: دا حديث مي تاسو ته نه دئ ويلى؛ زهري وايي چې ابوسلمة راته وويل: يقيناً چې ده دا حديث ويلى او ما نه دي اورېدلي چې ابو هريره دي له دې پرته بل حديث هېر کړى وي.

دا مطلب په نورو رواياتو کې هم راغلى او دا نتيجه ترې اخيستل شوې چې ابو هريره رضي الله عنه دا ادعاء نه ده منلې چې ده د (لا عدوى) حديث ويلى؛ تر پايه په بل حديث "لا يُورِدُ مُمرِضٌ على مُصِحّ" ثابت پاته شوى.

آيا عجيبه نه ده چې د روايت اصلي راوي؛ ابوهريره؛ وايي: ما دا خبره نه ده کړې؛ او سخت غصه کېږي چې څوك دا خبره ده ته منسوبوي؛ اما بل راپاڅي او ټينګار کوي چې نه؛ تا اشتباه کړې او خپله خبره دي هېره کړې؟!! په دې دواړو کې به اصولاً د چا خبره منو؛ د اصلي راوي که د اورېدونکي مدعي؟! د عقل او شريعت حکم دا دئ چې د راوي وينا معتبره وګڼل شي نه د مدعي؛ حتىٰ که احياناً راوي داسي خبره کړې هم وي؛ زړه خبره ئې اعتبار نه لري دوهمه ئې بايد معتبره وګڼل شي. ولې بايد يو محدث؛ راوي ته داسي خبره په زور منسوب کړي چې دى ترې انکار کوي او په مقابل کې خپله بله او د هغې خلاف وينا سمه ګڼې؟!!

په بخاري کې دغه روايات سره له دې ټولو ستونزو؛ په مکرره توګه دولس ځله په دغو شمېرو تکراراً راغلي: ٥٧٠٧، ٥٧١٧، ٥٧٥٣، ٥٧٥٦، ٥٧٥٧، ٥٧٧٠، ٥٧٧١، ٥٧٧٢، ٥٧٧٣، ٥٧٧٤، ٥٧٧٥، ٥٧٧٦؛ په يوه کې ويل شوي لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ؛ او په بل کې يوازي لاعدوى راغلي او په بل کې د طيرة يادونه نه ده شوې، په يوه کې د دې مطلب تر څنګ دا هم ويل شوي وَفِرَّ مِنَ المَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ، په بل کې راغلي فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا بَالُ إِبِلِي، تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ، فَيَأْتِي البَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا فَيُجْرِبُهَا؟

په بل کې د إِبِلِي په ځای إِبِل او د فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا په ځای فَيُخَالِطُهَا راغلي، په بل کې داسي راغلي "لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَالشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي المَرْأَةِ، وَالدَّارِ، وَالدَّابَّةِ " په بل کې " لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي الفَرَسِ، وَالمَرْأَةِ، وَالدَّارِ " په بل کې "لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ، وَيُعْجِبُنِي الفَأْلُ الصَّالِحُ: الكَلِمَةُ الحَسَنَةُ"، په بل کې «لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ» وَأَنْكَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَدِيثَ الأَوَّلِ، قُلْنَا: أَلَمْ تُحَدِّثْ أَنَّهُ: «لاَ عَدْوَى» فَرَطَنَ بِالحَبَشِيَّةِ، قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ، يعني دا اول ځل دئ چې ابو هريره خپل يو روايت هېروي او له دې انکار کوي چې ده دي داسي څه ويلي وي.

لکه چې ګورئ؛ بخاري دوه روايتونه؛ سره له ډېرو توپيرونو او تعارضاتو؛ ۱۲ ځله په مکرره توګه راوړي؛ توپيرونه او تعارضات ئې دومره چې ما په نښه کړي؛ په ۵۷۷۱ روايت کې ابو هريره رضي الله عنه ته داسي وينا منسوب شوې چې نه يوازې په خپله ابو هريره ترې انکار کړی بلکې دې انتساب دومره غصه کړی او داسي څه ئې د غُصې له کبله له ځان سره ويلي چې په خبري ئې څوک نه پوهېدو؛ ده ته ويل شوي: تا تر نن وړاندي ويلي وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: «لاَ عَدْوَى»: له يوه بل ته د مرض سرايت نشته!! خو اوس وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: «لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ»: د بيمارو اوښانو خاوند دي خپل اوښان د روغو اوښانو منځ ته نه دننه کوي. ده نه يوازې د مخکيني حديث له ويلو انکار کړی بلکې په دې خبري سخت غصه شوی چې داسي روايت ئې ده ته منسوب کړی!!

همدا راز ابو هريره رضي الله عنه ته دا روايت هم منسوب شوی چې وايي:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ المَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ»:

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: نه عدوى (له يوه بل ته د مرض

سرايت) شته، نه طيرة (بدفالي) شته، نه هامة (د شپې مرغه يا کونګ سپېره ګڼل) شته او نه صفر (د نس ناڅاپي درد سپېره او سبب ئې کوم وهمي چنجی يا مار ګڼل) شته؛ او له مجذوم داسي تښته لکه چې له زمري تښتې!!

د دې روايت لومړۍ او وروستۍ برخي په خپلو کې جدي تعارض لري؛ لومړۍ برخه ئې وايي: له يوه بل ته د مرض سرايت نشته او دوهمه برخه ئې وايي: له جذامي ښمار داسي تښته لکه چې له زمري تښتې. له دغو دواړو خبرو يوازي يوه منلی شو؛ طبيعي ده چې هغه بايد ومنو چې اصلي راوي (ابو هريره رضي الله عنه) ئې مني؛ هغه له دې انکار کوي چې لومړۍ وينا ئې کړې او پر هغه چا هم غصه کېږي چې دا وينا ئې ده ته منسوب کړې!! آيا څوك دا حق لري چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي وينا منسوب کړي چې يو شاهد لري او دې شاهد په خپله ويلي چې ما دا وينا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته نه ده منسوب کړې؟!!

رسول الله صلى الله عليه و سلم به يا دا ويلي وي چې عدوى (له يوه بل ته د مرض سرايت نشته) او يا دا چې له جذامي ښمار داسي تښته لکه چې له زمري تښتې او طاعون ځپلې سيمې ته مه ننوځئ او مه ترې وځئ؛ دواړه هممهاله پيغمبر عليه السلام ته منسوبول؛ هم جسارت دئ او هم جهالت؛ او خپل پيغمبر ته د متضاد او متعارضو ويناوو منسوبول دي!! کله چې ګورو دين، قرآن او حديث ته دوه متضادي خبرې منسوب شوې دي، د دې په وړاندي بايد غصه وښيو؛ ځکه دا يو تور او اتهام دئ؛ د هر دين، مذهب او مفکورې لوی عيب دا دئ چې په هغه کې متعارضي خبرې وي، قرآن وايي: که دا کتاب (قرآن) له الله تعالى پرته د بل چا له لوري وی نو حتماً به په هغه کې ډېر اختلاف ليدل کېدی؛ په قرآن کې داسي اختلاف نشته، په کوم کتاب کې چې اختلاف وی نو معنی ئې دا ده چې د الله تعالى له لوري نه دئ راغلی، قرآن مور ته همدا وايي؛ پيغمبر عليه السلام د رسالت په ۲۳ کلونو کې متعارضي خبرې نه دي کړې، يوه خبره ئې هم د بلې ضد نه وه؛ او که چېرې

تاسو داسي څه ومومئ چې د يوې قضيې په اړه دوه متضادي ويناوي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوبوي؛ نو په دوه شي چې يا به دواړه ويناوي دروغ وي او يا ئې يوه؛ د پيغمبر عليه السلام شأن له دې ډېر لوړ دئ چې په ويناوو کې ئې تضاد او تناقض وي.

د صحابه وو يوه لوی لښکر د عمر رضي الله عنه په شمول؛ په دې اجماع کړې چې عدوی (له يوه بل ته د مرض سرايت) شته نو ځکه ئې عملاً شام ته له ننوتلو ډډه وکړه، شام قرنطين شو او هستوګنو ئې له وتلو ډډه وکړه.

د دې روايت پيل او پای هم متعارض او متناقض دي چې وايي:

٥٧٧٢ - حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَحَمْزَةُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي الفَرَسِ، وَالمَرْأَةِ، وَالدَّارِ " بخاری

٥٧٥٣ - حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَالشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي المَرْأَةِ، وَالدَّارِ، وَالدَّابَّةِ " بخاری

د دواړو روایاتو په سر کې راغلي: نه د مرض سرايت شته او نه بدفالي؛ خو د يوه په پای کې ويل شوي: شئوم او بد فالي (سپېره توب)په دريو شيانو کې شته: په ښځې، کور او څاروي کې.

او د بل په پای کې راغلي: شئوم او بد فالي (سپېره توب) په دريو شيانو کې شته: په آس، ښځې او کور کې.

په مقابل کې ئې عائشې رضي الله عنها ته منسوب روايت داسي دئ:

أَنَّ رَجُلَينِ دَخَلا على عايِشةَ فقالا: إنَّ أبا هُرَيرةَ يُحدِّثُ أنَّ نَبيَّ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كان يقولُ: إنَّما الطِّيَرةُ فى المَرأةِ، والدَّابَّةِ، والدارِ، قال: فطارَتْ شِقَّةٌ منها فى السماءِ، وشِقَّةٌ فى الأرضِ، فقالَتْ: والذى أنْزَلَ القُرآنَ على أبى القاسِمِ ما هكذا كان يقولُ، ولكِنَّ نَبيَّ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كان يقولُ: كان أهلُ الجاهِليَّةِ يقولون: الطِّيَرةُ فى المَرأةِ والدارِ والدَّابَّةِ، ثم قَرَأتْ عايِشةُ: {مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ} [الحديد: ٢٢] إلى آخِرِ الآيةِ. مسند احمد

دوه سړي عائشې رضي الله عنها ته راغلل او وئې ويل: ابوهريره دا خبره کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: يقيناً چې بدفالي يوازي په دريو شيانو کې ده: په مېرمني، ځاروي او کور کې؛ راوي وويل: له ډېري غصې داسې شوه چې د مخ يو لورى ئې آسمان او بل زمکې ته شو او وئې ويل: پر هغه ذات لوړه چې قرآن ئې پر ابوالقاسم صلى الله عليه و سلم نازل کړى؛ داسې ئې نه دي ويلي؛ بلکې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: د جاهليت په دوران کې به خلکو ويل: بدفالي او سپېره توب په مېرمني، کور او ځاروي کې وي. بيا هغې د الحديد سورې دا آيت ولوستلو: "نه په زمکې کې کوم مصيبت رامنځته کېږي او نه ستاسو په ځان کې؛ مګر دا چې په کتاب کې ئې يادونه شوې؛ تر هغه وړاندي چې دا مصيبت پيدا کړي" يعني مصيبت د کوم څه د سپېره توب له کبله نه وي بلکې د هغو سننو او عواملو له کبله وي چې په الهي کتاب کې راغلي؛ عوامل او اسباب ئې لا د مصيبت تر راتلو ډېر وړاندي د الله تعالى په کتاب کې ذکر شوي؛ قرآن د انسان خپل اعمال د مصيبتونو سبب ګڼي؛ او وايي:

وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾

الشورى ٣٠

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو کړنو او کسب له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.

دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړنو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو يوازي د يوې برخي سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوي پر ځای د عدل له مخي معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه درباندي نازل کړي وو.

بخاري د آس په اړه دا روايات هم راوړي چې له مخکينيو سره تضاد لري:

عن عبد الله بن عُمَرَ رضى الله عنهما قالَ: قالَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: "الخيلُ فى نَواصِيها الخيرُ إلى يومِ القيامَةِ". بخارى

١٢٦٥ - عن أنَسَ بنِ مالكٍ قالَ: قالَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: "البَرَكَةُ فى نَواصى الخيلِ، (وفى روايةٍ: الخيلُ معقود فى نواصيها الخيرُ". بخارى

٤٤ - بابٌ الجهادُ ماض مع البَر والفاجِرِ؛ لقولِ النبىُّ - صلى الله عليه وسلم -: "الخيلُ مَعقود فى نواصيها الخيرُ إلى يومِ القيامةِ" بخارى

١٢٦٦ - عن عُروةَ [بنِ الجعدِ] البارِقى أن النبى - صلى الله عليه وسلم - قالَ: "الخيلُ مَعقود فى نواصيها الخيرُ إلى يومِ القيامةِ؛ الأجْرُ والمَغْنَمُ ".

دا روايات وايي: د آسونو له تندي سره خير او برکت غوټه شوی؛ خو د بخاري نور روايات بيا د دې عکس وايي چې آس سپېره دئ!!!

او ابن ماجه بيا وايي:

١٩٩٣ - حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ قَالَ: حَدَّثَنِي

سُلَيْمَانُ بْنُ سُلَيْمٍ الْكَلْبِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَمِّهِ مِخْمَرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " لَا شُؤْمَ، وَقَدْ يَكُونُ الْيُمْنُ فِي ثَلَاثَةٍ: فِي الْمَرْأَةِ، وَالْفَرَسِ، وَالدَّارِ " ابن ماجه

له مِخْمَرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چې ويل ئې: شئوم (سپېره والی) نشته؛ او کېدی شي چې ستانه توب او برکت په دريو شيانو کې وي: په ښځې، آس او کور کې.

ابن ماجه دا روايت نه مني چې وايي:

لا عَدْوَى ولا طِيَرَةَ وإنَّما الشُّؤْمُ فى ثَلاثَةٍ: المَرْأَةِ، والْفَرَسِ، والدَّارِ.

په مقابل کې ئې وايي: اسلام راغلی چې د شئوم باورونه نفي کړي.

که قرآن ته رجوع وکړو او دا متعارض او متضاد روايتونه د قرآني لارښوونو په رڼا کې وڅېړو نو په ټول يقين سره ويلی شو چې د بد فالي او شؤم (سپېره والي) غلط باورونه د جاهليت پاته شوني دي او قرآن کافرانو ته منسوب کړي؛ لکه چې فرمايي:

قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾ النمل ٤٧

وئې ويل: مورِ پر تا او پر هغو چې له تا سره دي بدفالي نېولې (د بدمرغي سبب مو ګڼو)، وئې ويل: بدمرغي مو له الله سره ده، بلکې تاسو داسي وګړي يئ چې آزمويل کېږئ.

يعني ثمودیانو صالح عليه السلام ته وويل: مورِ پر تا او پر هغو چې له تا سره دي بدفالي نېولې، تاسو (سپېره او د بدمرغيو سبب ګڼو).

صالح عليه السلام ورته وويل: مورِ ستاسو د بدمرغيو سبب نه يو، د بدمرغيو اسباب مو له الله تعالى سره دي، ستاسو د کړنو له کبله ئې له دغو

بدمرغيو سره مخامخ کړي يئ، تاسو داسي وګړي يئ چې آزمويل کېږئ، کوم فرصت چې درکړی شوی دا ستاسو د مزيد آزمويني لپاره دئ.

قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ ﴿١٩﴾

يس: ١٨- ١٩

وئې ويل: يقيناً چې تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که ډډه ونه کړئ حتماً مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب درورسېږي، وئې ويل: بدمرغي مو په خپله له تاسو سره ده، آيا سره له دې چې پند درکړی شي، نه؛ بلکې تاسو مسرف وګړي يئ.

يعني کافرانو پيغمبرانو ته ويلي: تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب درورسېږي، پيغمبرانو په ځواب کې ورته وويل: د بدمرغۍ اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، يعني ستاسو کفر، شرك، ظلم، فساد او ګناهونه د بدمرغۍ اصلي اسباب دي، آيا موږ له دې کبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چې نصيحت درته کوو؟ آيا سمه ده چې هغه کسان په دردناك عذاب وګواښئ چې تاسو ته پند درکوي؟ اصلي خبره دا ده چې تاسو په خپل چلن کې تل تېرى او اسراف کوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوکېدلي.

په ټول قرآن کې داسي څه نه مومو چې ښيي د الله تعالى کوم مخلوق ذاتاً سپېره دئ؛ يا داسي کومه اشاره چې د سپېره والي خرافي باور؛ سم والي ترې معلوم شي. الله تعالى احسن الخالقين دئ هيڅ سپېره شيء ئې نه دئ پيدا کړی؛ شيطان هم په اصل کې سپېره نه دئ په خپله بد شوی؛ ځکه د ده په قبيله کې مؤمنان شته؛ ده هم کولى شو له بغاوت ډډه وکړي. يوه خبره ډېره کېږي چې ګواکي شيطان د فرشتو استاد وو؛ دا هسي له ځانه جوړه شوې

خوشي خبره ده؛ شيطان نه له ملائکو سره اوسېدو او نه هم د ملائکو استاد وو او نه ډېر علم ورکړی شوی وو.

په ۲۰۱۹ ميلادي کال کي د چين ووهان ايالت يوې سيمي کي د کرونا ېمارۍ وليدل شوه، په سرعت سره په ټول ايالت کي خوره شوه، ټول ايالت قرنطين شو؛ خو قرنطين جدي او شديد نه وو، له کبله ئې دا ېمارۍ ټولې نړۍ ته انتقال شوه او په سلګونو مليونه انسانان ئې ونيول او په مليونو ئې ووژل. زمور په هېواد کي ډېرې ډاکټران ځکه پرې مبتلا شول چې له ناروغانو سره په تماس کي وو؛ نن ټول نړۍ وال په دې متفق دي چې کرونا يو ساري مرض دئ؛ که نن څوک ووايي: زما د مذهب له مخې هيڅ ساري مرض نشته؛ د کرونا په شمول؛ د دې کس او د هغه د مذهب په اړه به نړۍ وال څه قضاوت کوي؟!! مګر ده ته به د مجنون خطاب نه کوي او مذهب به ئې ناسم، د عقل، علم او مشاهدې خلاف واهي او خرافي نه ګڼي؟ يقيناً چې دا له يوه دين او مذهب سره سټره جفا ده چې د عقل، علم او مشاهدې خلاف رأی او وينا هغه ته منسوب شي. رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: چا چې ما ته داسي وينا منسوب کړه چې ما نه ده کړې؛ هغه دي ځان ته په دوزخ کي ځای ولټوي.

که څوک مور ته ووايي: آيا ستاسو قرآن هم ستاسو د رواياتو کتابونو په څېر دئ چې له تعارضاتو ډک دي؛ يو روايت وايي: ساري مرض نشته او بل ئې وايي: له مجذوم داسي تښته لکه له زمري تښته؛ او طاعون ځپلې سيمې ته مه ننوځه او مه تري وځه؛ يو وايي: سپېره شيء نشته او بل ئې وايي: مېرمن، آس او کور کي سپېره والی شته!! دې معترض ته به څه ځواب ورکوو؟

په دې وينا کي چې وايي (له جذامي ېمار داسي تښته لکه چې له زمري تښتې)؛ يو مهم او لارښود مطلب پروت دئ؛ او هغه دا چې: له مجذوم تښته داسي ده لکه له زمري تښته، لکه له هر بل ضرري او خطري شي تښته او ځان ساتنه، لکه له پرانګ او شامار، يا له اور، طوفان، سېلاب او زلزلې؛ او له نورو خطرناکو شيانو، پېښو او ځايونو؛ که له دغو ځان ساتنه او حذر جائز او

واجب وي؛ او دا نه د توکل او نه پر تقدیر او مقدراتو د باور خلاف وي؛ له ساري مرض ځان ساتنه هم واجب ده؛ دا احتیاط نه د توکل خلاف ده او نه پر تقدیر د باور خلاف؛ که د ځرګند دښمن له لوري تا ته کوم خطر متوجه وي؛ نو ته مکلف یې چې خپل احتیاطي تدابیر ونیسې. قرآن فرمایي: که د جهاد او سفر په دوران کې مسلمانان د دښمن له خطر او وېرې سره مخامخ شول، د لمانځه وخت راورسېد؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم په لمانځه کې د دوی امامت کولو؛ نو دوی به په دوو ډلو وېشل کېږي، یوه ډله به په امام پسې اقتداء کوي او بله به د حراست او حفاظت دنده ترسره کوي، کله چې لومړۍ ډلې یو رکعت وکړ نو خپل ځای به له سلام اړولو پرته بلې ډلې ته پرېږدي؛ او دوی به د حراست دنده په غاړه اخلي، دواړه ډلې به پاته یو یو رکعت له جماعت پرته او یوازي کوي؛ دا خوځېدل، ځای بدلول، یو رکعت ځنډول او له صف لرې یوازي أداء کول، د حراست دنده ترسره کول؛ وسله اخیستل... نه یوازي جائز دي او د دوی په لمانځه کې نقصان نه رامنځته کوي؛ بلکې الله تعالی امر کړی چې همداسي به کوي؛ او د همدې لارښوونې په ترڅ کې دوه ځله وایي: خذوا حذرکم و اسلحتکم: خپل احتیاطي تدابیر ونیسئ او خپله وسله درسره واخلئ. که د ځرګند دښمن په وړاندې په حذر او احتیاطي تدبیر مکلف یو؛ نو د مخفي او هغه دښمن (میکروب) په وړاندې به ولې احتیاط او حذر نه کوو چې په سترګو نه لیدل کېږي؛ یوازي د میکروسکوپ په مرسته لیدل کېږي؛ مخفي دښمن تر ځرګند دښمن ډېر خطرناك وي، مګر رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي فرمایلي چې د اوبو د لوښي سر پټ کړئ، د خوراك لپاره لاسونه ومینځئ، د شپې له لوري د کور او خونې دروازه بنده کړئ، ماشومان مو د شپې له لوري بهر مه پرېږدئ، تر خوب وړاندې ځراغ مړ کړئ، د خوب په وخت کې مو بستره په لاس وځنډئ، د بوټونو پښو کولو په وخت کې هغه وځنډئ... ولې په دې ټولو مواردو کې نه وایو چې احتیاطي تدابیر د توکل او پر تقدیر د باور خلاف دي. دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم

فرمايلي:

وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلا تَهْبِطُوا وَإِذَا كَانَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلا تَفِرُّوا مِنْهُ" مسند احمد

او کله چې مو واورېدل په يوې سيمې کې طاعون (وبا) خور شوی؛ نو هغې ته مه کوزېږئ او که په داسې سيمې کې خور شوی وي چې تاسو پکې اوسئ نو مه تري تښتئ.

او دا همغه کار دئ چې نن ئې ټول ډاکټران د کرونا او وبا په اړه سپارښتنه کوي او حکومتونه سيمې او ښارونه قرنطين کوي؛ قرنطين يعني د رسول الله صلى الله عليه و سلم په هغې سپارښتنې عمل چې څوارلس نيمې پېړۍ وړاندې ئې کړې وه.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې نن په ٢١ پېړۍ کې د کرونا په اړه د ډاکټرانو يوه أساسي سپارښتنه دا وه چې لاسونه مو هره ورځ نړدې شل ځله ومينځئ، د خولې، پزې، سترګو او مخ محفوظ ساتل او مينځل ئې همدومره ضروري او مفيد ګڼل، دا هغه غړي دي چې د کرونا ويروس کولی شي له لارې ئې د انسان سړي او بدن ته ننوځي او په دې خطرناکې ښمارۍ ئې اخته کړي. او دا سپارښتنې کټ مټ همغسې دي چې اسلام موږ پرې مکلف کړي يو، هره ورځ نړدې شل ځله خپل لاسونه مينځو؛ په اودس کې، له خوراك مخکې او وروسته، تشناب ته له هر وار تلو وروسته، د دې په اهميت او ارزښت نن انسانان پوه شوي.

طبي متخصصينو په ټول جديت سره تأکيد کولو چې له دې ويروس سره د مقابلې لپاره ټول امنيتي صحي تدابير جدي ونيسئ، له تجمعاتو، لاس ورکولو، په غېږ سترې مشې، مخ ښکلولو، تر يوه متر زيات يو بل ته نړدې کېدو، پر مخ، سترګو، خولې او پزې لاس وهلو ډډه وکړئ، لاسونه مکرر په صابون ومينځئ، په ټرمو مالګينو اوبو خوله او پزه ومينځئ، هره ورځ يو ځل

دوه ځله د ګرمو اوبو بخار د پزي له لاري استنشاق کړئ.

له ساري مرض، داړونکو ځناورو، اور، سېل او طوفان ټېښته نه یوازي جائز بلکي واجب ده؛ دا ځکه چي د انسان ځان او ژوند یو الهي امانت او ودیعه ده، ساتنه او حفاظت ئې پر انسان واجب دئ.

که یو مجذوم او په ساري مرض مبتلا انسان ستا خوا ته راځي او د مصافحې لپاره لاس دراوږدوي؛ ورته ووایه: زما محترمه وروره! ښه به وي چي په سلام اکتفاء وکړو او له لاس ورکولو پرته؛ له لري خبري وکړو. دا ځکه چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم لارښوونه همدا ده او د أطباءو سپارښتنه همدا. ته که بېمار وې نو د طبیب په سپارښتنه روژه هم ماتولی شې.

عجیبه ده چي ځیني وایي یا انګېري چي صحي تدابیر او د ژوند په نورو چارو کې احتیاط او حذر د توکل او پر مقدراتو او قضاء او قدر د باور او ایمان خلاف دئ!! دوی نه د توکل په معنی په سمه توګه پوهېږي او نه پر قضاء او قدر د ایمان په معنی.

مګر دا ښاغلي تر پیغمبر علیه السلام هم زیات پر خپل رب توکل لري؟!! هغه په جنګونو کې زغره اغوستله او په سختو جګړو کې به ئې دوه زغري اغوستې!!

ولې د زهر له خوړلو ډډه کوو؟ دا ځکه چي حرام دي، مضر او وژونکي دي، آیا د زهر له خوراك ډډه کول د توکل خلاف عمل دئ او که له حرام ځان ساتل؟!!

اسلام هر هغه څه حرام کړي چي مضر وي، که خواړه وي، که وینا او که کړنه، هر مضر خواړه، هره مضره وینا او هر مضر کار حرام دئ.

مجذوم ته لاس ورکول حرام دي؛ دا ځکه چي ضرر لري او د دې مرض د سرایت باعث کېږي، له صحي احتیاطي تدابیرو پرته؛ هغه چا ته لاس ورکول حرام دي چي د کرونا په مرض اخته شوی؛ له دې امله چي دا کار د مرض د

سرايت باعث دئ؛ دقيقاً همغسي چي اسلام هر مضر کار حرام کړی.

عمر رضي الله عنه هغه مهال چي په شام کي وبا شائع شوې وه؛ سيمي ته له ننوتلو ډډه وکړه؛ او د هغه چا په ځواب کي چي وئې پوښتل: اې امير المؤمنين! آيا له تقدير تښتو؟ وئې فرمايل: نه؛ بلکي له يوه تقدير بل ته درومو.

د تقدير حقيقي معنى دغه ده؛ خو که تاسو ځان اور ته واچولو نو د الهي ثابتو مقدراتو او سننو مطابق به سوزئ؛ په دې صورت کي دي تقدير همدا دئ؛ نه بل څه؛ او که دي ځان وساتو، ونه سوزېدې او خوندي پاته شوې، نو د الله تعالى پر بل سنت دي عمل کړی او تقدير به دي له مخکيني حالت متفاوت وي، مورِ د الهي مقدراتو او سننو د بدلولو توان او طاقت نه لرو؛ خو الله تعالى د خپلو سننو په وړاندي محکوم او مقيد نه دئ، که وغواړي نو د خپلو مشهودو او مورِ ته قابل درك سننو خلاف؛ څه چي وغواړي کوي ئې؛ همغسي لکه چي د ابراهيم عليه السلام په اړه ئې اور ته امر وکړ چي د خپل طبيعت او عادت خلاف دي؛ نه يوازي ابراهيم عليه السلام نه سوزوي بلکي روغ او سالم دې وساتي.

زمورِ رب د احتمالي خطر په وخت کي؛ په لمانځه کي د قصر، تأخير، د جماعت لمونځ پر ځای انفرادي لمونځ اجازه ورکړې، مسلمانان ئې په دې مکلف کړي چي د خطر په وخت کي به په لمانځه کي هم خپله وسله له ځان سره ساتي؛ مګر دا چي د مريضي يا باران له کبله د وسلې لري کولو ته اړ شي، که څه هم له زغري، توري، ټوپك او نورو جنګي وسائلو سره لمونځ کول هم ستونزمن وي او هم د دې باعث چي صفونه نامنظم شي او يو له بل لري ودرېږي.

او د خوف په حالت کي ئې داسي لمونځ هم جائز ګڼلی او د أداء کولو امر ئې کړی چي په هغه کي هم د صفونو نظم نه مراعات کېږي، هم لمونځ کوونکي په دوو ډلو وېشل کېږي، داسي چي هره مجموعه به يو رکعت په امام پسي کوي او بل به بېل او يوازي، يوه به حراست کوي او بله په جمع لمونځ، په لمانځه کي ئې دا ټوله خوځېدا او د اصلي لمانځه له هيئت مغاير لمونځ نه يوازي

جائز ګڼلی بلکي د همداسي کولو امر ئې کړی او همداسي کول ئې د حذر او احتياطي تدبير په نامه ياد کړی. لکه چې فرمايي:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةًۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾

النساء: ١٠٢

او که ته (اې پيغمبره) له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی يوه ډله دي له تا سره ودرېږي او خپلي وسلې دي ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بيا دي له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دي راشي او له تا سره دي لمونځ وکړي او خپل احتياطي تدابير دي ونيسي او اسلحه دي ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په يوواري پر تاسو رامات شي، خو که له بارانه ځوريدئ يا بيمار وئ نو څه ګناه درباندي نشته چې خپله وسله کښېږدئ، خو احتياطي تدابير مو ونيسئ، بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تيار کړی.

په دې آيت کې د صلوة خوف په اړه لاندي لارښوونې شوې.

- د لمانځه لپاره به خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، يوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پيره کوي.

- لومړۍ ډله به یو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پیړې او حراست لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.
- دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چې هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي، دا ځکه چې د پیړې کار بل ته حواله کول د احتیاط غوښتنه کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چې نورو د پیړې کار پیل کړی وي.
- لومړۍ ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چې دوهمه ډله له لمانځه فارغه شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازي یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې، له دې معلومېږي چې د سفر او خطر په وخت کې د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ، یا دوه رکعته دئ یا درې. پیغمبر علیه السلام هم په سفر کې یوازي د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته کړی.

دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کې یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کې جماعت پرېښودی شي، یوازي یوازي او حتیٰ د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.

په دې حالت کې یوازي په هغه صورت کې له ځانه د وسلې لرې کولو اجازه شوې چې یا له ورښت په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چې د وسلې له حمل عاجز وئ.

دا لارښوونې د خوف په متوسط حالت کې د جماعت د لمانځه د څرنګوالي په ارتباط دي، د لږ او غیر جدي خطر او هغه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شتون کې؛ خو د جدي خطر او د أحزاب د جګړې په څېر حالت کې؛ د جماعت پرېښودل، لنډ انفرادي لمونځ، پر سپرلۍ سپور او حتیٰ تأخیر او قضاء ئې هم جائز دي.

که دا ټول کارونه په لمانځه کې او له دښمن د خوف او وېرې په حالت کې

جائز او لازم وي؛ نو تر دې د لازيات خطري دښمن (لکه د کرونا او وبا ويروس او ميکروب)؛ نامرئي دښمن؛ چې د مليونو په شمېر لښکر په توګه پر موږ برید کوي؛ څنګه به د هغه په وړاندي حذر کول او لازم تدابير نيول جائز او لازم نه وي؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم خو فرمايي: له جذامي ښمار داسي وتښته لکه له زمري چې تښتې او هغي سيمي ته مه ننوځه چې وبا پکې خوره شوې وي. دا دواړه څرګندي لارښووني ښيي چې د هر ساري مرض په وړاندي به مسلمانان همداسي کوي لکه چې د جذام او طاعون په ارتباط ئې بايد وکړي.

راشئ په دې اړه هغه روايات هم له نظره تېر کړو چې محققينو ضعيف ګڼلي:

عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ، وَقَالَ: "كُلْ ثِقَةً بِاللهِ وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ". [قال الألبانى]: ضعيف

له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يو مجذوم (په جذام اخته شوى) تر لاس ونيولو، له ځان سره ئې د خوراك لوښي خوا ته کښېنولو او وئې ويل: پر الله تعالى اعتماد او پر هغه توکل سره ئې وخوره. مرحوم شيخ الباني دا روايت ضعيف ګڼلى.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله، أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُومٍ فَأَدْخَلَهُ مَعَهُ فِي القَصْعَةِ، ثُمَّ قَالَ: «كُلْ بِسْمِ الله، ثِقَةً بِالله، وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ»: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يُونُسَ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنِ المُفَضَّلِ بْنِ فَضَالَةَ وَالمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ هَذَا شَيْخٌ بَصْرِيٌّ، وَالمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ شَيْخٌ آخَرُ مِصْرِيٌّ أَوْثَقُ مِنْ هَذَا وَأَشْهَرُ ... حكم الألبانى: ضعيف

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و

سلم یو جذامي ښمار ترلاس ونیولو، له ځان سره ئې د خوراك په لوښي کې شامل کړ او وئې ویل: په بسم الله سره ئې خوره، پر الله تعالی اعتماد او پر هغه توکل سره. مرحوم الباني دا روایت ضعیف ګڼلی ویلي ئې دي: دا غریب حدیث دئ، له یونس بن محمد چي مفضل بن فضاله ئې روایت کړی؛ له بل چا ئې نه پېژنو؛ په داسي حال کې چي دا مُفَضَّل بن فَضَالَه د بصرې شیخ دئ او بل مفضل بن فضاله بل شیخ دئ چي مصري دئ او چي تر ده زیات د اعتبار وړ او مشهور دئ. حسین سلیم أسد هم ویلي چي د دې روایت إسناد ضعیف دي.

پورتني روایات نه یوازي ضعیف دي بلکې له لاندي روایت سره په بشپړه توګه تعارض لري چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مجذوم ته له لاس ورکولو ډډه کړې:

عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مَجْذُومٌ مِنْ ثَقِيفٍ لِيُبَايِعَهُ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: «ائْتِهِ فَأَخْبِرْهُ أَنِّي قَدْ بَايَعْتُهُ، فَلْيَرْجِعْ». مسند احمد

عمرو بن شرید له خپل پلار روایت کوي او وایي: د ثقیف یو مجذوم سړی د رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدو ته راغی چي بیعت ورسره وکړي، زه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم او هغه ته مي د ده یادونه وکړه او هغه وفرمایل: ورشه او خبر ئې کړه چي بیعت مې منظور کړ؛ نو ستون دي شي.

د پورتني مبحث خلاصه او نتیجه دا ده:

- د جُذام، طاعون او نورو ساري امراضو په اړه د اسلام لارښوونه دا ده چي ځان تري وساتو او لازم احتیاطي تدابیر غوره کړو. د لا عدوی (له یوه بل ته

د مرض عدم سرایت) روایت غیر موثق دئ او له قرآن او صحیح احادیثو سره اړخ نه لګوي او اصلي راوي ترې انکار کوي.

- له هر دښمن؛ که دا انسان وي یا حیوان، ساري مرض وي یا مضر شی، تاوانې کار وي یا خطرناك ځای؛ د ځان ساتنې لپاره تدابیر نیول نه یوازې د توکل او پر قضاء او قدر د باور او ایمان منافي نه دي بلکې فرض او واجب دي.
- په أوهام او خرافات باور، د اونۍ ځینې ورځې او د کال ځینې میاشتې سپېرې ګڼل، په حیواناتو، مرغانو او نورو شیانو بدفالي کول، دا او دې ته ورته کارونه او باورونه د اسلامي لارښوونو منافي دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

فهرست

عنوان	صفحه
د ناشر مختصر عرائض	١
د صحيح حديث د پېژندا قواعد او اصول	٢
آيا حديث د قرآن شرح ده که بېله وحي؟	٥٨
د بخاري په اړه د اهل حديثو ادعاءګاني	١١١
معراج او حقيقت ئې	١١٧
آيا پېريان ليدل کېږي؟	٢٣٥
له خضر سره د موسى عليه السلام ليدنه	٢٨٠
سحر او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اغېز	٣٥٢
ذو القرنين او يأجوج او مأجوج	٣٨٢
مرض له يوه بل ته سرايت کوي که نه؟	٤٠٢

د کتاب عنوانونه

د ناشر مختصر عرائض
معراج او حقیقت ئې
آیا پیریان لیدل کیږي ؟
له خضر سره د موسی علیه السلام لیدنه
د صحیح حدیث د پېژندا قواعد او اصول
آیا حدیث د قرآن شرح ده که بېله وحي ؟
سحر او پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اغیز !
ذو القرنین او یأجوج او مأجوج
مرض له یوه بل ته سرایت کوي که نه ؟
د بخاري په اړه د اهل حدیثو ادعاءګاني

د میثاق اینار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷